

# دآسیا په زړه کې طوفان

لیکوال

م. ابراهیم عطایي

دافغانستان دعلومو اکادمي

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032532 3

# دآسیاپه زړه کې طوفان

لیکوال

م. ابرهیم عطایی

PROPERTY OF ACKU
32532

دفرهاد ظریفی اونور محمد سهیم په اهتمام

دافغانستان دعلومو اکاډمی

۱۳۵۹ کال دزمری میاشت

# سریزه

د افغان او انګلیس د دوهم جنګ حماسه چې موږ یې اوس سل کلن تجلیل کوو د امپریالیزم سره د مبارزې په تاریخ کې په زړه‌واله توګه ارزیابي کېدای شي.

د تېرو سلو کالو په دوران کې ددې جنګ په باب ډېرې پاڼې خپرې شوې دي. بورژوازي مؤرخینو او لیکوالانو دې جنګ ته داسې جلوه ورکړې ده چې ګواکې یو پرمختللی متمدن قدرت د یوه بدوي او وحشي قوت سره مجادله کوله څو د تمدن پراختیا ته خدمت وکړي. خو حقیقت دا بل ؤ بلکې معامله کاملاً سرچپه وه داسې چې: د امپریالیزم وحشي قدرت غوښتل د یو با مناعته او د تمدن خوا ته په لومړیو ګامونو روان ولس د پرمختیا مخه ونیسي او هغه د خپلو ټولو اقتصادي او اجتماعي هستمنو سره د خپلې استعماري خوښې ملعبه وګرځوي.

د دغه مطلب د ثبوت له پاره به تر دې نور کوم داسې ښه دلیل پیدا شي چې پخپله یو انګلیس (جان سکولون) په خپل اثر (د ادی د خارجي سیاست بنسټ) کې د انګلیس د امپریالزم په باب داسې وايي: «بېله استثنا موږ د خپل عصر ډېر لوی رهزنان او غارتګران

بوچې د مځکې د کرۍ پر مخ ژوند کوي . موږ له دې کبله تر نورو ډېر پوالو
مخته بوچې د رياکارۍ څخه علاوه منافقان هم يو موږ هر څه په
غارت او يغما وړو خو خپل دا عمل داسې څرګندوو چې هغه د ډېر پوالو
د خير او صلاح له پاره دي (۱)» .

د افغان او انګليس دوهم جنګ د افغان او انګليس د لومړي او درېيم جنګ په منځ کې واقع شوېدی او د دغه جنګ په جوامولو کې دا خبره ډېر غټ ځای لري چې برېتانوي امپرياليزم غوښتل د افغانستان په اشغال سره منځنۍ آسيا ته د خپل نفوذ ساحه وړ پراخه کړي خو د افغانستان اشغال څه ها دي او ساده خبره نه وه انګليس د افغانستان د فيوډالي ټولنې امرا ، سرداران او خانان په زور او زر تابع کړل خو د افغانستان د سرنوشت مسئلې په خلکو اړه درلوده . او دا خلک وو چې وطن يې ساته . دوی په دوو تورو جګړه کوله ، يوه توره يې د برېتانوي امپرياليزم پر ضد او بله يې د سازش کارو معامله ګرو فيوډالانو پر ضد چلوله .

دا يقيناً ډېرې ، سختې ستړې او خواشينې ورځې وې يوې خوا ته محيل او چپاوزه امپرياليزم او د هغه ګوډاګيان ولاړ وو چې معاصر قوي وسلو او جګړې د فني تاکتيکونو څخه برخوردار وو . خو بلې خوا ته يوازې خلک وو چې يوازې وطن پرستی له ډېر قوي احساس څخه يې بل څه نه درلودل . خو دا حقيقت هر وخت او هر چېرې يو ځل څرګند شوېدی چې د قدرت اصلي مرجع خلک دي او څه چې خلک غواړي

---

(۱) تاريخ روابط ايران وا نګليس د محمود محمود ليکنه څلورم ټوک ۱۱۸۱ مخ .

هغه به کېږي نوپه دغه جګړه کې بیا هم بری د خلکو په نصیب شو.
دا چې د جګړې په پای کې په محیلانه توګه د امپریالیزم یوه ګوډاګي (امیرعبدالرحمن) ته افغانستان سپارل کېږي او انګلیسان وزي دا د مسئلې ظاهري شکل دی خو په حقیقت کې دوا قعا تو تسلسل داسې دی چې د افغان او انګلیس د دوهم جنګ له پای څخه بیا د افغان او انګلیس تر دریم جنګ پورې زموږ خلکو خپله مبارزه نه وه بس کړې څو د دریم جنګ په انجام کې یې د انګلیس څخه خپله خپلواکي واخیستله.
د افغان او انګلیس په دوهم جنګ کې جریانات او عناصر د خپل ټول کم و کیف سره زن ترحماسي څېړلې لاندې دي. ځکه دا زموږ د تاریخ یو حماسي فصل دی او کله چې موږ دا کار کوو نو دلارې څراغ مو په واقعیتونو اتکاده.
په دې حماسه به دوا قعیتونو په اتکا ترحماسي تحلیل لاندې تاریخو له لیکل کېږي خو دا به هم پېژانه نه وي چې په ادبي پوښ کې هم دغې حماسې ته انعکاس ورکړل شي.
په دې اثر کې چې دا مقدمه په لیکل شوېده د دې جنګ واقعات د یوه نسبتاً مفصل داستان سوژه ده. خو دا دې یادونه بایدو شي چې په داستان کې واقعات ټول مستند دي او د داستان پر سو ناڅوله چې په خپلو واقعي نومونو راوړل شوېدي او د هغوی د برخورد ونو په برخه کې د سپا لفو څخه په کمال امانت داری پرهیز شوېدی بلکې هر څه چې دي هغه په رښتینې ډول بیان شوېدي.
څرنګه چې زموږ په هیواد کې د ثور دانقلاب په رڼا کې فرهنګي انقلاب هم پیل شوېدی نو د دغه انقلاب د بریا لیتوب له

پاره د بېلو بېلو جهاتو څخه فرهنګي کارونه پیل شوېدي او د دغو کارونو د بریالیتوب معیار هم د واقعیت پالنې پر بنسټ ارزیابي کېږي

نو ما چې د همدغه اصل په پېروي کوم کار کړېدی په هغه کې مې د خپل فهم تر توان پورې کوښښ کړېدی چې د داستان په پوښ کې هغو واقعیتونو ته ریښتیانی انعکاس ور کړم چې زموږ د تاریخ له دغه حماسي فصل سره اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډیمي چې یو ځوان فرهنګي کانون دی د نورو علمي کارونو په ترڅ کې یې د افغان او انګلیس د دوهم جنګ د کالیزې د لمانځلو وظیفه هم په غاړه واخیسته او د دغې اکاډیمي د اجتماعي علومو انسټیټوټ په دې لار کې د مطبوعاتو په مرسته د اخبارونو، مجلو، راډیو، تلویزون او تیاتر له لارې د دغې تاریخي حماسې په برخه کې ډېر مواد خپاره کړل او په نظر کې دي چې د افغان او انګلیس د دوهم جنګ د حماسې څخه یو هنري فلم هم تهیه شي.

په دې ترڅ کې ما ته هم وظیفه را کړل شوه چې دغې حماسې ته په یوه ریالستیک ـ داستان کې انعکاس ورکړم. البته باید و وایم چې د یو تاریخي داستان لیکنه نسبتاً سخت کار دی خو ما ته چې د اکاډیمي د ملګرو همکاري او حوصله افزایي په برخه وه نو ځان تر یوه اندازې بریالی بولم. نور نو تاسې اصل داستان ته دعوتوم.

بریالي اوسئ

ابراهیم عطائي

کابل ـ د افغانستان د علومو اکاډیمي

# دیوه شوم ستوري غروب

دا سد د ماښامې دوروستۍ شېبې د يوې نسبتاً تودې ورځې سهار ؤ. کله هم سهارنی شمال يو څه سوړ ؤ. خو د اسمان ختيځ خوا ته د لمر ختو په وخت د پښې څپار په لېدو چې د لمر تېکۍ مې په غېږ کې نيولې وه سړی پوهېدی شو چې يوه توده ورځ به په مخ کې وي.

دغه د غبار پټه پرسېتې چې دا د لوړو قيامونو پرزانګو کابل راګوښه دلې وه د لمر د را پورته کېدو سره ورو ورو له منځه او د هغې د يوې څنډې څخه دا د لوړو ماجراګانو ماڼۍ بالا حصار مخ راڅرګندېداوه.

دماڼۍ د يوې پټه اوچته دروازه چې د اوسنې ځت او پنځګل مېخونه په وهل شوي وو د موظف مېرڅو (مېرشب) په امر څلورو کسو پېره دارانو خلاصه کړه او د لمر يوه کمه زېړه رڼا له دغې دروازې څخه د دهليز د فرش پر تور و چوپو دېرو و سپېتلو او دغه تياره دهليز يې روښانه کړ.

د دهليز څو له په يوه تنګه کوڅه ور برابره شوې وه چې له لنډو ديوالو او څخه يې د پانو د کوټاګانو او د نښترن په پاڼو پوښلې لښتې را اوښتې وې او کوڅې ته يې خاصه ښکلا او طراوت وربخښلی ؤ.

ACKU

د دغې کوټې په څنګ کې د يوه نسبتاً غټ کور دروازه خلاصه شوې وه چې د سرای په غولي کې يې د ګلانو باغچو کورته ښکلا ور بخښلې وه خو د سرای درو خواو ته درې او څلور پوړيزه ودانيو دغه کورته ديو غټ سرخلاصه صندوق څېره ور کړې وه .

د سرای په شمالي برخه کې چې د لسو دېرشو زينو څخه ور پورته ديوې څلور پوړيزه ودانۍ د دهليز دروازه واقع وه مخې ته يې دوه وسله وال قازاق سپاهيان ولاړ وو چې د نظامي دسپلين په کامل مراعات داسې معلومېدل لکه په لنډو شېبو کې چې له دغه ځايه پولوي نظامي افسر تېر شوی وي .

د ودانۍ د دوهم پوړ په يوه غټه کوټه کې چې په ترکستاني قالينو فرش شوې وه يو پنډ ميز پروت ؤ او د هغه شا ته جنرال ناست وچې نافذ نظرې ليدونکي په دې قانع کاوه چې دژوندانه ډېرې سړې او تودې به يې ليدلې وي .

د جنرال د ميز څنګ ته چې يو لږ چوکۍ پرتې وې او ميز ته نژدې په يوه چوکۍ کې ډاکټر ناست ؤچې د څېرې څخه يې ډېر دروند کمالت معلومېده .

(ډاکټر باور سکي) (۱) عينکې له سترګو ايسته کړې او په داسې حال کې چې د عينکو هينداريې په سپين دسمال پاکولې د سترګو څخه په ډک نظر يې مخ د جنرال خواته وګرزاوه او د ډېر کمالت څخه يې سترګې د جنرال په څېره کې پاتې شوې .

جنرال چې په خپله چوکۍ کې څه ځای په ځای شو نو د عسکري

او سیاسي متانت نښې یې په څېره کې ښکاره وې ډاکټر یې مخاطب کړ :

«غالباً چې امېدلرونکی خبر به نه را ته ووایې ! »

ډاکټر د خواشینۍ او کسالت څخه په یوه ډک نظر جنرال ته یو ځل بیا وکتل او وې ویل :

ـ « که د امیر او امپراطور ترمنځ د سیاسي روابطو مطرح شوی تړون لاسلیک شوی وای نو اوس به یې درېیمه ماده حذف شوې وای(۲) . »

جنرال د چوکۍ له شا څخه په یو ټکانی حرکت را جلا شو او ځل دواړه لاسونه یې پر مېز کېښوول او د حیرت او تشویش څخه په ډک اندازې ډاکټر ته وکتل وې ویل :

«ډاکټر یا ورسکی ! ولې لکه چې ولیعهد مړ شو ؟»

« هو ! د شپې دوې بجې او پنځلس دقیقې وې چې د امیر د خیالي دنیا د یوه خاموشه شوه شهزاده زما په غېږ کې ساه ورکړه . »

ډاکټر او جنرال د څو شېبو له پاره په خوله وو څو جنرال په داسې حال کې چې ورو ورو یې سر ښوراوه وویل :

« یقیناً چې د دې ولیعهد مرګ به زموږ او برېتانیا ترمنځ د لویو لانجو باعث شي . »

جنرال بیا سر وښوراوه او په مبهمو کلماتو کې یې داسې زیاته کړه :

ـ « په هر صورت د برلین کانګرس ښایي په ښه توګه دا پېچلې مسایل حل کړي . »

جنرال له دغه ناڅاپي خبر څخه داسې تکان خوړلی وه چې د ذهن څخه یې په بې ارتباط ډول پوښتنې په ژبه جاري کېدې. دې پوښتل بیا د خوځښت له پاره پټه خوله شو. او بیا یې په یوه امرانه لهجه د ډاکتر څخه پوښتنه وکړه ـ «څه نور څه ؟»

ډاکتر پوه شو چې په شفاهي توګه باید راپور جنرال ته ووایي نو نسبتاً په رسمي لهجه یې په خبرو پیل وکړ:

ـ «د شپې په دوولس بجو چې ورغلم د مریض وضعې تر پخوا توپیر نه و پیدا کړی خو هیجان یې تر پخوا ځورا زیات شوی و او د همدغه نوې علامې په خاطر اسیر زه په یوه شېبه کې د دریم محل له پاره د ناروغ بستر ته ورو غوښتم. ما د ناروغ د معدې عصاره معاینه کړه او په هغه کې مې د نه هضم شوې میوې ریزګی ولیدې. کله چې مې پوښتنه وکړه وانه وې ویل چې دوه ساعته مخکې د دربار د حکیم باشي په هدایت د میوې جوشانده ورکړل شوې وه..

جنرال په تعجب سر وښوراوه او وې ویل:

«غالباً د شفتالو کمپوټ به یې ورکړی و.»

ډاکتر بیان ته ادامه ورکړه:

«د ناروغ نبض تر پخوا ډېر غیر منظم و او نس یې هم ډېر باد کړی و. زما او حکیم باشي تر منځ د ناروغۍ د تشخیص په نسبت اختلاف نظر و څو تاسې پوهېږئ چې دا مېرزه د دربار وضع داسې نه وه چې ما د ولیعهد د ناروغۍ د وخامت اظهار کړی وای.

د ولیعهد ناروغي یو (بطني پرېتونیت) و خو حکیم باشي د ناروغ

زه ضعیف یاله په هرصورت شهزاده په داسې حال کې سترګې پټې کړې چې زه یې ارباښت دومره نژدې ورته ناست وم چې نفس یې دده په مخ لګېده.»

جنرال سروهو راوه او د ډاکټر له خبر و څخه یې په څېره کې داسې ملایم ښکاره شول چې د تعجب، تشویش او رضایت ټو تر کېب ؤ. ډاکټر هم دجنرال پرڅېره کې درضایت دحالت په درك ډاډه شو چې وظیفه یې په کامله توګه سرته رسولې ده.

جنرال بیا پوهتنې پیل کړې خو داځل یې د خبرو څخه داسې معلومه وه چې غواړي دډاکټر سره دملګرتیا مجلس وکړي نو وې ویل:

«ډاکټره! غالباً چې امیر به ډېر سخت ټکان خوړلی وي. څرنګه ؤ دشهزاده دمرګ دخبر پروخت؟»

«امیر داسې ډوب تللی ؤ چې تا به ویل یو عادي خبر ورته ویل کیږي. ما چې دغه وضع له نژدې کتله نو پوه شوم چې د دغسې ټوټکانې خبر په مقابل کې دامیر عکس العمل دمتانت څخه زه ؤ. راپور ته شوی بلکې لاس وپښه شوی ؤ. خودحرمسرای څخه دغلبلویو داسې دروند زوږ راپورته کېده چې تا به ویل دآسمان ماڼۍ خرپور ته شو او دښهر دروازې په ګکره وموښت.

زه دشاغاسي ارخ ته ولاړوم چې دحرمسرای قاپچي په وارخطايي راغی او دهغه په غوږ کې یې وویل چې (ملکه پهخطر کې ده) په دغه وخت کې نو په تیله تمبه روانه وه اوزه دیوه سړي په تیله له دغه ځایه امري شوم نو نورمې وانه وریدل چې قاپچي شاغاسي ته څه وویل خو شاغاسي په وارخطايي له هغه ځایه ووت.»

جنرال داخل هغېرو مخه سیاست ته واړوله او په استفهامیه لهجه یې وویل :

«غالباً چې دولیعهد مرګ به دامیر او بریتانیا ترمنځ د ډېرلو ماسی پوښتوی باب خلاص کړي .»

جنرال په دې پسې زیاته کړه .

« که انګریزان یا امیر داسې فکر وکړي چې د ولیعهد په مرګ به دا مناسبات پوعادي مسیر ته ولوېږي نو دا به د دوی ډېره لویه بې‌عقلي وي . »

جنرال په خپل ذهن کې د ننه د دوېره پوښتنو سره مخامخ ؤ چې کله به پته خوله شونډو د ګوتو له حرکت څخه به یې سړی پوهېده چې ذهن یې خورا ډېر مصروف دی .

ددغو خبرو په ترڅ کې چې جنرال پته خوله و ډاکټر په یوه استفهامیه لهجه وویل :

— «داسې فکر کوم چې د مغزو په ناروغی اخته امیر به اوس د انګریزانو په وړاندې ډېر مات شي او انګریزان هم پوهېږي چې امیر هرڅومره د ذهني او جسمي پلوه رنځور شي نو هغومره به ګاډی په کش کړي . »

جنرال وویل :

ـ « اصولاً خوخبره باید د غسې وي خو د مسایلو جریان او ددې پوروانده ، مخکې وضع دې ددغو هفتو په دوران کې څه ولیده . زه د امیر او انګریزانو تر منځ سازش د غېر ممکنا تو څخه ګڼم . امیر

په خپله دغه نرمه وضع کې یو سخت عصبي سړی دی او ځای ته ډیورنډ اکثر په حیث ترماڅه یوه و اوسي چې حتی د اعصابو رنځ یې د اسې حد ته رسېدلی دی چې عقل یې هم متأثر شوېدی. د ابل پلو ته انګریزان هم د ډېر سخت لیونتوب پرنملی سپاره دي. «لارډ لیټن (۳)» غواړي د «باېلي کوچران (۴)» وصیتو نه عملي کړي او د هندوکش غروخوري. خوغالباً چې داکوله به یې ستونيو رڅېرې کړي. ترکومه ځایه چې ما امیر پېژندلی دی هغه د انګریزانو په نسبت ډېر سخت نفرت لري او دومره عقدې لري چې ښایي د ولیعهد په مرګه یې د انګرېزانو سره تعصب تر یخوا څو چنده یسې زیات شي.»

ډاکتر چې د جنرال د سیاسي بصیرت څخه پوره قانع معلومېده په داسې وضع لکه په عین موضوع کې چې زیاته توضیح غواړي د جنرال څخه پوښتنه وکړه.

- «آیا امیر او لارډ لیټن دواړه په مشابه ناروغۍ نه دي اخته شوي چې یوه د ولیعهد افسانه سرکړې وه او بل غواړي چې خامخا باید یو انګریز نژاده سفیر د کابل په دربار کې ودروي.»

جنرال چې د ډاکتر د پوښتنې ځواب پیل کاوه نو په څېره کې یې د خپل سیاسي فهم څخه یو غرور هم ښکارېده. ده وویل:

- «غالباً چې ستا نظر به تر یوحده درست وي خو د اهریو د خپلو شرایطو او موقف له مخې پر خپل پېشنهاد ټینګار کوي. امیر د خپلې کورنۍ د ډېر سخت رقابت ډېرې ترخې خاطرې لري او د اوس دستې دوړونو، وېرو او حتی زامنو له خوا تهدیدېږي. ده د نجات لار

ACKU

د اسې بلله چې دولیعهد د منلو سره به د یو لوی قوت په تضمین کې واقع شوی وای او د لانجو څخه به یې نجات موندلی وای خود بد بختانه امیر دغه خوب دا بد له پاره بې تعبیره پاتې شو.

انګریزان له دې کبله د کابل په دربار کې د انګریز اتاده سفیر په مقرری ټینګار کوي چې افغانستان په غیر مستقیم ډول د اسې تحت الحمایه کړي چې د امیر مقام د یو هندي راجا مقام ته را ټیټ کړي او بیا نو هر څه چې د انګریزانو پالیسی وی امیر به یې په ټیټو سترګو عملی کوي.»

ډاکتر په یوه د اسې لهجه لکه د جنرال نا تکمیله جمله چې وړ پوره کوي وویل:

- « البته د ملکې (ه) سره د امیر لیوالی هم ددې باعث وه چې خود خواه ملکه د ولیعهد په افساله کې امیر له جنجالونو سره مخامخ کړي .»

جنرال چې د تائید سر ښوروله وویل:

- « غالباً چې دا مسله هم باید نادیده و نه نیول شي. امیر په حقیقت کې یوا میرزاده او سردار دی. دی که څه هم د پلار په شان ددوړو ښځو حرمسرای نه لري خو دی د کندهاري سردارانو د کورنی ښځې چې د مینې او سیاست د میدان ماهره لوبغاړې ده امیر د اسې په جال منګولو کې نیولی دی لکه باز چې کوتره ونیسي.»

ډاکتر په نیمه خوله خندا پسی زیاته کړه:

« معامله ټوله سرچپه ده کوتري باز په منګولو کې نیولی دی.»

جنرال ته دډاکټر دغه ها عرانه خبرې ډېر خوند ورکړ . ويې ويل :

ـ «ډاکټره ! داسې معلومېږي چې شاعري دې تر ډاکټرۍ کمه نه ده .»

جنرال پسې زیا ته کړه :

ـ «امیر په ظاهره دسیاسی ثبات خاوند معلومیږي خو ددا تولو ظاهري ثبات سره ددغې افغانی ( کلاو پاترا ) (۶) په وړاندې دومره مات دی چې ها لباء که ملکه وغواړي نودی به خپل وطن ، خلک او حتی ځان دهغې په پښو کې قربان کړي .»

ډاکټر وویل :

ـ ((داکلوپاترا په عصبي لیونتوب کې ترامیر کمه نه ده . کنه ایا دادشهزاده د لیعهدي مسله په دغوسره جنجال اوږدله ؟ »

جنرال وویل :

ـ « درسته ده خو ملکه هم په دغوروا نو لانجو کې نا پوه نه ده هغه پوهیږي چې که امیرله وي نو ددې بنزیان ، یعقوب او ایوب به بی د هارون الرشید دمامونی (زبیدې (۷)) په سرنوشت اخته کړي چې مامون الرشید دپلار ترمرګ وروسته دهغې په غاړه کراسته ورګرولې وه . نو که بی د خپل کوچنی زوی دولیعهدی مسله امیر ته دخپلې مینې دامتحان په دول وړاندې کوله ملا متنه نه وه .»

ډاکټر ته چې دزبیدې ترمثال پورې دشهزاده پرجسد دحرامسرای خوځا وروړه یاد شوه نوجنرال ته يې وویل :

ـ « محترم جنراله ! یقیناً چې دا بد بخته امیر او ملکه که دغه

سره وله چوي نو ليونتوب به يې تر پخوا زر چنده زيات شي.»

جنرال ووېل :

- «هو! خو د امپر سياسي مصروفيتونه دومره زيات او ورځ تر بلې درنې چې ځايې را تلونکې مصيبتو نه يې داهم له ياده وباسي.»

ډاکتر پوښتنه وکړه.

-« ددغې پېښې انعکاس په دامپراطور په دربار کې څرنګه وي؟ »

جنرال په داسې وضعه لکه دېو خاص راز په ساتلو چې وظيفتاً مکلف وي په ملفوف ډول ووېل :

- « امپراطور د افغانستان په مسايلو کې کوم سياسي تعهد نه لري خو هغه سياسي انکشاف چې دشهزاده له مرګ سره سمځ ته راځي نو د انګريزانو عمليات به جداً څاري او په دغه برخه کې او زمونږ وظيفه ډېره سنګينه ده چې بنيادي راپورونه ورته تهيه کړو.»

ډاکتر وويل :

— «همدا اوس خوا نګريزان موږ خورا سخت څاري.»

دډاکترخبره لا پوره پای ته نه وه رسېدلې چې جنرال خبره دخولې ورڅخه واخيستله او ويې ووېل :

- «غالباً چې جدي موڅاري خو اوس دومره بېخبره دي چې د لته بې زموږ هويتو نه پوره نه دي پېژندلې. هغه بله ورځ مې د تاشکند څخه په پسته کې راليږل هوی ( تريبيون اف انډيا (۸) و لوسته چې افغانستان ته يې دروسي هيئت ريس جنرال ابراموف ليکلې و. په داسې حال کې چې جنرال ابرا موف دوه کاله وړاندې دسمرقند څخه د فرغانې

دګورنر جنرال په حیث تبدیل شوی او اوس هم هلته دی مطلب انګریزان ده‌مدغسې مطالبو دکشف له پاره کوښښ کوي چې یوانګریز نژاده سفیر په کابل کې مقرر کړي. »

ډاکټر چې څو شیبې دمخه د جنرال په خبرو کې واوریدل چې د امپراطور د وبار ته باید دروان نوي انکشاف اساسي راپورونه تهیه شي د جنرال څخه پوښتنه وکړه.

- « محترم جنراله داسې مې واوریدل چې د یوتا نیا کابل ته زموږ په راتګ امیر ترسخت فشار لاندې نیولی دی. په دې باب تاسې څو مره معلومات لرئ؟ »

جنرال دډاکټر له دغې پوښتنې څخه ناراضه شاته خپره غوره کړه او ډاکټر هم پوه شو چې دده مقام دا نه دی چې د جنرال څخه دا ستنطاق په ډول پوښتنې وکړي خو بیا هم جنرال په سرسري ډول ځواب ورکړ.

- « دمسله دمره څخه معلومه ده کابل ته ز موږ راتګ انګریزان په خورا سخت تشویش کې اچولي دي او د امیر څخه توضیحات غواړي . »

ډاکټر د جنرال دخبري تائید په احترام سره وکړ او بیا یې وویل:

- « کله چې د امپراطور دربار ته دولیعهد دمرګ راپوروړ کوو نو ضرور ده چې د انګریزانو دعملیاتو په باب کافي معلومات ولرو. »

جنرال دسر په خوړ ېدو تائید وکړ او ویې ویل:

«ضرور ! ضرور ! »

جنرال غوښتل چې د ضرور د کلمې پسې نور څه ووايي چې د لوري څخه د باجې بو همغه غږ د دوی غوږو ته راورسېده . جنرال له مېز څخه را ولاړ شو او د کوټې لويې کړکۍ ته ودرېد چې دروازه يې خلاصه وه . ډاکټر هم له خپل ځايه راولاړ شو او د جنرال اړخ ته ودرېد جنرال چې مخامخ کتل ډاکټر ته يې ووېل :

- «هغه دی دامیرله ماڼۍ څخه بېرغ ورو ورو کښته کېږي»

ډاکټر د جنرال په تائيد کې ووېل :

- « هو ! دربار غم اعلان کړ او په همدغه مناسبت دغم موزيك وهي او بېرغ يې هم کښته کړ . »

# توري او سري اوريځې

په کابل کې د مني موسم تازه شروع کېده. د ونو زرغونو پاڼو ورو ورو خپله څېره بدلوله او پېکه ژړ رنګ پکښې ښکارېده.

د کابل مني ډېر ښکلی وي او دا زرين موسم د کابل کليو ته داسې رنګ ورکوي لکه د سرو زرو باران چې پرې شوی وي. په دغه موسم کې د اسمان لاجوردي رنګ ډېر شوخ وي او د طبيعت د ښکلا و د اترکيب سراسر د يوې ښکلې تابلو رنګ ور بخښلی وي.

خو سږ کال دا موسم د پخوا په شان نه و. بې وخته بارانونو د ونو زرغونې پاڼې تور بخونې اړولې وې.. (چارده) او (ده سبز) د منې کښتونه هم د باران او سېلونو څخه لنګه ولاړ شوي وو او بزګران په خواشينۍ او تمبلي پکې ګرځېدل.

کله کله چې په د اسمان په کې منځ توري او ريځې سره پر له را تاو شوې نو تو ند باران به يې سرې ته پسرلی ور په ياداوه خو څرنګه چې دا بې وخته باران و، نو هېڅا ته يې کومه خوښي نه ور بخښله د مار د ګر خوا ته به د دغو تورو او پخو ځنډې تکې سرې واو بتې او د اسمان مخ به يې د تور او سره رنګ په پردازه ډېر ښکلی کړ خو تر هغه را لاندې

منظرې ته چې به سترګې برابرې شوې نو د هر لیدونکي زړه ته به یې د خواشینۍ یوه څپه ور پورې وهله.

د ماجرا ګانو مانۍ بالاحصار چې د زمانې د پېښو د توندو بادونو په وړاندې یې په غرور سر جګ نیولی و یو ځل یې بیا د غم تور څادر پر ځان راتاو کړی وو د بالاحصار سهیل ته د حشمت خان د کلا لوی ډنډ چې په د لاجوردي زلالو اوبو څخه ډک و اوس د سیلونو د خړو اوبو هغه ته سپېره رنګ ور بخښلی و چه په لیدو یې سترګې او زړه خواشیني کېده.

د بالاحصار په سراچه کې چې د امیر حضور ته د مشرفېدو لوځای و د امیر اردل خاصه داران په نظامي ترتیب ولاړ وو د دوی تورو پتلونونو او سرې کرتۍ او جګو پڅو هغوی ته خاصه ښکلا ورکړې وه

د اردل خاص ګارد د امیر د خاص دربار له پاره تیارسی شوی وه خو د ان ورځې دربار رسمیت نه درلود بلکې د امیر سره د درباریانو او اشرافو له خوا د غمشریکي په دود جوړ شوی وه.

د سراچې په لوی سالون کې چې د کړکیو څخه یې پردې پورته شوې وې کله په د باد څپې را ننوتې او په بې وخته باران دوراسته شوې و کښېنتونو یوه توند، بد بویي به یې ورسره راوړله.

په سالون کې پورته امیر شېرعلی د سره بخمل په یوه غټه چوکۍ کې ناست و او د سالون په اوږدوالي چې چوکۍ پرتې وې پر هغو هم یو شمېر سرداران او درباریان ناست وو.

د امیر سترګې لوېدلې وې او د تندي له غوټو څخه یې یو ره

معلومېده له چې ددرو هفتو را په دې خوا يې دزړه توږونکي غم ځپې پرزړه قبولې کړېدي. دده په نسبتاً اوږده ږېره کې سپين وېښتان ډېر شوي وو او په مترصدو کتو کې يې دا حقيقت پوره ځرګندېده چې دحوادثو تور طوفانونه هم په مخ کې لري.

امير چې دخپل ګران (اولس) کلن زوی وليعهد عبدالله جان دغم څلوېښت ورځې ټاکلې وې د هغو څخه درې دېرش تېرې شوې وې خو دامير په څېره کې دخواشينۍ اوغم دنسبتاً ډېرېدو نښه هيڅ نه ښکارېده او دومره مغموم ؤ چې تا به ويل همدا پرون يې دوليعهد جنازه له کوره وتلې ده.

درباريانو هم په خواشينۍ تظاهر کاوه او يو نيم چالاکو سردارانو مترکې سرې کړې وې او کوښښ يې کاوه چې په خپلو حرکاتو سره دامير په وړاندې ځانونه ډېر غمجن او اشفته وښيي.

په سالون کې مطلقه چوپتيا وه خو کله کله چې به د تو ند باد څپه سالون ته ننوتله نو دمخامخ کړکۍ دپردو سره دمښتلو پروخت به يې د ترپهاري يو اواز پورته شو.

په دغه چوپتيا کې دا مير دچوکۍ پر مخامخ د سالون دلويې دروازې پرده پورته شوه او دهغې خوا څخه يو جګ غنم رنګه سړی سالون ته را داخل شو. دده منظم رسمی کاليو او لنډې ږېرې له دونکی په دې قانع کاوه چې ددربار په ادابو پوره پلد او اشنا دی.

ده دامير په وړاندې احترام وکړ او بيا په منظمو ګامونو د امير چوکۍ ته وړاندې راغی او ددوهم ځل احترام سره يې په ارامه لهجه وويل:

«د سکندرشاه اشرف امجد امیر صاحب عمر دې ډېر او اقبال دې تل لوړ وي !

د نظامي چارو مشاور قاضي عبدالقادر (٩) د لویو سردار عرض کوي چې د انګریز سرکار سیاسي نماینده نواب غلام حسین د شرفیابي له پاره حاضر دی . »

قاضي قادرو تر دغو لنډو جملو ویلو وروسته یو ځل بیا احترام وکړ او دوه ګامه را پر شا شو امیر چې سترګې یې دسالون دمخامخ دیوال چت ته نیولې وې دوضعې څخه یې داسې معلومېده له لکه نه چې یې قاضي قادر لیدلی وي او نه یې څه اورېدلی وي .

څو شیبې همداسې په چوپتیا تېرې شوې . وروسته لکه یو چا چې ناڅاپه ټکان ورکړی وي په چوکۍ کې را پر مخ شو او بېرته یې شا چوکۍ ته ولګوله . سرېې دوه واره وښوراوه او دا ځل یې سترګې د قاضي قادرو په څېره کې پاتې شوې دی بیا یې خوله شو او بیا لکه په مغزو کې چې یې چاوده نه شوې وي په ټکانی ډول سر وخوراوه او وې ویل :

«دانګریز سرکار نماینده نواب غلام حسین خان (١٠) »

ددغو کلماتو له ادا کولو څخه وروسته امیر بیا څو شېبې پټه خوله ؤ او بیا یې وویل :

- « قاضي ! د انګریز سرکار نماینده بیا څه غواړي ؟ . »

قاضي په احترام سرکښته کړ او په دوو کلمو کې یې وویل :

- « شرفیابي ! او پوښتنه ! »

امیر سروهوراوه او په داسې حال کې چې له کلما تو دا څخه یې سړی پوهیده چې د نماینده څخه زیات نفرت لري وویل :

- «هو ! پوهېږم چې دا هم هغه افسانه ده . ښه ور ته ووایه چې را شي . »

قاضي چې د امیر امر وا ورېد احترام یې وکړ مخ یې شا ته وګرزاوه و په شمېر لوګاډو لو له سالون څخه ووت .

څو شېبې وروسته په داسې حال کې چې قاضي قادر وتر مخه وترشا یو جګه سوین پوستی اوږد دیږیری سړی وریسې ؤ سالون ته راننوتل .

دانګریز نماینده نواب غلام حسین چې توره شیروانی اغوستې وه او جګه د تور پوست خولۍ یې پر سروه . قاضي چې د سالون نمامی ته ورسېد احترام یې وکړ ووې خوا ته شواو نواب غلام حسین یولاس په ځیګر او بل په تندي کېښو د بوا ځلی سر یې د ځیګرخوا ته کوز کړ نورنو لکه الف شخ ودرېد . امیر د سر په اشاره هده احترام قبول کړ او نواب په جګ اواز وویل :

- «سکندر شان خاقان امیر دې د نور غم څخه په امان وي .

انګریز سر کار د امیر صاحب په غم کې ځان شریک بولی او ما ته وظیفه راکړل شوېده چې دلویې بریتا نیا د تولوا کمنې اود هندوستان د امپراطریسې علیا حضرتې ویکتوریا د دولت په نماینده ګی عرض وکړم چې دهندوستان انګریز سر کار هیله لري چې امیرصاحب او د هغه انجیږه کورنی نورغم هیر کړي ځکه داد خدای قانون دی او موږ په هغه کې هیڅ وس او قدرت نه لرو . »

امير چې بيا هم خپلې سترګې مخامخ ديوال ته نيولې وې کله چې دو پکتوريا (۱۱) او انګريز نوم واخيستل شو نو بې اختياره ټکان يې سترګې د نواب پر ستر ګو برابرې شوې بيا يې د نواب د احترام د قبول په توګه سر وخوځاوه .

نواب خو شيبې پټه خوله ؤ بيا يې وويل :

- «د سکندر شان امير صاحب دولت او اقتدار علاقمند نواب غلام حسين د انګريز سرکار له خوا موظف شوې دی چې د امير صاحب حضور ته عرض وکړي چې ددوی پخوانی تقديم شوي ليک جواب که وسول شی دا به زما په حق کې يو لوی عنايت او سر لوړي وي .»

امير چې مخامخ کتل نواب ته يې د کښېنستلو اشاره وکړه او نواب هم مخامخ امير ته کښېناست نواب څو شيبې پټه خوله ؤ او امير بيا هم مخامخ کتل نواب وويل :

- «د انګريز سرکار نمايندګان په پېښور کې د انتظار په حال کې دي او د هندوستان وسراي ليټن صاحب ما ته امر کړيدی چې ددوی دوستانه پيغام دا ورولو په ترڅ کې ددوی دا هيله دا مير صاحب حضور ته څرګنده کړم چې د امير صاحب د دولت دوستدار به ډير خوشحاله شي چې د انتظار دغه حالت ډير ژر پای ته ورسيږي او د انګريز سرکار با صلاحيته هيئت کابل ته راشي .»

نواب پټه خوله شو او امير داسې وضع اختيار کړه لکه نور چې د نواب خبر و د اورېدلو حوصله نه لري او په يو عصبي توګه يې نواب مخاطب کړوې ويل :

- «نواب غلام حسین خانه! تا ته خو معلومه ده چې ما د ولیعهد غم څلوېښت ورځې اعلان کړېدی. نن درې د پرشمه ورځ ده چې زه او زما کورنۍ او زما دربار په غم کې یو آیا تاسې د یو سیاسي نماینده په حیث دا لازمه بوله چې تر ټاکلي وخت وړاندې زه د غم کمبله ټوله کړم او د انګریز سرکار سره خبرو ته کښېنم؟ تا ته خو زموږ د وطن دود او دستور معلوم ؤ. دا ستا وظیفه وه چې د انګریز سرکار نماینده ګان په دې قانع کړي وای چې زه په دغه وخت کې حتی د دغسې کار دپاره دونې اورېدلو ته لا هم حاضر نه یم نو رسمي خبرې به څنګه وشي؟»

امیر خوشدلې پته خوله ؤ بیا یې پسې زیاته کړه:

- «نواب غلام حسین خانه! دا د دولتونو قانون دی چې خبرې هر څومره ددوی خواؤ په رضایت او پوره سالمه فضا کې وشي هغو-مره به یې نتیجې په زړه پورې وي خو که د تحمل رنګ واخلي نو دغه کار به ښه عواقب و نه لري. زه باید بوځل بیا تا ته ووایم چې زما دولت د انګریز سره دعداوت او دښمنۍ اراده نه لري او بالمقابل له انګریزانو څخه هم غواړم بالمثله رویه وکړي. زه اوس په دغه حال کې چې د غمونو په سمندر کې لاهو شوی یم څه وکولای شم څه به وویلای شم مناسبه رو به داده چې ته زما پیغام انګریز سر-کار ته ورسوه او ورته ووایه چې هر وخت موږ لته د غم کمبله ټوله کړو نو بیا به په ارامۍ ددواړو دولتونو نماینده ګان سره وګوري.»

امیر پته خوله شو او نواب خوشدلی سر ځړولی ؤ بیا یې سر پورته کړ او په داسې حال کې چې لاس یې پر ځیګر اېښی ؤ ووېل.

ACKU

«دا مخلص يو ځل بيا د سکندر خان امير له پاره د ډېر عمر او خوشحالۍ غواړي. زه به د امير صاحب پيغام د انګرېز سرکار نماينده ګانو ته ورسوم. امير دې د تورغم څخه په امان وي.»

داسې ووېل او په داسې حال کې چې قاضي قادرو تر مخه ؤ نواب غلام حسين په هغه پسې له سالون څخه ووتل.

په سالون کې کامله چوپتيا وه او حاضرينو ټولو سرونه ځړولي وو او کله کله چې به کوم چاپېر يو ر ته کړ او د خولې څخه به يې يو آه ووت او بيرته به يې سرونه ځړاوه او سترګې به يې د سالون په فرش کې بندې شوې. بوالحې امير وچې په نافذو کتنو يې سترګې د مخامخ دروازې خوا ته متوجه وې.

څو دقيقې وروسته تر هغه چې قاضي قادرو او نواب غلام حسين ووتل قاضي دوباره سالون ته راننوت د دروازې له خولې سره يې امير ته احترام وکړ او په نسبتاً چټکو ګامو د سالون د سرچوکيو ته تېر شو لوړې خوا ته په يوه چوکۍ کې کښېناست ده هم سر وځړاوه.

امير چې د سترګو تر کونجو قاضي ته وکتل وې وېل:

- «نواب دې زموږ په مطلب پوه کړ؟»

قاضي سر راپورته کړ په ښو ودرېدا وې وېل:

- «هو! د سکندر خان امير صاحب د فرمايشاتو په باب مې نور تفصيلات هم ورکړل او ورته مې ووېل چې موږ دغه ډېر کمبله ناست يو او انګريز سرکار بايد په مناسب فرصت کې دا مسايل مطرح کړي.»

ACKU

امیر وروورو سر ښوراوه. داخل یې د ناستو خلکو خوا ته وکتل او وې ویل :

- «انګریزانو سراسر زموږ سره د دښمنۍ رویه را اخیستې ده په هره مسئله کې کوښښ کوي چې زما ابرو را توی کړي او په دغه کار کې یې هم مقصد دغه دی او غواړي چې ما خپلو خلکو ته داسې وښیي چې دانګریز دامر په مقابل کې حتی د غم او فاتحې څخه منصرف کېږم.»

امیر په خپله چوکۍ کې سره وښوریده بیا یې وویل :

- «کابل ته د روس دا ملچي را تګ دوی وارخطا کړیدي خو که انګریز بې وفا نه وای ما به هیڅکله د روس خوا ته تللی هم نه وای. ولې دوی زه مجبور کړم اخر زه باید ترڅه وخته تحمل وکړم انګریز زما په خاوره کې د ننه په خپلو جاسوسانو غواړي زما امنیت ته اور را واچوي. زما د کور او فامیل په کارو کې هم مداخله کوي آیا موږ به ترکومه وخته دا تحمل کوو هرڅه یو حد لري.

نا اهل یعقوب دغو دښمنانو په پښو ا ته ودراو (۱۲) چې وروستی چاره بله نه وه بیله دې چې زندان ته یې وغورځوم. وروڼه او وریرونه دوی را ته یاغي کوي او د پیسو په مټ مین خانان او سرداران خو دوی ته کړی په غوږ مریان شویدي.»

امیر څو شېبې چوپه خوله شو بیا یې خبرې پیل کړې.

- «عجیبه طایفه ده! خپل جاسوسانو ته د دین او تقوا کالي ورواغوندي او بیا دغه جادوګران چې په خوله وایي موږ د دنیا

په کار غرض نه لرو خوحتی زما ددر بار خلکو ته تونگ ورکوي او په ماښ راولاړوي . د (تغاره شاه) (۱۳) ماجرا ته ئکرو کړیء.

دادانګریز بچی چی په ظاهره یې ځان ملنګ جوړ کړی ؤ خو په حقیقت کې پلنګ ؤ ده هم زما په امارت سودا بازي کوله سردار فیض محمد احمق چې ما د ترکستان اداره ور سپارلې وه دد ځه جادوگر ته ئږر لاندې راغی او د امارت سو داږر ته پیدا شوه . ده زمادنمک پاس هم ونه ساته او د تغاره شاه په احمقا نه دعاییې ځان امیر و با له او جشن یې جوړ کړ .»

امیر څو شیبې پټه خوله شو او په داسې حال کې چې وروورو یې سر ښوراوه پسې وویل :

« داده د هغه انګریز سرکار دوستی چې زما سره غمشر ایکی کوي یعقوب احمق یې پښو را ته دروي ، تغاره شاه زما امارت نورو ته بخښی او بیا پیغا مو نه هم را استوي . زه ښه پو هیږم چې د اطایفه څه غواړي . خو وا یی هغه څه چې عوض لري هغه کیله نه لري ان دیرون په شان نه دی . زه به هر دښمن ته د هغه دحال سره مناسب سوك ور کړم .

هغه دښمن چې زما دا برو په توییدو کې کوښښ کوي زه به هغه هیڅکله ونه بخښم.»

امیر یومحل بیاسخ قاضی قادرو ته وکر زاوه او وې ویل :

«میلمانه څرنګه دي ؟»

قاضی پوه شو چې دامیر مقصد دروسي د هیئت پوښتنه ده نو و لاړ

PROPERTY OF ACKU
32532

شو او په داسې حال کې چې لاسونه يې پر ځيګر کېښوول د احترام په دود يې سر کښته کړ او وې ويل:

«هغه ارام دی او هيڅ شکايت نه لري.»

په دغه وخت کې په سالون کې د قاضي قادر و پرسخ په چوکۍ کې پروت نګر سړی ناست ؤ او د امير د پوښتنې او د قادر و تر جواب وروسته د چوکۍ څخه ولاړ شو او په پښوو دريد. ده چې پښتني لباس اغوستی ؤ دا کالي يې په ځګه وښه کې داسې معلوميدل لکه په يو کوټ بند کې چې محول شوي وي. ده احترام وکړ او بيا يې وويل:

«افسوس ميلمانه زموږ د غم ورځې په ډېره همدردی راسره پالی. دوی واقعاً خوا بدي او غمجن دي. ماښام لا تياره شوې نه وي چې دوی بستر ته ځي او د شپې يې ځراغونه مړه وي. ما د دوی څخه پوښتنه وکړه چې ولې دومره وختي بيد پريږي په جواب کې يې راته وويل چې د سکندر هان خاقان غم يو ايځي ستاسې نه دی. داغم زموږ هم دی او موږ له ډېره غمه د شپې وختي بستر ته ننوزو.»

دامير په ځېره داسې ښې ښکاره شوه لکه د يوه دوست د همدردی او عاطفې تر تاثير لاندې چې راغلی وي. ده سرو ښوراوه بيا يې وويل:

«ملاشاد محمد خانه (م ا) د استا وظيفه ده چې ته به هميشه د دوی خبر کوې. د ځای او ډوډۍ په باب يې ډېره پاملرنه کوه يو ونيم وخت يې د باندې پاسه چې تفريح وکړي خو دامنيت په باب يې بايد پوځې ډېر متوجه و اوسې ځکه دانګريز جاسوسان ډېر دي نه ويل کېږي چې تاوان ما وان ورو رسوي او دا به زموږ او روسې د دوستي د برهم کېدو اسباب پيدا کړي.»

ملاشاد محمد چې ولاړ و دامیر د خبرې د خلاصیدو سره یې دوا ړه
لاسونه پر ګېګر کښېښوول او وې ویل:

«پرستړګو! خو مسلمانانو نه غواړي چې تفریح وکړي تېره ورځ
زه وروغلی وم. دوی د غرمې له خوا خپله اشوزخانه هم معطل کړېده
ماهې علت و پوښته دوی راته و ویل چې ستاسې روژه ده نو موږ هم
د غرمې له خوا څه له خوړو بغڼاً چې زموږ د دود او د ستور ډېر لوړ
احترام کوي.»

امیر د شاد محمد د قول په تائید کې وویل:

-«هو! ډېر مطیع خلک دي»

امیر سرو بوراوه او په داسې لهجه لکه ټول مجلس چې یې مخاطب
کړی وي وویل:- «اوس نو تاسې دغه خلک د مغرور انګریزانو سره
مقایسه کړئ. په رښتیا چې دوی ترانګریزانو اصیل دي او ما ته
دا یقین دی چې دوی به زما او قیصر ترمنځ د دوستۍ مزي ډېر ټینګ
کړي او د یو د وستانو به ملګرتیا به موږ د ابلیسانو له چنګاو څخه
خلاص شو.»

دامیر خبره چې خلاصه شوه د حاضرو درباریانو له منځه یو ولاړ شو
او په داسې حال کې چې دواړه لاسونه یې په ګېګر ایښي وو په ډېره-
د بدلې اوازې وویل:

-«د حضرت اقدس سکندر شان اشرف امیر صاحب اقبال دې بلندوي
که اجازه وکړي حسب معمول د ناټب خوشدلخان (تارتق چې) راغی
او د ترکستان تارتقونه (سوغاتونه) په ښکاره کړي.»

ACKU

خبرې کونکی یو ځل بیا خپل لاسونه په ځیګر کېښودل سر یې وځړاوه او دامیر دامر منتظر شو امیر په اشاره سره هغه ته امر وکړ چې تارتقونه راوړي (۱۵). له دې سره سم خبرې کونکی ووت او لږ ګړی وروسته په داسې حال کې چې د مخامخ دروازې پرده دوو کسو پیشخدمتانو پورته کړې وه له دروازې څخه دوه کسه راداخل شول چې د شاله خواسې لوپه پګړی تړلې وه او قاغمیی چپنه یې اغوستې وه. په دوی پسې اوه څو نچې هره یوه دوو کسو پرسر نیولې وه سالون ته راداخل شوې او دهغو ترشا یو ډېر ښکلی قفس چې طلایی میخان یې په قیمتي غمیانو ښکلی شوي وو یوه تورغلام په سرنیولی وه او دا قفس یې په سالون کی په یو میز کېښود. د تارتقونو خونچې د سالون په اوش کېښوول شوې او ټولو لاسونه پر ځیګرو نیول. هغه سړي چې قاغمیی چپنه یې اغوستې وه دوه ګامه وړاندې راغی یو ځل یې بیا دامیر په وړاندې احترام په ځای کړ او ووې ایل:

- «د لوی سکندرشان اشرف اقدس امیرعمر دې ډېر اودا قبال ستوری دې دلمر په شان ځلانده وي. زه مریی وبارم چې د ترکستان دلوی نائب خوشدل خان (۱۶) په اعتماد دحضرت امیرصاحب په حضور مشرفیږم - دنن په تارتقونو کې زیاتره شیان د (ختا) (۱۷) (بخارا) او (اوروس) دملکونو څخه برابر شوېدي.»

ددغه سړي په اشاره دوو کسو پیشخدمتانو د لومړي خونچې څخه ورېښمین شالچې ګلابا تون پرکار شوي وو لېرې کړ او په داسې حال کې چې د قاشقاري چنیانو څلور مکمل سیټونه ښکې پرا ته وو د هغو له منځه

ACKU

دغو دوو پیشخدمتانو یو لوی پلو خړي غوړی راپورته کړ چې د دوولس کسو له پاره ډوډۍ پکې ځای شوه او دخوشدل خان تارتقچي په احترام امیر ته وویل:

«داچینایان دختا څخه راغلي دي لوی نائب صاحب د احترام د عرض سره دا پیغام راکړی دی چې دا انتیک غوړی یوالځي دامیر صاحب دی.»

امیر د قبول سره ښوراوه او دغو ددوو کسو د خونچې د چینایانو یولي یولي توتې پورته کړلې پورته یې پر ځای ایښوولې څو ددغې خونچې ټول چینیان حاضر شو ولیدل. دوی خونچه ایسته کړه او ددوو همې خونچې وار ورسید په دوهمه خونچه کې د بخارایي کنډولونو ډېرې ښکلي توتې پرتې وې چې یوه یوه پیشخدمتانو پورته کړله او په دې ترڅ کې یې د یو نخودي رنګه تو کر چپنه را پورته کړه چې د تو کر سره د همرنګه ورېښمو په ډېره نازک کاري ګنډل شوي وه تارتقچي بیا وویل:

«ستاسې مړیې عرض کوي چې لوی نایب صاحب دغه چپنه تحفتاً دسکندر شان اشرف بها در امیر صاحب حضور ته ور اندې کړېده»

امیر د قبول سره ښوراوه څو ددریمې خونچې نوبت ورسېد په دریمه خونچه کې څو توري پرتې وې چې هره یوه په خاص هنر صیقل شوې وه او ددغو تورو له منځه تارتقچي یوه توره چې د سرو زرو لاستی یې درلود او ډېر قیمتي ځمي پر کار شوي وو په لاس کې و نیوله او د لوی نایب پیغام یې وواېه چې دا هم تحفتاً امیر صاحب ته رالیږل شوېده.

ACKU

په دې ترتيب اوه سره خونچې وكتل شوې او حاضرينو دهرې توتې په كتلو ډېر اعلى او ډېر اعلى كلمات ويل څو نوبت وقفس ته ورسيد تار تقچي قفس را واخيست او څو ګامه وړاندې راغى قفس ئى د سالون په منځ كې امير ته نژدې كښېښود او د احترام ترادا كولو وروسته پته خوله و دريد امير چې په دقيق ډول قفس ته متوجه شوى ؤ د تار تقچي څخه ئې پوښتنه وكړه .

«دا طوطى څه كمال لري ؟»

تارتقچي بوځل بيا خپل سر په احترام پورته او كښته كړ او بيا ئې طوطى ته وويل :

«طوطا! ته د سكندر شان بها در امير صاحب د حضور افتخار لري د اسې څه ووايه چې امير صاحب در څخه خوشحاله شي .

طوطى چې د قفس په منځ كې ډېر بوسمخ خپلې منګولې ټينګې كړې وې ورو ورو ئې سر ښوروړ او په دغه وخت كې چې امير او ټوله حاضرين هغه ته متوجه وو طوطى په جرغيږ داډوه بيتو نه وويل :

چون رفته په تقدير د ګر ګون نشود	يك ذره ازانچه هست افزون نشود
هان تا جګر خويش بغم خون نكنيد	كز خوردن غم بجز جګر خون نشود

د امير په مخنى ئې تفاوته وضع كې بودم بدلون راغى او تار تقچي ته ئې اشاره وكړه :

«ميرزا ! ته دا قفس راوړاندې كه»

تار تاقچي قفس د امير پښو ته كښېښود او پخپله لاس په څيكرود ريد .

امیر په دقت طوطي ته کتل او طوطي ورو ورو خپله مشوکه د قفس په سیخ پورې مښلوله خوځوله او ورو سته امیر بوځل طوطي او بیا تارتقچي ته وکتل او وې ویل .

«میرزا یعقوب خانه ! نور یې تونه یې هم زده دي؟»

تارتقچي په احترام د تائید په توګه سر وښوراوه او طوطي ته یې وویل :

«حضرت اقدس ته څو نور بیتونه ووایه .»

طوطي په تمبلۍ په هغه سیخ ځان سره ځای پرځای کړ چې تر مخه پرولاړ ؤ اوداسې وضع یې اختیار کړه لکه یو هیرشوی مطلب چې بیا د ته راولي بیا یې په خپل جراواز داده بیتونه وویل :

اي داد ز دست فلك بې بنیاد          هر گز گره بستهٔ کس را نکشاد
هرجای دلي دید که داغی دارد          داغ دیگری بر سر آن نهاد

طوطي خاموش شو او امیر په ژور فکر کې غوټه شو پس له څو شیبو څخه . امیر د حاضر ینو خوا ته مخ واړاوه او تارتقچي د احترام تر ادا کولو وروسته راپه شا شو او میر و ویل :

«کوري داد لوی ناب خوشدل خان تارتقونه دي په رښتیا چې خوشدل خان دشیردل خان زوی دی دارفا دار لوی ناب چې هرڅه پیدا کوي هغه زما په پښو کې نثاروي. داد ی ان تر یو ې میاشتې زیات وخت تیر یږي چې د لوی ناب تارتقونه تاسې و یښې اوس نو نائب محمد عالم خان د وړه یاد کړی چې د ترکستان په تولهما موریت کې یې دغو تارتقونو

دریمه برخ هم نه وه رالیږلې . اوس به نو څوك ووايي چې خوشدل خان ځوان دی او د ترکستان ولایت نشي اداره کولی؟»

امیر سرو پور او به داسې حال کې چې تار تلچي ته یې کتل وویل:

«لوی نا ب خوشدل خان زمایو وفا دار ارزاند دی زه د هغه څخه ډیر خوښ یم.ورته ووایه چې د څماز اتومخ دي تورکړه»

تار تلچي په احترام سر پورته کښته کړ او بیا امیر د پیشخدمت باشا ـ نو مشر ته وویل:

«دطوطی دا قفس په خاص حرمسرای کې زماد کوټې له اوروسی سره وځړوه.»

هغه احترام و کړ قفس یې واخیست امیر هم ولاړ شواو ټول د سا لون څخه ووتل .

٭٭٭٭٭٭٭٭٭٭٭٭٭٭

# اپريدي انګريزانو ته پرېږدي

د (تورخم) په کلي کې د کوکي خېلو اپريدو سره يې يوه جرګه جوړه کړې وه. په جرګه ځای کې سپين ږيري د يوې لوېې ونې لاندې په ځمکه ناست وو او له دوی څخه څو ګامه وړاندې په يو فاصله والځوانان او د هغوی شا ته نجونې ناستې وې. له دوی څخه پورته پر يوه کوچنۍ غونډۍ پولچي ولاړ و او د جرګې پول يې ساته.

د جرګې اصلي ګډونوال کوچني آرام او ښه خوله وو او د جرګې د دستور سره سم هيچا ته اجازه نه وه چې د جرګې تر پايه پورې په عمل منځ کې حتی د روغېږ په سويه هم خبرې وکړي د لمر تو ندي شغلې په جرګه ځای راخورې وې او هوا نسبتاً توده وه خو دغه پر درې شمال چې په کله کله راوالوت تودګرمي هغه په يې نه وله.

په يو ګړی همدغه چوپتيا وه خو يو سپين ږيري چې څو واره يې پر خوله ګنډه پوړه لاس تير کړ وې ويل:

«عزيزانو موږ نن د يو مهم کار له پاره دلته را ټول شوي يو. موږ ته د پرنګي سرکار صاحبانو احوال رالېږلی دی چې د هغوی سره د علي مسجد څخه تر ډکې پورې ملګرتيا وکړو.

د پرنګي سرکار دوه جرنیل او یو مېشن له پېښور څخه کابل ته روان دي او غواړي د امېر صاحب سره وګوري، اوس به په دې جرګه کې دا فیصله کوو چې د پرنګي سره دا مرسته وکړو که نه ؟

تاسې ته باید ووایم چې زموږ د اپرېدو یو شمېر ملکانو پرنګي ته د مرستې لاس غزولی دی او حتی تر کابل پورې یې د هغوی د سر ضمانت کړېدی . »

مومن پېری پټه خوله شو او د جرګې له منځه یو بل مومن پېری په داسې لهجه لکه د لومړي مومن پېري څخه چې توضیح غواړي پوښتنه وکړه

«د پرنګي سرکار دا مېشن د امېر صاحب په اجازه کابل ته ځي او که په خپل سر روان دي ؟»

لومړي مومن پېري ځواب ورکړ :

« که د امېر په اجازه روان وای نو بیا زموږ مرستې ته یې څه اړه درلوده؟ دوی کابل ته د خبرو له پاره ځي . »

د جرګې یو بل غړي ووېل .

«معلومه شوه چې دغه پرنګیان د امېر بې اجازې کابل ته ځي او که د امېر حاکمان هغه راګرزوي نو دوی به زور کوي نو څرنګه چې زموږ په ضمانت کې دي موږ باید د پرنګي پلوي وکړو او د امېر د حاکمانو سره وجنګېږو او که دا کار وکړو نو تر خدای او امېر پورې به مو مخونه خړ وي ؟»

دی پټه خوله شو او لومړي مومن پېري ورته ووېل :

«ځموږ د اپرېدو د ډېرو ملکانو ورسره منلې ده او پرنګي سرکار

وعده هم کړېده چې دوی به هر هغه کام ته چې له دوی سره مرسته وکړي د امیر د مواجب (معاش) دوه چنده ، مواجبونه ور کړي . »

د سعدون پېرې د خبرې له خلاصېدو سره د جرګې تر کړی پورته چې څلور ناستې وې هغو د پرو په ټکولو (۱۸) پیل وکړ او وسله والو ځوانانو په منت هغوی ته وکتل . د جرګې بوه سعدون پېري په لوړ اواز ناري کړې :

« موږ د مواجب له پاره د پرنګی ملازم نه یو . دا پرېږده و هغو ملکانو چې د مواجب له پاره یې دا کار کړېدی هغو په پښتو نواله توره را اېستلې ده پرنګی سرکار که غواړي کابل ته ولاړ شي نو د امیر څخه دې اجازه واخلي موږ که د پرنګی سره ملګري شو نو لومړی باید خپلې پېرې د بې ننګی په بهانې غوڅې کړو.»

د جرګې بل سعدون پېري وویل :

« د خیبر دره زموږ ده . نه د امیر ده او نه د پرنګی زموږ پلار چې څوك تېرېږي هغه به زموږ مواجب منی په دې کې څه بده ده چې موږ د پرنګی مواجب قبول کړو او دا پرېږدو نورو ملکانو په شان د هغوی سره په تېرېدو کې مرسته وکړو . »

د جرګه ځای تر کړی پورته بیا څلور د پرو په ټکولو پیل وکړ او دا ځل وسله والو ځوانانو هم خپل ټوپکان او توري په لاس کې پورته کړې :

د جرګې بل غړي وویل :

امیر چې هر څه دی خو بیا هم زموږ د ورسره وینه ورسره شریکه ده

او که د پرنګي سره مرسته وکړو نو دا به د کامولي ګرمه راواړوي
زه د پرنګي د مرستې هېڅ ملاتړ نه کوم »

د جرګې يو نسبتاً ځوان غړي وويل :

« د امير پوره ارزنه دی کنه موږ به د هغه ملا په خپله توره تړلې وای . دده پلار د يوې خوا موږ د پرنګي سره په شاره کې واچولو او د بلې خوا يې د جمرود (۱۹) په کلا کې د پرنګي سره ځانته سازو باز جوړ کړ نو اوسنی امير چې هم د هغه زوی دی پر دوستۍ يې موږ اعتبار نه لرو . »

هغه لومړي سپين ږيري چې جرګه يې پيل کړې وه وويل :

« هغه خبره ده چې زه وايم د پرنګي مشن بايد ترڅو کې پورې ورسوو. هغه مواجب چې اوس يې امير راکوي هغه به په پرنګي حواله شي او د بلې خوا څخه دا پرېږدو د نورو ملکانو سره به موږ هم اړوند نه ځرابېږي . »

د سپين ږيري د خبرې له خلاصېدو سره يو ځل بيا څو ډزې وټکولې او دا ځل وسله والو ځوانانو خپلې وسلې پورته کړې او په هوا يې وچورولې .

د جرګې يو بل ځوان غړي چې پلار يې څټه خرملې وه او لوړاوږده برېتونه يې د مخ پر غټه سپينه کاسه ډېر ښکلي ايښودل وويل :

« موږ به هرګز قبول کړو خو ځانونه په پرنګي نه خرڅوو. پرنګي دښمن دی او هغه دښمن دی چې زموږ په خاوره او زموږ په ناموس تېری کوي موږ پرنګي نه پرېږدو او هرڅوک چې د پرنګي سره ملګري

ACKU

کیږي موږ به د هغه سره د پرنګي په شان معامله وکړو. موږ پر امیر هم باور نه لرو او که پرنګي شړو نو دا کار به په دې نیت نه کوو چې موږ به د امیر له پاره خدمت کوو. امیر او د هغه سرداران داسې خلک دي چې هر وخت بده په راشي نو موږ ته به یاد پړو او چې ارامه شي نو موږ ته بیا د سړو په سترګه نه ګوري.»

د جرګې د غړو له منځه یو سړي چې په مومن پښتو کې یې ځان پېژندلی او د لاس د تسپو او په دعا د خولې د شور ودو څخه یې داسې معلومېده چې یو مذهبي پېشوا دی خپلې تسپې له لاس څخه پرېښکه کښېښوولې او بیا یې وویل:

«زه هر وخت د خدای د لارې خبره کوم. د لارو سره چې هر څوک مرسته وکړي ثواب لري پرنګیان زموږ دښمنان دي خو که زموږ کور ته دښمن هم پنا راوړي پښتونواله څه وايي؟ اوبا پنا به له ور کوو. همداسې د صاحبانو دښمن لن زموږ له لارې تېرېږي او زموږ څخه یې په زړه واتې مرسته غوښتې ده او د دوی سره مرسته باید وشي.»

د دغې خبرې د خلاصېدو سره د جرګه ځای څخه ورپورته د پښو او وسله والو ځوانانو یو زوږ پورته شو. پښو وارې تکولې. وسله والو ځوانانو خپلو وسلو ته حرکت ورکاوه او نارې یې ورسره وهلې چې «نه یې منو پرنګي زموږ دښمن دی!»

د جرګې په کړی کې یوه دپا خه عمر خاوند سړي وویل:

«زه تېیا خبرې په سره کووم کابل امیران هر وخت زموږ په سر سودا

بازې کوي. زموږ ددغو سپین ږیرو چې په جرګه کې ناست دي ښه په
یاد دي چې د اوسني امیر پلار د پرنګي سره دعوه وکړه خو وروسته
یې په جمرود کې د خیبر د پښتنو په غاړه چاړه راوکښله. د دغه اوسني
امیر کاکا سردار سلطان محمد طلایي (٢٠) د پرنګي د نوکر رنجیت سنګ
(٢١) نوکر شو او د پوې خواخځه یې موږ جنګه ته وهلو. کوم او خو بلې
خوا ته چې به یې خزانې ته د پرنګي روپۍ ورغلې نو بیا به یې موږ هېر شوو.
اوسني امیر که څه هم د پرنګي دښمن دی خو امیدا و نشته او که
پرنګیان ده هوښتنې و منې نو لېرې ده چې موږ دې په لاره کې پرېږدي.»
دده خبرې چې پای ته ورسېدې نو یو بل سپین ږیري چې دعصبیت
څخه یې سترګې راوتلې وې وویل:
-«ملکه! ستا مطلب که داوي چې امیران او سرداران تر څنګه
وخته زموږ سره ملګري دي چې پرنګي نوځه وو کوي او دا په زه منم خو
که مقصد داوي چې امیران او سرداران داسې کوي نو موږ هم باید
د پرنګي ملګري شو نو دا د پښتونوالي لاړله ده موږ امیران اوسرداران
پېژنو خو پرنګي هم پېژنو. که نن د یوه پرنګي پښه زموږ خاورې ته
را ننوزي نو ورپسې به هېري چې سبا به دلته د پرنګي څو بل جوړشي. موږ د پرنګي
ملګرتیا نه کوو او دا پرېږدو څه ملکان چې د پرنګي سره یې لاس
ور کړی دی هغو ته به جرګه ورولېږو او خپلې غاړې به ور ته خلاصې کړو.»
هغه لومړي سپین ږیري چې د جرګې په سر کې یې خبرې کړې یوې وویل:
-«که هغوز موږ جرګه و نه منله او پرنګي هم زور وکړ نو بیا څه
باید وشي؟»

د جرګې په څاوخوا راټول شوو وسله والو ځوانانو په ډېر قوت خپلې وسلې وهرنګولې او په جرګه کې یو ځوان غږېږو ویل:

-«داسې معلومېږي چې په جرګه کې ډېر غړي د پړانګې د مرستې طرفداران نه دي او د بلې خوا زموږ ځوانان چې وسلې یې وړي غواړي د پړانګې سره مرسته ونه شي اوس نوري خبرې بس دي او د جرګې لوسون بوري دي د جرګې له خوا وروستۍ خبره وکړي.»

په جرګه کې بوسون بوري چې مخ ته یې ارسلان هادر بوتور توکر پروت وه هغه توکر په خپله لکړه پورې او تاره له ځایه ولاړ شو او د اتور بیرغ یې پورته کړ بیا یې وویل.

-«د جرګې وروستۍ خبره دا ده چې دوې پوښتنې کوم. لومړۍ پوښتنه دا ده چې څوک د پړانګې سره مرسته نه کوي هغه دې لاسونه پورته کړي» په دغه وخت کې د جرګې ډېرو غړو لاسونه پورته کړل او په جرګه ځای کې دراټول شوو وسله والو ځوانانو او ښځو هم زوږ پورته شو او سون بوري بیا وویل:

-«خلاصه شوه: موږ د پړانګې مرسته نه کوو!»

ټول سون بوري په پښو ودرېدل او بیا ورو ورو راګرشا شول او هغه ځوانان چې په جرګه ځای کې راټول شوي وو جرګه ځای ته راغلل. سون بوري د ځوانانو پر ځای کښېناستل او ځوانانو په جرګه ځای کې اتڼ پیل کړ چې دوو ډولچیانو ډول ورته واهه. د اتڼ په هر څرخ کې به یې د ټوپکو خولې پورته ونیولې او پرله پسې به یې ټکان ورکاوه. دا اتڼ ډېر سهیج وه او تر ماښامه یې دوام وکړ.

ACKU

# هغه توره چې په تيکي کې زنګ وهله

دمني د وروستيو ورځو سوړ وربشې چلېده او ونې له پاڼو څخه لڅې شوې وې. د ونو برګچو ښاخونو هرې خوا ته تور کارګان ناست وو او دغو تورو سيلونو پورته په هوا کې هو بې نظمه اتڼ جوړ کړی ؤ او کله کله چې به د ناستو کارګانو د بد اواز نغمې ورسره ملګرې شوې نو بوه بې خونده او بې رنګه سمفوني به يې ترسيم کړه.

د ګذرګاه له تنګۍ څخه چې به د پادشاهۍ راوو تلې دده افغانانو د کلې د لښو ونو پرمخ به يې د بې رحمۍ ښاپېړۍ واوروله او بيا به يې د شېرپور (۲۲) د عسکري چوڼۍ له ميدان څخه د خاورو او دوړو لوی ستوونه هوا ته پورته کړل.

د اسمايي او شېر دروازې غرونه چې د دوړو په طوفان کې نغوته وو کله کله چې به باد ودرېد نو داسې به معلومېدل لکه په مجازاتو محکوم مجرمان چې د دار پر تخته د جلاد د امر انتظار باسې.

د شېرپور په چوڼۍ کې عسکري قطعات په تعليمي ميدانونو کې د تمارسي په حال کې ولاړ وو او د چوڼۍ په شاه برجونو کې چې توپونه درول شوي وو د هر يوه ښا ته درې، درې کسه د تيارسې په دول ولاړ وو.

د چوڼۍ له دروازې څخه د قرارګاه تر ودانۍ پورې د عسکري بېلو بېلو مسلکو نو پوه، پوه ټولۍ په ترتیب سره ولاړ شوي وه او له دغه نظم څخه سړی پوهېده چې د هر کلي درانه مراسم پرځای کېږي.

د عسکري موزیک دسته هم د با چاهي سلام له پاره ولاړ شوي وه او پوځي منصبدارد افغانستان جنډه په لاس کې نیولې وه.

دوولسو دوې بجې وې چې د چوڼۍ له جنوبي دروازې څخه امیر چې پر یو سور غټ ټټو راسپور ؤ او شا له خوا د دولت دارا کینو یو بهیر ورپسې ؤ چوڼۍ ته را ننوت کله چې د امیر آس تشریفاتي قطعاتو ته را ورسېد نو رودر بدل او امیر په داسې حال کې چې سپه سالارهم پر آس سپور ورپسې ؤ د قطعاتو مخ ته تېرشو ل. موزیک سلام وکړ او امیر په بې اعتنايي آس مخ په وړاندې بوت او د قرارګاه د برنډې له زینو سره د آس څخه کښته شو او آس یې یو منصبدار ونیوی امیر د برنډې څخه یو سالون ته داخل شو او له هغه څخه تېر شو په دوهم سالون کې چې د دېوالو نو مخ ته په ترتیب سره چوکۍ ایښوول شوې وې او پورته د سالون سر ته یوه په سره بخمل کې پوښ شوې غټه چوکۍ پرته وه امیر په ورو ورو قدمونو د سالون سر ته ولاړ او په داسې حال کې چې توره یې له کمر بند څخه خلاصه کړه پر چوکۍ کښېناست او توره یې د چوکۍ اړخ ته تکیه کړه.

په امیر پسې د دولتي اراکینو ټول په ترتیب سره پر چوکیو کښېناستل او د امیر ښي خوا ته حبیب الله خان (۲۳) صدر اعظم او بلې خوا ته یې حسین علي خان (۲۵) سپه سالار کښېناستل.

ACKU

امیر عسکري کالی اغوستی وو او د یو مز من برانشیت د تازه حملې په وجه یې پر درېشی بالا پوش هم اغوستی ؤ دده څېره ډېره غمجنه ښکارېده او ډېره یې نسبت پخوا ته اوږده شوې او دو ښتانو له بې نظمی څخه یې څرګندېده چې د ښه ډېر وخت راپه دې خوا یې سلمانی ته اجازه نه وه ورکړې چې د ده ږیرې ته لاس وروړي.

حاضرین ټول چوپ ناست وو هو امیر دوه درې واره د مجلس له سر څخه تر پایه نظر وغځاوه بیا یې د مجلس له حاضرینو څخه یوه ته د اشارې له کوله سره وویل:

«محمد عثمان خان قابچی باشی (۲۳)! راپور دې په تفصیل سره ولوله!»

قابچی باشی چې د پاخه عمر خاوند سړی معلومېده له حرکاتو څخه یې پوره ښکاره وه چې د دربار په ادابو پوره پوه دی. دی پر خپل ځای ودرېده یو لوله شوی کاغذ یې له بغل جیب څخه را وبوست خلاص یې کړ او د هغه په لوستلو یې پیل وکړ:

«سکندرشان عالی اقبال امیر ابن الامیر امیرصاحب بهادر حضور ته!

ما د امیر صاحب لیکلی پیغام چې په پېښو وکې د انګریز د ګورنر په نامه ؤ له ځانه سره واخیست او په ډېره چټکی هغې خوا ته روان شوم خو کله چې خیبر ته ورسېدم نو ومې لیدل چې دانګریز ملتګی مخ د جلال آباد پر خوا روانې وې. حتی لارهم بنده وه. ما د هغو مې وضې په لیدو دامناسبه ونه لیدله چې د امیرصاحب پیغام د

پرنګی د لښکرو اوماندان ته وورکړم او نه هم مجبور ته رسیدای شوای لوڅکه امرته له لاري واوګرزیدم . »

قاپچی باشي خپل دستر ګو لیدلی حال په تفصیل سره بیان کړ .
بیا امیر د مجلس یوبل غړي ته مخ وګرزاوه وې ویل:

« شاد محمدخانه (۲۶) ! د انګریز د هیئت او د ایلچي جریان مجلس ته ووایه .»

شاد محمد خان پرخپل ځای ودرېد په احترام یې وکړ او بیا یې وویل :

« وروسته له هغه چې نواب غلام حسین ته د امیرصاحب له حضوره هدایت وشو چې د انګریز د هیئت په باب به د غم تر ځلو پیښتي و روسته خبري وشي هغه له کابله ولاړ او په دې پسې دانګریزو هیئت د جنرال چمبرلین ( ۲۶ ) په مشرۍ زموږ سرحد ته داخل شو . سرحد دار فیض محمدخان ( ۲۷ ) یې تهدید کړ او هغه په احترام دوی له دې څخه منع کړل چې بې اجازې سرحد ته داخل شي . دغه کار انګریز خپل اهانت وباله او افغانستان ته یې رسمی لیک راواستاوه چې ددغه کار دمعافی غوښتلو له پاره به دامیر صاحب له خوا یو لیکلی معافی لیک دیو لوی عهدي دافسر په لاس انګریزانو ته لیږل کیږي. امیر صاحب به هغه قومونو ته هیڅ له وایی چې دانګریز سره یې مرسته کړیده او که زیان وررسیدلی وي تاوان به یې هم امیر صاحب ورکوي. امیر صاحب با ید په دایمي ډول یو انګریز سفیر په خپله خاوره کې ومنی په دې لیک

کې دا هم لیکلي دي چې که د دوی غوښتنې د انګرېزي تاریخ د نوامبر تر ۲۰ پورې ونه منل شي او د منلو لیکه ورونه لېږل شي نو انګرېز به د افغانستان پر خاوره خپلې قواوې را ماتې کړي.

د امیر صاحب له حضوره انګرېزانو ته بیا لیکه ولېږل شوه چې په هغه کې لیکلي وو چې انګرېزان باید داسې و نه کړي چې نظریات پر ګاونډیانو په زور تحمیل کړي. افغانستان د انګرېز سره د جنګ اراده نه لري او په ارامۍ سره کېدای شي چې دغه نا ارامه فضا آرامه شي. دا نو هغه لیک دی چې قاصد باشي محمد عثمان خان ور وړی وو او بیا نه شو کولای چې پېښور ته یې ورسوي او ودادې انګرېز خپلې لښکرې زموږ خوا ته را روانې کړې وې.»

خبرې کوونکي چې خبرې پای ته ورسولې پر خپل ځای ودرېد او د امیر د سر په اشاره پر خپل ځای کېښناست او په سالون کې خاموشي شوه. پسله څو دقیقو خفه امیر په داسې حال کې چې څو واره لنډ لنډ وټوخېده بیا یې په استفهامیه لهجه وویل:

- «وروستي راپور ما ته رسېدلی دی چې انګرېز پوځونه د خیبر او علي مسجد له خوا پر مخ نه دي تللي. کېدای شي بلکې د تل (۲۸) له خوا یې سپلي خوا او د بولان (۲۹) له لارې یې کندهار ته هم لښکرې روانې کړې وي په دغسې وخت کې تاسې څه فکر کوئ چې باید څه وشي؟»

امیر نور څه ونه ویل او حاضرین هم چپه خوله وو. پسله څو شېبو څخه یو نری ډنګر اوږد مخی سړي چې د ږیرې اوږدوالي یې د ده څېره

نوره هم بدرنګه کړې وه ولاړ شو او په ریږدېدلی اواز یې وویل :

- « مناسب او د زیان څخه خالي کار خو دادی چې امیر صاحب زما په لاس انګریزانو ته پولیټیک وروليږي . زه به هغوی قانع کړم . »

امیر ته چې د خبرې کوالکۍ خبر و خوند نه وو کړی پوښتنه یې څیني وکړه .

- « سردار ولی محمد خانه ! (۳۰) دا خو درسته ده چې ته ورشې خو په لیکنه کې با ید څه ور ته وليکل شي؟ »

سردار خپل دواړه لاسونه ترشا وتړل څنګر یې راوړندې سر یې کښته کړ او وې ویل :

- « البته د فیض محمد خان د حرکت عذر به وغواړو او دوی به تشویق کړو چې د توري په ځای جرګې ته حاضر شي . »

امیر کرار و خندل او وې ویل

« عذر ؟ . آیا فیض محمد خان کوم بد کار کړیدی ؟ دا خو په خان پو مسئولیت منل دي او که دغه کار و کړو نوهغه اړو به را ته پاته شي ؟ »

امیر نور څه ونه ویل او سردار هم په ځای کښیناست . امیر دا مخ حسین علي خان سپه سالار ته وړاوه او وې ویل :

« .. . ته څه نظر لرې ؟ »

حسین علي خان سپه سالار په خپل ځای ودرید او په داسې حال کې چې په خبرو کې یې د شخصیت متانت پوره معلومیده وویل :

« حضرت سکندر شان امیر صاحب ډېر ښه خبر دی چې موږ اتمازره

(۳۱) روزل شوي مسلح عسکر لرو . زموږ اسلحه هم خوراپېره ده .
که امیر صاحب اجازه وکړي نو په پوره یقین عرض کوم چې نه یوازې
به د انګریز لښکر له خپلې خاورې څخه وشړو بلکې ترا پاسینه به یې
ها خواته هم وشړلای شو . زما دا خبره یو کامل حقیقت دی چې حضرت
امیر صاحب تر هرچا ډیرښه په خبر دی یوازې د امیرصاحب یو امر
او زموږ حرکت به پوره شي . »

سپه سالار چې خبرې کولې امیر داسې معلومیده لکه خوب چې
وړی وي خوکله چې دامیرد امر او حرکت کلمات یې خوږ ته ورسیدل
په چوکۍ کې یې تکان وخوړاو په داسې حال کې چې په کتو کې
یې هیڅ فروغ نه معلومیده سپه سالار ته مخ وګرزاوه او وې ویل :
- «زما مصلحت او امر دادی چې تو لو سرحدي قواوته په هرځای
کې امر ورکړې چې د انګریز د قواو مخه و نه نیسي . پریږده چې
دانګریز لښکر زموږ پر وطن تجاوز وکړي . »

سپه سالار په داسې حال کې چې په خبرو کې تأثر او پټ شکایت
ځکاریده وویل :

- «هغه اوس دانګریز توري لښکر و دمملکت زړه کابل ته ما وش
پیل کړېدی که یې موږ مخه ونه نیسو نو هم به عسکر ما یوسه شي
او هم به دخلکو اعتماد په دولت ختم شي او یخپله به دانګریز مخه
ونیسي او هغه بې دغلوبښت کاله ورانده واقعات دې بیا تکرارشي» .

امیر داسې معلومیده لکه دسپه سالار دخبرو د اوریدلو حوصله چې
نه لري مخ یې مجلس ته واړاوه وې ویل :

- «دا ځل زه د انګریز سره د تورې پر ځای نه دریږم او ځم پطرز بورګ (۳۲) ته او د روسیې د قیصر په مرسته به د اروپا ملکو د مشرانو یو کنفرانس راوغواړم او د انګریز د تیریو په باب به هغو ته راپور ورکړم او دا مسله هغه ته به وړاندې کوم. زما په نظر ډیره ښه لار ده دا او بس.»

حاضرینو ټولو سر ځړولی و او امیر بیا وویل:

- «زه د روسیې د قیصر سره اوس خبرې کوم او زما له کومه نه به ور رسیدلی وي. موږ د انګریز سره دښمني نه ده کړې خو دوی چې پر موږ تیری کوي نو کله چې یې لښکرې زموږ خاورې ته راننوزي نو دا به جهان ته پوره په ثبوت ورسیږي؟ چې دوی څه غواړي او دا دی په څرګند ډول یې زموږ خاورې ته لښکرې راننوتلې دي.»

امیر چې هر څومره خبرې اوږدولې حاضرینو سر ځړولی و او دا یې معلومېدل لکه امیر چې په زوره خپل نظر تحمیلوي او د مجلس اکثر حاضرین ورسره موافق نه دي.

امیر څو شیبې چوپه خوله و، بیا یې وویل:

- «اوس د قیصر سره د ملاقات له پاره زما د سفر ترتیبات ونیسئ. زه به له کابله مزارشریف ته ځم او له هغه ځایه به پطرز بورګ ته ولاړ شم. زما د تګ له پاره سم پروغرام (پرګرام) جوړ کړئ.»

امیر دا وویل او بیا یې مخ سپه سالار ته وګرزاوه وې ویل:

- «تاته امر کوم چې پر درو سرو محاذونو چې د انګریز لښکرې ورته وراوانې دي زموږ عسکري مخه ونه نیسي. ته به په هر ځای کې

ACKU

زموږ قواوې را پرېشا کوي چې انګرېزي لښکرې زموږ وطن ته داخلې شي.»

سپه سالار په خپل ځای ودرېد او بیله دې چې په خوله څه ووایي صرف سر یې کښته کولو یې د امیر د امر قبول څرګند کړ.

امیر په تعجیل له خپله ځایه ولاړ شو او حاضرین هم ودرېدل. امیر له سالون څخه راووت او تر لو سري سالون را تېر شو برنډې ته راووت. دلته ودرېد او نظر یې پر هغو عسکري قطعاتو واچاوه چې د چوڼۍ پر تمامي میدان په منظم ترتیب مسلح ولاړو. امیر خوشبې ولاړ و او بیا زینو ته راغی چې له زینو څخه راکښته کېده ناڅاپه یې تر دوو زینو پښه راکښته کړه او بې موازنې شو چې لوېد. سپه سالار په خپلو قوي لاسونو د امیر اوږه ونیوله او له پرېوتو څخه یې راوګرزاوه.

امیر په داسې حال کې چې د اس رکاب یې سپه سالار نیوله و، پر آس سپور شو او تر هغه نور درباریان هم پر آسانو سپاره شول. دوی د چوڼۍ له جنوبي دروازې څخه راووتل او بالاحصار پر خوا روان شول.

*-*-*-*-*-*-*-*-*

# بیهوده تلاش

د قوس د میاشتې د وروستۍ هفتې د پیل سره داسې معلومیدله چې د کابل ژمی هم په خپل قوت پیل شویدی. د ژمي لومړی او اورې داسمايي او شېردروازې پر ککرو خپلې لومړی نښې کښېنولې خو لاندې د مځکې پر مخ ژړوېلې شوه او هوا یې ډېره ښه کړه.

د دغې هفتې په یوه ډېروختي سبا کې چې د اسمان پر مخ لا ستورې نه وو تمام شوي او بوا کې ختیځ پلو ته د سباني روښنايي ځوسېدو ایکو د سبا د را تګ شاهدي ویله.

د کابل د بالاحصار په خاص حرمسرای کې پر ټولو کلو خاپونو د پېره دارانو ځراغان ځړېدل او کله کله چې به یې مخ ته پېردار تیر شو او د دسیوری به یې د حرمسرای پرغولي ولوید او تر اصلي پېره دارانو دغه اوږدو متحرکو سیورو د سړي پاملرنه ډېره جلبوله.

د حرمسرای د جنوبي پلو دوداني د دریم پوړ په یوه څلور کونجه کوټه کې امیر په خپل لوی کټ پروت و. د کوټې د کړکیو مخ ته پنډې پردې ځړېدلې او کوټه هم ترمه ګرمه وه.

امیر د مزمن برانشیت د ناروغۍ څخه تکلیف درلود او ماښام چې یې د دربار د حکیم باشي په فرمایش د ګل ختمي او بادامو د شوسې

خسا نده چپنلې وه شپه يې نسبتاً ارامه وه خو د سپېدو پر وخت چې له خوبه راويښ شو په سر کې يې لږ درد احساساوه.

د بالاحصار له جمات څخه د موذن په باطراوته اوازکې د سهار د اذان اواز امير په دې پوه کړ چې سبا شو. ده د کړکۍ پرده لږ پورته کړه. او د کړکۍ له هنداري څخه يې د تيارې له کبله څه ونه ليدلای شول يوازې د هر مسرای پر غولي يې د دوو پېره دارانو توجه جلب کړه چې د ګزمې قدم يې واهه.

امير پرده بېرته ايله کړه او په بستر کښېناست. دی په اوږدو چورتونو کې ولاړ او هغه ورځې ور په ياد شوې چې د لته به په دغه بالاحصار کې د يوفاتح او مقتدر امير په حيث په درناوي هر کلي ويل کېده خو نن هغه ورځې تېرې شوې وې. د دې وطن د غدار انګريز تر چپاو لاندې وه او اوس يې بوخورا لېرې او سرګردانه سفر په مخ کې درلود.

امير د سګرېټو قطی (۳۳) ور پورته کړه او د هغه څخه يې يو دانه ولګوله خو د دود له کشولو سره توخې ورته ودرېده او سګرېټ يې لېرته مړ کړ او په بستر کې پرېوت. د لږ ګړی وروسته يې بيا حوصله بنده شوه را پورته شو او د کړکۍ پرده يې پورته کړه. داځل ده په پوه خړه دمه کې د بالاحصار ديوالونه او برجان وليدل او هلته لېرې د کلای حشمت خان کلی لکه يوه پېکه تابلو داسې ورته واېښېده او د کلي د کورونو څخه د غوړ شکه د ودانو په لېدو د کلي والي ژوند په چورتونو کې ولاړ. وروسته يې پرده لوره بنده

کړه او په بستر کې چارزانو کښېناست او دغې منظرې ته یې ستر کې بندې
کړې .

کله کله به چې د ځمل را تلونکی او د نامعلومو نتیجو او اوږ د سفر وز
په یاد شو نو روحاً به یې د کسالت احساس وکړ او په زړه کې یې
داور ګرزېدل چې د یو ساده کلیوال ژوند تر امارت ډېر خوندور دی.
امیر په دغو فکرونو کې غوټه ؤ چې د کوټې د دروازه خلاصه شوه او ملکه کوټې
ته را ننوتله. دا د امیر کټ ته نژدې په یوه ارامه چوکۍ کې کښېنستله
. امیر د کړکۍ څخه مخ د هغې خوا ته وګرزاوه. ملکې چې سپین کشمیري
شال پر اوږو اچولی ؤ ورو ورو یې له اوږو څخه ویست او په داسې یوه
اواز لکه یو اوږدزکام چې یې تیر کړی وي د امیر څخه پوښتنه وکړه:

«شپه مو څرنګه وه. ښا خو تکلیف نه ؤ در ته پېښ؟»

امیر تر یو لږ توخي وروسته ځواب ور کړ:

«نه، داد یا د موخیسا الده ډېره ښه را باندې ولګېده. ښه خوب مې
کړېدی خو اوس مې سر را ته روند دی او لږ درد هم کوي.»

امیر ملکې ته تر ځواب ور کولو وروسته د هغې څخه پوښتنه وکړه:

«ته څرنګه یې اواز خو دې د روند دي نه؟»

ملکې په داسې وضع لکه تر خپلې ناروغۍ چې د امیر د ناروغۍ
په نسبت خواشینې وي وویل:

«زه ښه یم خو تېره شپه مې په تا کې فکر ؤ. پرون دې ډېره تو ده
تبه وه»

«نه زه اوس کاملاً ښه یم.»

امیر له دغې جملې سره بیا مخ د کړکۍ خوا ته وګرزاوه. داځل

ACKU

روښنايي آرېښخوا هم زما ته ښوې وه بيا يې ملکې ته وويل.

«څه ښايسته سبا دی. داد حشمت خان کلا کلی ډېر کيف کوي.»

ده سروښو راوه بيا يې پسې زيا ته کړه:

«چې د دغه کلي په يو کورکې اوسيدلی او هيڅ هم نه پوهېدلی څومره په ارام وو.»

ملکې د امير په تائيد سروښورواوه او بيا يې داسې اندازه لکه دغه خبرې چې اضافي ګڼي امير ته يې وويل:

«غسل خانه به توده ده يو دتو دواو يو غسل دې کړی وای بدن به دې ايله شوی وای.»

امير وويل:

«هو زما هم دغه نيت ؤ خو چې د غسل خانې څخه راوزم دا سبا به تللی وي.»

ملکې په يوه خاصه اندازه لکه پرخان چې زور تېروی خو په څېله زنانه ادا د امير طبيعت ته خوښی ورېخښي وويل:

«دامير عمردې ډېر وي داسې سهارونه به ډېر را شي او لاړ به شي اوس دغسل وخت دی.»

امير ته د ملکې خبرې ډېر خوند ورکړ او په داسې حال کې چې ددې براو ړونې لاس تکيه کړی ؤ له کټ څخه راکښته شو او ملکې کشمېري چپنه براوړوور وا چوله. امير چې د غسل خانې خواته تلو ملکې ته يې وويل:

«ترڅو زه راوزم ته ورته ووايه چې ښې ډېرې شنې چاي همدلته راوړي. چاى به نن دلته وڅښو.»

ملکې هم په اشاره د امير د امر تائيد وکړ.

يو ساعت وروسته چې د امير د خوب کوټه د سبا په رڼا روښانه شوې وه امير او ملکه د چاى ميز ته ناست وو. ملکې چې دوې دانې قند د امير په چاى خورې کې واچول سربېره يې چاى وتوياوه امير ته يې وکتل او بيا يې وويل:

«د اسفر او ستا ناجوړي به څرنګه شي؟ هوا هم سړه شوې ده او که د اورس (٣٤) ملک ته ځې نو هغه خو تر دې لا هم يخ دى اورېدم چې ناجوړي دې زياته نشي»

امير خپل د سمور پوستين چې د حمام څخه يې اوږ وکړى ؤ پر اوږو سم کړ او بيا په داسې وضع لکه ملکې ته چې اطمينان ورکوي وويل:

«ملکې! ته ولې دومره وارخطا يې زه د يو امير په حيث سفر کوم نه د يو ساده مسافر په شان او زما د آرامۍ له پاره به روسان ډېر اساسي ترتيبات ونيسي.

ډاکټر ياورسکى چې تاشکند ته تللى دى هغه به په دغه سفر کې زما سره ملګرى وي.»

ملکې چې دا پوښتنه کوله داسې معلومېده لکه د يوې بلې اساسي خبرې له پاره چې مقدمه برابروي بيا يې وويل:

«ته او يعقوب به وکولاى شى چې ستاسې په غياب کې کارونه

ACKU

پرمخ بوزي هغه هم په داسې حال کې چې پرنګیانو ورغل پیل کړیدی؟»

امیر چې د ملکې د خاطر د پرېشانۍ مراعات کاوه او په دې پوهېده چې ملکه د خپل بوزي له اقتدار څخه تشویش لري او په دربار کې تول په دې پوهېږي چې یعقوب اته کاله د مېړې له لاسه په زندان کې تېر کړي نو د ملکې د خاطر دارامۍ له پاره یې وویل:

«یعقوب خو مطلق بې ارادې او بوفلج انسان دی. ما یې د مرګ (۵۹) امر کړی ؤ خو د دربار یانو په شفاعت مې و باښه او د ناچارۍ څخه مې په خپل وکالت مقرر کړ ولېکن د اسې سرداران مې ور سره ګمار لي دي چې هېڅ په خپل سر ته خلاص نه وي د پاچا خوارزم و پوسفر هم دومره اوږد نه دی او وبه ګورو چې په دغه کار کې څه کوی که مې شوی ؤ چه او کښته داخل به یې نو د شر څخه پوره ځان خلاص کړم.»

ملکې په پوره اطمینان نه حالت سر و ښوراوه بیا یې د امیر څخه پو ښتنه وکړه:

«دا یوب (۳۹) تازه حال نه دی راغلی؟»

امیر بیا په داسې انداز ه لکه ملکه چې مطمئنوي ور ته وویل:

«دو نه خبر یم چې ستا پلار سردار محمد افضل خان هرات ته ورغلی دی چا یې هغه یې د حالاتو څخه پوره پوه کړي»

ملکې د تائید په ډول سر وخوځاوه او وې ویل:

«زه د یعقوب له لیونتوب څخه ډېره وار خطا یم. هغه د پرنګیانو سره لار لري او پرنګیان د هغه ملاتړي، لېرې نه ده چې سو پوله دې ځایه روان شو پر نګیان به یې د امارت پر تخت کښېنوي»

امیر دا سې معلوم مېده لکه د دغو خبرو څخه چې یې حوصله سر ته رسېدلې وي خو د ملکې خاطر ساتلو په شعور لو کلما تو کې په جدي لهجه وو یل :

«د افغانستان امارت دانگریز په لاس کې نه دی چې هرچا ته یې ورو بخښېږه د اورس له قیصر سره گوروم او بیا به د لو یو ملکو د مشرانو یوه جرگه جوړوم چې دا نگریز لاس زموږ له گرېوانه ووزي . اورس زموږ ملاتړي او یعقوب یوالحی د هغه لکړې حیثیت لري چې په پټي کې د مرغانو د شړلو له پاره دروند شوي وي.»

ملکې د خبرې منځه بلې خوا ته وگرځوله بیا یې دامیر څخه پوښتنه وکړه

«زموږ د سفر ټول سامان ټول شوی دی تاسې د بروخت په دربار کې مه ټېروی چې ناوخته نشي او که د یوې خوا په دربار کې ستړی هم او د بلې خوا د سفر ستړیا شې او بیا هم چې ناجوړه نشې.»

امیر بیا د ملکې د اطمینان خاطر له پاره وویل :

«عایشې ! ته ولې دونه په تشویش کې یې زه د یو امیر په حیث سفر کوم او دا سفر به ضمنا د یوې تفریح په ډول وي . ته باید چه تاوده کالي واخلې لدې.»

دوی دغه خبرې کولې چې دعایشې ځوانه لور بیمه‌چې د حرم‌سرای ځوانانو د پرسونل والی څخه د (واورې) نوم پرایښی وو ورو پرده پورته کړه او له دروازې څخه چې یې دوه گامه مخ ته راواخیستل ودرېده له یو لاس یې پسر ځنگر او بل یې پر تندي کښېښود . دې پسوځل

ACKU

ملکې ته وکتل او بیا یې په داسې حال کې چې مخامخ یې امیر ته کتل او مترکی یې کښته اچولې وې وویل:

«شهزاده یعقوب راغلی دی او غواړي دا قدس اشرف او گرانې ملکې په حضور مشرف شي.»

امیر بې اختیاره ملکې ته وکتل او ملکې داسې وضع اختیار کړه لکه د ندیمې خبره چې یې نه وي اوریدلې.

امیر په دې پوهیده چې دلته د یعقوب حضور پر ملکې ډیر گران تمامیږي نو تجاهل یې وکړ او په خندا یې وویل:

«خدای دې خیر کړي دادی نن خو مو په د اسهار کې واوره (اشاره وندیمې ته) ولیدله.

ښایي چې دا داسمان د واورې مقدمه وي.»

وروسته امیر په ځیر و شکلې ندیمې ته او کتل او ددې له پاره چې دا ځوانه او ښکلې ښځه ورځخه خواشینی شوې نه وي هغې ته یې په خطاب وویل:

«پروا نه لري! واوره تر زرو هم لوړه ځای لري له دې دې او ویدلي چې د کابل خلك وایي (کابل بې زر باشد بی برف نی.)»

د ځوانې ندیمې پر شونډو یوه ډمکمنه خندا پیدا شوه خو کله چې یې ولیدل چې پوره (۳۷) غمجنه ملکه هم دلته ناسته ده ژر یې خپلې شونډې سره ټولې کړې.

امیر ندیمې ته وویل:

«ښه! ته ځو د قهقې وروسته حال ونیسه.»

ACKU

نديمي ووېل (په ستر ګو) او په چټکو ګامونو له کوټې څخه ووتله .

امير چې د (څو دقيقو) کلمه په خوله واوريله ناڅاپه يې د ديوالي ساعت ته فکر شوچې دده د کټ پښو ته په ديوال ځړيده . امير د ډېرې شو او بيا راولاړ شو دساعت طلائي کيلي چې په يوه زرين ځنځير په ساعت پورې تړلې وه په ګوتو کې ونيوله اوساعت ته يې کوک ور کړ .

امير چې ساعت ته کوك ور کاوه ملکې هم د ساعت خوا ته و کتل په دغه وخت کې اميرمحمدخان سره په کراراواز ووېل :

«دد يساعت کوك هم خلاص شو !»

بيايې يو ملکث و کړ او پسې ژبا ته يې کړه .

« يوماشوم هم د معين وخت له پاره کوك اخلي او چې وخت يې پوره شي نو بايد ودريږي »

اميرچې دساعت کوك خلاص کړ کولې يې بيرته پر ځاى کښېښوده ده ملکې ته و کتل او بيايې ووېل :

يعقوب وروستې هدايات اخلي . »

ملکې ورو ورو خپل سر وښو راوه او بيا يې ووېل :

« تاسې بايد يعقوب ته پوره لارښوونې وکړ ى ځکه د ى دا تو کالو راهيسې خو ا د دنيا د حال احوال څخه بيخي بی خبره دی . »

د ملکې دا خبره پر امير ډيره ښه ولګيده اوجرئت ئې و کړ ملکې ته يې ووېل :

«ښه دى چې ته هم دلته يې . لطفاً نديمې ته ووايه چې يعقوب دلته راولی . »

ACKU

ملکه په آرامی ولاړه شوه او ندیمې ته یې ورنا ړې کړې ددې اواز یو څه شانته غوږ و او د ناروغ سره یې دوه دری واره و ټوخل او بیرته راغله په خپل ځای کېناسته ندیمه بیا د پخوا په شان د امیر حضور ته داخل او په ځای کولو څخه وروسته ودریدله او امیر ور ته وویل :

« شهزاده ته ووایه چې دلته راشی . »

یو څو ګړی وروسته یو ځوان ښکلی ځوان چې نظامی کالی یې اغوستی وو او خول یوله توبی یې په سر وه کوټې ته راننوت او د امیر حضور ته د نظامی احترام د پرځای کولو وروسته په خپل ځای ودرید . د ده په څېره کې وارخطا یی ، وحشت او په ځان د بې اطمینانی د خلاق نښی ډیرې څرګندې وې . امیر ده ته وکتل او د سر په اشاره یې سلام قبول کړ بیا یې ور ته وویل :

- « راځه یوه چوکی راکش کړه کښېنه . »

شهزاده یعقوب په چابکو قدمونو د چوکی خوا ته ورغی چې هغه یې را اخیستله نو خپله توبی یې په یوه کوچنی میز کښېښووله . یعقوب د پلار او مورې تر منځ پر چوکی کښېناست بیا یې یو ځل ملکې ته او بیا امیر ته وکتل وې ویل :

- « ستاسې د ناروغی د پوښتنې له پاره مزاحم شوی یم . »

د امیر په څېره کې د پلارنی عواطفو یوه څپه څرګنده شوه خو د ملکې په څېره کې د نفرت او قهر څپه ووهل شوه خو ژر یې خپله وضع کنترول کړه او وې ویل :

- «نن خوښه یو او پلار دې اوس شکر تر هرې ورځې ښه دی.»

شهزاده یوازې د (شکر) په کلمه اکتفا وکړه.

امیر خو د قهقې سر ځړولی و بیا په داسې حال کې چې شهزاده یې مخاطب کړی و وویل :

- «موږ نن روانیږو او ته په ښه فرصت راغلې ځکه ماغوښتل چې یوازې دې راوغواړم او ځینو مسئلو ته دې متوجه کړم.»

شهزاده په داسې حال کې چې سر یې ځړولی و د امیر د خبرې د خلاصیدو سره یې سر را پورته کړ او پلار ته یې غوږ نیوا میر وویل :

- «په دې باید پوه شې چې موږ د انګریز سره لاس او ګریوان یو او انګریز داسې څه ساده قدرت نه دی. د دوی لښکرې زموږ خاورې ته راننوتلې دي خو دانګریز په مقابل کې یو بل قدرت هم شته چې روسیه ده او دادی موږ ته یې د ملاتړ وعده را کړیده. زه ځم پطرزبورګ ته او هلته به د قیصر په وسیله د یورپ د لویو ملکو د مشرانو یوه جرګه جوړوم او دانګریز فجایع به یوه یوه ورته وایم.»

شهزاده په ډیر احترام د پلار د قول په تائید سر ته حرکت ورکړ امیر پسې وویل :

- «ته باید زما په غیاب کې داسې وضع اختیار کړې چې د دښمن په مقابل کې نه تعرض وي نه دفاع. په هر ترتیب چې کولای شې دوې میاشتې باید وضع داسې وساتې چې کابل د انګریز په لاس ور نه شي.»

شهزاده د امیر د قول په تائید بیا سر ته حرکت ورکړ امیر پسې زیاته کړه.

ـ « د لته په دربارکې دې با ید ډېره توجه وي چې لمن دې اوو د رته وانخلي . د در بار سردارانو په هیڅ اعتبار نه دي په خاص ډول ... »

امیر یو سکٹ وکړ شهزاده پوه شو چې څه وایي بیا امیر وویل :

ـ « په خاص ډول ستا له خسرسردار یحیی خان (۳۸) سره . داسې ځایي دخولې ښځې په خاطر تا ته ځان درنژدې کړي خو ته باید په دې خواکې هم ډېر پام وساتې . سردار یحیی یو محیل سړی دی او زما سره یې وضع عیناً داسې ده لکه دده د پلار او امیر کبیر (۳۹) دده پلار جلال آباد په سیکانو خرڅ کړ او زوی یې نه پوهیږم چې موږ به په چاخرڅوي . »

دامیر آواز دا مهال ډېر جگ شو او په لهجه کې یې عصبیت پوره ښرګندو چې ملکې ورته وکتل او امیر د ملکې په کتلو بېرته آرام شو. خوشېبې وروسته یې بیا په خبرو پیل وکړ :

ـ « دادې باید پوره توجه وي چې د هرې ورځې جریان به دچا پار په لاس ما ته را لیږي »

امیرچې دا خبره کوله لاس یې وغزاوه او دخپل کټ له سر څخه یې یو لیکلی کاغذ راواخیست کله چې یې شهزاده ته ور کاوه ویې ویل:

ـ « دا هغه دچاپار ترتیب دی چې د کابل او مزار ترمیځ به ستا پوسته ما ته راورسوي او کله چې زه پطرس بورگ ته روانیږم نو په مزار کې به د کابل او په روسیه کې زما ترمنځ بوري د چاپار بېل ترتیب نیسم خو ته باید هغه مهال خپله پوسته په منظم ډول مزار ته جاري وساتې چې د هغه ځایه ما ته منظمه راورسیږي . »

شهزاده په دواړو لاسو تولیکلې پانه له امیر څخه واخیستله او په احتیاط یې سخې ته کښېښودله او بیا یې وو یل (په ستړ گو) امیر یوځل کړکی ته وکتل او بیا یې وویل :

-«هوا ډیره بده نه ده په ژمی کې دونه ورځ هم غنیمت ده »

شهزاده چې د پلاردرسمی هدایا تو په وخت کې رسمی ناست ؤ او څه یې په وضع کې بدلون راغی په چوړ کی کې ځای په ځای شو بیا یې وویل :

-« چې واوره پېل نشي . »

دی یو څه تلولی شانته شواو بیا یې پسې زیا ته کړه .

-« ماخودا څو کاله مخې او ژمی نه دی لیدلی ، خو پخوا چې به دغسې د مه راغله په ځان پسې به یې واوره راوستله . »

دشهزاده ترخولې چې دداخو کالو کلمه راووتله امیر او ملکې بې اختیاره سره وکتل اوشهزاده نورهم تلولی شو او امیر وویل :

-« اوس ورشه ددربار تر تیب ونیسه زه په لس بجې درځم او په ۱۲ بجو باید له کابل څخه حرکت وکړو . »

امیر ددې امر سره پسې زیا ته کړه:

-«دادی پام وسا ته چې زما دخبرو په جواب کې متعلق سرداران په بې ربطو خبرو زموږ وخت ونه نیسی . »

شهزاده ولاړ شودوه گامه شا ته ولاړ او خپله خولی یې له میز څخه واخستله اواحترام یې وکړ له کوټې څخه ووت.

امیر اوملکه دخو شیبو له پاره پټه خوله وو بیا ملکې و ویل :

-«یعقوب خو اوس سم معلومیږي چې بیا یې رقیبان لیونی نه کړي.»

امیر په داسې وضع لکه ملکې ته چې یوځل بیا اطمینان ورکوي وویل.

-«د کارتول تنا وزما په لاس کې دی اوزه در ته معلوم یم چې میدان چا ته نه وربریږدم امیر ته چې دخپلې خودخواهی اظهار په خوند ورکړی وه پسې زیاته یې کړه:

-«زه په عمر کې څو واره مړ شوی او بیا ژوندی شوی یم زما چې سترګې روڼې شوې د یوه تمامیدونکي جنګ سره مخامخ یم. دانګریز سره سر جنګول د هر چا کار نه دی او ته به وګورې چې دعالم شرم به هم ورواړوم چې یو وار پطرس بورګ ته ورسیږم.»

ملکې دامیر خبرې په سر تائید کړې او په خبره کې یې له دې څخه خوښي ښکاره شوه چې دافغانستان دیو بهادر پاچا ملکه ده. دې امیر ته وکتل او بیا یې وویل:

-«په سمرکند کې دعبدالرحمن (رح) دحال څخه خبر لرې؟»

امیر ورو ورو سر وښوراوه او بیا یې وویل:

-«د روسیې په سفر کې مې یو کار هم دا دی چې دعبدالرحمن چاره په اساسی توګه وکړم د روسیې د قیصر څخه به وغواړم چې له ترکستان څخه یې وباسي خو د روسیې څخه دې نه باسې چې دانګریز غیږې ته به ځان واچوي.»

ملکې په سر د امیر خبره تائید کړه.

په دغه وخت کې بیا یو پیشخدمت کوټې ته راغی او داحترام تر

ادا کولو وروسته یې دچای لوښی تول کړل. ملکه هم ولاړه شوه اوچې وتلهوې وویل :

- « تاسې به هم خپل کالی و اغوندی تر دوبار دمخه با ید دحرمسرای دخلکو سره هم و ګوری .

وخت دغومره نږدې به هم پوځل بیا کالی و ګورم چې کوم ځه پاتې نه وي . »

له دې سره ملکه ووتله او امیر هم ولاړ شو .

# يرغل

پورته د کابل درې د ژمي تر سخت چپاو لاندې راغلې وې او د جنورې واورېنې مياشتې کلکه خوله لګولې وه خو لاندې د خيبر پر درود خوشحاله او بانشاطه هوا خپې راخورې وې.

سپين ځلاوکوند غر (۱۳) چې د واورې سپين څادر په سر غوړولى ؤ د جلال آباد زرغونه وادۍ ئې د اسې په غېږ کې نيولې وه لکه د سپېڅلو زړو په ګوتمۍ کې چې د زمرد غمى ځاى شوى وي.

د قسم خوړلي غره (۳۲) مخامخ ته د بهسودو د کلي پر سهېلي خوا د سپند په غاړه پولوى کمپ لګېدلى ؤ چې مخ ته ئې په يوه جګه ارګۍ پورې د انګرېز بيرغ ځوړند ؤ او تر دغه بيرغ لاندې د انګرېز لوى منصبداران جنرال براون، ميجر کيو ناري، بريګيډ. تهتلر او بريګيډ پر ميکفرسن ناست وو. د دوى شاته وسله وال انګرېزان ولاړ وو او نور د انګرېز لښکريان په يوه نيمه دايره کې ولاړ وو.

د دغې دايرې په منځ کې د جلال آباد او د هغه د کليو او پورته د باسول او د شينوارو او مهمندو خانان، ملکان او سپين ږيري ناست وو. د دوى ټول په تمه وو چې جنرال براون ولاړ شو او ودرېد په دغه وخت کې د ده پلار راولاړ اندې هو او پولو له شوى کاغذ ئې د ده په لاس ور کړ.

جنرال براون کاغذ خلاص کړ بوځل یې کاغذ ته و کتل بیا یې بر ناست جمعیت نظر وغځلاوه او وې ویل:

— «د پښتنومشرا و اوسیدونکیو موږ لوی برتانیا دتولوا کمنې او دهندوستان د امپراطوریسې علیاحضرت تې ویکتوریا د نیکمرغه دولت افتخارلرونکی خدمتګاران په دې خوشحال یوچې ستاسې سره د لته وینو.

تاسې ښه خبر یاست چې دافغانستان امیر دهغو ټولو احسانونو سره چې انګریز سرکارد هغه سره کړیدي زموږپرمخ توره ایستلې اوزموږ بې عزتې یې کړیده. ددې له پاره چې زموږ ځاري خلاصې وي دادی دلته په د ټول هندوستان دویسرای عالیجناب لارډ لیټن اعلان تاسې ته‌و لولم.»

(۳م) ده لوله شوی کاغذ خلاص کړ اودهغه په لوستلو یې پیل وکړ.

«لس کاله کیږي چې امیرشیرعلی زموږ په مرسته د کابل په تخت کښیناست موږ هغه ته وسلې او روپې ورکړ ې او دا هیله مو

(۴م) په مقام باندې د هندوستان ویسرای امیر ته دعزت مېلمستیا وې وکړې خوا میرداتو لې مرستې دانګریز سرکارسره د دښمنۍ په لارکې مصرف کړې.

انګریز سرکارد امیرد هیواد دحدودو په ټاکلو کې په زارروس (۵م) زورو لګاوه، ځواخان او بدخشان هم امیر ته ورکړل شول. د امیر دوطن خلکو ته اجازه ورکړل شوه چې په ټول هندوستان کې په ازادانه طریقه سودا ګري وکړي خوامیرزموږسره د بدنیتی رفتار کړیدی. امیرزموږسود اګرانو ته اجازه نه‌ده ورکړې چې ازادانه دلته وګرزي امیر دخپلو خپلوخلکو سره په دې اشتباه چې دانګریزسره د وستي لري

ډېر ظلمونه کړېدي، امیر په خپلو خلکو کې د انګریز په ضد مذهبي
نفرت پیدا کړېدی، امیر د روس په سیاسي هیئت کابل ته ورتلو د
اوزموږ د دوستانه هیئت مخه ېې ونیوله، زموږ لویو عهدوا فسران ېې
په خیبر کې بې‌عزته کړل او حتی زموږ د لیک جواب ېې هم رانکړ.

موږ هغه ته د آخري ځل له پاره موقع ور کړه چې په خپلو ګناهونو
اعتراف وکړي خو امیر دا کار هم ونه کړ. موږ آرزو درلوده چې د دوارو
ملکونو ترمنځ په دوستۍ پوره محکم کړو خو امیر د انګریز څخه سخت
نفرت کوي او د مشترکې فایدې پلا قمندنه‌وه نوځکه زموږ د صبر کاسه
لبریزه شوه او د خپل عزت د ساتلو په خاطر موږ اراده وکړه چې امیر ته
داور وښیو چې موږ قدرت لرو موږ د دغو خلکو سره کار نه لرو خو د امیر سلا-
کاران نه پرېږدو. د دغې دښمنۍ الزام په امیر اړه لري له په انګریز
سرکار، تاسې ته خبر ورکړل شو او هغه لرو چې زموږ مرستیالان
هئ. (۳۶)»

جنرال براون چې دا اعلان د کاغذ له مخې ولوستونو کاغذ ېې بېر له
تاو کړ او خپل ملاوړ ته ېې ورکړ او بیا ېې په خبرو پیل وکړو ويېل:

«موږ په لوی نظامي قدرت کې له پېښور څخه وار وان شوي یو او په
لارکې زموږ سره ډېري مرستې شوېدي خو پوښتنو موږ ته تکلیف
را کړ چې هغوی له په د غونډ پیچ ورکوو موږ د لال پور د محمدشاه‌خان
(۳۷) سپاس ګذار یو. هغه موږ ته په لار کې په ډېره مینه هر کلی وکړ او زموږ
عزت ېې وکړ نوځکه موږ هم د هغه عزت ساتو خو د ګوشتي د مغل‌خان (۳۸)
ګناه په هیڅکله ونه بخښو. ځکه هغه ته موږ په عزت داري خبرې ورکړې چې زموږ

سره مرسته و کړي خو هغه زموږ پيغام په ډېرو بدوالفاظو کې را جواب کړ او ويلي يې دي چې دی پوښتون دی او هيڅکله به دانګريز سلام و نه کړي او س به موږ هغه ته داوروښيوچې دانګريز سلام کوي که نه؟»

جنرال براون دخپل کمربند څخه خپل کرچ راخلاص کړ او په ټوله يې خپل مخ ته په ميز کښېښود او کرچ ته داشارې سره يې وويل :

«دا زموږ او زموږ د دښمنانو ترمنځ د فيصلې قرار دی. موږ به په دغه وسيله دخپلو دښمنانو سره حساب کوو. زه نور ې خبرې نه کوم يوازې تاسې خبروم.»

جنرال براون په خپل ځای کښېناست. په دغه وخت کې د جمعيت له منځه يو سړی ولاړشو او په ډېر د يدل آوازيې وويل :

ـ« زه عبدالخالق خان د بهسودو او سيدونکی (وم) چې دهغه ځای ملك يم دانګريز سرکار زړور لښکرته هر کلی وايم. موږ دا ميرصاحب له وضعې څخه ډېر شاکي يو او د اسې يوه ورځ مو له خدايه غوښته چې دا ميرد ظلم څخه په امان شوو. موږ به دانګريز سرکار څخه هيڅکله خپله مرسته نه سپموو. هر خدمت چې دانګريز سرکاروي هغه به په سترګو منو.»

دحاضرينو د نفرت سترګې دعبدالخالق خوا ته ورواوښتې په دغه وخت کې يو ځوان د ناستو خلکو له منځه ولاړشواو په لوړ آواز يې وويل:

ـ« انګريز سرکار بايد په دې پوه شي چې موږ د دې خاورې خاوندان يو مغل خان يو اصيل پښتون دی. تاسې حق نه لرئ چې په هغه بدووايئ ، محمد شاه خان چې تاسې ته هر کلی و يلی دی هغه

یو وطنفروش خاین دی او عبدالخالق خان چې اوس د لته تاسې ته غوره مالي کوي هغه قوم ته خیانت کوي. بناءً تاسې ما د لته پند په بند جلا کړی؛ خو داو اوری چې مونږ د هغو پلرو او زامنو چې هلو پښت کاله وراندې یې ستاسې سره حساب تصفیه کړ.»

دانګریز منصبداران خو دده په ژبه نه پوهېدل خو دده له عصبي وضعې څخه و پوهېدل چې دانګریز په ضد خبرې کوي په دغه وخت کې ددوی ترجمان دعصبي ځوان خبرې ور ته ترجمه کړې لوکه ونارې دیو مغرور انګریز په حیث را وغورځېد او په لوړ ږغ یې وسله والو انګریزانو ته قوماندهوو کړه:

-« ونیسی دغه غدار چې نور یې خوله خلاصه نشی. »

وسله والو پر نګیانو په ځوان حمله وکړه او هغه جمعیت ته مخ وګرزاوه وي ویل:

-« ای غیرتو تاسې د وطن او ناموس دښمنانو ته پټه خوله ناست یاست تف لعنت. زما دغه افتخار بس دی چې د وطن دښمن مې وژنی.»

په دغه وخت کې یو وسله وال سپاهی د توپك په قنداغ په ځيګر کې ووا هه او ځوان ولوېدا و نورو سپاهیانو په کشولو له میدانه وویوست. حاضرین ولاړشول او چې روانېدل جنرال براون په پوره د ارانو ږغ وکړه.

-« مه یې پرېږدی ! »

هغو هم دوی را وګرزول او جنرال براون دوی مخاطب کړل او وې ویل:

-« وګوری ددا سې خاینان هم پیدا کېږي چې ز مونږ په وړاندې

مخامخ بدرګه وای موږ خپل دښمنان ته بخښوخپل دوستان نازوو»
حاضرین مغموم ولاړوو اوبیاپه دې چې د براون ځواب ووای
د کمپ له مخې څخه روان شول .
په دغه وخت کې کیو ناري جنرال براون ته وویل :
« دا خلك ډیر وحشي دي باید سخت تهدید شي چې و یرېږي .
کنه هغه خدا ر ځوان چې وې ویل دځلوېښت کا له وراندې خاطرات به
بیا تجدید کړي څه عادي خبره نه ده . »
براون چې عصبي شوی ؤ وویل :
«څه باید وشي ؟»
جنرال تیټلر دغه وخت راوراندې شو او وې ویل :
« باید ددوی یو څو کسه په دار کې ورته وځړول شي چې لور عبرت
ورڅخه واخلي . »
جنرال مکفرسن سر وښوراوه او وې ویل :
«احتیاط باید له لاسه ورنکړو . دغه کاربنایي د بارو توپه کوته
د اورد سکروټې کار ورکړي او یو داسې حالت ایجاد کړي چې بیا
به یې په راتولو پورې حیران یو . »
کیو ناري په غرور ستر ګې سره کش کړې . ده یو ځل تیارسي
عسکروته وکتل بیا یې نظر په هغه دوره وموبت چې درابللو خلکو
ترتکتوروسته د هغو د سرو له قدمونو څخه پورته کېده ده پورته
اسمان ته وکتل او بیا یې وویل :
« موږ عسکر یو ! موږ باید د فلاسفه ؤ په شان فکرونه کړو

د دښمن سره شديد پر خورد زموږ د عسکرو د مورال د تقو ې لپاره
پو فايده من کار دی .»

په ميکفرسن د کمو نا ري خبره ډېره ترخه ولګېده خوشه يې وانه
وېل پواځې دومره يې وويل .

« بهتره داده چې اوس اصلي قرار ګاه ته ولاړ شوواو هلته به په
دغومسا يلو تصميم ونيسو .»

له دې سره دوی راووتل او په آسانو سواره شول او خپلې اصلي
قرار ګاه ته چې په شير پور کې وه روان شول .

ددغه د ربار څخه پوولس ورځې وروسته د کمو ناري او براون په
مصلحت د مغل خان مهمند له پاره چې د دوی د وينا ته ور ټکی يې خپله اې
عزتي بللې وه د سزا ورکو لو په منظور پر ګوښته ( ٥٠ ) د چوپا و
ورو ړ لوپلان د تطبيق صحنې ته بللې کړ .

دوی د بريګېډ ير جنرال چيمبرلين تر قوما نداني لاندې يوه تو پخا نه
پنځه سوه سواره او درې سوه پياده ځغې خوا ته وليږل . دوی د ښېرګړي
پر کلي چپاوو کړ خو دلته هم ملکا نو و رله هر کلی وواېه او خلکو
په ټيږ وو وېشتل خو مغل خا ن دوی ته په لاس ورنغی .

نو رنو دا انګريز له پاره دا لو به سرګر داني پا تې شوه چې شينوا ر
به يې ا و امول مهمند و به سر پور ته کا وه او چې مهمند به يې ارامول
نو سا يې به ور ته پو رته شول .

د خيبر لاز ارامه نه وه او ارامي او ساتنه يې يوه اسانه چاره نه وه
د همدغه مقصد له پاره چې د لارې امنيت وسا تلای شي د جنرال ماډ

تر مشري لاندې يو بل لښکر هم راغلی چې له ده سره کپتان تکرد يوټيکل افسر په حيث ملګري ؤ .

کيوناري ته پرله پسې د کابل اطلاعات رسيدل چې امير شيرعلی مزار شريف ته تللی دی او په کابل کې د هغه زوی يعقوب خان اداره په لاس کې اخيستې ده .

يوه ورځ جنرال براون په تشويش او اضطراب کيوناري ته وويل «د خيبر پښتانه هيڅ آرامي نه مني او زموږ کار و نه هيڅ مخ ته لځي» خو کيوناري ورته وويل :

- « زموږ جنګ باید يواځې په قاطعيت ساحه کې وساتل شي . د کابل څخه امير شيرعلی تللی دی او د هغه زوی يعقوب خان چې موږ ته وفادار دی د کار اداره په لاس کې اخيستې ده او په هر ترتيب چې وي دا سړي بايد امير شي د بلې خوا زموږ بل ډير وفادار دوست دامير شيرعلی ورور سردار ولی محمد خان دی چې هغه موږ ته پرله پسې اطلاعات رالېږي او موږ هغه په دې اميدواري کې ساتلی دی چې د افغانستان دامارت تاج به يې په سر ورږدو . اوس يعقوب خان د سردار ولی محمد په خاطر او سردار ولی محمد د يعقوب خان په خاطر چې په ممانعه سره اخته دي هر يو موږ ته خپله وفاداري ښيي . په دغو ورځو کې موږ په انتظار کې يو . ويسراي لارډ لټن ته مو ټول جريان ليکلی دی د هغه هدايت به وارسيږي نور نو ته تشويش مه لره هرڅه زموږ په ګټه دي . »

جنرال براون د دغه راپور په اوريدلو آرام شو او نور نو دوی د نوبو هداياتو په انتظار ناست وه .

# د پیواړ حماسه

جنرال رابرتس (۵۱) په تلوار (قول) ته ځان وراورساوه او د هغه لښکر قوماندانی یې په غاړه واخیستله چې د انګریز د الټیماتوم په اثر یې د نوامبر په ۲۱ د افغانستان په خوا برغل راپیل کاوه .

د د نوامبر تر ۲۷ پورې کورمې (۵۲) ته ځان راورساوه او د هغه ځای په ټولو کلاګانو یې قبضه وکړه .

له دغه ځایه رابرتس د پیواړ کوتل ته راپورته شو او د شترګردن خواته یې موقعیات پیل کړل د رابرتس د قوا او سره د پښتنو پر لښکر په اته زره شپږ سوه فټه لوړه ککره کې جګړه وکړه خو هغه را په شا شو او نور نو کلیوالو خلکو په ګوریلایی جګړو پیل وکړ .

د رابرتس سره جنرال تهملوال ، جنرال کاب ، کرنیل ډربو او میجر پالمر ملګري وو چې هم د قطعاتو قوماندانان وو او هم د ده لوی مشاورین وو .

جنرال کاب چې د خوست (۵۳) د خلکو له خوا په لاس زخمي شوی و نو لاس یې په پلاستر کې اچولی او په غاړه پورې یې ځړېده .

د نوامبر د میاشتې وروستی ورځې وې او رابرتس کوښښ کاوه چې خپل لښکر په لنډ وخت کې له دغه یخ ځایه ګرمې سیمې

ته ورکښته کړي خو د پښتنو ګوزارونو له خوا د سختې مرګ سره مخامخ و .

څو واره رابرټس کوښښ وکړ خو هیڅ داسې یوه لاره یې پیدا نکړه چې لاندې دره ته ورکښته شي او که یو زخمي په انګلستان د کوتل په سر غړو میږه خوځه یې په وس پوره نه وه . ده څو واره د خپلو مشاورینو سره مجلس وکړ خو دعملي لارې په پیدا کولو بریالی نشو.

ده د دسامبر په لومړۍ ورځ په عصبیت خپل هم کاران ، هغه کمپ ته راوغوښتل چې دده د قرارګاه مرکز و .

هغه مهال چې دوی په قرارګاه کې راټول شوي وو جنرال رابرټس مخامخ په میز ورته کښیناست او حاضرین په دې پوهشول چې جنرال ډېر سخت عصبي دی .

جنرال رابرټس په قهر د دوسمې ځغځه یو کاغذ راویوست او حاضرینو ته یې ونیو او وې ویل :

- « دا کاغذ وینئ ؟ »

دا کاغذ نه دی د ادلویې بریتانیا علیا حضرتې ملکې ستورې ویکتوریا ته زموږ د تعهد پاڼه ده !

دا په آسیا کې زموږ د عزت او شرف د ازموینې پاڼه ده !

دا هغه پاڼه ده چې ددې غرونو مغرور خلک به په دې پوه کړي چې لوېه بریتانیادې ملکې په مخ هغه یوازنی قدرت دی چې دهاداری جوغه یې تعقوالی نه منئ.

هو !

تاسي زړوربیربازان یاست به په دې پوه شي چې نن یو فیصله ورځ ده چې

په دغه پاڼه د افغانستان امیر ته التیماتوم ورکړ شوی دی خو! په تاسف باید ووایم چې موږ تراوسه د دیوار په ککرۍ کې ګرزو په داسې حال کې چې نن باید موږ پر علي خیالو کمپ درولی وی.

زه په جرئت داوایم چې که موږ په دغه ازموینه کې ناکامه شو نو د جهان د باداری څخه باید یو مخیزه لاس پرېمنځو!

څه دلیل دی.؟!

ما ته قناعت را کړئ!

ولی زموږ اردو د دیوار له ککري څخه لاندې د روته نشی ور کوزېدی. داڅوك دي؟

اما دا د ډېر شرم او خجالت ځای نه دی چې هم موږ نظامي پرسونل زیات دی هم د نظامی روزنی له لحاظه لوړ یو او هم په عالي سوبه وسله په لاس کې لرو خو دله یو څو شکېدلو او پرېښلو بی وسلې خلکو له لاسه زموږ لار بنده ده. زه یوځل بیا تاسې متوجه کوم چې د شتر ګردن خواته د سوقیاتو اساسی پلان طرح کړئ او په هر قیمت چې وي باید لاندې د روته ور کوز شو.»

رابرتس د خبرو له روستی جملې سره دواړه لاسونه په سر کېښېښوول سر یې یو څه ټیټ و نیو او په قهرېي یو ځل یوې خواته و کتل او بیا یې بلې خواته و کتل.

او د ځواب منتظر شو.

جنرال کاب خپل سر کراروښوراوه او په پلاستر کې تړلی لاس ته یې د احترام په ډول حرکت ورکړ او وې ویل:

-«محترم جنرال! د اعلیحضرت ملکې ویکټوریا عمر دې ډیر وي» ده خپلې سترګې په احترام د ویکټوریا هغه چوکاټ شوي عکس ته واړولې چې د قرارګاه د خیمې په دیوال نصب شوی وه او خپلو خبرو ته یې ادامه ورکړه:

-«زه د جنرال ټول فرمایشات د ملکې په ټکي تائیدوم خو ته دیو تجربه کار جنرال په حیث ډیر ښه پوهیږې چې د لته نظامي شرایط ډیر سخت راغلي دي. نه یوازې اراضي مساعده نه ده بلکې پښتانه ګوریلایان د اراضي سره د لته یا په وسیله ډیر ماهرانه تاکتیکونه عملي کوي.

د لته هر ګام چې په بې احتیاطۍ پورته شي نو د وهم ګام به د قبر په کنده کې وي.» جنرال کاب غوښته چې خبرو ته دوام ورکړي چې رابرټس په قهر د خولې څخه خبرې ځینې واخستلې وې ویل:

-«جنرال کاب! موږ انتظار نه لرو چې ته د لته د شکستونو د ههات افسانه (م ص) را ته بیان کړې!

موږ پوهیږو چې د لته هرځای مشکل دی خو د مشکل د حل لاره وایه؟»

جنرال تهملوال چې په احترام د واړه لاسونه په نظامي احتیاط د میز مخې ته ایښي وو سر را پورته کړ او جنرال کاب ته یې وویل:

-«محترم جنرال کاب!

ته ډیر ښه وایې خو د محترم جنرال رابرټس مقصد دا دی چې موږ به د غو ډیرو سختو شرایطو کې څرنګه لاندې درو ته ور کوز شو؟

تاسې ښه متوجه یاست چې کله ډیر ژر له دغه ځایه زاته کوتل څخه

کښته‌شو نو کېدای شي چې ددې موسم پوه سېلی مود ته لکه د ونې پاڼې داسې ور ژوي.»

جنرال رابرتس په قاطع ډول وویل :

- «پو مارش پو قوي مارش ! موږ ته له سر ګه څخه نجات را کولای شي او بس.»

مېجر پالمرچې دا کمالا تو وظیفه په غاړه درلوده. د وظیفې د مسئوليت له مخې وویل :

- «د قوس شوې ډېرې سړې دي پېګاز موږ د ګرمې عسکر له پخنی څخه وچ شوي وو نور عسکر مو هم پنځه کالی نه لري. زموږ وضع په دغه کمپ کې داندېښنې وړ ده !»

جنرال کاب : چې درابرتس له خبرې څخه متأثر شوی و پهارامه لهجه وویل :

- «بلی ! زه تائیدوم چې زموږ اوسنی وضع د اندېښنې وړ ده او محترم لوی جنرال ته دادی وړکوم چې زه د بیوار په ککره د شکستوور دعملت افسانه نه پیانوم.

موږ عسکر یو موږ داصولو تابع یو ! زموږ مارش هم باید اصولی وي او کنه کېدای شي چې په یو قومانده خول قطعات د کندو څخه لاندې دروته ور خطا کړو.»

جنرال رابرتس چې په قهر شوی و برمېزې داسې سوك وواهه چې دبریتانیا کوچنی بیرغ چې ده، مخ ته پرمېز نصب و چپه شو او جنرال کاب په چپه لاس هغه په چټکۍ بېرته بیورته کړ.

رابرټس په چټکۍ بیرغ ته لاس وروړاچاو او کاب يې مخاطب کړ وې ويل :

«جنرال ! بیرغ باید په راسته لاس پورته شي ! »

رابرټس بیرغ بوځل بیرې بوست او بیرته يې په راسته لاس جګ کړ او وې ويل :

« زه تا ته اجازه نه درکوم چې په قرارګاه کې زما سره دا سې برخورد وکړې !

زه رابرټس یم ما ټول هندوستان پیژني ! په دغه شیبه کې ټول لندن په دې خبر دی چې رابرټس څوک دی ! »

جنرال تهیلوال مداخله وکړه او وې ويل :

- « مور د لوی جنرال دامر تابع یو او د محترم جنرال کاب څخه مو هیله داده چې دعمومی وضعې دوخامت په درک دې په عوض چې د لوی جنرال له تهرڅخه عصبي شي باید دمشکل په حل کې مرسته وکړې »

جنرال رابرټس - په قهراو ریږدیدلی آواز تهیلوال مخاطب کړ او وې ويل :

« دعمومی وضعې وخامت ؟ !

یعنی څه ! ؟

زه نه پوهیږم چې تاسې هیڅکله دغه عادي وضع وخیمه نشی ګڼلای ! څه شوېدي ؟

ایا د لوېې بریتانيا په عظمت مو ایمان بایللی دی ؟

ایا زمايه قوماندانۍ قناعت نه لرئ ؟

وواهاست! ما ته قناعت را کړیء!» راپرتس لاندې شونډه په قهر ترغاښ لاندې کړه. دوارء لاسونه يې دميز په څوکه ټکيه کړل او په قهـريې هر يوه ته جلا جلا وکتل.

جنرال کاب ـ بیا په ارامي سروښور اوه او وې ويل:

«موږ دخپل لوی جنرال دامرتابع یو. خودوضعې تحلیل باید اصولی وشی. دخبرء کاملاً منطقی ده چی موږ په عادي حال کښې نه یواو دعا دي خلکو سره مخامخ نه یو.

دا يو حقيقت دی او که ددغه حقیقت په اظهار زه په ګولیو وویشتل شم هم پروای نه لرم.»

کرنيل ډريو ـ په مجلس کې د بحران دمخ نیوی په خاطر مداخله وکړه او وې ويل:

«د محترم موجنرا لانو په اجازه. زه داده چی په اصلی مسئله خبرې وشی.

زموږ لارې پښتنو بندې کړیاي. هرموږ ناڅاپی حملې کوي وتر هرڅه زیات مودسامان وسواو حيوانان را څخه بیاي. اصلی خبره داده چې دلارې خلاصولو له پاره اقدام وشی.»

میجر پالمرـ بوځل بیا د خپلې وظیفې په ارتباط یادونه وکړه اووې وویل:

«هو؟ که دغه مسئله حل نشي نوزه بیاوایم چې اندیښنه مې زیاته ده. دا پیښتانه لکه بلا داسې نازلیږي. ددوی دوران او تاکتیك یقیناً ددوړې پامدرنې وړدی.

زه به هيڅکله داونه وایم چې دعليا حضرتې ملکې لښکر دموران

اوتاکتیك په لحاظ تر پښتنو ښاتې دی خو په دې اعتراف ناچاره یم چې موږ تراوسه هرڅه قومونه لیدلي دي نو دومره یې نه یو سرګردانه کړي لکه دغو پښتنو ! »

جنرال رابرټس ـ چې سخت عصبي شوی ؤ بیا یې په قهر سوك پر میز ووهه او وې ویل :

« زه ډېر افسوس کوم چې تاسې ټول وخت د دغو وحشي او بې تمدنه خلکو په مدح ډېره سرا ښی تېروئ .

ما ته ډېره وواياست چې تردغه لعنتي کنډو څرنګه کښته شو زه به هغه وخت ددغو زمريانو (ستاسې په اصطلاح) جنرال در معلوم کړم چې یو ځل زما ښېې د دغه کنډو څخه وخوځي او شترګردن ته ورسیږم.»

په دغه وخت کې دلېري څخه د ډول ږغ او د الله اکبر ناري د دوی غوږو ته ورسېدې چې یو نیم باشلي فېرونه ورسره وو.

جنرال رابرټس غوږ د ډول اوازته واراوه تندی یې تریو شواو نور هم ټول چوپ شول خوشه یې ورو سته رابرټس ووېل :

« داخلك لکه لیونیان داسې دي ، زه تعجب کوم پخوا به دوی د شپې له خوا برغل کاوه .

خو نن د ورځې له خوا راروان دي .»

رابرټس چوپ شو بیا یې په کراره سر وخوزاوه او په شمېرلو کلماتو کې یې ووېل :

« زه به لارډلېټن ته یقیناً چې خرمخی شم . کیوناري ( تلفظ کېوګنري ) به څه قضاوت وکړي ؟ موږ باید اوس د علي خېلو په کمپ کې وای ،

ACKU

شه ! په هرصورت څه باید وشي ؟»

رابرټس بیا دډول اواز ته غوږ ونیواوسرېې وخوړاوه بیا یې اختیاره او ناڅاپه ولاړ شو او حاضرین هم ودرېدل . رابرټس ووېل :

«زه بانديوزم او د ګورېلا یا نو موقعیت ګو رم . تاسې د پو تعرضي پلان پهطرح کې فکروکړیءاومفردات یې یاد داشت کړیء.»

رابرټس پهلوړ اواز یاور ته ورږغ کړ.د خیمې لهد روازې څخه یو جګ ځوان چې خړ ویښتان یې د سر پر نیمایی بوې خوا او بلې خوا ته پسو نغ کړي ي عسکري کرتی او پتلون یې اغوستيووا و تفنګچه یورې ځړېدله خیمې ته ننوت سلام یې و کړ رابرټس ورته ووېل :

« دوربین راوړه ! »

یاور ووت او رابرټس د مېز سر ته په قدم وهلو پیل وکړ تو ل پته خوله وو او هریو دډول د ږغ خوا ته غوږ ونه اړولی وو. یا ور دوربین راوړ او رابرټس د یاور سره ووت حاضرین په خپلو ځایو نو کښېنستل .

جنرال کاب چې د رابرټس تر مخفی برخورد عصبی کړی ؤجنرال تهیل وال ته مخ واړ اوه او وې ووېل «زه توهین شوی یم . جنرال رابرټس د توهین حق نه لري .

زه د علیاحضرتې ملکې ویکتوریا داردو یو شریف جنرال یم هغه ولې ما توهینوي ؟» جنرال تهیل وال په داسې وضع لکهجنرال کاب تهچې تسلی ور کوي ووېل :

«جنرال کاب ! ته پخپله وایې چې مو یږه د برحساس موقعیت کې واقع یو په د غسې وخت کې تحمل په کار دی . »

له د پالدې څخه دډول آوازاو فرونه بیا اوریدل کیږي.

جنرال تهیل وال د ډولډغ ته د اشارې په ترڅ کې وویل:

«- واوره ګرانه جنراله! ښې اورې. دا هغه خلک دي چې د ډول تر ډغ لاندې یې آسیا ربړ دي. موږ ددغسې دښمنانو سره مخامخ یو. په دغسې وخت کې جدي برخورد- زموږ پوخ او بوتی وا کابړي»

جنرال کاب په جدي لهجه دخپلې پخوانی خبرې دمنطقی دفاع په ډول وویل:

-«زه هم دغه وایم چې یوازې قهر او غضب کارمخته نه وړي. کنه غلو ښت کاله دمخه د (جنرال برنس) سر نوشت ته یو ځل فکر وکړ ی ء.

موږ تر اوسه هندوستان لیدلی دی خو دا هندوستان نه دی! دا د بلاو مځکه ده دلته تر هري ډبري لاندې موږ ته دمرګ لومه پرته ده. برید ده چې را برنس داشاعر و بولی یادهکسپیرها ګرد. را شه چې داد ( کمپل ) ( ۵۵ ) شعر در ته ووایم.

« هلته چې یو تو لګی سره را تول وي.

باید څو تنه له څو تنو څخه بیل شی.

واوره به یې کفن شي.

دا په وهو یوځلی مځکې هره ټوټه چې زموږ تر پښو لاندې ده.

دیو عسکر قبر به شی».

میجر پالمر په داسې اندازه چې دشعر سره مینه لري وویل:

-« بیشکه چې د بوجه یې ویلی دي خوموږ باید دغه شعر ددښمن په حق کې تطبیق کړو.»

جنرال کاب بیا په قاطع لهجه و ویل:

-«هو! دالو ستاسې کار دی خو ستا ته د(۱۸۴۲) کال دجنوری واوره او د کابل درې را یادیږي»

جنرال تهیل وال د کاب زخمی لاس ته داشارې کولو سره څخه بیا مخاطب کړ اوو ې ویل:

-«محترم جنراله! له زخم اخیستلو څخه وروسته ډېر سخت و م او په تشویش اخته ایسې!»

جنرال کاب په داسې اندازه چې د خپلې و ضعې څخه راضی ایسېد و ویل:

-«ښه! تاسې چې هر څه قضاوت کوئ خوز ه وایم چې خو شې احساسا تو او عصبیتونو که نتیجه وو کولای نو دخورد کابل درې په ولې نن د بریتانیاېې کېږود غیر تمنوزامنو هدیره کېد له.»

کر نیل ډر یو چې بیا هم د جنرالا نو تر منځ د بحران څخه په تشویش کې وه و ویل:

-«زه په دې کې هیڅ شك نه لرم چې جنرال را بر تس د لو یې بریتانیا په هندوستانی اردو کې یو بې مثا له جنرال دی او د هغه تجربې او زړور توب هم بې مثا له دی خو په جرئت با ید و وایم چې د جنرال کاب منطق او نظر هم دتائید ور دی.

موږ دخوست په جګړه کې دده زړور توب ولید. ده خپل لاس با پللی دی او افتخار یې ګټلی دی و لې دا خبره باید هیره نه کړو چې موږ خوسره بې مثاله زړور او تجربه کاره جنرالان لرونو دبې مثا له دښمن سره هم مخا مخ یو.

تاسو ولیدل چې پښتانه قدم په قدم زموږ سره جنګیږي د هغوی ستړکې ډېره نه پېژني او په زاړه لور زموږ د کرچاڼوځو کې راماتوي.
که سوږ یوګام بې حسا به پرو نو په دې کې شک نشته چې دا تنګی به موږ ته هدېرې شي . »

جنرال تهملوال اصلي موضوع ته د مجلس د پاملرنې د جلبولو په خاطر وو یل :

- « په اوس به اورې خبرې پر بېږدو او د جنرال کاب په اجازه به د تعرضي پلان په باب خبرې وکړو .

لو مړی به پردې وږغېږو چې آیا موږ مستقیماً پردښمن ورکښته شو او په جګړه مخامخه لاس خلاصه کړو او که د ښمن غافل کړو او له منځه یې یوسو او بیا لاندې سمو ته ور کښته شو . »

جنرال کاب د با تجربه عسکر په حیث وو یل :

« موږ د دښمن د منظمې قوې سره مخامخ نه یو چې مستقیم پر ور کښته شو . د دښمن قوت باشلې دی خو غیر منظم نه دی بلکې دا پښتانه په ګوریلایی طریقه سره پاشل شوي او هر ځای موږ غافلوي او بیا ضربه را باندې واردوي .

په خبره داده چې موږ د دوی سره د دوی په تاکتیک جنګ وکړو . یعنې غافل یې کړو او شب خون پر ووهو . »

جنرال تهملوال سر وښوراوه او بیا یې په اشاره کرنیل ډريو ته امر وکړ چې ته نقشه راواخله او د مجلس رویداد هم یاد داښت کړه .

کرنیل درېو ولاړشو او د خېمې څخه ووت پوه دقیقه وروسته په داسې حال کې چې جنګي نقشه ورسره وه او د یادداښت کتابچه په یوه لاس او قلم په بل لاس کې وخېمې ته راغی نقشه یې پرمېز وغوړوله د یادداښت کتابچه او قلم یې خپل مخ ته کېښود. حاضرین هر یو پرخپل ځای ودرېدل لاسونه یې پر مېز تکیه کړل او سرونه یې نقشې ته راوځړول.

کرنیل درېو د نقشې پریوه کونج کوته کېښوده او بیایې وویل:

« دا زموږ موقعیت دی وګوری ء دالاندې درې تولې د دښمنانو څخه دکې دي. دغه پوهدره زموږ د سوقیاتو لار ده او تازه اطلاعات راسیدلي دي چې دلته د ښښتو ګوریلایانو یوه قوه پرته ده او زموږ مخه یې بنده کړې.»

جنرال کاب په تعجب سر وخوراوه او وې ویل:

- « عجیب موقعیت دی. په لوړه کې موږ پراته یو باید زموږ موقعیت ډېر محفوظ او د حربي لحاظه ارزښتمن وی. خو برعکس دښمن په داسې حال کې چې هم باید زموږ تر ضربې لاندې وي موږ یې دخطر سره مخامخ کړي یو.

زه وایم چې داد بلاؤ مځکه ده. دلته هرڅه هم معکوس دي او هم غیر متناسب یقیناء چې دلته قول حربی تاکتیکونه باید په بل مخ واړول شي.»

جنرال تهملوال په قاطع لهجه ووېل:

-« د دغې درې څخه د تورېدو لوله پاره بله هیڅ چاره نشته پرته دي چې دښمن غافل کړو او شب خون پرو وهو او له مدخه یې یوسو.

البته دا تصمیم ستاسو او لوی جنرال د منلو څخه ور وسته با ید عملی شی .»

کرنیل ډریو وویل :

- « ډیله دي نه بله چاره او نه بله لار شته !»

جنرال تهملوال ډریو ته وویل :

- « ښه ته کتابچه او قلم دروا خله .

و لیکه :

تعرضی پلان

کور پلاوی تا کتیك

شب خون »

بیاني په اشاره جنرال کاب او میجر پالمرته وویل:

«درست دي؟»

جنرال کاب او میجر پالمر :

« بلی . هو!» دوی دسر په ښوریدو د تهملوال نظر تا ئید کړ

جنرال تهملوال بیا کرنیل ډریو مخاطب کړ او ورته وي ویل :

« - لومړی با ید د ماز دیگر څخه زموږ لښکر ته دشمې دهو سا ی او ار امی امر داسې ور کړ ل شی چې دښمن په دې پوه شی چې موږ دشپې حر کت نه کوو.»

میجر پا لمر وویل :

- « هو ډیر ښه ځکه دښمن سره له دې چې تر موږ لا ندې دی خوزموږ هرحرکت په ډیره پاملرنه تعقیبوي. داد افغال له پاره ډیر په زړه پوري تاکتیك دی.»

جنرال تهېلوال کرنیل ډرېو ته هدایت پسې ورکړ :

«د عسکرو ته باید په ټیاره کې د پټ حرکت تر ماتده په خاموشي ورکړل شي په دغه وخت کې به د دښمن قوت خیال کوي چې موږ ګوا کې په استراحت کې یو او دوی به هم ارام پراته وي په دغسې یوحالت کې به ناڅاپي یرغل په وکړو او له منځه به یې یوسو .»

جنرال کاب په داسې وضع لکه یوه مهمه خبره چې وروپه یادشوي وي وویل :

«محترم جنراله ما وبخښه چې ستاسې په خبره کې د رلو یدم . د لته زه دوه تشویشه لرم چې د پوښتنې په ډول یې طرح کول غوارم . لومړی : اما زموږ داستراحت له تلا هرا تو څخه به د ښمن دې ته تیارنشي چې پرموږ شب خون وکړي .

دوهم : زموږ په لښکر کې چې کوم پښتا نه راسره دي ایا پرهغو تاسو اعتماد لری ؟ چې د دغه پلان په تطبیق کې به صادقانه همکاري وکړي ؟ »

جنرال تهېلوال لکه یوحقیقت ته چې متوجه شوی وي خو په خپل قرار اعتماد لري وویل :

« زما محترم المل یواله ! ستاسو لومړي تشویش د رفع له پاره به ووایم چې موږ به خپلې ګزمې ډېرې فعالې کړواو پل داډی چې موږ خو تعرضي حرکت پیل کوو که دښمن یرغل هم وکړي نوموږ یې ته به یې تیار یو .

دوهم : پښتانه عسکرچې موږ برلی کړېدي هغوته به هم تلقین وکړو او هم به ترمخه بو څه بخښښ ورته وکړو. نور د هغوی له طرفه هیڅ تشویش نه پاتېږي . »

جنرال کاب په ډاډ ووېل :

«هه ! زما لو مړی تشویش رفع شو خودوهم تشویش مې نه دی رفع ځکه زه داخلك پوښ لم پردوی اعتماد ډېر مشکل دی .

اجازه را کړه چې د میکنا تن (۵۶) احساسات درپاد کړم چې څه یې وو سره ونکړه او اخر یې پاې هم څه شو ؟ په هرصورت زما بدبیني په دغه قسمت کې ترخوشبیني زیاته ده ! »

جنرال تهملوال ــ په خپله خبره ټینگ شو او وې ویل :

«جاغلی جنراله ! ته دیو کل په حیث حکم نشې کولای په پښتنو کې هم موږ دوستان لرو او داسې کسان زموږ سره ملگري دي چې وفاداري یې د علیا حضرتې ملکې وکټوریا تاج ته تر موږ په کمه نه ده .»

جنرال کاب پوښتنه وکړه .

«مثال یې راکولای شې ؟ »

جنرال تهملوال ووېل :

«هو. محمد اکرم خان (۵۷) د خوست حکمران او شهزاده سلطان جان سدوزی (۵۸)»

جنرال کاب په تعجب تهملوال ته وکتل او بیا یې په مسخره وخندل او وې ویل :

« عجيب دي چې تجربه جنرال څخه داسې خبره او وېل چې دا وقعتاً د خنداوړ ده . دا دوه بې خبره ته سهي چې هوا ګې ځانونه په موږ سا تي نو بيا نو د هيڅ کار نه دي .

آيا ته په دې خبر يې چې اکرم او سلطان دوه سهي معامله گر دي چې په کام کې هيڅ مخ نه لري او يوا ځې زموږ پيسو ته يې هيله ده چې ځانونه د هندوستان تا چگرته ورسوي .

که زه په دې بوه هم چې تاسې وقعتاً پر اکرم او سلطان اعتماد کوئ نو بيا به د خواشينۍ څخه د لته پرق وهوم . »

جنرال تهملوال چې خپلې غلطی ته متوجه شوی ؤ په داسې لهجه چې ندامت پکې ښکاره ؤ ووېل :

« په هر صورت نا چاري ده . موږ او بواخستی يو ځک ته لا س اچوو . »

د ده اشاره کرنيل ډربو ته وکړه او وې ووېل :

د د محترم جنرال کاب دوه تشويشه او زما جوابونه هم په لنډ ډول په يادداشت کې داخل کړه . »

ميجر پالمر بيا د خپلې وظيفې په ارتباط پوښتنه وکړه.

« د حرکت ، تياري او ډوډۍ په باب او امر څرنګه دي؟ »

جنرال تهملوال ووېل :

د هو ! ډوډۍ به ماز ېګر لا عسکرو ته ورکړی شي د حرکت وما پل به په خاموشۍ کې اماده کېږي او ماښام چې څه تيا رهی عسکر و ته به په خيمو کې د حرکت قومانده ورکول کېږي چې د شب خون له پاره تيار شي . »

جنرال کاب بیا په تشویش کې نغښتې لهجه وویل :

«دا خبره باید ټېره چه ي ووېل شي چې د شپې خون تر خبرتیا وروسته یو عسکر هم د حرکت تر قوماندې پخوا له ځایه ونه ښوري. خصوصاً د پښتنو عسکرو خوا ته مو زیاته پاملرنه وي.»

جنرال تهملوال کرنیل ډریو ته بیا داسې هدایت ورکړ:

«دا یادداښتونه تنظیم کړه او هدایات یې ولیکه بیا یې اوس لوی جنرال راشي.»

کرنیل ډریو په لیکنه مصروف شو نور خاموشه وو دلته بیا د ډول ږغ او د غږونو آواز راورسید. دوی خاموشه وو خو څېرې یې متوحشې وې.

میجر پالمر وویل :

«دا د ډول اواز پر ما ډېر بد لګېږي. اعصاب مې را خرابوي. باور وکړی، چې په غوږونو کې مې د توپ مرمۍ وچوي اضافه به مې اذیت نه کړي لکه د دغه لعنتي ډول آواز.»

جنرال کاب میجر پالمر مخاطب کړ او وې ویل :

«ګرانه ملګریه!

دغو خلکو د دغه ډول تر آواز لاندې له د غوغرونو څخه تر بنګال پورې تاریخي مارشونه کړېدي. د دغه ډول تر ږغ لاندې دوی د یونانی سکندر، چنګیز، تیمور او نورو فاتحانو سره ډغرې وهلی دي. همدغه لعنتي ډول څلوېښت کاله وړاندې د جنرال الفونستون ( ۹ ٥ ) په ۱۷ زره کسیزه اردو پسې د کابل په درو کې و ډنګید څو یې هغه فاجعه منځ ته راوړه چې موږ به یې هېڅکله هېره نه کړو»

ACKU

د ډول پوغ کله د لېږې څخه او کله د پوځ نژدې څخه د باد په
په څپو کې راته خو حاضرینو هر یو داسې وضع اختیار کړې وه لکه
ځان چې د ډول له پوغ څخه غافلوي.

جنرال رابرتس په داسې حال کې چې دوراڼه يې په غاړه کې
اچولې وو او پاور ترشا يې ډیره بڼه ؤ خېمې ته را داخل شو حاضرینو د احترام
په رسم ولاړ شول او جنرال پرخپله چوکۍ کښېناست.

جنرال چې په چوکۍ ښه ولګېدو له سترګې يې مخامخ د خېمې چت
ته ونیولې څو دقیقې خاموشه ؤ بیا یې وویل:

«هیڅ نه معلومیږي ډول وهي خو په مقصد يې نه پوهیږو. ډزې کوي
خو هدف يې معلوم نه وي په ریښتیا چې دا د عجایبو وطن دی.»

جنرال تهېلوال وویل:

«دا ډول او ډزې د دوی ترمنځ خاصې اشارې دي. زمونږ پوهېده
کار به دا وي چې د دوی د ډول او ډزو په اشارو پوه شو او که
فرصت ؤ د استفاده به د هغو بند یا نوښته کوو چې زمونږ په لاس راشي.

په هرصورت! محترم جنراله مونږ د تعرضي پلان په باب مشوره
وکړه او دادی یاد داښت به يې کرنیل ډریو تاسو ته در کړي.»

کرنیل ډریو د خپلو یاد داښتونو لیکلې پاڼې په احترام د جنرال
رابرتس مخ ته کښېښوولې او بېرته راغی په خپل ځای کښېناست.

رابرتس پاڼې واخستې او سر يې د تائید په ډول وښوراوه او بیا يې
وویل:

«یقیناً زه د جنرال کاب دغه نظر تائیدوم چې زمونږ په لښکر
کې پښتانه باید خاص مراقبت لاندې وڅارل شي.

ACKU

ما ته په تجربه ثابته شویده چې بناوي په دغه ځنګل کې هو وړی لوه هم زموږ سره دوست شي خو په پښدا نه اعتماد د بوبي هوده کار دی .»

جنرال کاب وویل :

«موږ مطلق نا چاوه بو پښتانه موږ راسره راروان کړېدي . کته نود هر پښتون له پاره باید پنځه دېسي عسکر موظف کړو .»

جنرال وا برتس ـ د تائید سروجوراوه او وې وویل :

«دا طرح کاملا زما منظورده بس د عمل له پاره یې زه امرصا دروم .»

جنرال تهطوال ـ میجرپالمر او کرنیل دربو ته هدایات ورکړل او وې ویل :

ـ« میجرپالمر ! لومړی کار ستاسو دی چې په کار لاس پوري کړیء لښکر ته وختی دودی ورکړیء او اسباب او سامان باید داسې تول شي چې هیڅوك متوجه نشي .

کرنیل دربو ! ستاسې وظیفه داده چې د دښمن داغفال تا کتیك په کامل مهارت عملی کړیء سا هام په تیاره کې به په خیمو کې عسکرو ته دحرکت سمت او څرنګه والي وواياست اوزیاتره کوښښ به موداوي چې پښتانه عسکرو نازویء د بخښښ په باب یې هم لازم اجراآت وکړیء . خودګزمو کار ته موباید جدي پاملرنه وشي »

میجر پالمر او کرنیل دربو ـ ولاړ شول احترام یې وکړ او د اوامرود پرځای کولو له پاره له خیمې څخه ووتل .

جنرال وابرتس . دبو بامسئولیته قوما ندان په حیث نورو دوه ملکري جنرالان مخاطب کړل او وې ویل :

ـ د کرانو ملکرو زموږ وظایف ډېر سنګین دي . یو تصمیم لرم او هغه داچې د ازموږ د لارې خنډ باید یو مخېزه له منځه یوسم . اصلاً زه په دې عقیده ، یم چې تر کومه وخته دا قوم موجود وي نو هندوستان به زموږ د پوره ډاډ ورله وي . زه غوارم ددې قوم غرور ورمات کړم او لندن ته باید دا ثابته کړم چې وا برتس دا قدرت لري چې دو بسته ولس د مځکې له مخې نیست اونابود کړي .

ماخپله دا عقیده هغه وخت وپیدا ای لاوډ لیتن ته په پیښور کې څرګنده ، کړه چې پخپله کیوناري هم حاضرؤ او دا دوه کسه هم په همې عقیده دي .

په هرصورت په‌همدا اوس وخت کې دا مهمه ده چې موږ باید مخ کې له دې چې جنرال ستوارت ( ۹۰ ) اوجنرال پیدوالف ( ۹۱ ) کندهار ته او براون د جلال اباد څخه کابل ته راشي کابل ترضرب لاندې ونیسو او افغانی امیر ( شیرعلي ) ته دا ورو ښیو چې برېتانیا څه شی ده او وابرتس څوک دی ؟ »

جنرال تهملوال وابرتس ته دډاډ ور کولو په لهجه وویل :

«زموږ مشرجنراله ! ستاسفارشات اوفرمایشات ټول په ځای دي موږ به ستا اوامر هروخت په ځای کوو او په خپلوسرو نو به دملیاحضرتې ملکې ویکتوریا عظمت اوچت ساتو . »

جنرال کاب: د جنرال وابرتس څخه پوښتنه وکړه .

« محترم جنراله . اطلاعات څه وایی؟»

جنرال وابرتس څو واره سرښوراوه او بیا یې وویل .

« وضع سردرګومه ده . تازه پوسته نده وارسیدلې خو په هرصورت دافغانستان فاتحه ویل شویده . نو ربه زموږ لندن افسانه نګارانو ته دهندوکش افسانه پای ته ورسیږي او په نړۍ کې به هر څوك په دې پوه شي چې انګلیس خپل انتقامونه نه پرېږدي . موږ به افغانانو ته داوروښیو چې څلوېښت کاله دمخه زموږ دسفیر مېکناټن دوژلو غچ څرنګه اخلو»

جنرال تهملوال وویل :

- «محترم جنراله اجازه راکړئ چې موږ هم له حضوره رخصت شو او په خپلو کارونو پسې شو. »

بیا د ډول آواز راورسید او یونیم ډزه هم واورېدل کېدله یوګړی چوپتیا خوره وه بیا رابرتس وویل :

- « دغه لعنتي ډول زما اعصاب کاملاً خراب کړي دي . یقیناً چې پر شقیقه مې مرهم ومښلی دغومره به مې اذیت نه کړي لکه دغه لعنتي ډول . »

رابرتس ورو ورو سرجوړاوه او سترګې یې د میز مخې ته ښخې کړې وې. بیا ناڅاپه ولاړ شو جنرال تهملوال ته یې لاس ورکړ او جنرال کاب د پلاستر شوي لاس په حرکت احترام په ځای کړ او ووتل .

ترغوني ماښام و او عسکر ډېر وختي خېمو ته ننه ایستل شوي وو یوازې د کمپ په شا و خوا دګزمې سپاهیان ګرځېدل . په دغه وخت کې کرنیل ډریو په آرامو او اوږدو ګامونو هغې خېمې ته راغی چې هلته پښتانه سپاهیان ناست وو . په خېمه کې لاندې څوکۍ شا لو نه هوار و او دخېمې په څېرك پورې یو څراغ ځړېده. کرنیل ډریو چې

خېمې ته ننوت او په خېمه کې دننه د سر خوا ته کښېناست او عسکر درې صفه مخامخ وته کښېناستل. کرنېل ټولو دوی مخاطب کړل او وې ویل:

- «تاسې پوهېږئ چې نن شپه موږ په یو مهم کار لاس پورې کوو. دا کامیابي به تاسې ته لوی افتخارات په نصیب کړي او د هغه مرګ څخه به نجات پیدا کړئ چې د دغه لعنتي کنډو په سر موږ ته په کمین کې دي.

موږ به د مږدک په شان پر لارې کنډو ورکښته کېږو او دښمن به له منځه وړو. نور نو تر کابل پورې زموږ په وړاندې هیڅ خنډ نشته.

موږ نن شپه دښمن غافل کړی دی او داسې مو څرګنده کړې ده چې ګواکې په استراحت کې یو څو درنګه کړې له به له دغه ځایه حرکت کوو او په ډېره ارامۍ به د دښمن په کمپ ورکښته کېږو او ناڅاپي یرغل به پرې کوو.

ستاسو وظیفه دا ده چې د شپې په تیاره کې د دښمن تر کمپ پورې په ماهرانه خاموشۍ ولاړ شئ او هلته تاسې ته به مخصوصه اشاره د یرغل قوماندې درکول کېږي.

تاسې زموږ په اردو کې ډېر بهادر او زړور سپاهیان یاست او تر دغې فتحې وروسته به ستاسې نوم د اعلیٰ حضرت معظمې ملکې په اردو کې ډېر لوړ شي او په ټول هندوستان کې به تاسې وپېژندل شئ.

تاسې ښه پوهېږئ چې دغه پښتانه چې اوس ستاسې د لارې خنډ دي ډېر بې عقل خلک دي خو که تاسې څومره هوښیاري وښایئ نو په ټول زموږ سره ملګري شي نو موږ به هر څه ور ته ور کړو.

موږ تاسې ته د برخلا تونه او بخښښونه درکوو ځکه تاسې ډېر بهادر خلک یاست کله چې د الحاى فتح کړ او علي‌خېلو ته ورسېږونو لوی جنرال رابرټسن په په ډېره لوی مجلس کې تاسې هر یو د بهادرانو په ډول معرفي کړې او هلته په بخښښونو له هم درکړي .

و ګوری ! تاسې پر موږ د ومره ګران یاست چې دادی مخ کې ترحرکت هم بخښښ درکوو .»

کرنیل ډېرو پاور ته اشاره کړه او له دې سره یو مېانه قد ځوان صاحب منصب خوشې ته داخل شو چې عسکري لباس یې اغوستی و . کرنیل ډېرو ور ته وویل :

- « ورکه د غو بهادرانو هر یو ته پنځه پنځه روپۍ ».

پاور هر یوه ته پنځه پنځه روپۍ ورکړې .

ده بیا عسکرو ته خطاب وکړ او وې ویل :

- « ما تاسې ته وویل چې یواځې دغه بخښښ نه دی ، اصل بخښښونه به تاسې ته لوی جنرال رابرټس بهادر کوي .

اوس تاسې څه دلته استراحت وکړی او هېڅوک به له خپو ځایه نه راوزي.

دوه ساعته وروسته به زموږ د جمع (جم نظام) اشاره د سولې د یوکو لکړي د ناوړې په شان وي او تاسې به د کتار په پنځه خطو کې قرار ونیسی او حرکت به موږ پر منظم او خاموشه وي . »

کرنیل ډېرو بیا سپاهیان مخاطب کړل وې ویل :

- « پوه شوی ؟ »

سپاهیانو په یوه آواز وویل :

- « هو . »

کرنیل ډریو وویل :

- « ډیر ځلي ! اوس به تاسو هم دلته په داسې ارامۍ چې آواز مو له خیمې څخه د باندې رانه وزي د لویې بریتانیا د علیا حضرتې ملکې ویکتوریا د سلامتۍ ترانه له ځانه سره ووایاست . »

سپاهیانو وویل :

« امر قبول »

کرنیل ډریو بیا زیاته کړه .

- « یو ځل بیا باید ووایم چې نظم او دیسپلین باید ډیر مراعات شي. ما ستاسې ضمانت کړیدی او لوی جنرال راباندې هم پر تاسې اعتماد کړیدی زه باور لرم چې تاسې به د خپلې بهادرۍ ډیر لوی ثبوت پېش کړیء. »

سپاهیانو بیا په ټیټ آواز وویل :

-« امر قبول»

له دې سره کرنیل ډریو او ماور یې له خیمې څخه ووتل او سپاهیانو هم د احترام رسم پر ځای کړ.

سپاهیان ټول د خیمې په فرش داسې غزیدلي وو چې سر و ملا یې یو بل ته سره نژدې و ډیر عسکر ورو لاړ شو او څراغ یې یو څه خاموشه کړ او بېرته راغیء او پریوت .

حضرت شاه (٦٢) یو پښتون عسکر په نسبتاً کرار آواز وویل :

-« تاسو د فرنګي کرنیل خبرې ښې واورېدې او اوس مو هم لاسونه د دوی د مردارو پیسو څخه ډک دي !

موږ پښتانه یو او دوی فرنګیان دي !

ارتګیانو زموږ پر کور پر ځل کړی دی او زموږ ورونه واوژنی او بیا هم موږ ته بیا دران وایی:

آیا که موږ خپل ورونه وژنو او خپله خاوره او وطن دغوښتونکو ته ور سپارو موږ به رښتیا بیا دران یو؟

نه لعنت د په هغه بیا دروي چې هغه دښمن ته خدمت کوي.

تاسو پوهیږی چې موږ د (ټول) ځکه حرکت وا کاوه دا موتصمم ؤ چې ددښمن ملا به ورماتوو دادی نن شه دهغه تصمیم دعملی کو لو باره وا وسه لی ده.»

میر باز بل پښتون عسکر ووېل:

-«دملګرو! هوښیار اوسیء خبرې ورو ورو کویء»

حضرت شاه میر باز ته ووېل.

-«ته داسې غلی دخیمې ځکه د باندې وګوره چې څوك خواږ دې نشته.»

میر باز په څکندو دخیمې ځکه ددروا زې خوا ته راغیء.

حضرت شاه ووېل:

«ملګرو چې دښمن متوجه نشی یو یو ځل دملکې ترانه وواياست چې که کوم جاسوس یا ګزمه وا لاړا شی زمو ږ اصلی خبرو ته متوجه نشی.»

سپاہیانو په ترا نه پیل وکړ:

«دملکی د تاج تر شپول لا زدې

دا جهان را ټول دی

سوږې نوکران یو

سوبې یې غلامان یو»

یو سپاهي چې په لهجه کې یې نفرت پروت وه وویل:

ـ «ډېره سپکه ترانه ده. زما خو په ژبه دا کلمات داسې څرخي لکه د لړم نیش چې سړي په ژبه نیولی وي.»

حضرت شاه د خپل ملګري په تائید وویل:

«حقیقت همدغه دی. خو څه وکړو د دښمن د غافل کېدو له پاره په دغه د لړم نیش پر ژبه چاوو.»

سپاهیانو ورو ورو ترانه ویله چې میرباز امر ته له د باندې څخه په څکېدو خیمې ته راغی او وې ویل لږي خو څوك نه لیدل کېږي خو ښه دا ده چې د ملګرو څخه یو د خیمې د دروازې سره څارو کړي.»

حضرت شاه وویل.

ډېره ښه خبره ده.

د سپاهیانو څخه یو دغه وظیفه واخیستله او په څنګ د لو د دروازې خوا ته ولاړ او په څار کولو یې پیل وکړ.

حضرت شاه وویل:

«ګورئ اندیوالانو دا فرنګیان دي. دوی غواړي زموږ پښتانه وروڼه چې په لاندې درو کې پراته دي نن شپه قتل عام کړي. د وی شبخون به وروړي خو زموږ وظیفه دا ده چې هغه باید خبر کړو چې غافل نشي.»

میرباز وویل:

«د ملګرو څخه به یو موظف کړو چې هلته ورشي او هغوی خبر کړي.»

حضرت شاه د نفی په ډول سر وښوراوه او وې ویل:

«نه . نه ! ته ډېر ساده سړی یې اول له دې ځایه چې سړي ولاړېږي توسمند ستی یې د کمپ ګزمه را ګرزوي او نور نو لا ر هم خطر ناکه ده او که لاندې پښتنو د خپل کمپ ګزمه کوله نو هغوی به یې تر بوټښتنې پخواتر زړه مردك ورو باسي :»

مېرباز په استفهامیه لهجه ووېل :

«په نو څه باید وشي ؟»

حضرت شاه ووېل :

« باید فکر وکړو څه باید وشي لاره یې باید پیدا کړو .»

توسمانی خپل نظر څرګند کړ او وې وېل :

«حضرت شاه ! راځئ چې خپل ټوپکان ډك کړو او مخامخ د قرار ګاه د قوماندان پر خیمه حمله وکړو هر څه باد اباد . که موږ فرنګیان نو شتان له منځه یو وړل او که یې موږ مړه کړو هر څه چې وي ډېرې به سره وشي او زموږ پښتانه غافل شوي ورونه به خبر شي او له دغه نا ځایي چپاو څخه به خلاص شي . »

حضرت شاه بیا هم د نفی په ډول سر وخوځاوه او وې وېل :

«دا یې هم لار نه ده . د قرار ګاه د قوماندان خیمه په ډېره کړه تو محافظه کونکو ساتل کیږي په دې کار کې با یله مطلق تیا دی څخه بل څه په لاس نه راځي . مفت باید ځانونه نه بایلو .»

مېرباز د حضرت شاه په تائید ووېل :

- «موږ څرپو باید پنځه فرنګیان تر ځان د مخه کړو او که مړو نو ارمان به نه لرو .»

حضرت شاه د مېرباز نظر تائید کړو وې وېل :

- «شاباس سرباز. دا دهوښیار سړي خبره ده.»

په دغه وخت کې دخیمې له دروازې څخه په څنګ دلو عسکردوی ته رانژدې شوا و په اشاره یې ووه کړه چې یو څوک خیمې ته رانژدې کیږي.

سپاهیانو دملکې په ترانه پیل وکړ.

دخیمې د دروازې پرده پورته شوه او کرنیل ډریو خیمې ته داخل شو.

سپاهیانو داحترام په ډول ودریدل خو ډریو ووېل.

- «مه‌ښوروېږئ! احترام دسر په کښته کیدو درست دی ځکه موږ په هادي حال کې نه یو ډېراعلی. دعلیاحضرتې ملکې دسلامتۍ ترانه‌وایاست! آفرین شاباس»

کرنیل ډریو پرته ووت او دوی په پخوانۍ ترتیب سره تول شول.

حضرت‌شاه - د کرنیل ډریو تر وتلو وروسته بیا خپل ملګري مخاطب کړل او وې ویل:

- «ومولیدل! دافرنګیان په موږ اعتماد نه لري او داسې موښاري. چه اوس فکرو کړی چې په دغه لنډوخت کې دلاندې دري پښتانه څنګه خبر کړو.»

سرباز وویل:

- «یاره حضرت شاه زه فکر کوم چې هغه به غافل نشی او د فرنګی په دهچل به تېر نه وزي او استراحت به‌ونه کړي.»

حضرت شاه وویل.

- «نه داسې نه ده. دافرنګیان ډېرشمطانان دي نن سهار يې ترغرمې پورې جلسه درلوده او دما پښین څخه ترماښام پورې یې هریخوا ته خپل

حرکتونه داسې عیار کړي وو چې موږ هم خیال کاوه چې دلته به ددوو شپو له پاره استراحت کوو .

هغه‌خواران ډېرسترې او بې‌خوبه دي. دفرنګیانو دغه کارونه‌چې بې دلیرې لیدلي‌وي نو خیال به کوي‌چې سپالاد حرکت اراده نه لري . حتماًغافل شوېدي اوزه یقین لرم چې اوس پهلا بیده وي .»

سپرباز وویل :

- « په‌نو وخت تېرېږي څه باید وشي ؟ »

حضرت شاه سالکرو ته وکتل او وې ویل .

- « انګرېزان نو څه فکر کوي . څه باید وشي ؟ »

سپاهیانو په کراره وویل :

« موږ ته امر کوي . نورنو فکر اوپلان ستاسې کار دی . »

حضرت‌شاه په داسې اندازه لکه فیصله چې صادر وي وویل :

- « د شهادت زړی خو به اول ګام کې درکوم. وروسته داسې کار به کوو چې زموږ ورونه خبر هم نه شي زما په فکر داسې به وکړو چې کله دشپ خون لښکر روان شو موږ به هم ور سره مخو خو کله چې هدف ته نژدې کېږو زه به په خپل توپك یوه ډزوکړم او په ما پسې دې سپرباز هم ډزه وکړي په دې توګه به هغه خبر شي او نجات به ومومي. »

سپرباز په خوشحالی وویل .

-«افرین ډېر ښه فکر دی. همداسې به کوو . »

سپاهیانو وویل:

-«موږ به څه کوو. ! »

حضرت شاه و ویل. »

«تاسې به هیڅ نه کوی ء که چیرې د پښتنو سره لاس په لاس جنګ پیښ شو او کوښښ به کوی ء چې د فرنګی د لښکر سپاهیان ووهی . خو دا به مو بهادري وي که د فرنګی ځتان سره کړی ء خو دا کار باید په داسې مهارت وکړی ء چې اشتباه دوبا ندی پیدا نشی . یعنی وار به مو داسې کاري وي چې ژوندي پاتې نشی چې بیا مو ونیز لی.»

سپاهیانو په یوه اواز کرار وویل :

- «پوه شوو . »

حضرت شاه بیا وویل :

«سره پوه شوو! ها ؟»

سرباز وویل :

«هو! ټول پوه یو ! »

د خیمې د دباندې څخه بیاه پښو اوازواوریدل‌شو - او سپاهیانود ملکې دسلامتی په ترانه پیل وکړ.

حضرت شاه چې غوږ اواز ته نیولی ؤ بیا یې د ټو سپاهیانو څخه پوښتنه وکړه.

-« لکه چې تیر شو ! ؟

ته وګوره ! »

سپاهی په ځکېدود خیمې څخه ووت بیرته راغی د خیریت خبر یې راوړ.

سرباز په شرم کې نغښتې لهجه وؤیل ؛

- «د پرنګیانو تر خدمت بل شرم نشته خو مونږ او تاسې ددې له پاره دغو ګوره ګانو سره ملګري شوي یو چې ملایې ورماته کړو.

حضرت شاه وویل:

- «رښتیا زموږ څخه ځینې خلک خورا ډېر نفرت کوي. کله چې د (تل) څخه را روانېدو یوې پښتنې ښځې ماته راتف کړه او ډېر سپکې سپورې یې را ته وویلې ما ته قهر رانغی او د اېنځه مې هم ملامته نه کړه خو په زړه کې مې وویل چې دا انتقام به د فرنګیانو څخه اخلم.»

میر باز لکه د زړه خوا له چې کوي وویل:

- «دا کنجي جنرال څه بلا دی نوم یې (رابټ) (۶۳) که څه شی؟. خو دا مې دی لکه اور چې اخلي زه چې یې وینم دا مې را ته اېسې لکه یو وږی لیوه چې د رمې سره روان وي.»

حضرت شاه میرباز ته یو ځل ځیر و کتل او بیا یې وویل:

- «هو دا خورا غټ ګوره دی خو د پښتنو لښکرو یې تر اوسه لا ده خوړلې چې لاندې دروا ته کښته شی نو هلته به و ګوري چې د یو من اوړو څخه څو پټوري پخیږي.»

دوی په دغه خبرو اخته وو چې دپاندې دمه‌ی د کونګري آواز پورته شو او دوی پوه شول چې پاپد شب خون ته روان شی ددوی تیاری‌خول تور وزرونه خپاره کړي وو او په دغه تیاره کې د شب خون له پاره عسکر ولاړو او ملګي ته یې منصبداران ولاړو. دوی چې کوم ځای ولاړوو د کندو څخه لاندې دیوې درې خوا له معلومېده جنرال رابرتس ددوي د صفونو مخ ته وړو وړو قدم واهه. ده به یو

محل لا ندي درې ته وکتل او بیا یې یې پوره ته سترگې واړولې جنرال رابرتس دا انتظام را بور دخپلو مربوطو منصبدارانو څخه اخیست او په ترتیب سره یې پوښتنې پیل کړې. ده لومړی جنرال تهملوال ته کرا ووغ مخاطب کړ او پوښتنه یې ځینې وکړه :

ـ « آیا ته پوره مطمئن یې چې دښمن غافل دی ؟ »

جنرال تهملوال په پوره ډاډ وویل :

ـ « هو ! کاملاً مطمئن یم . زما دپوستې ورو ستی راپور وایې چې هغوی د کامل استراحت په حال کې دي . »

جنرال رابرتس بیا د کرنیل ډریو څخه پوښتنه وکړه :

ـ « ستاسو ته دې د شپخون د ورغل پوره هدایت ورکړ شوی ؟ »

کرنیل ډریو عسکري احترام په ځای کړ او بیا یې وویل :

ـ « هو ! کاملاً تیار دي . »

جنرال رابرتس دا ځل د میجر پالمر څخه پوښتنه وکړه :

ـ « ستاسو ته ډوډی ورکړل شوېده ؟ »

میجر پالمر وویل :

« هو ! نن مې وختي ډوډی ورکړېده . »

رابرتس جنرال تهملوال ته را نژدې شو اوورو یې ورته وویل :

ـ « بېښنو ستاسو ته مود بخښنېش په باب هم اقدام وکړ ؟ »

تهملوال کرنیل ډریو ته اشاره وکړه او هغه هم دوی ته ورنژدې شو او بیا یې رابرتس ، ته وویل :

ـ « هو ! دا کار کرنیل ډریو کړېدی . »

جنرال رابرتس دخپل پوره ډاډ له پاره بیا د کرنیل ډرپوځخه پوښتنه وکړه .

-«ایا ته پوره مطمئن یې چې دغه خلك به صادقانه خدمت وکړي ؟»

کرنیل ډرپو په پوره ډاډ وویل :

« کاملاً ! محترم جنراله په کلی توگه مطمئن یم حتی ضمانت یې کوم ! »

رابرتس له جنرال تهیلوال او کرنیل ډرپوځخه رابیل شو او د جنرال کاب مخ ته ودرید او هغه یې مخاطب کړ .

«څرنگه جنرال کاب !

دغه نظامی عملیات دې منظور دي ؟

د کار دنتیجې څخه څوفیصده مطمئن یې ؟ »

جنرال کاب وویل :

« محترم جنراله !

زه دغه عملیات تائیدوم خو په یوه قسمت کې چې د پښتنو سپاهانو سره اړه لري هیڅکله مطمئن کیدای نشم . لطفاً په ما په دغه قسمت کې معذور وگڼی ځکه چې ترخو شیبې مې بدبختی زیاته ده او علت یې همدادی چې داقوم زه خوراښه پیژنم . زموږ او ددوی دوستی او یو په بل اعتماد دیو خوشې خیال دی ! »

جنرال رابرتس په داسې اندازه لکه د کاب انتقادچې تائیدوي خواوس داړون کارنه کرزوي نو وې ویل .

-«نه هرڅه چې وي اوس خو به د غه عملیات پیل کوو . »

جنرال رابرتس راغی او دعسکرو په مخ کې ودریداو په کښته

اواز یې داسې ویښا وکړه:

-« بهادرانو، سرباز انو!

نن شپه موږ دجهان وا کمنې خولې علیاحضرت ته معظمې ملکې ته یو لوی امتحان ورکوو. زموږ دښمن په لاندې دره کې پروت دی او زموږ لاره یې بنده کړېده.

موږ به په هغوصب خون کوو. هغوی موږ غافل کړېدي او تاسې به په ډېره بهادري او مهارت په هغو حمله کوئ.

زما امردادی چې نه یوا ځې به ددوی څخه یو هم ژوندی نه پرېږدي بلکې په یوه مارش به لاندې کلیو ته ځانونه رسوی او هلته به حتی یو ه چرګه هم ژوندۍ نه پرېږدئ. کورونو ته به یې اور وراچوی! نو مخ په وړاندې مارش!»

فضا تیاره وه خو په دغه تیاره کې به کله کله دسپاهیانو مرو نه ښکارېدل. ده ډېر لیرې څخه کله کله دسپود غږا اواز د باد په څپو کې رارسېده.

جنرال تهیلوال دجنرال راین تس راسته اړخ ته او جنرال کاب دراین تس چپه اړخ ته په عسکرو پسې روان وه.

د برتانیا بیرغ دلښکر په پای کې یوه عسکر د جنرالانو په مخ کې وړی.

خاموشي او چوپتیاوه. یوا ځې دسپاهیانو د پښو اواز هغه هم ډېر کرار اورېدل کېده.

راین تس جنرال تهیلوال ته په ډېر کرار اواز ووېل:

-«که دغه مانع له منځه لرې شي نو یقین دی چې موا به تر ملی خپلو
پورې زموږ مخ ته څوك تکیه نشي .»
جنرال تهیلوال وویل :
-«هو محترم جنراله !
کر نیل ډریو ډیر ښه ترتیبات نیولی دي.»
عسکر خاموشه روان وه چو په چوپتیاوه
کرنیل ډریو دوی ته را نژدې شو او وې ویل :
-«دښمن کاملاً غافل او داستراحت پهحال کې دی !»
جنرال رابرتس پوښتنه وکړه .
-«څومره فاصله به ددښمن کمپ ته پاته وي؟»
کرنیل ډریو وویل:
«دوه زره ګامه لرې نه یو. خو موږ مستقیم نه یو ورځواود تنګی
دچپې خوا څخه په ورکښته کیږو.ځای درنګه ګړی له زموږ بر چې
ددښمن په سینه کې جګې شی .»
عسکر په خاموشی روان وه اود پښتنو عسکر په پنځم صف کې
روانوه.
میر باز چې د حضرت شاه ارخ ته روان ؤ. ورو یې څخه په څنګل
وواهه او کراویې ورته وویل
-«ور ورسیدو څه کوې؟»
حضرت شاه بیله دې چې مخ وروارروي وویل :
-«صبر وکړه اوس لا وختی دی.»
میر باز وویل :

ـ «ښه. ته پوهېږې »

عسکر روان وه او خامو شی خوره وه خو د قوقې ورو سته ناڅاپه دحضرت شاه توپك ډزه وكړه او په دې پسې دمېرباز دتوپك ډزه شوه هرې خوا ته شور جوړ شو لښکر په بې نظمۍ سره تېت شو.

جنرال رابرتس په قهر او غضب ناري کړې .

ـ د دا څه وشوه ؟!

ولې ؟

کرنيل ډرېو !

دا غدار څوك و؟ »

جنرال تهيلوال چې د وار خطايي څخه يې آواز د رېږدلی و بې اختياره ناري كړې.

ـ « ورانه شوه . هلی . ژر شی. لښکر ته دجم قوماندہ ور کړیء »

هرې خوا ته زوږ او ناري پورته شوې.

جنرال رابرتس په لوړ آواز ناري كړې چې په دښمن حمله وكړيء .

څو شرنګه چې هرې خوا ته زوږ او ناري پورته وې نو د رابرتس اواز هم چا وانه وريد جنرال كاب پر ميجر پالمر ناري كړې:

ـ «ميجر پالمر ! بيرغ په مځکه پروت دی پورته يې کړه.»

ميجر پالمر چې سخت وار خطا شوی و وې ويل :

ـ « افسوس ! دا د پښتنو دپلټنې غداري ده» (دا بيرغ د مځکې څخه پورته کړه ).

جنرال رابرتس کرنيل ډربو ته امر وکړ .

- « غدار ونیسیء چې ونه تښتي ! »
جنرال کلاب ناري کړې.
- « د پښتنو پلټن تر نظارت لاندې ونیسیء داکار د پښتنو دی. زړواره مې ویلي‌دي چې په دغه قوم هیڅ اعتماد په کار نه دی. »
حضرت شاه - سرباز او پښتني سپایان . د نورو عسکرو له خوا د برچو په شپول کې راګېرشوه او د حضرت شاه او سرباز مټې ېې ورو تړلې .
هرې خوا ته زوږ او شورماشور خپور و .
جنرال رابرتس جنرال تهملوال ته وویل :
- « لښکر ته د دښمن په کمپ د چټک مارش قوماندوه ورکړه »
جنرال تهملوال وویل :
« لښکر په ښه منظم ډول تیت شوی‌دی. دادی قوماندوه ورکوم. مخ د دښمن د کمپ په خوا مارش. برچې په توپک سورې کړې . »
هرې خوا ته زوږ او نارې خورې وې .
کرنیل ډریو په وار خطایي نارې کړې .
«د دښمن لښکر خبرشوی. دادی راورسېدل.»
میجر پا لمرچی شاته مخستل وې ویل :
« تن په تن جنګ پیل شو . »
هرې خوا ته زوږ ، نارې ، د برچو د تصادم پرغ
اولوی غالمغال او چت شو .
ډېوارډکنډو په سرچې د جنرال رابرتس د شپ‌خون پروګرام ناکام شو او حضرت‌شاه او دغه ملګري‌ونیول شول نوجنرال رابرتس دومره

عصبي شوی چې غوښتل یې یې پوښتنې د غوڅ خلکو غوښې پرې کړي .

په دغه پېښه کې نه پوهېږي رابرتس پوښته چا اس له لاسه ورکړه ملکي خپل عسکري هم پکې ووژل شول کله چې داوا قعه پېښه شوه جنرال رابرتس غوښتل چې بېرته ند عسکر ټول اعدام کړي خو ددوو جنرالانو له خوا مشوره ورکړل شوه چې دغه کار په عسکري چوکاټ کې وکړه یعنې دوی محاکمه کړه او بیا چې دي هرڅه زړه غواړي هغه به وکړې .

تر دغې مشورې وروسته نو را برتس د محاکمې مجلس داسې جوړ کړ چې پنځه د قاضي په حیث کښېناست او نور څلور انګریزي منصبداران یې هم د مشاورو قاضیانو په حیث وټاکل .

دوی د دغې محاکمې له پاره د قرارګاه څلور کونجه لویه خیمه وټاکله چې په هغه کې به ترتیب سره میزونه پراته وه د خیمې په دیوال پورې د ملکې وکټوریا عکس ځړېده او درا برتس پرمېز د برېتانیا کوچنی بیرغ درول شوی ؤ .

حضرت شاه او نور بازد محکومینو په دول په دوو ځنځیرو کې ولاړو واو نور نو دس پېښتا لمسایان په دري صفه کې د خیمې په فرش ناست وو . پر دوی انګریزي وسله وال عسکر را ګرز بدلی وه .

جنرال را برتس په ډېر عصبیت چې لیونتوب ور څخه څرګندو حضرت شاه مخاطب کړ او وې ویل .

- « ای بدبخت غداره ! ولې دې د شپې خون د حرکت په وخت ډزه وکړه . »

حضرت شاه په لنډو کلما تو ځواب ورکړ چې ما ډزه نه ده کړې خو را برتس چې تر پخوا لا عصبي شوی ؤ په زوره پرې ناره کړه :

- « نو څرنګه توپک پخپله دزه‌وکړه ؟ »

حضرت شاه وویل .

- « زه متوجه نه وم. توپک مې دلکړاو په ناڅاپي ډول مې ګوته په ماشه برابره شوه او کولنګ په پټاقي وسوځېد او ډزه وشوه . »

په دغه وخت کې کرنیل دریو چې خجالت او قهر یې سره ګډ شوی و، پوځي جنرال واټرتس ته وکتل او بیا په داسې حال کې چې ژبه یې وچه شوې وه او سترګې یې ترکولکو نو راوتلې وې حضرت شاه مخاطب کړ او پوښتنه یې ځینې وکړه :

- « غداره ! تر کومه وخته چې د توپک کولنګ نه وي پورته شوی ماشه نه وهل کېږي کولنګ دې څرنګه پورته کړ ؟ »

حضرت شاه په قهر وویل :

— « زه غدار نه یم. ما ته دغدار خطاب مه کوئ !

ما د توپک کولنګ ددې له پاره پورته کړی وه چې دمرغل په وخت کې مې توپک ډزې ته تیار وي »

کرنیل دریو میر باز مخاطب کړ او وې ویل :

- «میربازه ! په لارې چې ته حضرت شاه ته ورنژدې شوې دغه خبرې دې ښې ورسره کولې ؟ »

میر باز وویل :

- « زه په ټوله لارې کې دحضرت شاه ارخ ته تلم او خبرې مې ځکه کرار ورسره کولې چې دخاموشۍ امر صادر شوی و. ما معمولي خبرې له ده سره کولې . »

کرنیل دریو بیا پوښتنه ځینې وکړه ،

«ښه ډېر ښه! کله چې حضرت شاه ډېره وکړه تا ولې په هغه پسې پوست ډېره وکړه.»

میر باز وویل:

- «په دغه وخت کې زه د حضرت شاه څخه لیرې وم او کله چې مې ډېره واورېده خیال مې وکړ چې د دښمن له خوا ډېره وشوه نو جوابي ډېره مې وکړه.»

میجر یا لمر په قهر سترګې نا ستو پښتنو عسکرو ته واړولې او وې وویل:

- «تر حرکت د مخه چې تاسې نو نس کسه چې په خیمه کې نو ځای واست ستاسې ځینې خبرې د ګزمې عسکروا و ریدلې دي وواېاست تاسې هلته څه مصلحت کاوه.»

سپاهیانو په یوه اواز وویل:

«موږ ټولو د ملکې د سلامتۍ ترانه ویله.»

جنرال کاب د جنرال را بر تس خوا ته مخ وروا ړاوه او په نسبتاً ارامه لهجه یې وویل.

«وګوره دومره چالاکه دي. ما پخوا ویلي وه چې په دغو خلکو هیڅ اعتماد په کار نه دی.»

کرنیل ډریو د دروازې خوا ته اشاره وکړه او وې ویل.»

«د ګزمې نفر دې د شاهدۍ له پاره حاضر شي.»

په دغه وخت کې دوه کسه سپاهیان له د باندې څخه خیمې ته را داخل شوه په عسکري رسم یې احترام وکړ او د میز مخ ته ودرېدل.

کرنیل ډریو په اشاره دوو نفرو عسکرو ته وویل:

«تاسې بېګا شپه په خېمه کې چې دغه سپاهیان هلته وه څه اورېدلي دي ؟»

یو نفر عسکر وویل :

«ما دومره واورېدل چې د خېمې څخه دغه آواز زما غوږ ته راغی.

(دا د ملکې ترانه زما په ژبه داسې لګېږي لکه د لړم نېش )

لو رنو ما غوښتل چې غوږ ورته ونیسم چې د خېمې څخه یو نفر راووت او زه هم له دغه ځایه ولاړم .»

بل نفر عسکر وویل :

«ما واورېدل چې دوی وویل فرنګیان زموږ دښمنان دي او هېڅ مو دوستان کېدای نشي .»

کرنېل ډېر په اشاره سپاهیانو، حضرت شاه . او سرباز ته وویل .

«ددې شاهدانو د خبرو په باب څه وایاست ؟»

سپاهیانو. حضرت شاه او سرباز وویل :

«دروغ وایي ! مطلق دروغ »

جنرال تېهاوال وویل :

«ستاسو د غدارۍ په وجه موږ ته د اشپې خون ډېر په قیمته تمام شو نفر مو ووژل شوه او نور موهم تکلیف زیات شو ستاسې سره باید څه وکړو ؟»

حضرت شاه وویل :

«موږ غداران نه یو . په موږ په دروغو شاهدي وویل شوه .»

جنرال رابرتس چې څو واره سر وخوځاوه بیا یې وویل:

«دا بد بخته غداران په دې نه ارزي چې د دوی خبرې ورسره وشي. اوس

یې وپاسي او موږ به دلته خپله فیصله صادره کړو.»

حضرت شاه. میر باز او سپاهیان د عسکرو د برچو په شپول کې له خیمې څخه وایستل شول او په خیمه کې څو دقیقې د وی ټوله پټه خوله ناسته وه او بیا وابرتس په خبرو پیل وکړ. ده په استفهامیه لهجه د انګریزي منصبدارانو څخه پوښتنه وکړه:

«د دغې غداری په مقابل کې څه مجازات باید ورته وټاکو؟»

جنرال تهپلوال د سر په اشاره احترام وکړ او بیا یې وویل:

«زما په عقیده باید هندوستان ته تبعید شي.»

جنرال کاب په قاطع لهجه وویل.

«زه اصلاً د دې طرفدار نه یم چې پښتانه په عسکرو کې واخیستل شي. باید ځواب ورکړی او شاقه خدمتونه په وکول شي.»

جنرال وابرتس په عصبي لهجه وویل:

«داد علیا حضرتې ملکې په ضد یو بې ادبانه حرکت دی. زه وایم چې ټوله دې اعدام شي.»

جنرال تهپلوال وویل:

ـ«زه د لوی جنرال حضور ته په احترام عرض کوم چې د ټولو اعدام یو څه تأمل غواړي موږ په نورو لښکرو کې هم پښتانه لرو که څه خبر شي نو د عکس العمل مسئله یې یو څه د پاملرنې وړده.»

کرنیل دریو چې د انتقام حس یې حرکت کړی ؤ وویل:

«هر څه چې وي خو حضرت شاه باید اعدام شي ځکه د ده غدار زه ډېر مرموزی یم.»

میجر پالمر وویل:

-«زه هم د کرنیل ډریو نظر تائیدوم.»

جنرال رابرتس پوښتنه وکړه

«دمیرباز په باب څه نظر لرئ؟»

جنرال تهملوال وویل:

-«څنګه زما په نظر ډیر مجرم نه دی باید خفیفه جزا ورکړل شي.»

کرنیل ډریو وویل:

«هو! څو کاله شاقه خدمت ته یې واستوی»

میجر پالمر وویل؛

-«درست د ی زه د کرنیل ډریو نظر تائیدوم»

جنرال رابرتس وویل:

«دجزا تعین یې وکړی»

جنرال تهملوال وویل:

«دوه کاله شاقه خدمت»

جنرال رابرتس بیا پوښتنه وکړه:

-«دسیا یانو په باب موڅه نظر دی؟»

جنرال تهملوال وویل:

-دا هم باید دمیرباز په شان دوه کاله شاقه خدمت وکړي»

کرنیل ډریو او میجر پالمر په ګډه وویل:

-«درست دی موږ یې تائیدوو.»

جنرال رابرتس جنرال کاب ته اشاره وکړه او پوښتنه یې څخه وکړه

« جنرال کاب ! ته خاموشه يې اقلاً نظر خو څرګند دوه ! »

کاب خپل په پلاستر کې تړلی لاس د احترام په ډول پورته کړ او بيا يې وويل .

- « دعلياحضرتې معظمې ملکې عمر دې دېر وي .

زه تاسو پوه ته کی ته متوجه کوم هغه څوک چې د ملکې د مقام بې احترامي وکړي او بيا هم د بخښنې لايق بولی ؟

دخوغداران د ملکې د سلامتی د ترانې کلمات د لړم د نيش سره تشبيه کړي دي . آيا د غسې غداران بايد وبخښل شي ؟ »

جنرال وابرتس پوښتنه څخه وکړه .

- « څه بايد ورسره وشي ؟ »

جنرال کاب وويل :

« هريو څور لس کاله بايد توره اوبو (م ۹) ته تبعيد شي . »

جنرل رابرتس وويل زما له خوا منظور خو دا نور څه وايې ؟

جنرال تهيلوال . کرنيل ډريو . ميجر پالمر په يوه آواز وويل :

« بالکل دوست ! »

رابرتس کرنيل ډريو ته کتابچه او قلم ورو غورځاوه اووې ويل :

- « واخله د مجلس رويداد وليکه او د مجازاتو تعين هم پکښې وليکه »

کرنيل ډريو کتابچه پورته کړه د مجلس رويدادي ليکی او مجازات يې هم د مجلس د فيصلې په قرار وليکل .

وابرتس خپل باور ته امر وکړ چې مجرمين راوله

هغه هم سلام وکړ اوله ها خوا سپايان حضرت شاه او مير بازد عسکرو په حفاظت کې خيمې ته را داخل شول .

حضرت شاه میرباز او نونس کسه سپاهیان چې محافظین په راخرخیدلي وه د جنرالانو د میز په وړاندې ودرول شول.

رابرتس کرنیل ته یوه ووېل چې مجرمینو ته مجازات واوروه او هغه هم په عسکري چټکۍ خپله چوکۍ له میز څخه لیرې کړه ودریده لومړی یې د ملکې ویکتوریا عکس ته احترام وکړ بیا یې په بیان داسې پیل وکړ.

-« د لویې بریتانیې د تولواکمنې او د هندوستان د امپراطورې علیاحضرتې معظمې ویکتوریا په نامه !

د لویې بریتانیا د هندوستان پوځ د شمال لویدیځ قواچې د لوی جنرال رابرتس په کمان کې یې د دسمبر په دوهمه شپه د پیوار له کوتل څخه د هترگردن خواته د لاندې درې د دښمن په کمپ شپ خون کاوه یو شمیر غدارانو د نظامي مقرراتو مخالف په حرکت کولو سره هندوستاني پوځ ته زیات زیان رسولی دی نو موضوع په یوه نظامي محکمه کې ترغور او عدالت لاندې ونیول شوه .

د مجرمینو څخه پوښتنې او د شاهدانو شاهدی اظهارات واخیستل شوه او نظامي محکمه د دغو مجرمینو په حق کې د عدالت فیصله داسې ابلاغوي :

حضرت شاه لومړي درجه مجرم محکوم په اعدام.

نونس کسه پښتانه سپاهیان چې د علیاحضرتې معظمې ملکې ویکتوریا د مقام سپکاوی یې کړیدی هر یو په توروا و یو کې محکوم په څلورلس کاله تبعید .

میرباز- پښتون سپاهي چې نورو ته یې جرم سپک دی محکوم په دوه کاله شاقه خدمت داقرارچې هغه اوس د نظامي محکمې له خوا

ACKU

صادرشویدی تطبیق ته به یې په ۲۴ گړیو کې اقدام کیږي .

مجرمین د ی خپل د قبول اظهار په لوړ اواز وکړي .»

حضرت شاه ناري کړې .

«ایا دا تاسې عدالت بولی؟»

جنرال رابرتس سروهو راوه او بیایې وویل .

« هو دادیو متمدن او با تهذیبه قوم عدالت دی . دا د نظامي محکمې فیصله ده وادې وویدل !؟ »

حضرت شاه په شونډو وچې نری خندا پیدا شوې وه وویل :

«عجیب تهذیب اوعجیب عدالت !؟»

جنرال کاب مخ جنرال رابرتس ته وکزاوه او وې ویل :

ـ«وگوره دادیو ساده سپاهي برخورد دی چې زموږ په تهذیب او عدالت ملنډې وهی » په دغه شیبه کې یو هندوستانی افسرخیمې ته راداخل شو . عسکري سلام یې وکړ او بیایې وویل :

« زما نوم رضاشاه (۶۵) دی زه د څلورم کنډک د دوهمې قطعې د قوماندان سرستیال یم زه ستاسې حضور ته عرض کوم چې حضرت شاه کاملاً بې گناه دی او که تاسو په هغه د اعدام حکم جاري کوی نو دا به دلویې بریتانیا د بې عدالتې بولوی ثبوت وي »

رابرتس په قهر او غضب تاره بر وکړه :

ـ « بې وقوفه ! تاته چا اجازه درکړیده چې دلته را داخل شې ته خپلو خبرو ته پام وکړه ؛

ته د لویې بریتانیا د نامه سره د بې عدالتۍ کلمه څرنګه ذکروې
یا م دې وساته ته هم یو مجرم یې ! »

رضا شاه وویل :

« زه حقیقت وایم . زه په دغه شبه کې یو ائې د حقیقت پروا
ساتم نور د هیڅ پروا نه لرم یو ځل بیا وایم چې حضرت شاه مطلق
بې ګناه دی . »

جنرال رابرتس د تحقیر په لهجه رضا شاه مخاطب کړ :

- « ته یو دیسی افسر یې ، ته یو هندوستانی یې . ته د دې حق
نه لرې چې بې پوښتنې د جنرالانو په مخ کې اظهار نظر وکړې . »

حضرت شاه رابرتس ته وکتل او بیا یې وویل:

« هو ! په رښتیا چې تاسې د لوی تهذیب خاوندان یاست . یو
هندوستانی به ولې حق لري چې ستاسې په مخ کې خبرې وکړي !
آیا بریتانیا یې کبرو بیله تجاوز تیري او تحقیر څخه بل څه هندوستان
ته ور بخښلي دي؟ زه افتخار کوم چې اعدامیږم خو داوری چې
زه د یو بهادر قوم څخه یم . زما قام به تاسې ته ښه سبق درکړي . »

جنرال کاب ته چې قهر ور غلی و وویل :

« احمقه ! بې وقوفه چوپ شه . سوړ ستا قوم ته د سبق ورکولو
له پاره راغلی یو ته به وګورې چې موږ به د دوی نوم او نښان
د مځکې له مخ څخه ورمحو کړو . »

حضرت شاه په غرور سر و ښوراوه بیا یې وویل :

- « د برنس او میکناټن افسانه څرنګه وه؟ مغرورو جنرالانو !
د خورد کابل او جلال آباد ترمنځ ستاسې په غوښو موږ د غرو لیوان

مارو نه شول ؟ هور مو دي؟ »

جنرال رابرتس د قهره سره وچاود او تاوي يې کړې او خپل مخ ته ميزه پې په سوك ووا هه :

ـ « اې غداره خوله دې بنده کړه ته موږ ته د برنس او مکناټن په نورمه را کوه . موږ به د پښتنو نوم دانسانانو له قاموسه محوه کوو او کابل به په وينو کې غرقوو . »

حضرت شاه په آرامۍ ووېل :

« زه دا منم ، دا څکه چې تاسي د تهذيب او عدالت د عوا کوو . ست نو بايد قاموته محوه کړیء ، خلك ووژنیء او ښاروته په وينو ونګویء ! »

له دې سره سم حضرت شاه په ډېر قهر ناره پر وکړه او وې ووېل :

« اې خاينانو . غدارانو . ستاسې ټول قام غداردی . تاسې ټول هندوستان په وينو لړلی دی خود اد پښتنو غرونه دي ! . دلته به پوخل بيا دا غرونه ستاسې هديره شي .

په ياد ولریء چې ستاسې سرنوشت به د مکناټن او برنس تراښکرو کم نه وي .

زموږ ددې غرونو هره تيږه او ونه به لا هم ستاسو سره وجنګيږي ! »

جنرال رابرتس وو يل :

« کش يې کړه دا غدار داسې ځای کې اعدام کړی چې د زه يې زه په خپلو غوږو واورم . »

محافظين په حضرت شاه را توی شول او هغه يې کش کړ .

حضرت شاه وروستي ناره پر وکړه :

«او کنځي جنرا له !

په یاد و لره چې په پښتو خپل قورته را غلی یې ! ډېر ژر به دا
مځکه ستا سې مردار هډو نه په خپله ځېږ کې وراسته کړي.»

له دې سره حضرت شاه له نور حاضرین ووتل .

جنرال را برتس چې سر ښوراوه وې ویل :

«د هندوستان احمق افسر په باب چې د یوه غدار دفاع یې کوله
څه مجازات تعینوی؟»

جنرال کاب وویل .

«دغه احمق د نظامی خدمت څخه طرد او اوه کاله په تورو اوبو
کې په تبعید محکوم»

جنرال تهلوان . کرنل ډریو او میجر پالمر وویل :

« کاملا تائید ـ دا مجازات پوره عدالت دی .»

د پورته خوا نه د سوین غره څوکه سکا رام (۹ ۶) په هغه دا یمی
غرور هسکه ولاړه وه ـ د ښېترو د ځنګلونو په سر د سوین غره د سر درو
شمال د پخوا پر شان چلید ه دیوې غونډۍ په سر دوه تیران په مځکه
کې نصب شوي وو چې د حضرت شاه لاسو نه پورې تړلی وو او مخامخ
لس کسه عسکر زنګون کېش و ر ته ولاړوو او د ټوپکو نو خو لې
یې د حضرت شاه سینې ته برابرې کړې وې. کرنل ډ ریو چې د غچ
څخه سره چاودید پر حضرت شاه یې نا ره کړه:

« حضرت شاه ته د لوېې بر یتانیا د یو مجرم عسکر په حیث
اعدا مېږې د علیا حضرتې ملکې د سلامتی تر ا نه و وایه »

حضرت شاه وخندل او وې ویل ;

«اې احمق کرنیله !

ما د برېتانیا د عسکر په حیث هیڅکله ځان نه دی بللی بلکې زه یو توریالی پښتون یم .

زه ملکه نه پېژنم داد یورپ نا ځکې چې ستاسې معبود دي ژر به یې تاج و تخت را نسکورشي !»

په دغه وخت کې سپاهیانو په پرق وخندل .

کرنیل ډېر بو وویل:

«چوپ شې و قوفه . د ملکې له نامه سره احتیاط کوه»

بیا یې مخ سپاهیانو ته راواړاوه او وې ویل

«او بې وقوفانو تاسو ولې وخندل ؟

که بل ځل مې ستاسې خندا ترغوږ شي درنګ به مو آرزو و نامم»

بیا یې مخ حضرت شاه ته واړاوه او وې ویل :

«گوره ! موږ د یو مجرم سره دغسې په تهذیب معامله کوو .

ستاد محاکمې په دوران کې موږ کاملا د عدالت پلوي کړېده . »

حضرت شاه خپله شونډه تر غاښو لاندې کړه په قهر یې وویل :

«او احمق او بې شعوره فرنگیه ! زه په دغه شېبه کې د هیڅ شي پروا نه لرم خو ته یاد لره چې ددې مځکې هر ذره او ښځه به په لوېښت لوېښت ستاسو سره په سرو نو جنګ کوي او د سپو غوندې به مو له خپلې خاورې شړي . بیا وایم چې کلوېښت کاله مخ کې درس مو له یاده وتلی دی دادی بیرته به یې در په یاد کړو . »

کرنیل ډېرو چې قهر یې اخیستی و وویل :

«او بې وقوفه وخت مه تېروه صرف د ملکې د سلامت یوه کلمه

ACKU

په خوله جاري که چې امر په ځای شی ! »

حضرت شاه وخندل او وې ویل :

« ته خو ډېر احمق یې زه خپله خوله د بوې فرنګی په نامه نه مرداروم ! »

کرنیل درېوو تکان وخوړ او حضرت شاه یې مخاطب کړ .

« اې ښوونکو زما خوږ ونه د دغسې خبرو له اورېدو څخه په بونګارانې څه و کړم . »

ده مخ عسکرو ته وګرځاوه او وې ویل :

« دا یې ووهئ د ملکي دسلامت ترانه نه وایی او چې داو نه وېل شي د فیرامر څرنګه ور کول کېږي . تاسو منتظر شئ چې زه د جنرال را برتس څخه هدایت واخلم . »

کرنیل دریو ولاړ او عسکر ګو ته په ماشه ز نګون کېښ و لاړ و درېدل

حضرت شاه هغه سپلانیانو ته چې اکثره یې هندوستانی وو او د لته ولاړ وو ویل :

«زما ګرانو ملګرو !

موږ پښتانه یو او تاسې هندوستانیان یاست. دی فرنګیانو ستاسو کور دوران کړ او اوس غواړي چې زموږ کور راوران کړي خودا کور به وران نه کړای شی .

زما بهادر او میړه قام دوی ته په سپڅونه ور کړېدي او اوس به هم دوی ډېر لی له دې غرونو څخه و نه وزي .

زما قام به د افرنګیانو وشړي او ستاسو سره به دوروری لاس ورکړي.

تاسې به دې پوه شیءچې فرنګیان د هندوستانیانو سره نشې دوستیداې تاسو دمریانو په شان راکشوي او غواړي دلته موږ دغو غرونوکې د خان قربانی کړي.

ګرانو ملګرو! چې هیڅکله ددوی سره په صداقت ګام پورته نکړیءهرکله چې مولاس به ارشی خپل وارمه پرېږدیء.

زما ملګرو!

زه به دې افتخار کوم چې ما پوه ورځ هم د پرنګی په لښکرو کې په صداقت خدمت نه دی کړی ژ به دې نیت دوی ته راغلی وم چې په یوه سخت وخت کې ضربه په وارده کړم. دادی اوس ما خپله وظیفه سرته ورسوله. زه ددوی رحم او بخښنه نه غواړم. په هغه ورځ چې زه ددوی لښکر ته را تلم ما دا فرض کړي وه چې ددوی له لاسه به د شهادت جام نوشوم»

په دغه وخت کې کرنیل په چابکو کامونو را ورسید او وسله والو عسکرو ته یې قومانده ورکړه چې (فیر!) له دې سره د لسو توپکو ترخوله دودنه راووتل او مخامخ د حضرت شاه په سینه کی ددوی مردکۍ وموښتل. د توپکو له فیر سره د حضرت شاه ترخوله دا کلمات راووتل:

«ژوندی دې وي زما قوم. مړه دې وي پرنګیان.»

پوهېږه وروسته د حضرت شاه له سینې څخه وینې را وبهېدې او

ACKU

داد وطن او خاورې شهید د پېوار په ککره ښخ شو چې په قبر یې د مکارام شمال چلېږي .

رابرتس او د هغه لښکر څو ورځې د ننه پاتې وو څو یې په لویو چاوونواو دېر زیان لاندې لار پیدا کړه او د علی خیلوته را ورسېدل .

دوی په علی خیلو کې کمپ ولګاوه او نور هر څه وړاندې یې د تلګراف لین و تاړه او د دغه ځای رابطه یې د کورمې سره وتړله او نور نو د انګریز لښکر په دغه ځای کې مستقر شو .

*-*-*-*-*-*-*-*-*-*-*

# خښمېد لي خلك

دجدي د میاشتې وروستۍ هفته وه. په کندهار کې موسمي باراتونه پیل شوي وو. هغه باران چې درې ورځې پرله پسې اوریدلی و په ښار کې یې زاړه کورونه ړولي وو او د ښار څخه د باندې د سیلونو او بو کښتونو او کلیو ته زیانونه رسولي وو.

په ښار کې د څو ورځو را په دې خوا آوازه خوره وه چې د پرنګیانو لښکرې د چمن (٦٧) څخه د کندهار په خوا راروانې دي. په دغو آوازو کې ویل کېدل چې په تخته پل (٦٨) کې د دوی سره اڅکزو او نورزو (٦٩) ډېره سخته مقابله کړې ده او اوس د ارغسان (٧٠) د رود په غاړه پراته دي. څرنګه چې په ارغسان او ترنک (٧١) کې سیلونه راغلي دي نو د پرنګي لاروند، ده او ښایي نن سبا په ښار راشي.

د ښار خلکو د شاه بازار (٧٢) په لوی ګنج کې د غنمو، اوړو او وریجو په رانیولو کې بېړه کوله او قیمتونه ډېر لوړ تللي وو. هره ورځ به د خلکو یو لوی بهیر د غه ګنج ته روانؤ او په هره ورځ کې د خوراکي موادو قیمت پورته کېده.

دجدي نولسمه ورځ یوه بې اوریځې ورځ وه. په دغه ورځ لمر خولی

زړونې پلوشې په ښار باندې او هوا نسبتاً سړه وه. هغه سیا باد (۷۳) چې د ښار د جنوب لوېدیځ خوا له ریګستانو څخه را الوت هوا یې وار په وار سړېوله.

ښار خالي شوی ؤ او خلك ټول کورونو ته ننوتلي وو په بازارونو کې دکانونه تړلي وو او یوازې هم د کان چې به خلاص ؤ پر هغه به هم څو کسه داسې ځوانان ناست وو چې د واقعاتو او ماجراؤ سره یې علاقه درلوده.

د ښار دروازې خلاصې وې او ټول خبر وو چې نن د انګریز لښکر ښار ته داخلیږي د ښار، والي سردار میر افضل خان پخوا لا ښار پرې ایښی ؤ او بې سرپرسته ښار یې اخر د دښمن خواته حواله شوی ؤ.

دوولسې بولس نیمې بجې وې چې د ښکارپور دروازې په شا برج نغاره ووهل شوه او د لوی کاریز که له خوا د انګریز د لښکرو لیکه معلومه شوه چې د ښار په خوا راغله د ښار د چارسوله بام څخه یو شمیر خلکو د ښکارپور دروازې د شا برج له نغارې سره خولې سترګې د ښکارپور بازار په امتداد د جنګي کړې. نغاره د یو هم ځل له پاره وو هل شوه او کله چې نغاره ودرېده له لیرې څخه د انګریز د لښکر د باجې د ډول آواز د ښار د خلکو غوږونه لمس کړل او هرې خواته خلکو په مایوسۍ یو له بله سره وکتل.

دوه بجې وې چې د انګریزانو د لښکر سر ښکارپور دروازې ته را ننوت.

د لښکرو د لوی قوماندان جنرال بیډولف تر مخه یوه دسته وسله وال پرنګیان روان وو او په هغه پسې یو تن د انګریز بیرغ چې په جګه لکړه تړل شوی ؤ سخ په وړاندې وړی ء.

په دې پسې جنرال بیډولف په آس سپور ؤ په هغه پسې څو کسه

منصبداران پر اسانو سواره وو په دوی پسې د باجې قطعه روانه وه او په لوړ اواز طرومان او ډولونه ږغول کېدل.

په باجه پسې دسپرو ټولګی او بیا پیاده لښکر روان ؤ.

دوی چې ښار ته داخل شول نود ښکاپور دروازې څخه دچارسو پرخوا تر روانېدو مخه ودرېدل او د انګریز د بیرغ په وړاندې یې سلامی وکړه.

په دغه وخت کې دښار ډېر لږ خلك ددوی ننداري ته راوتلی وو خود کورونو په بامو ډېرو ښځو سرونه راپورته کړي وو او د انګریزد پوځ ننداره یې کوله.

دانګریز لښکر په ډېره دبدبه او په ډېرو ارامو ګامو نود ښکارپور بازار څخه راتېر شو او د چارسو سهېلی دروازې ته داخل شو او د چارسو په ختیځه دروازه کابل بازار ته ورو ګرزېد. په دغه ځای کې بیاد لښکر قوماندان خپل آس ودراوه او باجې دلویې بریتانیاد تولوا کمنې او د هندوستاندامپراطریسی ویکټوریا د سلامتی ترانه په طرومانو او ډولونو کې ووېله.

پوځ بیا روان شو ددوی واړه او غټ توپونه چې غاترو کشول د بازارونو سړکان کېنو کپر کړل او د تېرېدو په وخت یې ددر بهاري ځخه لوي اوازونه پورته کېدل.

دانګریز لښکر په نظامی دبدبه په داسې حال کې ترکابل دروازې دباندې ووت چې دښارد خلکو نفرت او عصبیت یې بدرګه ؤ.

دلښکر دغه تېرېدو ډېر وخت و نیو ماز یګر لاد فوځ و روستی د رنې قواوې نه وې وتلې چې دپوځ ماسې افسر میجر سنټ جان د ښار په

ACKU

دروازو نوي پورې ولګولې او د هغه په قوماندہ دڅلورو دروازې بندې شوې . دا کار مؤظف افسر دوارخطایی او بورې غصه و کړ ځکه دہ ته خبر رسیدلی ؤ چې د کلیو خلك په ناڅاپی ډول دڅلار په دروازو ور غل کوي .

د څلار د دروازې چې بندې شوې نو دانګریزي پوځ عقبی تولګی چې تو پونه او درنې ټوپکونه وړل په څلار کې ننه شوې او دروازې یې پر مخ بندې شوې .

دلته ساهام را ورسیده او سره له دې چې د پوځ عقبی افسرانو کوښښ و کړ چې د دروازې خلاصې کړي خو چا اجازه ورنکړه . د دلې خوا څخه د پوځ تر مخنۍ برخې چې له ښاره وتلې وې د عقبی پوځ د نه رسیدلو په وجه تشویش ورته پیدا شو . په دغه وخت کې له ښار څخه د باندې دوه دري ټکان وشوه او د پوځ هغه برخه چې له ښاره وتلې وه په وارخطایي یې د دباندې له خوا د ګا بل په دروازه فشار راوړ او ونارې یې وهلې چې دروازه خلاصه کړی خو د میجر سنت جان په امر دروازه بنده شوې وه .

دغه خبر په ښار کې د پرنګی قرارګاه ته ورسید او دجنرال بندوالف تر مشری لاندې انګریزي افسرانو خونه وکړه چې څه باید وشي خو میجر سنت جان وویل :

- « که دغو لښکریانو ته چې د باندې دي دروازه ور خلاصه کړو ښایی کلیوال خلك ورسره راداخل شي او دلته امنیت خراب کړي نو ځکه د دروازې باید تر سبا پورې بندې وي . »

د سنت جان قرار ومنل شو او د انګریز لښکر نیم له چاوڼه باندې او نیم د ننه تر سبا پورې په ډېره وارخطایي شپه تېره کړه.

سبا چې هوا یوه پخ غبار پوښلې وه میجر سنت جان د ښار نوی والي نواب غلام حسین چې انګریزانو ورسره راوستلی و له ځان سره راروان کړ چې ښار وګوري. په دوی پسې یوه وسله واله رساله هم روانه وه.

په دغه ورځ د ښار ښځه د قاضي داني (۷۴) مخامخ د محمد د خان د جامع په اړخ کې یوه موچي خپل دکان خلاص کړی و او خپله برنده (۷۵) یې پیوسته په سنګک ساو (۷۶) تېروله او تېزوله یې. ده به یو ځل له دکان څخه سر راووست او د پاندې به یې وکتل بیا به یې خپل کار ته دوام ورکړ.

د ورځې لس بجې وې چې کرنیل سنت جان او نواب غلام حسین د موچي د دکان په وړاندې را ورسېدل. موچي په تلوار راوغورځېد او داسې وضع یې اختیار کړه لکه د یوه پیاده رو څخه چې بل پیاده رو ته اوړي چې د لته د سنت جان آس را ورسېد. موچي په چټکۍ مخ راوګرزاوه او د سنت جان د آس ملوني یې ونیولې. ده خپله برنده پورته کړه چې وار یې کاوه سنت جان ځان د آس بلې خوا ته وغورځاوه او په سړک ولوېد. د موچي برند د آس په زین ومښته موچي ډېر ژر راوغورځېد په دغه وخت کې د سنت جان آس مخته ومځغستل او سنت جان چې په میدان پروت وو موچي بیا لاس پورته کړ او دا ځل یې برنده باید د سنت جان په مغزې موښتې وای خو نواب غلام حسین د خپل آس څڅه خېز وواهه او ځان یې په موچي وغورځاوه موچي بوې خوا ته

ACKU

ولوېد او سنت جان په وارخطايي وغورځېد او دچپه لاس پياده رو ته يې منډه کړه.

دسنت جان د رسالې څخه څو کسه په تلوار له اسانو را کښته شول او موچي يې محاصره کړ. په دغه وخت کې موچي دوه درې واره وکړل او دانګرېز درسالې څو کسه يې ټپيان کړل خو موچي ونيول شو.

دوی موچي راوست او په قرارګاه کې د موچي د حملې مسئله تر غور لاندې ونيول شوه جنرال بېدولف ووېل:

- «موږ تازه دې ښار ته رارسيدلي يو که په دغه مسئله اغماض وکړو او څه ونه وايو نو داخلك به زړور شي او بيا به په هرچا حمله کوي. بايد دغه غدار ته سخته سزا ورکړل شي څو دنورو عبرت شي.»

دانګرېز افسرانو د جنرال بېدولف خبره تائيد کړه او په دغه ورځ موچي دچارسو مخ ته راوستل شو.

دوی دموچي لاسونه ورتړلي وو او دانګرېز لوی افسران او پوره منظمه رساله ولاړه وه. دچارسو په وړاندې د دار تخته درول شوې وه. په دغه وخت کې جارچي نارې کړې:

- «دغه سړی دانګرېز په پوځي افسر ميجر سنت جان صاحب مسلح حمله کړې وه، چې ددغه خيانت په وجه دادی اوس په دار ځړول کېږي او که نور هرڅوك حتی دځان سره دانګرېز سرکار په ضد فکر هم وکړي دغه ډول سزا به ورکول کېږي.»

دښار خلك چې دغې منظرې ته راټول شوي وو ټول پټه خوله ولاړ وو چې موچي ووېل:

- «اې خاينانو! ماخيانت نه دی کړی. تاسې خاينان ياست

ACKU

چې زموږ په وطن مو یرغل کړیدی. زه دخدایه ارمان نه‌لرم چې ما ته یې شهادت را په نصیب کړ.»

انګریزی افسر په‌دوو کسو سپاهیانو امر وکړ:

- «پورته کړی! ددار تختې ته یې وخیژوی.»

هغو مو چی تر متوونیوه چې پورته کاوه یې موچی ددوی په مخ تف کړل او وې ویل:

- «زوروته مه‌وهی زه پخپله‌خیږم دا زما افتخار دی‌زه شهیدیږم او دغه ورځ مې له خدایه غوښتله»

موچی یې د دار تختې ته پورته کړ. په دغه وخت کې جارچی بیا وویل:

- «وګوری‌ء هرڅوك چې دانګریز سرکار په ضد دریږي دغه په یې پای وي.»

هغه ښاري سړلانیان چې دغې منظرې ته ولاړوو تولو مخ ها ته واړاوه او له دغه ځایه روان شول.

موچی په دار وځړول شو او دوه کسه وسله وال سپاهیان ورته پاته شول نور ولاړل.

په قرارګاه کې موجر سنت جان درسالی له افسرڅخه پوښتنه وکړه چې موچی په دار شو هغه سر وښوراوه او بیا یې وویل:

- «د دغه ښار خلك سخت عصبی ایسی. کله چې مو موچی په داراوه سړلانیان په ډیر عصبیت د دار له ځایه لیرې‌شول‌او تولود ځان سره غوم‌غوم درلود.»

موجر سنت جان سر وښوراوه‌او اوبیا یې پوښتنه ځني وکړه:

- «د موچي مړی موږ څه کړو؟»

افسر ورته ووېل:

- «هغه سوپه‌دار پوري ځړېدلی پر ښو د چې خلک عبرت ځینې واخلي.»

سنت جان سر و ښوراوه او بیاې هغه ته امر ورکړ.

- «سمدستي دیوې رسالې سره ولاړ شه او هغه مړی د دار له تناو څخه خلاص که. دا کار څه له دې موږ په د عبرت له پاره هغه ورته ځړولی وي خو په دې کار به ښایي ډېر خلک زیات عصبي شي سمدستي د موچي مړی واخلي او ډیار څخه د باندې يې يوځای ښخ کړی.»

افسر نظامي احترام وکړ او روان شو. کله چې هلته ورغی ګوري چې د موچي مړی نه شته او دلته نږدې پولاروي انګریز افسر ته وویل:

- «ستاسې دوه کسه سپاهیان وتښتېدل او د یحیی‌خان د کوټې څخه څو کسو د دار په تخته حمله وکړه او د موچي مړی يې وځغلاوه.»

افسر سمدستي سنت جان ته ځان راورساوه او د پېښې خبر يې ورکړ هغه ووېل:

- «نوریې مه‌ښوروی که داخبره پسې اوږده کړو ښایي عصبیت يې لاپسې زیات شي‌خو د څلو دوو کسو سپاهیانو بازخواست وکړی‌ء.»

ACKU

# د مریخ زامن

د مسیحی کال د دوروستی میاشتی وروستی هفته وه. تو ندسور باد چلېده، او هوا داسې معلومېده چې که دوزخ په پای کې اوریخ پېدا شي نو ماښام به حتماً واوره واوري.

تاشقرغان ته د امیر د رسېدلو په نسبت په دغه کوچنی ښار کې اوی شور ما شور پیدا شوی و. د عسکري قرارګاه مخ ته د ښار خلکو موقتی دکانونه راوړي وو چې په اکثرو کې یې د ژمی وچې مېوې او تاوده کالي خرڅېدل.

په قرارګاه کې د امیر د اوسېدني دودانی سره یو بېرغ څرېده او پر شمېر د ګارد عسکر چې په درېشیو یې بالاپوچونه اغوستي وو او پرده توپکان او په کمربند پورې د ځړېدلی کرچانو سره هر یو داسې ایسېده لکه د پخوانیو افسانو پهلوانان.

د قرارګاه په یوه برخه کې چې د روسی هیئت مشر جنرال راسکوپ نوف (۷۷) او د دغه هیئت نور غړي اوسېدل د کوټې مخ ته یې دوه کېمه قازاق عسکر ولاړ وو.

په کوټه کې د ننه د روسی هیئت طبیب یا ورسکی چې څلور میاشتې مخ کې د جنرال ستو لیتوف سره تاشکند ته تللی ؤ د جنرال راسکونوف سره په مجلس بوخت ؤ.

جنرال راسکولوف چې د یاورسکی څخه په تاشکند کې د جریانا تو پوښتنه وکړه او یاورسکي د هغه ځای په باب معلومات ورکړل نو راسکونوف د یاورسکی تر تګ وروسته د څلورو میاشتو جریانات په لنډ ډول ورته وویل او بیا یې سر وښوراوه وې ویل :

-«ډاکتر، ډېر بختور سړی یې ښه ؤ چې نه وې موږ ډېرې ستړې ورځې تیرې کړې سره له دې چې امیر هر وخت زموږ پوښتنه کوله خو مسافري ، ژبې او په افغانستان کې لوی سیاسی تحولات هر وخت زموږ دا اندیښنې موجب وو.»

راسکونوف خوشبینې په خوله شو او بیایې پسې زیاته کړه :

-«ازبکانو چې ژوند یکنواخته ؤ نو وروسته خپل په منځ کې مو هم جنجالونه او لانجې پیدا شوې او داسې حد ته ورسیدو چې ورځې ورځې به موخبرې نه سره کولې خو دا ؤ چې پر افغانستان د انګریز قواؤ تیری پیل کړ او امیر د پطرز بورګ په نیت له کابله را روان شو او موږ یې هم ملګري شوو خو دا دی نن په تاشقرغان کې اوسو. له دې ځایه به مزار شریف ته ځو.»

جنرال راسکونوف په خوله شو او ډاکتر یاورسکی ته وویل:

-«ما ته په تاشکند کې جنرال کوفمان(۷۸) وویل چې په هره هفته کې یې ناسې ته د روسی وضع د جریان په باب راپور او تازه اخبارونه را لیږل.»

ACKU

جنرال واسکونوف یو ځل خپلو ملګرو ته وکتل او بیا یې وویل :

-« ډاکټره مونږ ته هیڅ نه دي وارسیدلي بیا هم د جنرال ستولیتوف یو عجیب او غریب لیك چې په ډیره بده دري یې لیکلی ؤ امیر ته وارسیدلی ؤ او دغه لیك د ومره غلط فهمی ایجادې کړې چې مونږ یکی وشرمیدلو. دا لیك خوواره امیر مونږ ته راواستوه خولکه امیر چې یې مطلب نشوای درك کولای او مونږ هم ور ته عاجزه پاتې شوو.»

داکټر دخپرې مخه بلې خواته وګرزوله وې وویل :

-د څرنګه دي ملګري څوك خو به نه وي ناروغه شوي؟ »

جنرال واسکونوف پیوسته ځواب ور کړ .

-«ډاکټره یو هم روغ نه یو او سټاله پاره به وظیفه ډیره سټرې وي.»

ډاکټر یاورسکی سر وخوځاوه او بیا یې وویل :

-« وا مې وریدل چې دانګریز قوا وې د افغانستان خوا ته راروانې دي ! »

جنرال وویل :

-« هو د اقوا وې افغانستان ته داخلې شوي او امیر یې به مقابل کې مقاومت بند کړیدی نو ځکه یی اوس ډیرې بېرمخ راغلې وي.»

داکټر وویل :

-« امیر اصولی سړی دی خو انګریز اصول هیڅ نه منی پلهذا چې د افغانستان څخه د لویو ماجراګانو مرکز جوړ شویدی . »

جنرال سروخوځاوه وې ویل :

-« هو ! د یورپ دمطبوعاتو له پاره افغانستان خوراښه موضوع ده . هغه مطبوعات چې به دې خبرله ووچې افغانستان په اسیا کې

دی که په افریقا کې؟ خو نن د کابل په باب داسې لیکنې کوي چې دلندن او پاریس ښار و به هم داسې نه تشریح کړې (۷۹) »

جنرال په داسې وضع لکه د افغانستان د جریاناتو پر ارزښتمند بلوچې ښه رڼا اچوي وويل :

- « په کابل کې امیر، قاضی قادرو (۸۰) ته وظیفه ورکړې وه چې هغه ټول اخبارونه وخت په وخت سوړ ته راوړي چې د امیر دفتر ته به رسېدل . په دغو خبرونوکې یو ډېر دلچسپ خبر داؤ چې دایتالیا یو انقلابي کاو ببا لدي (۸۱) امیر ته لیکلي ؤ چې ده ته اجازه ورکړي چې افغانستان ته راشي او د انګریزو په مقابله کې د افغانستان د کوربلا یا او قوماندانی په غاړه واخلي . »

- « په رښتیا چې د افغانستان د خلکو مبارزه یو ځل بیا اروپا ځان ته متوجه کړېده . ملاوښت کاله د مخه د کابل او جلال آباد ترمنځ د انګریزو د ټول زره کسیزې اردو ماتې او تباهي د کېدل یوه عجیبه افسانه وه چې بیا هم تکرار شي ! »

جنرال په مزار کې دډاکټر یاورسکي د ورځو یو ټټه وکړه او یاورسکي وويل :

« دا دوې هفتې د مخه چې له تاشکنده مخه مزار ته ورسېدم د درې ترخې را یا ندې تېرېشوې زه خبر نه وم چې امیر د مزار خوا ته حرکت کړېدی نو لوی نایب سېډېر په تنګ کړ چې کابل ته حرکت وکړم خو هغه مې مانع ؤ خو داؤ چې د امیر کډې مزارته راورسېدې .

د دسامبر په ۱۸ دامیر د کډو کاروان چې درې زره اسان او یابوګان لس پیلان او زر کسه پوځ ؤ د مزار شریف ښار ته راغی او د

ACKU

تو پونو په ډزو او باجو هر کلي ورته ووېل شو د لوی ناب کور ۷۲ ددوی له پاره تیاکل شوی و اوهلته درسېدو سره یې جشن پیل شو د لوی ناب له کوره د فیرتمو ژ (۸۲) نغمې راوتلې او موږ ته هم د پو خندا او تفریح زمینه برابره شوه .»

داکتر پاورسکی چې په مجلس کې ښه گرم شوی ؤ ووېل :

«د امیر د کلبو سره زرکسه باد یگارډ عجیب نمو نه خلک وو. دوی هر یو یونانی هر کولس (۸۳) ته پاتېدل وقعتاً چې د دوی رسا قدونه غټ مرونه اوږده لاسونه او غټې تورې سترگې ماته د و مره جالب ووچې اکثراً به مې دوی ته کتل او دا ډېره خوشاله تفریح وه . ما پردوی د مریخ د زامنو (۸۴) نوم ایښی ؤ. یوه ورځ مې زموږ له میلمه پال څخه پو ښتنه وکړه او هغه راته ووېل چې د ا د مملکت د جنوب (پکتیا) (۸۵) څخه راوستل شوېدي له دغو کسانو څخه زموږ میلمه پال یوه شپه یو راوست او هغه موږ ته ډېرې بدلې ووېلې زه دا سې فکر کوم چې یوه څوانه او ښته معشوقه به یې ترڅا پاتې وه هغه ته ما یوه ښکلې ور ښه ښه تر کستانی چپنه ورو بخښله خو کله چې یې پر اوږو وکړه نو چپنه دومره وړو کې وه چې لمن یې ا پله تر زنگنو پورې ورسېدله .»

جنرال په ډېره مینه دډاکټر خبرو ته غوږ نیولی ؤ بیا یې ووېل.

«امیر ډېر قوي خلك او ډېرې ښې وسلې لري خو نه پوهېږم چې دا نو کوم مصلحت دی چې خپله توره په تیکي کې ساتي او دبل د تورې په هیله ناست دی .»

د روسی هیئت د غړو ترمنځ دا خوږ مجلس ترغرمې دوام وکړ .

غرمه یې ډوډۍ وخوړه او د قرارګاه په میدان کې یې لنډ چکر وواهه . د اسهال د لویدیځ له خوا څخه هوا ورو ورو پوې دمې ونیوله او ښخ باد راوالوت. لږه ګړۍ نه وه تېره شوې چې واورې په اوریدلو پیل وکړ. جنرال راسکونوف وویل :

«داسې بله بدمرغي ښیا به امیر له دې ځایه مزارشریف ته حرکت کوي. که هوا همداسې دوام وکړي نو دا سفر به خورا ډېر شاقه شي.»

# د اوږدو انتظارو غمجن پای

د مارچ د میاشتې وروستۍ هفتې د بخارا ښار او شاوخوا کلیو ته د پسرلی په رنګینۍ کې خاصه ښکلا ور بخلې وه. په باغونو کې ونو د شګوفو کالی اغوستي وو او د ځمکې پر مخ د نرمو زرغونو وښو فرش غوړېدلی ؤ چې وحشي سرو او ژړو ګلانو یې ښکلا څو چنده زیاته کړې وه.

د امیري بخارا د ښار په منځ کې د امیر کلا لکه یو زوړ جلاد چې په لېدو یې سړي ته د انسانانو د وژلو خاطرې ور په زړه کېدې د پخوا په شان ولاړه وه او مخې ته یې د امیر ملا تړلی سپاهیان ګرځېدل او کله کله به یې ضرورته د دغې کلا د دروازې پر لوی شاهرج ډول ووهل شو:

د ښار په منځنۍ برخه کې د دیوان بېګی د حوض سره په یوه تنګه کوڅه کې د یو کوچني کور دروازه را خلاصه شوې وه چې په غولي کې یې د ګلانو او ونو ښکلا د کور د خاوند پر سلیقه شاهدي ورله (۸۶)

د دغه کور په یوه کوټه کې چې کړکۍ یې د دیوان بېګی د حوض خوا ته خلاصېدله داکتر یاورسکی د روسي هیئت هغه طبیب چې د امیر شېرعلي خان دربار ته تللی ؤ او بیا په مزار کې د امیر شېرعلي ترمرګ

ACKU

وروسته د جنرال کوفمان په امر بخارا ته واخلې ؤ چې د بخارا د امیر په علاج کې مرسته وکړي ناست ؤ او په افغانستان کې یې د خپل مسافرت یاد داښتونه لیکل .

باورسکي چې له غرمې څخه وروسته ترمازیګر پورې کار کړی ؤ ډېر ستړی ایسېده او وروسته تر هغه چې کاغذونه یې پوښ ته کړل راولاړ شو او کړکۍ ته ودرېد د کوټې څخه د باندې منظرې یو فرحت بخښونکی کیف ورکړ . په دغه وخت کې چې ډاکتر د باندې کتل د کوټې دروازه یې خلاصه شوه او دده قازاق محافظ را ننوت ور ته وې ویل چې ستا یو دوست د کوزین په نامه غواړي ستاسره وګوري.

ډاکتر ته ددغه نامه داورېدو سره داسې غیر منتظره خوښي پېدا شوه چې بې اختیاره یې وویل :

-« ډېر ژر ور ته ووایه چې راشي هغه زما ډېر ګران دوست دی .»

قازاق محافظ ووت او له ها خوا یو پنځه څلوېښت کلن ګرد ی سړی کوټې ته راننوت چې خرمايي وېښتان یې په منظم ډول ږ مونځ کړي وو .

باورسکي او کوزین دواړو په ډېر صمیمیت په غاړه کې لاسونه سره واچول او ترڅاوده روغبړ وروسته ډاکتر پر کټ او کوزین پر چوکۍ چې مخامخ کټ ته پرته وه کېښېنستل .

کوزین چې پرچوکۍ ځای پرځای شونو په خندا یې دډاکتر څخه پوښتنه وکړه :

-«ښه ډاکتره ! د ماجرا ګانو له ملکه راووتې ، ډېر خوښ یم چې په صحت دې وینم . » ډاکتر هم د یوې لنډې خندا سره سر وښوراوه وې ویل :

ACKU

ـ «انې بوالله! که درته ووایم چې زما سفر د مارکوپولو(۸۷) تر سفر په کمه نه ؤ نو ته یې په یقین ومنه.»

کوزین د ډاکټر په تائید سر وخوراوه او ډاکټر پسې زیاته کړه.

ـ «د دغه سفر یاد داښتونه لیکم او کله چې تکمیل او چاپ شي نو وعده درسره کوم چې یوه نسخه به یې حتماً درته واولېږم»

کوزین تشکر وکړ بیا یې ورته ویل:

ـ «بخارا ته دې له راتګه څخه خبر شوم نو ما وویل چې ودې وینم زه هم د تاشکند څخه د یو رسمي کار له پاره رالېږل شوی یم.»

ډاکټر وویل.

ـ «زه په مزار کې وم چې د جنرال کوفمان امر راته ورسېد چې تاشکند ته د تګ په لار کې په بخارا کې پاتې شم او د بخارا امیر هم د ناروغۍ تکلیف لري په علاج کې به یې مرسته وکړم.»

کوزین وویل:

ـ د ورېښه ښايي زما هم کار یو وخت په بخارا کې خلاص شي او بیا به په ګډه تاشکند ته ولاړ شو »

ډاکټر د ملګري خبره د سر په ښورېدو تائید کړه او بیا یې د بلاس په لګېده د کوټې دروازه وټکوله د ها خوا قزاق محافظ راغی ډاکټر د چای فرمایش ورکړ او کوزین ته یې وویل:

ـ «بس اوس به نو ښه د زړه خوا له سره کوو.»

کوزین یو ښتنه خندنې وکړه:

ـ «څرنګه ډاکټره افغانستان دې خوښ شو او آیا ښځې افسانوي ښکلې ده ؟»

ډاکټر چې د لاس دلرګی پر سردواړه لاسونه ایښي اوپر هغه یې زنه تکیه کړې وه خو واره سر وښوراوه بیا یې وو یل :

-« د اسفر که څه هم ستړی او یو څه جن سفرؤ خوباورو که چې ډېر مهمؤاوزه اوس داسې احساس کوم لکه په یوه علمي اکاډمی کې چې مې تحصیل کړی وي داسې یم. »

کوزین دیقینا کلمه خو واره تکرار کړه او بیا یې وو یل

« - سیاسی سفر و نه هم داسې وي خو تاد ډېر څه کړ یدي چې یادداښتونه دې یو ځای کړ یدي بیا یې زموږ دسیاسی دفترونوله پاره ډېر په درد وخو ري. »

ډاکټر و و یل:

-دغه هر څه چې وي خو ما ته دا یادداښتو نه خو را ډېر ا همیت لري . »

کوزین وویل:

«ډاکټر ه په تاشکند کې مې ډېرې خبرې اورېدلی دي . دافغانستان امیر غوښتل چې روسیې ته راشي خو مرګ مهلت ور نه کړ . څرنګه ؤ هلته ؟ احوال بیا یې د امیرتر مرګ وروسته دافغانستان په سیاسی حالاتو کې ډېر تغیرات راشی. »

ډاکټر چې د کوزین د لېرو معلوماتو څخه هم خو بش ؤ نو د جریاناتو په باب یې د خپلو توضیحاتو څخه خو ند اخیسته وې وېل:

«امیرشیرعلی یو متلون المزاجه سړې ؤ هغه د کابل څخه د پطرز بورګ په نیت راروان شوی ؤ خو کله چې مزارشریف ته ورسېد نا څاپه د روسیې له سفر څخه منصرف شو . ددغه سفر څخه د امیر

د انصرافعلت د هغه ناروغي نه وه بلکې د روسي ترکستان دحکمران جنرال کوفمان لیکڼ چې هغه یې روسیې ته د سفر څخه منع کړ . »

ډاکټر خو واره سر و ځوراوه بیا یې اسې زیاته کړه :

« سیاسي جریانات د وخت او زمان تابع دي خو متاسفانه چې نه موږ او نه امیر د وخت له جریان څخه خبر وو امیر د روسیې د مرستې پر انتظار خپل ملك د انګریز چپاو ته خوشې کړ خو په مزار کې یې په دغو تولو هیلو خاورې واوښتې . »

په دغه وخت کې قازاق محافظ د چا یو پتنوس راوړ او د ډاکټر مخ ته یې کېښېښو د ډاکټر ځان او ملګري ته چای واچاو او په داسې حال کې چې ډاکټرخپل ملګری د ماجرا بیان ته مشتاق ولید نوبیان ته یې ادامه ورکړه وې ویل :

« د جنوري د میاشتې ۱۸ و رځ وه چې امیر زموږ هیئت خپل اوسیدنځای ته ورو غوښت او تردرباري تما رفا تواو مراسمو وروسته ما امیر ته وویل چې ستا ښه درد کوي باید تاشکند ته په جوپان کې سفر وکړې خوا میر وویل چې د جنرال کوفمان لیك د دې مانع دی چې هغه سفر وکړي . امیر د لهجې صراحت دراود اوموږ هاغه تاسف وچې د ه خپل منشی راو غوښت او هغه لیك یې موږ ته ښکاره کړ چې د کندهار څخه ورته رارسیدلی ؤ او په هغه کې لیکل شوي وو چې د انګریزانو پوځونه له کندهار څخه د کابل او هرات خوا ته په حرکت کې دي .

جنرال کوفمان چې امیر ته لیکلی وو چې انګریزان پر افغانستان تیری نه کوي امیر موږ ته په طعنه وویل . دادې هغه د د پرواغوو

ACKU

وعدې چې انگریزانو روسانو ته ورکړېدې او ستاسې حکومت ما ته (۸۸)»

داکتر احساساتي شوی و او کوزین ته یې وویل:

«آیا موږ به غوږ له خجالته بل څه احساسول؟»

ډاکتر لږ شېبه پټه خوله ؤ بیا یې وویل:

«امیر یو ځلور کسیز هیئت تاشکند ته راولېږوچې اوس به هم په تاشکند کې وي دا هیئت زموږ له هیئت سره چې مشرتې جنرال واسکونوف ؤ یو ځای را روان شو.

دوی دادې په تاشکند کې دي چې امیر خپل پرماجرا ژوند پای ته ورساوه.»

کوزین په داسې وضع لکه دامیر د مرگ د صحنې تشریح ته چې تلوسه لري د ډاکتر څخه پوښتنه وکړه.

- «آیا دامیر مرگ تصادفي نه ؤ؟ ځکه چې داسې آوازې هم په تاشکند کې ماواورېدې چې امیر مسموم شوېدی.»

ډاکتر د کوزین د پوښتنې په وخت کې داسې وضع اختیار کړه لکه د یو قاضي په مخ کې چې شاهدي وایي. ده سروچو رواه او په جدي لهجه یې وویل:

- «په! په! زه د مسلك په مسولیت درته وایم چې امیر مسموم شوی نه دی. زه داول څخه تر اخیره پورې دامیر د ناروغي پر بستر حاضروم څکه د ملاریا په ناروغي مړ شو.»

کوزین د ډاکتر خبره تائید کړه او بیا ډاکتر وویل:

- «د جنوري په ۲ دامیر په امرزه د ده بسترته ورغلم او هلته د

لومړی ځل له پاره دغه حقیقت ته ورسېدم چې دامیر د ښځې ناروغي له روماتېزم څخه نه وه بلکې په سینه کې یې یو شریان بند شوی و او په دغه کار کې هم دامیر د هغه پرستانو طبیبانو نا پوهۍ ډېره برخه درلوده-
له په دغه ورځ څلور واره زه د امیر حضور ته ورغلم . هغه دوا چې ما امیر ته هدایت کړې وه د امیر د طبیبانو او مشاورینو له خوا امیر ته نه ورکول کېده او په راوروسته دوو ورځو کې یې زه د امیر ته هم نه ور پرېښوولم څو د جنوري په ۲۵ ورځ سازېګر د امیر حضور ته ور وستل شوم امیر دري شپې خوب نه ؤ کړی آواز یې دربدلی ؤ . په دغه ورځ یې د امیر ښځې ته ژوري (۸۹) ورواچولي .

د جنوري په ۳۰ چې د امیر کوټې ته ورغلم هلته مې بد بوی استشمام کړه او پوه شوم چې د امیر ښځه ورسته شوې ده په دغه ورځ ما د دربار مشاورینو ته دعوت ورکړ چې زما په کوټه کې راسره وګوري دوی زما کوټې ته راغلل او ما ورته وویل چې د امیر ښځه باید قطع شي او کنه د ناروغۍ زهر به یې په بدن کې تیت شي او ښایي له دغې ناروغۍ څخه مړ شي د دغو درباري لویانو په جمله کې شاه محمد خان وویل چې دا کار غیر ممکن دی او دا د امیر د مقام له پاره بې احترامي ده امیر تیمور کورګاني (۹۰) چې نیمه آسیا یې تر تسلط لاندې وه نو څرنګه چې ګوډ ؤ نو تر نن پورې د ګوډ تیمور په نامه یادېږي زموږ مصلحت دا دی چې امیر د خدای رضا ته پرېږدو . دوی د غسې وکړه او د امیر وضع مخ پرخرابېدو ولاړه . د امیر تبه او درد هغه خورا نا ارامه کړ او په بې هوښۍ کې به یې کله د خپلې کورنۍ د غړو سره خبرې کولې کله به یې درباریانو ته ناري وهلې خو زیاتره به یې انګرېزانو ته کنځلاوې کولې . د فبروري د

سیاستي په اتمه‌ورځ ماښام امیر له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. »

ډاکتر پټه خوله شو او کوزین پوښتنه ځني وکړه :

- « غالباً چې دامیر تر مرګ وروسته به ستاسي له پاره زیات تکالیف ایجاد شوي وي ؟ »

داکتر سرو ښوراوه وې ویل :

- « ګرانه کوزینه ! زړه ته مې نه لویږي چې ته دې زما په کلماتو کې زما د تشویش احساس درک کړې چې د امیر تر مرګ وروسته به زما څه حال و؟ امیر لا مړ شوی نه‌و چې په سزار کې د ده د مرګ آوازې خورې شوې او د امیر د جانشین په نسبت د دولت د با نفوذ وخلکو تر منځ لویې لانجې راپورته شوې. دامیر تر مرګ دوې ورځې دمخه مې واوریدل چې امیر خپل وراره سردار محمد هاشم خان (۱۹) چې په عین حال کې د امیر زوم هم و او دولیعهد د مور یعنې د امیر د ماجرا جو په ملکې د لور میړه و امیر درباریانو ته د ولیعهد په حیث معرفي کړ. خو دا اوازه هم شایع ملکې اچولې‌وه چې دامیر یعقوب سره یې رقابت درلود. دسردار هاشم دولیعهد داوارو په باب دامیر لمسی سردار احمد علي خان چې د امیر د مړه زوی سردار محمد علي‌خان زوی و لویناب په مرګ تهدید کړ او ویلې وچې دا اوازې لویناب اچوي . دامیر د کورنۍ ځوانان دامیر د مرګ په وخت بودبل دمرګ دپلان په طرح کې وو او کله‌چې امیر مړ کیده په بستر یې غیر له یو آخند او څو وزیرانو څخه بل څوک نه وو . داخو لا څه کوې دامیر انا پوه طبیبانو او خاینو درباریانو په

ما پسې یې هم آوازې ګډې کړې چې د امیر د ناروغۍ په تشخیص او تداوي کې مې غلطي کړېده.

د امیر د مرګ سره د ملکې او یعقوب د طرفدارانو ترمنځ میدان تود شو او داسې خلک چې تا به ویل یو بې غرضه پسه دی خو ان یې د لیوه بڼه غوره کړې وه. د امیر مړی لا ښخ شوی نه و چې سردار احمد علي خان او سردار ابراهیم خان عسکرو ته ورغلل او هلته یې د پیسو صندوقان کښېښوول او وې ویل چې هرڅوک د سردار احمدعلي په طرفداري کې ودرېږي نو دا پیسې به ور کړل شي خو عسکرو دا پیسې چور کړې. له دې سره د توپونو غږو سپهار پورته شو وضع شیبه په شیبه ورانه شوه خو لوېناب زموږ د حفاظت له پاره خلک راواستول.

موږ په خپلو غوږو داسې اوازونه واورېدل چې موږ یې د افغانانو او انګریزانو ترمنځ د جګړې مسئول بللو. د امیر ماجراجویه ملکې خپله لور د (آغاجان) په نامه عسکرو ته معرفي کړه چې د امیر تاج او تخت ور وسپارل شي خو یو معمر سړي عبدالله خان عسکرو ته وویل چې امیر زامن لري او یعقوب یې جانشین دی. ځینو داسې اوازې خورې کړې چې ملکې خپل زیورات او جواهرات موږ ته راکړېدي چې د ځان سره یې یوسو او ملکه به بیا په موږ پسې راځي دې اوازو د لیوانو پاملرنه زموږ خوا ته راواړوله. زموږ په کورونو برغل هم وشو خو زموږ محافظینو په هغو ډزې وکړې او د کور څخه یې وشړل.

په دا بله ورځ د سردارانو او لوښاب کورونه چور شول او بولوی آشوب پاشید. په دې پسې ماجرا چو په ملکي او سردارنیك محمد خان مو ږ ته سوغاتو نه راواستول او ما ته يې کورو داني وويله چې دامير د ناروغی په وخت کې يې زحمت ايستلی و او محافظين يې را کړل شو له دغه پرماجرا ځکې څخه راووتم او دادی اوس تاته ناست يم.»

کوڅ ين او ډاکټر تردې وروسته د خبرو مخه بلې خوا ته وګرزوله او نور چای يې هم و غوښت.

# یوه شیطانی طرح

د کابل پرباطراوته وادي د یوه بانشاطه پسرلی ښه‌وا خوره وه . د آسمانی او ښېرد دروازې د غرو لمنې د مرنجان، بی بی مهرو، تپه ماران (۹۲) او خیرخانې غونډۍ زرغونې شوې وې او د تخت شاه غونډۍ د سره او ښوان په ګلانو پوښلې شوې وه .

د آسمان پرشوخ لاجوردي مخ باندې د پسرلی د اوریځو ټوټې او پر بل د اسې سره راوتاوېدلې لکه په یوه شنه سمندر کې چې د پنبه ؤانډۍ لاهو شوې وي . ګله ګله چې به د شوخو اوریځو ټوټې سره نژدې شوې نو له یوستو نوښخه به یې د لمر وړانګې داسې معلومېدلې لکه د آسمان ښخه چې مخکې ته زرین وابکیان راځړېدلی وي .

د پسرلی مستې او لیونی فضا هرڅه په مستی راوستلی وو په یوه لنډه فاصله کې چې به باران واورېده نو شلته نژدې به لمر ځلې زرینې پلوشې هم خورې کړې وې .

د کابل بالاحصار په ځمله ښوانی ښکلاوو لاړو او دیوالونو یې

د تازه او ویښو لي باران له اثره قهوه ای رنګ پیدا کړی ؤ. د بالاحصار
د لویې دروازې په وړاندې د امیر د مسلح ګارد سپاییان په خاص نظم ولاړوو.

د بالاحصار له دروازې څخه پیاده امیر تر لوی تالار پورې د یوې
مستقیمې لارې دواړو خواؤ ته پرتیا کلاو ځایونو د ګارد سپاییان د تیارسۍ
په حال کې ولاړوو او هر وخت چې به له دغې لارې څخه د دربار غړي
پراسانو سپاره تېرېدل د ګارد سپاییانو به د هغو د رسېدو سره یواځې د خپلو
سرو او په کښته کولو سره احترام کاوه.

د امیر د دربار په دوهم تالار کې چې هلته امیر په خاصه طنطنه پو سره
په ځلې چوکۍ ناست ؤ د تالار د دیوالو او منځ ته ورچوکیو د دربار اراکین
ناست وو.

دغه تالار چې څلویښت اته او پر دوالی شل فټه سور او پنځلس فټه
لوړوالی درلود دیوالونو ته یې ژېړ کاهي رنګ او، چت یې سپین رنګ
شوی ؤ. د تالار په منځ کې دوې سپینې د اروکسل ساخت قالینې هوارې
وې. د تالار سر ته چې هلته د امیر چوکۍ پرته وه بله قالینه هواره وه.

د تالار پر دیوالونو د روسیې، جرمني، اتریشا د امپراطورانو او د
فرانسې د دریم ناپلیون رنګه چاپي عکسونه ځړېدل او د دغو عکسونو په
منځ کې د امیر یعقوب خو عکسه او یو د امیر دوست محمد غټ عکس
ځړول شوی ؤ. د یوه د یوال پر مخ د ترکیې د سلطان فرمان
چې په زرین لیک لیکل شوی و او په یو ښکلي چوکاټ کې ځای شوی ؤ
ځړېده. دغه تالار دیوالي بخاري درلوده. او د تالار پر

چت څراغونه او رنګه شمع دانیو تالار ته ښکلا ورکړې وه. په دیوالونو سربېره په ټاکلو ځایونو غټې هینداري نصب شوي وې چې د څراغونو د رڼاؤ انعکاس یې په تالار کې خوراوه. (۹۳)

په دغه تالار کې د ۱۸۷۹ کال په اپریل کې د امیر شیرعلي زوی امیر یعقوب د پاچهۍ په تخت کښېناست. څرنګه چې امیر شیرعلي یوه نیمه میاشت د مخه په مزار کې مړ شوی وو او کابل ته د هغه د احوال تر رسېدو وروسته د فاتحې مراسم په ځای شول نو په دغه ورځ امیر یعقوب د افغانستان د پاچا په حیث دربار جوړ کړی و.

امیر ته نژدې حبیب الله خان وردګ لومړی وزیر. سردار یحیی خان د امیر خسر او نور درباریان او سرداران ناست وو. امیر په خپله متردده څېره هر لیدونکی په دې پوهاوه چې په هره شیبه کې د یوې فتنې او توطیې منتظر دی.

ده پر تور پتلون سره کرتۍ اغوستې وه او زرین جالونه یې له اوږو څخه پر ځیګر راځړېدل او بیا یې تر وارو ایستلي او د شاخوا ته یې د تور کمربند سره تړلي وو. د اوږو زرینې سرشانې یې د ده له هر حرکت سره یو کوچنی خشخش کاوه. امیر یوه داره توره په سر کړې وه او په کمربند پورې یې کرچ بند و. د امیر د ږیرې ویښتان لنډ او بېر برېتونه یې پر سربېره شونډو راځړېدلي وو.

د ده په څېره کې تر محجوبیت وحشت او بېره ډېره څرګنده وه کله چې د دربار ټول حاضرین په خپلو ځایونو کې کښېناستل حبیب الله خان د میرزا محمد نبي خان د بېرته اشاره وکړه او په داسې حال کې چې هغه پر خپل ځای ودرېد حبیب الله خان وویل:

ACKU

- « د امیر مرحوم روح دې ښاد وي ! د نوي امیر صاحب د جلوس په باب چې روسانو او انګریزانو ته خبر ورکړل شوی و دادی اوس به یې دبیر تاسو ته جریان وواېي : »

حبیب الله خان پټه خوله شواو دبیر چې څو واره غاړې تازه کړې بیا یې وویل :

- « په روسي ترکستان کې روسي حکمران جنرال کوفمان ته چې مو لیک لیږلی وو دهغه ځواب را رسېدلی . جنرال کوفمان مبارکی ویلې او دنوي امیر سره یې د روسیې ددوستۍ یادونه کړېده . »

دبیر پوښتنه وکړه او په دغه وخت کې حبیب الله خان وویل :

« موږ په یو بل لیک کې د روسي ترکستان حکمران ته هلته د سردار عبدالرحمن د موجودیت په باب هم لیکلي و خو روسانو لیکلي دي چې هغه هلته یو پناګزین دی. روسان پوهېږي د معامله په حیث هغه ته ګوري نور نو د روس د حکومت په وړاندې بل حیثیت نه لري . (۹۴) »

حبیب الله خان پټه خوله شو او دبیر وویل :

- « موږ انګریزانو ته هم خبر ورکړېدی هغو منشي بختیار (۹۵) دخپل نماینده په حیث رالېږلی دی چې زموږ سره به خبرې کوي . »

د منشي بختیار د نامه له اورېدلو سره امیر یعقوب بې اختیاره شاو خوا وکتل او داحرکت یې داسې ناڅاپي و چې درباریانو هم یو د بل سره وکتل او سردار یحیی خان د امیر خسر په محیلانه توګه د درباریانو خوا ته دسترګو تر کونجو نظر واچاوه . په دغه وخت کې بیا حبیب الله خان مجلس ته توضیح ورکړه :

- « موږ له انګریزانو څخه په دغه لیک کې غوښتنه کړې وه چې

ACKU

خپل عسکر له افغانستانه وباسي او هغه وعده را کړه چې له افغانستان څخه د انګریز د عسکرو د وتلو شرایط به هم منشي بختیار موږ ته ابلاغ کړي .»

د حبیب الله خان د خبرې تر خلاصیدو وروسته د امیر خسر سردار یحیی خان چې سپینه وږیره چپنه یې اغوستې وه هغه پرځان سمه کړه بیا یې وویل :

-« جنت مکان امیر په داسې حال کې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې چې په وطن کې لویې لانجې راپورته شویدي او د دغو لانجو د منځه وړل زموږ د ځوان امیر وظیفه ده . تاسې اصیل سرداران چې دلته راټول شوي یاست لویه وظیفه مو دا ده چې د ځوان امیر سره په مرسته کوئ ، ځکه که د یوې خوا څخه د انګریز لښکر دلته راغلی دی لو د بلې خوا څخه زموږ رقیب سرداران هم د خرابۍ په کار کې بیکاره نه دي ناست . او تر دا ټولو ها خوا ته د افغانستان رعیت دومره نا پوه دی چې دوست او دښمن نه پېژني او لکه د سیل اوبه پر هره خوا چې یې مخ شي پر هغه خوا رواني کوي . تاسې ښه پوهیږئ چې موږ سردارانو ته د انګریز له خوا څخه دومره خطر متوجه نه دی لکه د خپل رعیت له خوا . د انګریز سره به خبرې وکړو او هغوی په خبرو هم پوهیږي خو زموږ رعیت خلک نه خبره اوري او نه هم پوهیږي . انګریز موږ ته دومره زیان نه رسوي لکه خپل نا پوه خلک . همدا اوس د خلکو له خوا په موږ پسې تورونه لګول شویدي چې د انګریز طرفداران یو . په داسې حال کې چې انګریز زموږ سره که جنګ کوي د نو بلې خوا مرسته هم را سره کوي . زموږ هوښیاري به دا وي چې

ACKU

دانګریز سره دجنګ په ځای د هغو له مرستې څخه ګټه واخلو.»

د سردار یحیی دخبرو په وخت کې امیر دتالار په چت کې سترګې بندې کړې وې او کله چې دسردار یحیی له خولې دا جمله را ووته چې امیر د اوسنیو لانجو دایسته کولو وظیفه لري دامیر په وضع کې یوداسې ناڅاپي بدلون ولیدل شو چې لیدونکي ته فکرورلو یده چې ښاپي اوس به نارې کړي چې نوره زما استعفا ده او دامستیو لیت نشم اخیستلای.

دا خبرې تر دوه ساعته پورې روانې وې څو پای ته ورسیدې او درباریان ولاړ شول او دامیر څخه یې رخصت واخیست وو تل. پوازې سردار یحیی دامیر خسر، سردار ولی محمد دامیر تره. حبیب الله ـ خان وردك، داود شاه خان (۹۶) چې تازه یې د سپه سالار عهده ترلاسه کړې وه او میرزا محمدنبي خان دپیرد اسیر سره پاتې شول.

ددرباریانو تر تګ وروسته سردار یحیی محمد نبي خان دپیر ته وو یل:

ـ«باید منشي بختیار اوس راغلی وای.»

د پیر وو یل:

ـ«هغه راغلی دی او دانتظار په کوټه کې دی.»

امیر وو یل:

ـ«وادې شي!»

دپیرو لاړ شو او د تالار څخه ووت. له ها خوامنشي بختیار چې دپاخه عمر خاوند ګردی قده او غم رنګه سړی ؤ ددپیر سره دامیر حضور ته راغلل. منشي بختیار توره شیرواني اغوستې وه او تو ره

خولی یې پر سروه دامیر په وړاندې ودرید یو ځل یې سر کښته ک
او بیا یې بیرته پورته کړ و وې ویل :

- «د نوي امیرصاحب عمر دې ډیر وي . منشي بختیار د لوی
بریتانیا د اعلیحضرتې تولواکمنې و یکتوریا د حکومت د افس
سرلوبې کیوناري په نمایندګی د امیرصاحب حضورته د افغانستا
د امارت د ترلاسه کولو مبارکی وایی.

سرلوبی کیوناري په دې خوښی کوي چې د اعلیحضرتې ویکتور
د حکومت یو بخوني وفادار دوست د افغانستان د تاج او تخت د خاو
په حیث وپنی.

د حضرت اعلی امیرصاحب لیک چې د هندوستان دویسرای په نام
لیږل شوی ؤ د هغه د ځواب له پاره په جلال آباد کې د انګریز سرکا
سیاسی نماینده سرلویی کیوناري ته وظیفه ورکړل شویده چې ستاسی
سره خبرې وکړي.

انګریز سرکار د افغانستان څخه د خپلو لښکرو د ایستلو له پار
دا شرایط وړاندې کوي:

۱- هیز هاینس امیرصاحب دې د خیبر او میچنی په درو باند
خپله قبضه پریږدي او کوم قبایل چې د دغو دروپه شاوخوا کې ا
سیږي د هغو سره دې خپل تعلقات ختم کړي.

۲- د کرمې په ټوله علاقه باندې یعنې د ټل څخه ترشترګرد
پورې او د پشین او سیوی په علاقو باندې به اینده انګریز سرکا
متصرف وي.

۳- دافغانستان د حکومت خارجي تعلقات به آینده د بریتانیا

حکومت په اشاره او مشوره مربوط وي .

۳-د برېتانوي مخصوصوا فسرانو ته چې وظيفه به لري د هغوی د ساتلو دستور سره د افغانستان په هغو ټولو مقاماتو کې د اوسېدلو اجازت ورکوي چې حکومت برېتانيه يې آينده د دې له پاره ټاکي.(۹۷)»

منشي بختيار لکه د تيار لو بغاړی د دې هر طونو ټر لوستلو وروسته دوه ځله پر ملا کوږ شو احترام يې وکړ او بيا يې ته خوله و درېد.

امير د منشي بختيار خواته وکتل او بيا يې په ټريوږې د بدلې اواز وويل :

«منشي صاحب تاسې مهرباني وکړیء کښېنئ .»

منشي هم په چابکو گامونو د بوي چوکی خواته تېر شو او کښېناست .

په تالار کې دغو د قيقو له پاره خاموشي وه بيا سردار يحيي خان وويل :

«منشي صاحب ته پوهېږې چې موږ غوږته په غابښ نه خلاصوو او سرکېو ناري صاحب هم زموږ دوست دی . موږ تېر په هر شعير و او اوس غواړو دوستي مو نوې شي .»

د سردار يحيي خان خبره لا نه وه خلاصه شوې چې امير په داسې وضع لکه د يحيي خان خبرې چې يې نه وې اورېدلې منشي بختيار مخاطب کړ او وې ويل :

« منشي صاحب انگرېز سرکار چې له يوې خوا زموږ خارجي سياست په خپل لاس کې واخلي او بيا انگرېز ازاده سياسي نمايند هم مقرر کړي نو موږ ما تحت شوو . داقبول ! خو خبره د لته ده

چې کله ما تحتشو نو زموږ مقبوضات بیا ولې را ځخه کم شي . زه
په صداقت اقرار کوم چې د انګریز سره به مې وفا داري تر پخوا هم
زیاته وي ځکه انګریز زما د مرحوم پلار د ژوند په وخت کې لا زما
په نسبت ښه نظر درلود دا یو احسان دی او دا احسان زه نه هیروم
خو ځینې داسې خبرې چې سروخت صفا شی دا به سبا زموږ په دوستی
کې کومه خدشه نه وارد وي . »

منشي بختیار لکه کوکې ناوکی د خپلې چوکی ځخه ولاړ
شو دوه واره یې سر ښکته پورته کړ او بیائی وویل :

«د انګریز سرکار نماینده سرلوېی کیوناري غواړي ده خو خبرو
د تفصیل او صفا کولو له پاره یا پخپله کابل ته راشی او یا تاسو
د هند سره په یوه مناسب ځای کې وګوری ع . دا به ددواړو لحوا په
ګټه وي . »

امیر د منشي بختیار د خبرې تر اوریدلو وروسته لکه یو واهمې
اخیستی ماشوم دې خوا او ها خوا ته وکتل او په سترګو کې یې
داسې معلومیدله چې د دې خبرې ځواب باید یو بل څوک ووایی په
دې وخت کې د امیر تره سردار ولی محمد خان وویل:

«محترم منشي صاحب . تاسو ډیر ښه و فرمایل موږ د انګریز
سرکار د ټولو فرمایښتو نو د قبول له پاره تیار یو . موږ نوی
امیرصاحب غواړي دخپلې دوستی د ثبوت له پاره نوي ګامونه مخ ته
واخلی او موږ هر یو په دې لار کې ددوستی د ثبوت له پاره حاضر
یو. که سرلویی کیوناري صاحب دلته راځي نو دده قدمو نه او
زموږ لیمه , »

کله چې سردار ولی محمدخان خبره خلاصه کړه حبیب الله خان
دك وو یل :

«زه ډېره یوهېږم چې که کیو ناري صاحب کابل ته راشي نو
...ته په ځای یوه ناوړه وضع ایجاد شي او موږ به لا ډېرې لانجې
حل بریالی شوي نه یوچې یوه بله لانجه به موږ مخې ته ولوېږي .
زما په نظر که د امیرصاحب او کیو ناري صاحب دملاقات موافقه
م وشي نو دغه ملاقات له پاره باید ځای له کابله څخه بهر یو
ي انتخاب شی .»

امیر چې لکه وارخطا ماشوم چې په یوه ناڅېږه شی متسلی شي
مدستی یې دحبیب اللهخان خبره تائید کړه او وې ویل :
«هو. زما په نظر د کابل څخه باید بهر سره وګورو .»

په دغه وخت کی دسردار یحیی خان او سردار ولی محمد خان
...رګی په ناڅاپی ډول یو ویل ته وا وښتی او داسې معلومېدل لکه
...وی څخه هر یوه چې خوښتل خبرې وکړي خو دواړه یته خو له
...ول په دغه وخت کې بیا منشی بختیار ولاړ شو او وې ویل :

«ما ته سرلوېی کیو ناري صاحب ددې خبرې په باب هم هدایت
کړی‌دی او هغه دادی چې که هېز ها ینس امیرصاحب په کابل کې
کیو ناري‌صاحب دملاقات موافق نه وي نو ددغسې ملاقات له پاره
ګندمك ) ډېرښه ځای دی .»

منشی بختیار بیا احترام وکړ او سردار ولی محمدخانوویل :
«دابنه نظر دی او زه یې موافق یم .»

ACKU

امير هم يو ځل سر دار يحيى ته وكتل بيا يې د تائيد په ډول سر وښوراوه .

دوى تر دغو خبرو وروسته ولاړ شول امير چې د تالار له دروازې څخه راووته د ګارډ دوو سپاهيانو د احترام له پاره پښې په کړپ سره ووهلې او امير چې په چورتونو کې تللى ؤ ټکان يې وخوړ او داسې وضع يې اختيار کړه لکه د يو سؤ قصد په موقف کې چې واقع شوى وي خو بېرته يې ځان سم کړ او دوى ټول د تالار څخه ووتل .

# د طوفان لومړۍ څپې

د سپانی نسیم څو هغه غبار چې د ګندمک په غونډیو راپریوتی ؤ ورو ورو پورته کاوه او د هغه له منځه د زرغونو غونډیو سرونه څرګند شول او یوه ګړۍ نه وه تېره شوې چې د دغو غونډیو په څوکو کې د یو بېګانه کام اردوګاه ښکاره شوه چې د خړو خېمو منځ ته یې مسلح پېره داران ګرځېدل.

امیر یعقوب چې په سپاوختی کې رسمي کالي اغوستي وو د پاچاهي خېمې منځ ته پرچوکۍ ناست ؤ او اړخ ته یې سپه سالار داودشاه خان ناست ؤ. وروسته له هغه چې امیر د لیرې افق څخه خپل نظر راټول کړ مخ یې داود شاه خان ته راوګرزاوه وی ویل:

- «په هغه لېرې غونډیو کې خړ شیان وینم چې ډېرې نه دي او کله کله هم حرکت کوي دا څه دي؟»

سپه سالار چې د امیر د بصارت له ضعف څخه خبر ؤ نو په احترام یې هغه ته وویل:

- «هغه د انګریز اردوګاه ده او پېره داران ور ته ګرزي.»

امیر سر وښوراوه بیا یې وویل:

ACKU

-« څه ! دوی دومره نژدې دي ؟»

سپه سالار وویل :

-« هو ! نن زموږ تشریفاتي مراسم پیل کیږي . »

امیر وویل :

-« همدغه ګند مك دی ؟»

سپه سالار وویل :

-« هو ! حضرت عالي ! دا هغه ګند مك دی چې ۳۶ کاله پخوا د انګریز شل زره کسیز اردو چې له کابل څخه یې حرکت کړی ؤ دلته یې محدود یو څو کسه ژوندي راورسیدل او نور ټول په لاروو ژل شول په همدغه ځای کې دانګریز بیرغ په خاورو ولوید .»

داود شاه خان لاخبروته ادامه ورکوله چې دامیر په وضع کې بدلون راغی اوداسې معلومه شوه چې نه غواړي په دغه باب نوري خبري واوري مخصوصاً هغه مهال چې داودشاه خان وویل چې دانګریز بیرغ دلته ټیټ شو امیر په دې فکر کې شو چې نن هغه ورځ ده چې دلته دده په لاس دانګریز بیرغ او چتیږي نود خبري مخه یې بلې خواته وګرزوله اووې ویل :

-« مستوفي څرنګه دی یعنی دناروغی شکایت درلود ؟»

سپه سالار وویل :

-« نن چه دی چاپی اوس حضورته راشي .»

دوی دغه خبری کولې چې مستوفی حبیب الله خان دامیرلومړی-وزیر راغی دامیر په وړاندې یې احترام وکړ او بیا دامیر اړخ ته ور

چوکی کښېښاست. دوی خبرې کولې چې فراش باشی د امیر په وړاندې ودرېد اووې ویل :

«ناشتا تیاره ده!»

امیر سر وښوراوه او بیا په داسې حال کې چې د حبیب الله خان سره یې خبرې کولې ولاړ شو او هغې خېمې ته روان شو چې هلته ناشتا تیاره شوې وه.

دامیر سره په ناشتا کې دامیر ترونو سردار نیك محمد خان، سردار هاشم خان سردار محمد طاهر خان، سردار ولی محمد خان پنځه ویشت کسو نوروسردارانو اود کمو ناوي- نماینده منشی بختیار ګډون وکړ .

کله چې ناشتا پای ته ورسېده امیر سپه سالار داود شاه خان ته وویل :

«د تګ ترتیب و نیسه!»

سپه سالار داحترام په توګه سر کښته کړ اووې ویل:

-«پر ستر ګو!»

سپه سالار ووت. یو ګړي وروسته طروم ووهل شو او بیا سپه سالار خېمې ته داخل شو امیر ته داحترام تر کولو وروسته یې وویل:

-«ټول تیار دي حضرت عالی ته انتظار باسی.»

امیر ولاړشو او نورسرداران هم ولاړ شول. امیر چې له خېمې څخه راووت دوو کسو څوانو اردلانو د آس رکیبونه ورته ونیول. امیر پر آس سپور شو او نور سرداران هم پر آسانو سپاره شول اودشاله خواخلورسوه کسه سپاره پسې روان شول.

ACKU

په ګنډمک کې دانګریز له کمپ څخه شپږ میله وړاندې سر- لوړی کېو ناري :انګریزي پوځ د پوځ ټولګی سره دامیر هر کلي ته ولاړوو. دامیر کم پیښه ستر ګو دغه انګریزي تشریفاتی ګارد نه لیده چې سپه سالار د اود شاه خان خپل آس دامیر اړخ ته ورووست اوورو یې ورته وویل:

-«سخ په وړاندې کېو ناري دانګریز د تشریفاتی ګارد د سره دحضرت عالی هر کلي ته ولاړ دي.»

امیر چې دانګریز د ګارډ نوم واورېد بیا یې بې اختیاره تکان وخوړاو د آس ملونی یې راکش کړې. اس یې ودرېد. دی خوشېبی ولاړ ؤ بیا یې داس ملونی سستی کړې اواس پر لار روان شو.

د امیر اس دانګریز د هر کلي ګارد ته چې راورسېد دامیر دپاوراز څخه دوه کسه په چټکی راغلل اود امیر د آس ملونی یې ونیولی. سخ په وړاندې کېو ناري پراس سپور ؤ او تشریفاتی ګارد د د تیا رسی په حال کې ولاړ ؤ.

کېو ناري لاپر آس سپور ؤ چې امیر بې اختیاره له آسه را کښته شو. په دغه وخت کې سپه سالار هو ښتل چې خپل آس د امیر آس ته ورنږدې کړي خو تر څو دی وررسېده امیر بیا له اسه کښته شوی ؤ په داسې حال کې چې کېوناري لا پر آس سپور ؤ. په دغه وخت کې سپه سالار او مستوفی حبیب الله خان بې اختیاره پو وبل ته په معنا داره ډول وکتل. امیر پوهېده دې چې ترشا وګوري د کېوناري خوا ته ور روان شو دوه ګامه چې یې د کېو ناري

پرلور واخیستل نو کیوناري په ډېر غرور له اسه راکوز شو او دامیر خواته راروان شو .

امیر غېږ خلاصه کړه او کیوناري یې په غېږ کې ونیو په دغه وخت کې منشي بختیار په مخامخه ځان دغه روغبړ ځای ته ورساوه. په دغه وخت کې دامیر ملګري هم دوی ته ورورسېدل روغبړ وته وشول . امیر ته باجي ووهل شوې او ګارد سلام وکړ .

وروسته په داسې حال کې چې دامیر او کیوناري اسان غوړېه غوږ روان وو او ترشا د امیر ملګری په پسې وو مخ په وړاندې ولاړل . له دغه ځایه چې دوه میله نور مخ په وړاندې ولاړل جنرال براون دخپلې دستې سره داحترام له پاره ولاړ و . امیر په ناڅاپي ډول داس ملونې کش کړې او چې بېرته یې سستې کړې آس خېز وواهه او د کیوناري تر آس وړاندې شو . امیر بیا هم بېله دې چې د آس رکېبونه یې خوك ولیسي له آسه را کوزشو او دجنرال براون خواته روان شو . په دغه وخت کې کیوناري او منشي بختیار په معنا داره ډول یو بل ته سره وکتل .

امیر بیا هم غېږه خلاصه کړه او جنرال براون یې په غېږ کې ونیو په دغه وخت کې کیوناري او دامیر ملګري هم ورورسېدل او ترعمومي روغبړ وروسته بیا دامیر په درناوي باجې ووهل شوې او بیا یا نو سلامي وکړې او د توپونو یو ویشت ډزې وشوې .

بیا دوی ټول په ګډه د انګرېز اردوګاه ته را روان شول . په اردوګاه کې پوځل بیا امیر ته سلام وشو او بیا ټول په یو لوی تجیر کې چې په طنطنه جوړ شوی ؤ کښېناستل . امیر د مسنځ په چو کی

کښېناست چې پوې خوا ته یې کیوناري بلې خوا ته یې چمبرلین (۹۸) ناست وو نور په ترتیب سره سره سالار داودشاه خان، حبیب‌الله خان لومړی وزیر، سرداران او دا نګریزلوی منصبداران ناست وو.

دامیر قواره دمحفلو انګریزي منصبدارانو په منځ کې تر ټولو ډېره احمقانه معلومېدله او د ده لباس دومره مضحك ؤ چې د ټولو ترد پوکېدلو د لوبغاري خنده یې شه تو پیر نه درلود.

امیر ټوله خوله ؤ او مخامخ یې کتل په دغه وخت کې کیوناري په انګریزي خبرې وکړې چې منشي بختیار داسې ترجمه کړې.

ـ « انګریزي منصبداران او ټول سپاهیان دلویې بریتانیا دعظمې ټولواکمنې ویکټوریا دفاتح لښکرو اردوګاه ته د کابل دامیرو اتګ ته هرکلی وایي.»

امیر چې دټولو زړه بندي له زني خنده پور ته شو او د ډېرې وېښتان یې دهنډو ګنډو بر ټولو له ویښتانو سره ګډ کړي وو پو څه واکښېښته کړه بیا یې وویل:

« زه ډېر متشکریم.»

کیوناري بیا خبرې وکړې او منشي بختیار داسې ترجمه کړې.

ـ « دلویې بریتانیا دټولو واکمنې او دهندوستان دامپراطریسې علیا حضرتې ملکې ویکټوریا د دولت دا نماینده او منتا سې دوستدار هیله لري چې په دغه تاریخي اردوګاه کې زموږ خبرې داوې دوستۍ له پاره ګټورو نتیجو ته ورسېږي.»

امیر د تائید په ډول سر وښوراوه منشي بختیار بیا د کیوناري خبرې داسې ترجمه کړې.

- «دا دوستي چې بنیادي موږ د لته پردو ستاسې له پاره په ډېرو ګټو حاصل وي. بوخل بیا حضرت عالي امیر صاحب او د هغه ملګرو ته هر کلی وایو.»

امیر چې دوه درې واره سر وښوراوه بیا یې وویل:

- «موږ د انګریز سرکار دوستي ته په خاص ارزښت قایل یو او پخواني واقعات د تېر او هېر په حساب راولو او هیله لرو چې زموږ دوستي به ډېر پایښت وکړي.»

کیوناري په تائید سر وښوراوه. په دغه وخت کې په پتنوسانو کې چای راوړل شو او حاضرینو چای وڅښه. وروسته کیوناري سپه‌سالار داود شاه خان ته وویل:

- «ستاسې ټولو له پاره د استوګنې مناسب ځایونه تیار شوي دي کېدای شي چې د استراحت له پاره هر وخت میل ولرئ هلته ولاړ شئ.»

امیر چې چای وڅښلای نو د کیوناري د خبرې د خلاصېدو سره ولاړ شو او دوی ټول راووتل. امیر یوې لوی خیمې ته وهنمایي شو او نور په ترتیب سره بېلو بېلو خیمو ته ولاړل.

له دې ورځې څخه بیا تر یوې هفتې پورې د امیر او کیوناري په ګډون د دواړو خواوو هیئتونو له خوا پر هغه معاهده خبرې وشوې چې مسوده یې کیوناري ترتیب کړې وه په دغه معاهده کې د افغانستان څخه بېلې بېلې سیمې بېلې شوې وې چې مستوفي حبیب الله او سپه سالار داود شاه د هغه سره موافقه نه کوله. په دغه وخت کې د امیر تره سردار ولي محمد خان د کیوناري سره پټ ملاقات وکړ او هغه ته یې وعده وکړه چې که ده ته د افغانستان امارت ورکړل شي نو حاضر

نه وي چې په پټو سترګو د کېوناري مشوره لاسلیک کړي خو کېوناري هغه ته د قبول پار د ځواب ورنه کړ.

بله ورځ د کېوناري په بلنه یوالحې امیر یعقوب د کېوناري خېمې ته ورو بلل شو. په دغه وخت کې یوالحې منشي بختیار حاضر و،

امیر لکه د خورات پسه د کېوناري خېمې ته ورکش شوی و او کله چې د کېوناري سره مخامخ کښېناست کېوناري په جدي لهجه په انګلیسي وویل چې منشي بختیار داسې ترجمه کړه :

- « د لویې بریتانیا د تولو واکمنې او د هندوستان د امپراطوریسې علیاحضرتې ویکتوریا د نېکمرغه دولت نماینده میجر سرلوی کېوناري د کابل امیر ته د لهجې په قاطعیت او د عمل په صحنه کې د قاطع تصمیم په وعده خبر ورکوي چې دا د دوستی معاهده به په دغه شکل د دواړو خواوو هغه منلی او لاسلیک کېږي کومه چې یې مسوده پخوا شوېده او اوس ستاسې په حضور کې پرته ده. »

امیر بې اختیاره خولې کم دېده سترګې هغو لیکلو پاڼو ته ورکښته کړې چې په مخ کې یې پرتې وې ده هو شېبې سرځړولی و بیا یې وویل :

- « لازمه خو داده چې په معاهده کې په مساوي توګه امتیازونه ویشل شوي وي. په داسې حال کې چې د افغانستان بېلې بېلې برخې بېلیږي نو د افغانستان د امیر مقام وایې د یو نواب مقام ته راټیټیږي. »

سرلوی کېوناري محیلانه خندا وکړه او بیا یې خبرې منشي بختیار امیر ته داسې ترجمه کړې.

- « زه ستاسو خبره تاییدوم چې دا معاهده یوالحې یو طرف ته د امتیاز

ورکولو حاصله ده او هغه طرف هم امیر دی .»

امیر په لیږدول غوږونو لی اوریدلي منشي بختیار ته وکتل او وې ویل:

-« زه په مطلب پوه نشوم . »

کیوناري په شیطانت سترګې امیر ته واړولې او وې ویل :

-« آیا دا امتیاز نه دی چې انګریزسرکار دمفتوحه افغانستان پوره لوړه برخه تاسو ته در سپاري ؟ »

دامیر سترګې سره کش شوې وې ویل :

-« دامعاهده به زما ملګري ته راسره ومني .»

منشي بختیار پیل دې چې دامیر خبره کیوناري ته ترجمه کړي او ځلې کیوناري ته وکتل او بیابې امیر ته وویل :

-« حضرت عالی امیرصاحب ستاسې او مقتدرسردار په داو طایانه پوله حاضر شوي دي چې دافغانستان دحکمرانی دسپار لوړه بدل کې به بر هر ډول معاهده لاسلیک ولګوي . »

امیر په چورت کې شو او پوه شو چې دا سردار د ده ترورسردار ولی محمد لاتی دی .

دیځو شیبې پته خوله ؤ بیا یې وویل :

-« زه له دې خاطره دمعاهدې په باب نکته چینی کوم چې سبا دانګریز سرکار له پاره مشکل پیدانشی . »

کیوناري ته چې دامیر مطلب ترجمه شو هغه وویل :

-«موږ پوهیږو چې ته په منصفانه توګه دلوی برتانیا دعلیا حضرتې تولواکمنې دنیکمرغه دولت وفادار یې. خو موږ تا ته ډاډ درکوو چې به دغه معاهده به نه یوازې موږ ته کوم مشکل پیښ نشي بلکې پخپله دامیر او

د هغه دوفادارو ملګرو له پاره به هم ډېره خوښي وبخښي. »

امير سر وڅوراوه بيا يې وويل :

- د چه پادا معاهده وښله خو بهتره به داوي چې دا معاهده زما او ستاسې له خوا په داسې حال کې لاسليك شي چې زما ملګري سرداران هم حاضروي . »

کمونارې د تائيد په ډول سر وڅوراوه او کله چې ولاړېده دامير ورا وږده يې لاس کښېښود ورته وې ويل :

« اوس تاسې لا خپله وفا داري سوږ ته په ثبوت ورسوله ! »

دوى راووتل او هريو يې خپل خيمې ته ولاړل.

دوهمې ۲ بجې وې چې امير او کمونارې په يوه لوېه خيمه کې په هغه معاهده لاسليك وکړ چې وروسته د ګندمك د معاهدې په نامه ياده شوه (۷۹) د لاسليك په وخت کې د امير سره حبيب الله خان لوګرى وزير داود شاه خان سپه سالار او پنځه ويشت کسه سرداران حاضر وو.

په دغو حاضرو کسانو کې سردار ولی محمد لاټي د ير خمګين ولاړو او د معاهدې تر لاسليك وروسته چې دوا ړو خوا ؤ هر ويوو بل ته مبارکي ويلې منشي بختيار د سردار ولی محمد پرا و ږه لاس کښېښود او په پنجابي ژبې يې کرار ورته وويل :

« لاټي صاحب ! ستاسې خدمتونه هم له نظره نه لوېږي مطمئن اوسی . »

تر دغو مراسمو وروسته هر څوك خپلې خيمې ته ولاړل او امير هم استراحت وکړ . مازيګر سپه سالار داود شاه خان د حبيب الله خان

خونې ته راغی او په داسې حال کې چې حبیب الله خان د ریښې کړ-
یوه بوزې یې په ښو کولې سپه سالار ته وویل:

«افغانستان ولاړی شو! د افغانستان دروغ بدن ټکړې پیل شول او موږ لورد انګریزمیړانو شوو امیر هغه کار وکړ چې عواقب به یې ډېر دردرانه وي.»

سپه سالار سر وښو راوه او وې ویل:

«داد طوفان ومړی څپې دي. وګورو چې نور به څه پېښېږي؟»

بیا یې لومړي وزیر ته وویل:

«ماښام یوه هیلمستقیا د. سبا به د انګریزانو یو نظامي ایرپټ ګورو او بله ورځ به کابل ته روانېږو.»

له دې سره سپه سالار ووت او مستوفي حبیب الله خان په چورتونو کې ډوب کښېناست.

# د انګرېز بزم

د نڅا سالون د نظم او ښکلا له لحاظه داسې ترتیب شوی ؤ چې هر لیدونکی یې په دې قانع کاوه چې په ترتیب کوونکي یې یې هر ښه آفرین ووایي.

د سالون په دېوالونو د بلورینو شمع سوزانونو منځ کې د غټو شمعانو رڼا د سالون په قهوه‌ای دېوالونو کې جذب کېدله او انعکاس یې نه کاوه خو د سالون په منځ کې چې له چت څخه لوی قندیل را ځړېده، له هغه څخه چې د شمعانو او انجي رڼا د سالون پر سپین چت مونښتله نو رڼا یې بېرته د سالون منځ ته انعکاس کاوه او د سالون پر فرش چې ښځې او نارینه ګرځېدل د هغو د بدن او کالو پر جلوه ګۍ او ښکلا یې څو چنده کوله.

د سالون په یوه کونج کې د ارکسترا له پاره یو کوچنی سټېج جوړ شوی ؤ چې په هغه باندې موزیسنان ولاړ وو او د ساز آلات یې د لوی قندیل له رڼا څخه ځلېدل.

د سالون په بل کونج کې یو کوچنی بار جوړ شوی ؤ چې شا ته یې په الماری کې د ډول ډول مشروبو بوتلان په ترتیب سره اېښودل شوي وو او د بار مقابل پر مېز باندې هم یوه ښکلې شمعداني پرته

وه چې شمال ښکې لګېدل او د مېز شا ته چې يوه نيمزاله پرنګۍ د مشر و يو دوه ښکلوله پاره ولاړه وه د هغې په خرما يي وېښتانو کې به د شمع رڼا ځلېدله او ځلېده له . آر کسټر د نڅا يو آرام وا لس شکل کاوه او د سالون په منځ کې او هغې چې لمنې يې اوږدې او سپينې وې او پور ته يې لېچونه تر اوږو پورې لڅ وو او ځيګرونه يې دومره لڅ وو چې د ټول پوستوله يې ښکاره ول . د دوی سره چې کوم ځوانان نڅېدل هغو نظامي کالي اغوستي وو او پوالځې يې توره درېشي کړې وه چې سپين کالر او سپينو کمړونو يې سړی په دې پوهاوه چې باید پوهماسي سړی وي .

په سالون کې د بار څخه دار کسټرا تر سټېج پورې د دېوال په استقامت چوکۍ ايښي وې چې په هغو کې نظامي او سياسي منصبد ـ اران ناست وو او کله کله به له دغه کتار څخه يو يو ور ولاړ بدل او د بار پر مېز به يې د پرنګي ساقي څخه د شرا بو ګيلاس واخيست يا به يې هلته وڅښل يا به يې ګيلاس ورسره را واخيست او بېرته به خپلې چوکۍ ته راغی او په کراره کراره به يې څښل .

د غه مېخوري او نڅاچې د ماښام څخه پيل شوې وه او س چې شپه نيمې ته ور نږدې کېدله پر له پسې يې دوام درلود.

د حاضرينو په منځ کې د هېرو مشرو پودخوراو څخه يو ډول خمار هر ګنډۇ خود نڅا پر ډګر لا هغسې د موزيك له تال سره د ښځو او نارينه ؤ قدمونه په نظم پور ته کېدل .

د ښځا په ناستو نندار چيانو کې يو د پاخه عمر خاوند سړی چې د سکوسکي زړ ي دخړو وېښتانو سره يې درا برېو تو برېتونو څوکې کږې

ACKU

شوې وې په خاص غرور ناست ؤ. ده هر تور پتلون سپینه کرتی اغوستې وه او د هغې غوټې یې د کرمې غخه خلاصې کړې وې او په لاس کې یې یو غټ لاستور کی گېلاس ؤ چې هر ځل به یې د گېلاس محتویات ترستوني تېر کړل او بیره سره ژبه به یې پرشونډو تېره کړه.

په دغه سرگرمه فضا کې دسالون له دروازې څخه یو عسکري صاحب منصب په منظمو گامونو دسپینې کرتی دخاوند خواته راروان شو او وروسته تر هغه چې عسکري سلام یې وکړ په شمېرلو کلماتو یې وویل :

-« سر! دودانۍ له ور، سره یو سردار غواړي ستاسې سره وگوري.»

صاحب منصب یو شېبه پټه خوله شو بیا یې بېرته زیاته کړه.

-« سردار خپل نوم ولی محمد خان راوښود او وې ویل چې د شپې په دغه ناوخته کې د یوه عاجل او مهم کار له پاره د محترم سفیر سره ملاقات غواړي.»

سفیر ورو ورو سر وښوراوه او بیا یې صاحب منصب ته وویل :

-« سردار دمانۍ دوهمې انتظارخانې ته راوله.»

صاحب منصب عسکري احترام وکړ. دسالون دروازې ته روان شو او سفیر خپل دارخ دریم سړي ته وویل :

-« مېستر چېنگېز (...) سردار بیا راغلی دی او اوس به دسفارت د دوهمې انتظارخانې ته راشی. له ده سره باید په ترآمب سره وگورو. ته زه لومړی مسېز سوزي ورولېږې او نیم ساعت وروسته به پخپله ورشې تر تا پنځلس دقیقې وروسته به زه هسې درشم خو مېسېز سوزي هم پوه کړه او ته هم متوجه اوسه چې سردار باید ښه مشغول کړی شی.»

میسټر چنګیز ولاړ شو احترام یې وکړ او ورته یې وویل :

-« سر: امر قبول خو میسز سوزي له کورې چې د ډېرې مهمې خبرې په نسبت کې ځان له شي تکړه کولای دا به څرنګه وکولای شي چې ....؟ »

چنګیز لا خبره پوره نه وه خلاصه کړې چې سفیر یې خبره قطع کړه او وې ویل :

-« ترديې لا بله هم ! هر ایډه چې په دغسې مسئلې کې د سردار په پرابۍ وکړي . »

چنګیز احترام وکړ او خوګا مه دسا لون واسته خواته ولاړ ښایي په ننداځای کې یوې دلګې ښځې ته چې دیوه ځوان سره یې نڅا کوله اشاره وکړه . ښځې چې د چنګیز اشاره ولیدله له ځوان له غېږې یې ځان راخلاص کړ او د چنګیز مخې ته راغله . چنګیز په خنداور ته وویل :

« میسز سوزي ! له دې خبرې معافي غواړم چې په دغسې وخت کې تاسې ته وظیفه درکوؤ . »

نشه ښځې چې له سترګو څخه یې خمار ښادیده هر ژبه یې هم لکنت پیدا شوی ؤ چنګیز ته وویل :

-« ولې زه نو څه عسکره نه یم چې په هر وخت وظیفې ته حاضره شم ؟ »

چنګیز ورو وخندل او وې ویل :

-« میسز سوزي ته داسې عسکره یې چې د نظر په یوه غشي یوځل نه فتح کولای شې . »

میسز سوزي وخندل او په چنګیز پسې روانه شوه . دوی د نڅا دسالون ارخ ته یوې کوچنۍ کوټې ته راغلل او دیوې کوچنۍ میز شا ته

مخامخ په دوو چوکیو کښېنستل بیا چنګېز ورته وویل :

- « د سفیر هدایت دی چې باید د وظیفې په مسئوليت ئې ارځای کړې.

لاتې سردار راغلی دی او د سفارت په دوهمه انتظار خانه کې دی. ته به ورځې او هلته به له هغه سره کښېنې. ته به ورته ووایې چې سفیر صاحب راځي او نیم ساعت وروسته به زه درشم په داسې سفیر راځي. کله چې سفیر راځي نو بیا به ته د هغه اشارې ته ګورې مطلب دا چې سردار به په خوله داز داسې ماتوې چې موږ درځو هغه باید تا لمونځ کړی وي .»

نشه ځنځې وخندل او وې ویل :

- « ما ته ئې ارېږده ! »

له دې سره چنګېز د کوچنی کوټې له دروازې څخه دهلیز ته ووتله او چنګېز بیرته سالون ته راغی. میسز سوزي له دهلیز څخه ووتله او په برنډه کې راتاو شوه او د سفارت دوهمې انتظارخانې ته راغله.

په انتظار خانه کې سردار ولی محمد خان لاتی پر یوه چوکی ناست و. ده سپین کالی اغوستي وو او پر هغه ئې یوه نازکه سپینه چپنه په اوږو وه. ده غټه پګړی تړلې وه او نسبتاً اوږده ږیره ئې په یوه خاصه پاملرنه ږمونځ کړې وه.

میسز سوزي چې انتظار خانې ته راننوته په مالګه او ګوډه پارسی ئې وویل :

- « سردار صاحب قدم په لمو . زه ستاسې سلام ته راغلې یم ، سفیر صاحب به هم اوس راشي. »

سردار د نشه بخې د ناز کلماتو لکه موم داسې کړ. په داسې حال کې چې سترګو او لاسونو يې اختیار بايللی و وویل :

- « مادام. ما به وبخښې چې په دغسې بې وختې کې د لته راغلی يم دسفیر صاحب سره سې څه ضروري کار و . »

نشه بخې داوار داسې وضع اختیار کړه لکه د سردار غیډې ته چې ځان اچوي او بیا يې وویل :

-« سردار صاحب دا څه خبرې کوې. دا خوستاسې خپل کور دی. تاسې په موږ ډېر ګران یاست. خدای دی وکړي تر څو سفیرصاحب راځی تاسې خپه نشیء ! »

سردار چې دطنازې بخې ترجادو لاندې راغلیء و وویل :

- « مادام. هلته چې ته يې نو هلته به خپه ګی څه کوي . زه په دې ډېر خوښ يم چې تاغوندې ښکلې ښځه پهدې سفارت کې اوسی. خدای دی وکړي چې زموږ په وطن کې ته خپه شوې نه يې . دلته موږ هیڅ ساعت تېري نه لرو. خوښه باغونه او تفریح ځایونه لروته باید هروخت تفریح وکړې . »

بخې چې سردار ځان ته مشتاق ولید نو څو مره چې نشه وه نور يې هم ځان په تصنعی ډول زیاته خمار پسې وښوداوپه داسې کلماتو چې هره جمله يې کشوله وویل :

- « ګرانه سرداره ماخو به له دې څخه بخښې چې ډېره نشه شوې یم او په دغسې خمار کې ستاسې هر کلی کوم. »

سردار په داسې کلماتو کې لکه دمسېز سوزي دغه حالت چې ورا ډېر خوښ وي وویل :

ـ«مادام. ته نن شپه تر هر وخت ډېره ښکلې ایسې.»

ښځې وویل:

«ـ هو موږ نن شپه جشن لرو. نو ډېر مې څښلي دي. کشکې په دې جشن کې تاسې هم ګډون راسره کړی وای.»

سردار چې په خپلو دواړو سترګو د نشه ایي ښځې اندامونه لمسول وویل:

ـ«د دې جشن مبارکي درته وایم.»

ښځې په یو دروند نشه انداز وخندل او بیا یې وویل:

ـ«ګرانه سرداره اجازه راکوې چې ترڅو سفیر صاحب راځي زه تاته نغمه ووایم؟»

سردار په ډېره تلوسه دوه واره ډېره وښوروله او بیا ښځه له کوټې ووتله د ها خوا څخه یې راتله یو بوتل دوه ګېلاسه او یو ګیټار یې په لاسو کې نیولی وه. ګله چې کوټې ته داخلېدله قصداً یې نوک وژاهه او داسې وضع یې اختیار کړه چې غوځا ربدي په دغه وخت کې سردار ور وغورځېدلو هغه یې په غېږ کې ونیوله او له لوېدلو څخه یې راوګرځوله. ښځې د سردار په غېږ کې خپلې خمارا لو دې سترګې هغه ته واړولې او ګله چې هغه لاسونه ځنې ایسته کول دې وویل:

ـ«مرسي: سرداره زما سره دې مرسته وکړه»

ښځې لومړی په یوه ګېلاس کې د بوتل څخه شراب واچول او په داسې حال کې چې په یوه لاس کې یې ګیټار نیولی وُ په بل لاس یې ګېلاس پر سر پورته کړ او د شرابو تر څښلو وروسته یې وویل:

-«ګرانه سرداره له دغې ګستاخۍ څخه خو مې معاف وې. دا ګېلاس ماسته په سلامتۍ پورته کړ دادی اوس به یوه نغمه درته ووایم»

ښځې د ګیتار سره نغمه پیل کړه او د سردار په څېره کې د شهوت یوه لویه څپه څرګنده شوه. څو دقیقې ښځې نغمه وویله بیا یې ګیتار کېښود او بل ګیلاس شراب یې وڅښل چې ګېلاس یې ایښووی و ویې ویل:

- «ګرانه سرداره زما نغمې تا ته مزه درنکړه»

سردار په چابکۍ و ویل:

«نه نه مادام دا ډېره ښکلې نغمه وه. زه یې بېخي د ځانه مځوده کړم.»

«په په دا نغمه څه چا ته خوندور کوي چې ماغزه یې دا داور په اوبو تاوده شوي وي .»

سردار وخندل او وې ویل «دادا وردا وبو سره خو زه د یوو څته لا اشنا یم. را واچوه چې ستا له نغمې څخه مزې واخلم.»

ښځې ګېلاس ورډک کړ او سردار په داسې تلوار پر سروا ړ اوه چې پر ډېره یې هم را توی شوه. سردار چې ګېلاس ایښووه ښځې وویل:

«شاباش سردار!»

سردار وخندل او ښځې بیا په ګیتار کې یوه نغمه ورته وویله او بیا یې ګېلاسونه ډک کړل دا وار ښځې ګیلاس د سردار د ګېلاس سره وجنګاوه او بیا یې وویل:

«دا ګېلاسونه د لویې بریتانیا د تولواکمنې او د هندوستان د امپراطورۍ علیا حضرت ته وېکټوریا په سلامتۍ پورته کوو.»

ACKU

د واړو گیلاسونه په سرواړول . ښځې بوه او يوه خندا وکړه او بيا نو يوه نغمه او دوه گیلاسه سره ېيل شول او سردار هم چه نشه شوه نشه ښځې چې يو ځل خپل گيلاس په سرواړاوه د کوټې پای ته ولاړه او له هغې خوا ښځه چې د سردار خواته راتله يو ځل بې بيا نوك وواهه او سردار په چټکې هغه په غېږ کې ونيوله او نشه ښځې خپلې شونډې سره تولې کړې سردار غوښتل چې خپله خوله د دې خولې ته ورنږدې کړي چې د كوټې دروازه خلاصه شوه او جنگيز را ننوت .

سردار په وارخطائي ښځه خوشې کړه اوودرېده .

جنگيز په خندا ووېل :

«سردارصاحب ستړی مشې . ماوبخښه چې مزاحم شوم .»

سردار په تلوار سره د جنگيز سلام ته جواب ووايه او بيا يې ووېل :

«ما يو فوري خبر د سفير صاحب له پاره درلود نو ځکه بې وخته را غلی يم .»

جنگيز ووېل :

«سردار صاحب ته چې هر وخت دلته راځې مناسب وخت دی . هغه کله په زړه کې نوري خبرې مه درگرزوه . ته زموږ دوست يې»

سردار کور ودانی ووايه .

بيا جنگيز کښېناست او ښځې ته يې ووېل :

«ميمز سوزي ! ته ونسه سردارصاحب ته يوه ښه نغمه ووايه :»

جنگيز سردار ته مخ واړ اوه وې وېل :

«سردار صاحب ته اجازه ورکوئ چی مسیز سوزي یو ه بله نغمه وواییی ترڅو سفیر صاحب راځی دا به موږ وخت په راتیر کړي.»

سردار د تائید سره ښوراوه او ښځی بیا گیتار ورواخیست او په نغمه یي پیل وکړ دښځی نغمه لا نه وه خلاصه شوې چی سفیر دروازه خلاصه کړه او کوټې ته راننوت.

ښځی گیتار کیښود. سرداراو جنگیز په پښو ودریدل سفیر وویل:

- «سردار صاحب ما به وبخښې چی ته مي په انتظار کې کښېنولی اې.»

سردار وویل:

- «سفیر صاحب زه ډیر منتظر شوی نه یم خو ما به وبخښـې چې په دغسې ناوختی کې ستاسې مزاحم شوی یم»

سفیر سروښوراوه او وي ویل:

- «نه نه سردار صاحب داستاسې خپل کور دی. ته زموږ دوست اې هروخت چې دلته راځې موږ خوښیږو.»

سرد ار تشکر وکړ او بیا سفیر مسیز سوزي ته وکتل او هغې احترام وکړ له کوټی څخه ووتله. په دغه وخت کې بې اختیاره دسردار ستر کې د هغې خوا ته ور واوښتې او سفیر وویل:

-«سردار صاحب مسیز سوزي زموږ دانگریز انو د ستور سره سم د کورتر مشر وزراندې د مسلمانو هر کلی کوی خدای دی وکړي چې ددې وجود دلته ډیر تا دروند شوی نه وي.»

-«نه نه سفیر صاحب مادام زما ډیر عزت وکړ.»

په دې پسې سردار وویل:

-« سفیر صاحب زه له دې کبله په دې ناوختي کې تاسې ته راغلی يم چې سبا له په وختي د افغانانو يوه جرگه تاسو له راځي. په دغو خلکو کې د تگاو خانان هم ملگري دي او داهغه کسان دي چې ستاسو په راتگ خوښ نه دي اوزموږ اميرصاحب خونوته يوځ اې چې دهيڅ کار نه دی او تراوسه لاستاپر دو ستي او د انگر يز سرکار په قدرت ايمان نه لري.

داکسان چې ستاسې سره گوري دوی دگند ملك دمعاهدې څخه خبر شوي او خوا شيني دي خواري دېوې مظاهرې په ډول ستاسې سره برخوردو کړي ستاسې څخه وروسته له امير سره گوري که تاسې دوی تهديد کړی اوپه زره کې يې يره ولويږي نو امير به له هغو سره همنوايي ونه کړي او که يې د لته سوون ستر گی يوځای ته رسيدي نو يې زره امير به هم ددوی تر اغيزې لاندې راشي او ښايي يو لړ مشکلات ايجاد شي. »

سفير خولې شنې سترگې دسردار په څيره برابرې کړې وې چې دسردار خبره خلاصه شوه بيا يې وويل:

-« سردار! موږ دلته دټوکوله پاره نه يوراغلی. هيڅوا ته داقدرت نشته چې زموږ په وړاندې په اوچت سرخبرې وکړي.»

دسفير دخبرو ترجماني جنگنز کوله او بيا يې دسردارخبرې سفير ته داسې ترجمه کړې.

-«زه د يوه وفادار په حيث هر خدمت ته حاضريم ، خو دا يو

حقیقت باید تاسې پوره درک کړی چې امیر د پر ضعیف النفسه سړی
دی. باید تاسې امیر هم تر خپل نفوذ لاندې وساتی.»

سفیر سردار ته داډ ورکړ او بیا یې جنګیز ته وویل:

- «د سبا به وختي لا کار تنظیم کړي او په هغه ترتیب چې پوهیږې باید د ملاقات ځای پردید به جوړ کړی.»

بیایې د سردار هغه تشکر وکړ او سردار هم رخصت واخیست.

سفیر تر دروازې ورسره ولاړ او جنګیز د سردار مشایعت ته تر د باندې پورې ورسره راووت.

ACKU

# د خلکو قیام

هغه ورځ چې په خوله غېږ کې یې لوی حوادث ورسره راوړي وو په یوه پر کېفه سبا پیل شوه. په دغه سبا کې نرم او طبیعت نوازه شمال چې د پغمان له سرو درو څخه راوته د کابل بالاحصار یې لمس کاوه او د تېرې ګرمۍ شپې کسالت او روڼکی خمار یې الوزاوه.

په بالاحصار کې د امیر وزیرانو او نورو سردارانو د کورونو له باغچو څخه د پتونی د ګلانو نرمه خوشبویي د هوا په څپو کې پر له تا وېد له اوه سبا په لنډبل کې چې طراوت یې احصا بو ته اړ امی بخښله دغه خوشبوی په دوامداره ډول د هر چا له پاره شامه نوازه وه.

د لمر ټیکي چې د لوی یې سرې تبخي شکل یې غوره کړی و د خور د کابل له غونډیو څخه مخ راښکاره کړ او ورو ورو راپورته شوه د سبا یې لمر د نارنجي رڼا انعکاس د بالاحصار پر دیوالونو داسې ښکاره وه لکه یوې ښکلې ناوې چې په نارنجي کالو کې ځان پټولی وي.

لمر په دوې نیزې راپورته شوی ؤ چې دغه آرامه فضا ورو ورو یوې نارامۍ ته روانه شوه د بالاحصار څخه د بالا ډې د لاهوري دروازې څخه د سر د ارجان خان تر محله پورې تنګې او پر له پښلې بازارچې

ACKU

د کانونو په وختي خلاصېدل په دغه ورځ سره له دې چې د کانونو اکثر تړلي وو خو په بازار کې تګ او راتګ نسبت نورو ورځو ته زيات ؤ د بازار د کانداران دخپلو دکانونو مخې ته ټولي ټولي ولاړ وو، د يوه او بل سره يې خبرې کولې .

يو نابلده سړي چې دغه منظره ليدلې وای نو د خلکو د منقلبو او وحشت زده څېرو څخه يو هېڅ داسې شوای چې يوه ډېره نا ارامه ورځ او مهمه واقعه په دغه ښار په مخ کې لري. په دغه سبا وختي کې چې نورې ورځې به کليوالو خلکو شيدې تر کارې او نور شيان ښار ته راوړل بر خلاف د نورو ورځو په دغه ورځ هېڅوک نه و راغلی او يوه چوپتيا وه .

لمر به راپورته شوی ؤ چې له لرې ځايه د يوه جمعيت اواز را او رسېده داپه ورو ورو را نژدې کېده او د ښار خلک چې د کورو او د کانونو بر بامونو پورته شول وې ليدل چې د ا لښکر څخه اردل پلتن په مخ کې ده او د شا و خوا کليو خلک يې اندر که کوي دوی د بالاحصار پر خوا را روان وو او نارې يې وهلې: «پرنګيان دې له ملکه ووزي»

«دانګريز دملګرو سره د پرنګيانو په شان معامله کوو»

«پرنګيان دې له ملکه ووزي»

«پرنګيان او د پرنګيانو ملګري زموږ د وطن دښمنان دي»

د ښار دخلکو احساسات هم په جوش راغلل او د کورونو او د کانونو له بامونو څخه يې دغو سره په د شو نارو کې ملګرتيا کوله . د کورونو پر بامونو ښځو خپل پورني دغو بې غمي خلکو ته ښورول،

دخلکو دا جمعیت چې په مخ کې یې اردل پلټنې تلې او د شاله خوا د کلیو خلک ورسره ملګري شوي وو چا رته درا رسیدلو سره د ښار خلک ورسره ملګري شول او یو شمیر ښځو هم خپل پړونی ترملا وتړل او په دوی پسې روانې شوې .

دا لوی جمعیت د پوه دروند زور سره د بالاحصار لویې دروازې ته ورسید اوپر له پسې یې نارې وهلې چې پرنګیان وباسی او د پرنګیانو ملګري موږ ته په لاس را کړئ .

جمعیت مخ ته ولاړ او کله چې دانګریز سفیر او سید نځا ی ته ورسیدلو په داسې دروند پړغ چې د توپ پړغ ته ورته ؤ د پرنګیانو پرضد نارې وکړې او دا نارې دومره دروندې وې چې د بالاحصار پرجان یې وریږدول .

په بالاحصار کې د امیر ددربار یانو او سردارانو د کورونو له بامونو څخه سرونه راپورته شول خو کله چې یې د انګریز پرملګرو سردارانو په نامه نفرتونه واوریدل ژر یې خپل سرونه غلي کړل .

د انګریز دسفیر د کور د شاله خوا یو هندوستانی افسر ووت او په خفاسته مخ په وړاندې ولاړ خو هرڅنګه چې د امیر د کور خوا ته لاړ بیا راوګرځیده په دغه وخت کې د سفیر په کور کې چې په لاندې منزل کې یې د سفارت دفتر او په پورته منزل کې یې کوروړ تونه تګ را تګ پیل شوی ؤ د سفارت هریوه واړه خطایی له یوې کوټې څخه وتل او په بله ننوتل .

کیوناري په خپل دفتر کې په ناارامۍ سره ګرځیده کله به د خپل میز شا ته کښیناست او کله به پاڅیده او لاړ شو د کوټې پر یوه

چونکې به یې تکیه وکړه نو به بې اختیاره راضي او له کړ کې څخه به یې د باندې وکتل .

په دغه وخت کې د انګریز سفیر چې مخ یې وراندې څه لیدل هغه ټول عصبي خلك وو چې د سفارت مخه او د چارګوشې یې ته کې کړي وې او غوښتونو چې یې څه اوریدل هغه دانګراز پرضد دعاغې او عصبي خلکو ناري وې .

د سفیر د کوټې دروازه خلاصه شوه او دهغه سکرتر جینګنز داخل شو او ویله دي چې لازم تشریفات پر ځای کړي سفیر ته یې وویل :

«سر ! عصبي افغانان غواړي پرسفارت برغل وکړي .»

سفیر چې د پورې څخه یې سترګې تر کولکو را وتلې وې خپل سکرتر ته وویل :

«مستر جینګنز فوراً په هره وسیله چې وي امیر ته خبر ور کړه چې دیر ژر خپل خلك له سفارت څخه لیرې کړي .»

جینګنز په فکر کې ډوب و د یوه نیا یې وویل :

«عصبي خلك هیڅ لارنه ور کوي مخ کې مو پوسړی و امتا و د خوهغه لار پیدا نکړای شوه او پور ته راوګرزید .»

سفیر په وار خطا لهجه وویل :

- «هیڅ چاره نشته بل سړی ور ته واستوه کنه لرې نه ده چې موږ دې دلته د پرلس په سرنوشت اخته شو .»

جینګنز لوري له کوټې ووت او سفیر د میزله جعبې څخه تفنګچه را واخسته او ګردمې یې له سره یو څخه ور پك کړ .

چنګېزخولې کوټې ته راغی او یوه لیکلې پرزه یې نبي(۱۰۱)نومي سړي ته پلاس ور کړه او ورته وې ویل .

- « دا په هره وسیله چې وي امیر ته یې ورسوې که دې دا کار وکړ نو بیا به لوی بخښش در کړل شي» نبي کاغذ واخیست او د سفارت د شا له خوا غلی ووت او پر یوه کونج راوګرځېد او د خلکو تولی ته ورننوت نبي چې د عامو خلکو کالي اغوستي وو چا ونه پېژاند چې دا د یو انګریز پیغام وامیر ته وړي.

نبي په چټکۍ له یوه جمعیت څخه بل ته او له بل څخه بل ته تېر شو څو د امیر د ماڼۍ دروازې ته ورسېد هلته د امیر یادي ګارډ ولاړو او د هغو یو قوماندان نبي و پېژند او نبي ورو ته وویل :

- « ډېر ژر مې امیر صاحب ته ورسوه چې د سفیر پیغام مې راوړی دی.»

قوماندان وویل :

- « راځه ! »

لږه ګړی نه وه تېره شوې چې د امیر د سراچې قابچي باشي د نبي خبر د ننه یووړ او له هاخوا راووت او نبي یې د ننه بوت .

د سراچې پر تنګاچه امیر د سردارانو سره ناست ؤ دده یوه اړخ ته ولیعهد موسی خان (۱۰۲) د امیر زوی او بلې خوا ته سردار یحیی خان د امیر خسر او په ترتیب سره سپه سالار داود شاه خان او نور سرداران پر پښو توشکو ناست وو .

نبي احترام وکړ او د چنګېز لیک یې امیر ته وړاندې کړ . امیر لیک خلاص کړ او په داسې حال کې چې سر یې په تاسف او وارخطایی خوراوه وې ویل :

ACKU

-« هغه چې له مونږ څخه غوښتل دا دي، پښتون شول. که دسفارت یو غړی هم ضایع شي نو زمونږ پر با دي ورسره تړلې ده.»

امیر بیا خپل خسر ته مخ راواړاوه او ورته وې ویل :

-« تاسې ولیعهد او سپه سالار په دغو کسو سبه نو سره د غوښتلو ته ورشی او هغوی راضی کړیء چې له بالاحصار څخه ووزي.»

سردار یحیی سر وښوراوه او بیاې سپه سالار ته وویل :

-« مخ کې تو دي چې او په اوږخ تیر یږي شي بایدولاړ شو.»

سردار یحیی و لیعهد موسی خان د امیر زوی او سپه سالار داود شاه خان ولاړ شول او نور هم په تلو او د امیر له سرا چې څخه ووت او او بیا په تر تیب سره د جمعیت له منځه تیر شو او دسفارت د شا دروازې ته یې ځان ورسا وه.

د امیر دامر سره سم سردار یحیی، ولیعهد، سپه سالار او یو شمیر سوټ کالي چې قرآنونه یې پر سر نیولي و و د جمعیت په وړاندې راغلل په دغه وخت کې سردار یحیی وویل :

-« ورونو! تاسې پوهیږئ چې په دغه کار او نااو امنی هیڅ شی نه تر لاسه کیږي تاسې چې هره غوښتنه وارئ خپلو چو نیو ته ولاړ شئ او هلته په سوله د رشو او غور به پروکړو.»

د جمعیت له منځه یو عصبي سړي پر ناري کړې.

-« زمونږ غوښتنه دا ده چې پر لګیان زمونږ له وطنه وباسئ »

سردار په نسبتاً عصبي لهجه جواب ورکړ.

-« دا د دولت کار دی او مونږ باید د دولت په کار کې غرض ونه لرو!»

د عصبي سړي له پوغ سره خو لو پوغونه ملګري شول او وې ویل:

- «هو! تاسي چې زموږ وطن پر پرنګي خرڅ کړی دی باید موږ ته و وا یاست چې په دغو خبرو غرض و اکړو.»

سردارسرو ښوراوه اوپه دغه وخت کې سپه‌سالار دا ودشاه چې پرآس سپور ؤ په یوه لوی اواز پرجمعیت ناري کړې:

-«زه امر کوم چې له دغه ځایه لیري شی کنه هغه څه چې لازم وي هغسې معامله به در سره وشی.»

د جمعیت له منځه څو کسه عصبي ځوانان را ووتل او دسپه‌سالار دآس جلو یې ونیو او په داسې حال کې چې د هغه یوه پښه یې ور پورته کړه او داسه یې را غورځاوه وویل:

-«دادی موږ به امرو تاته اوس وښیو اودا به هم درته معلومه کړو چې ته زموږ سره معامله لري او که موږ معامله درسره کوؤ.»

په دغه ګډوډ دار کې سپه سالار داس څخه ولوېدا او د جمعیت یو سیوری پري دغه ځوانان لیري کړل او سپه سالار بیله دې چې خپل آس پیدا کړي په زحمت یې له جمعیت څخه ځان و یوست اوچې معاملې وکتل سردار یحیی ولیعهد موسی او د ده اوروسلګرو معامله دامور پر کورو روغښتل.

دعصبي خلکو جمعیت دصفیر کورته را نږدې شو او په داسې حال کې چې (کیو ناري مړ کړی او پرنګیا ن وځړی) ناري یې وهلې دسفیر پروډانۍ یې کړې تنګه کړه.

دوداسې په لوړ پوړ کې کېو ناري په وارخطايي پرده پورته کړه او په ربړ ديدلې اوازيې نارې کړه:

- «دور شوېد !»

ددهٔ واز چاوا نه وروسته خو دغو نارو فضا پر سر اخستې وه (پر لګيان وباسې او پرلګيان زموږ دښمنان دي.)

په دغه وخت کې د کېوناري د کوټې دکړکۍ څخه د توفنګچې دوې ډزې وشوې او لاندې په جمعيت کې دوه کسه پر مځکه ونوېدل او دبدن څخه يې وينې جاري شوې.

د جمعيت له منځه يو د اسې سړی چې لنډه سپينه ږيره يې درلوده او پر پتونه يې هم تاوکړي وه په لوړ ږغ نارې کړې:

«تاسې لاوړ ته ګوری انګرېز زموږ دوه کسه شهيدان کړه ورولاړ شی وسلې راوړ ی ءهلی ډېر ژر!»

دار دل پلټنو سپاهيانو دجمعيت څخه ځان وپوست او ولاړل د بالا حصار د سلاح مخزن يې مات کړ او ټوپکونه يې ورسره راوړل. دکابو او ښار خلك چې له دغو خلكو سره ملګري شوي وو هر يوه پخوالا د ځان سره هر څه توره، لوړ، چاړه، سيلاوه حتی ارګې او سوټې هم راوړي وو.

داردل پلټنې سپاهيان ور ورانديې شول او پر سفارت يې ورې وكړې په دغه وخت كې د عصبي جمعيت نارې اود ټوپكو ډزو په بالاحصار كې يو قيامت وپا هاوه.

د سفارت ګه کړ کېو څخه هم ټکان کېدل خود جمعيت ډېر و لو

د سفارت پر سر سور اوریدل کېږه د غه وخت کې د جمعیت په منځ
کې یو هراتی سپاهی خپل دارخ ملګري ته وویل:

«کوره داځل مخا مخ کړ کی ته ! ښه ور ته کوره د سفیر دوروځو
منځ می په ښان نیولی دی هرط تېرم چی خطا نه شی.»

ملګري یې ور ته وویل:

«شروع !»

د هراتی سپاهی کوټې ماشه کښېکښېښوله او د ټوپك له خولې مردك
ووت سم د کیو ناري د وروځو په منځ کې و موښت او د یوې غر
غر غږې سره را پرېوت د کیو ناري ماغزه د کوټې پر دیوال وپاشل
شول او جنګیز په وارخطایی د سفیر له کوټې ووت او د ماخواړې
ټېل راوړل شاو خواړې وپاشل په دغه وخت کې د سفارت طبیب
په وارخطایی کوټې ته ورننوت او په ژړایی وویل:

« ټول قتل شول دلو یې پر ښتانیا یوا نګریز هم ژوندی پاتې
نه دی پاله ما و تاڅخه » جنګیز ودرېد او غوښتل یې چې اور ولګوي
په دغه وخت کې له کړ کی څخه یوه ګولی یې پر وزمېدو موښته او
د کوټې پر میدان ولوېد.

لاندې د عصبی جمعیت ناري تر پخوا ډېرې شدیدې وې او داخل
یې په نامه امیر او سفیر ته کنځاوې کولې. په دغه غالمغال کې
د سفارت د لاندې برخا نو د باروتو ذخیرې اوور واخیست او یو داسې
دروند غرومب یې شو چې بالا حصار نه بلکې د کابل ښار ویې ټول
ورېږداوه.

د سفارت له سر څخه د تورو دود یوه لوخړه فضا ته پورته شوه او لاندې سفارت لوټه لوټه ولوېد.

عصبي جمعیت چې انګریز ای د انګریز ملګرو ته په نامه بدرد ووېل او د نفرت لیارې یې د سردارانو کورونو ته ورتګ کولې له بالاحصار څخه ووتل. د امیر په سراچه کې د بالاحصار سرداران او د امیر درباریان راټول شوي وو کله چې یې انفلاق واورېد او بیا یې د دود طوفان ولید چې پر بالاحصار را تاوشو امیر په داسې اواز چې رېږدېده او سترګې یې داوښکو ډکې وې ووېل:

«لوپه بدبختي! برباد شوو! هغه څه چې مونږ غوښتل دادي راپېښ شول!»

امیر سپه سالار ته ووېل:

«ته وګوره چې سفارت په څه حال کې دی؟»

سپه سالار د سراچې څخه راووت او د پېره دار خانې بام ته وخوت ده د سفارت ماڼۍ ونه لیدله او یوازې تور دودونه وو چې د نړېدلي سفارت دودانۍ له لرګو څخه پورته کېدل او سفارت توټه توټه پروت ؤ له دغه ځایه راکښته شو او په داسې حال کې چې سر یې کښته ځړولی ؤ د امیر حضور ته راغی احترام یې وکړ بیا یې ووېل

«سفارت هیڅ نشته سفارت تور دود شو او هر څوک چې پکې وو هغه هم په تورو سکرو بدل شول.»

سردار یحیی دواړه لاسونه پر سرو نیول او یو اوف یې تر خولې ووت امیر په داسې حال کې چې تر سترګو یې اوښکې بهېدلې له سراچې څخه حرم سرای ته روان شو.

# سرداران دانګریز سلام کوی

د لوګر پر زرغونه وادي د مني ژړې منګولې لګېدلې وې د مېزان د پخو شوو وربشو زرغونو پاڼو رنګ تور پخون اړولی ؤ او زیاتره یې ژړې کړې وې او د پنجه چنار د پاڼو رنګ سور پخون اوښتی ؤ. کروندګرو چې د غنمو پسر پسا نه حاصلات اخیستي و او اوس د جوار پسو په زرغونو ونو کې خېر امانه خبر امانه ګرز پدل او د فصل اپا دي بې د حیوانانو له چاغښت څخه د ډېره په معلومېدله.

په لوګر کې د خوشي (۱۰۳) سیمه تر نورو لوګرو راندې د یخ تر څپاولاندې راغلې وه او د شتر ګر دن له لوړو څخه چې سوړ باد پر را الوتی نو ورځ په پوڼې د غرمې په وخت کې تود ه غوندې وه نور نود شوی او سبا وختي خوبي پیلو ځی هیڅ طاقت نه کېده.

په د غو ورځو کې (خوشی) د کابل او علی خېلو ترمنځ د افغانانو او انګریزانو د اېلچیانو تم ځای ؤ او هره شپه به د دغې سیمې د کلیو د ملکانو په کورو کې بونه بو میلمه خوخامخا د اسې لیدل کېده چې یا به له علی خېلو څخه کابل ته روان ؤ او یا به له کابله علی خېلو ته تلی ء. کلیو الو خلکو په جمات، پټي او کور کې

دا کیسې کولې چې په کابل کې د انګریز سفیر وژل شوی دی او اوس د انګریز لښکر له علی خیلو څخه پر کابل ور ځی.

دا اوازې او چو کچو کې پسې زیاتې شوې او بیا په نوي عادي ډول د دغو سیمو خلکو لوی او درباري خلک لیدل چې په خاصو تشریفاتو به ددوی له سیمې تیریدل.

څو د شتر ګردن له خوا د انګریز یو لښکر د کرنیل ( میثی ) انګریزپه قوماندانی دغې سیمې ته راورسید او د کلیو څخه پورته یې پر د پټ کمپ ولګاوه.

د کلیو خلکو د انګریز د لښکر له راتلو سره خپل نفسو نه په سینه کې حبس کړل او په خواشینو څېرو کې یې د نفرت علامې دورا په څرګند یدې انګریز د لښکرو سپاهیانو ددوی څخه شیدې او مستې اخیستلې او د انګریز د منصبدارانو له پاره به یې د پسو په بدل کې چرګان غوښتل خو ورو ورو دغې سودا بل رنګ واخیست او نور نو د لښکرې سپاهیانو نه یوازې شیدې او مستې او چرګان د دوی څخه په زور وړل او پیسې به یې نه ورکولې بلکې پسونه څواړان او حتی لنګې غواوې به یې څینې بیولې او بیا یې حلالولې او غوښې به یې خوړلې.

خلک له دغې وضعې څخه تر پېزې پورې رسیدلي وو چې آوازه واوریده چې امیر راځي. دې اوازو د خلکو نفرت تر پخوا پسې زیات کړ او کله چې په دې خبر شول چې امیر د انګریز د لښکر هر کلی کوي نو د خلکو عصبیت د اور دغره په شان را وخوت خو تېره خو هرنګه چې هیڅ یې په وس پوره نه وو او د لویو واقعاتو د نتیجو په انتظار کښېناستل.

څو ورځې وروسته دامیر یار خانه راووتېده له ده سره د ده خسر سردار یحیی خان دامیراوه کلن زوی ولیعهد موسی خان پنځه څلوېښت سرداران او دوه سوه سپاهیان ورسره وو او په دې بڼې امیر راروان ؤ.

امیر ته کرنیل مېنی سلام وکړ او په داسې حال کې چې امیر سرځړولی ؤ د کرنیل مېنی کمپ ته روان شو. دامیر له پاره دخوشی دهاو خوا کلیو ډېرخلک راوتلی وو خوامیر یوله دېچې د هغوی خوا ته تش نظرو اچوي کمپ ته ننوت.

د خوشي سپین ږیري کمپ ته راغلل او غوښتل یې چې دامیر سلام وکړي خود کمپ انګرېزي ساتونکو پرهغوی وخندل ملنډې یې پر وو هلې اود کمپ څخه یې وشړل په دې پسې وروسته بیا آوازې خورې شوې چې دانګرېز دلښکرو مشر دیوه لوی لښکر سره خوشي ته راځي او له دغه ځایه پر کابل ورځي، په دغو اوازو کې یې ویل کېدل چې انګرېز دامیر څخه په کابل کې د وژل شوي سفېر بازخواست کوي.

د۱۸۷۹ کال د سپتمبر ۲۹ ورځ سهار وختي د کرنیل مېنی دلښکر باجه ووهل شوه اود خوشي خلک خبر شول چې نن دانګرېز لوی لښکر د دوی سیمې ته رسېږي ورځ لا نیمې ته نه وه رسېدلې چې د کرنیل مېنی عسکري ټولګی داحترام په ډول ودرېدې او ددوی دسر خوا ته امیر یعقوب خان دخپل خسر سردار یحیی خان او کوچني زوی ولیعهد موسی خان او پنځه څلوېښتو سردارانو سره پر ټاکلی ځای ودرېدل.

دانګرېز داقامتګاه څخه دوه میله پورته پر شمال ختیځ خوا دیوې

ACKU

څو ناوي پر سر يو انګرېز عسکر ولاړ ؤ چې د څو نانو څخه د جنرال رابرټس راتېرېدل يې تشريفاتي ټولګيو ته ابلاغول . د غرمې څخه وروسته د يوې بجې په حدودو کې د ترصد سپاهي طرزوم و واهه او له دې سره د رابرټس هر کلي ته منتظرين په دې پوه شول چې رابرټس راورسېد .

څو شېبې نه وې تېرې شوې چې رابرټس او د هغه لښکر څرګاره شو او وړو ـ وړو رانږدې شو . د لښکر په مخ کې پر دوو غټو اسانو نغارې تړلې وې چې سپرو وهلې او د هغو د ډربې آواز په فضا کې خورېده . په دوی پسې پر يوه غټ سور اس يوه سپور د انګرېز بېرغ جګ نيولی ؤ او په هغه پسې جنرال رابرټس پر يوه تور عربي آس سپور ؤ په ده پسې د سپرو لښکرو ټولګي را روان وو .

جنرال رابرټس چې تور برجس او سره کرتۍ اغوستې وه د کرتۍ د زړونو ګلابتوني سردوشيو اشياني يې د لمر په رڼا کې ځلېدلې او پرځوګر يې ملې الونو اوچا لو نو ستر ګې بريښولې د ده په تر رموزو پورې سپينې ماميزې هم ځلانده وې او د تور کمربند د سپينو زروغټ ګل يې د لېدونکي پاملرنه جلبوله .

کله چې د هر کلي د صفونو مخ ته د رابرټس آس راورسېد نو د نغارې امان پوې خوا ته ودرېدل او د بېرغ وړونکي سپور اس د رابرټس د اس شا ته شو په دغه وخت کې کرنېل مېثي امير يعقوب سردار يحيی خان او د امير کوچنی زوی راد مخه شول او کله چې د رابرټس د آس مخې ته را ورسېدل رابرټس له آس څخه را کوز شو . دی پر خپل ځای ودرېده او حاضرين

ورد مخه شول . رابرټس دامیر یعقوب او کرنیل مېني سره دروغوړ لاس ورکړاو بیا یې دسردار یحیی او دامیر دزوی سره ستړي مشي وکړه . وروسته دسردارانو او تشریفاتي ټولګی خواته راغی دهغوسلام یې واخیست او ټول د کمپ خواته روان شول .

دخوسی د کلي وخلك چې دغې ننداري ته راټول شوي وو له لیرې یې ولیدل چې د دوی امیر په ټیټ مغزي دا نګریز جنرال ته ستړي مشي ووېله او په دې شهېر عصبي شوه‌ن ډېر و په خلاصه خوله پر انګریزاو امیر لعنت وواېه .

په کمپ کې دډوډی انتظام شوی و اودرابرټس درسه‌دو سره ډوډی جوړه شوې وه دډوډی پروخت امیر رابرټس اوو لیعهد موسی خان پر یوه خوري کښېنستل او نور په ترتیب سره پر دسترخوان ناست وو .

رابرټس هوواره دحاضرینو خواته وکتل بیا یې امیر ته مخ راوګر-زاوه او وې ویل :

- « موږ هیڅها پنس د کابل له امیرڅخه خوشحاله یوچې پرځان یې تکلیف تیر کړی او زموږ هر کلي ته راغلی دی .»

امیر چې په اوږدو چورتو نو کې تللی و درابرټس له خبرې سره لکه له خوبه چې راویښ شي په تلوار لي ډول ځواب ور کړ .

- « هیله لرم چې ستاسو سفر به خوروي خدای دې وکړي چې ډېر ستړي شوي نه یاست. »

رابرټس ته چې دامیر خبره ترجمان ترجمه کړه نو ده سروخوځاوه او بیا یې وویل :

- « د یوعسکرله پاره‌سفر هروخت ترحضر به‌زړه پورې‌وي موږ لوی

بریتانیا د ټولواکمنې او د هندوستان د امپراطورې په حیث علیاحضرتې معظمې ملکې افسران هیڅکله دغسې یو احساس نه کوو.»

ترجمان د رابرتس خبرې امیر ته ترجمه کړې او امیر د تائید سر وخوځاوه.

څو دقیقې وروسته رابرتس چې پوډی خلاصه کړې وه او میوه یې خوړله د خپل مخ د میوې له غوري څخه یې درې دانې کیلې په یوه کوچنۍ قاب کې کېښودلې او هغه یې سردار یحیی خان ته وروړاندې کړې او ترجمان ته یې ووېل:

- «سردار ته ووایه چې دا د هندوستان څخه زما یو دوست رالېږلې دي او ما دلته له ځان سره راوړې دي.»

سردار یحیی کیلې واخیستې او په داسې اخلاص یې د سر په خوځولو د رابرتس کور ودانی ووایه چې خواره یې پوره له ځیګر سره وځنګېدله.

پوډی وخوړله شوه او بیا امیر رابرتس ته ووېل:

- «تاسې باید لږ استراحت وکړئ نو موږ په رخصت شو.»

رابرتس ووېل.

- «ډېر ښه ولاس په ډېرې مینه څو نو تر آینده کتنې پورې د خدای په امان»

له دې سره امیر او د هغه ملګري راووتل او خپل ځای ته راغلل.

مازیګر امیر سردار یحیی خان د امیرزوی موسی خان او درې کسه سرداران د رابرتس اقامتګاه ته ورغلل او هلته رابرتس هرکلی ورته ووایه.

دوی چې کېښنستل چای یې راوړل او د چای په وخت مجلس شروع شو.

رابرتس امیر مخاطب کړ او ورته یې ووېل:

«زه ستا څخه متشکر یم چې د کابل د یمنې څخه تراوسه پورې دې له جریان څخه خبردار سا تلی یم . ستاسې وروستی لیکلی مې و رسه شهوو لوست.»

امیر چې سر ته ټې کړولیې درابرتس د خبرو د ترجمې له آوریدلو وروسته یې سر را پورته کړ او په غمجنه څیره یې هغه ته وکتل او داسې وویل :

-« زه زموږ د دوست اقید سفیر د مرګ د خواشینې واقعې څخه ډیر غمجن یم هغه څه چې نه موږ غوښتل نه تاسې پیښ شول دا زموږ بدقسمتي وه خو یه دې باور لرم چې زموږ دوستی به هیڅکله په داسې واقعا توچې د خدای له جانبه مقرروه او پیښ شول ستا تره نه شي .»

رابرتس چې په اظطامی د بدیه ناستؤ دامیرد خبرې له آوریدلو څخه وروسته یې خپل ترجمان ته وویل :

«امیر ته ووایه چې د لوی برتانیا عليا حضرت ته تولوا کمنه چې هومره مقتدره ده او په هغه اندازه مهربانه او با گذشته هم ده موږ خپل دوستان یېژنو او د هغو سره سرسته کوؤ خو د د ښمنا نو سره د دښمنی رویه کوؤ .»

کله چې ترجمان امیر ته درابرتس خبرې ترجمه کړې د امیر په څېره کې یولوی تشویش څرګند شو او غوښتل یې چې څه ووایی خوژر یې خپل خسر سردار یحیی ته وکتل او هغه په خبرو پیل وکړ وې ویل :

« همدغه د امیر دی چې ستاسې دوستان هر وخت لیکمرغه دي او ستاسې د دوستی په داخ او باور هر ډول ستونزې پر ځان منی . »

رابرټس په تائید سر وښورا وه او بیا یې وویل :

« د اقید سفیر د قتل واقعه د انګریز سر کار په سر د یوګذار حکم لري

او په دې پېښه کې د شخص د قتل مسئله دومره مطرح نه ده لکه د لوېې برېتانیا د عزت مسئله نو ځکه موږ را غلي یو چې هغو کسانو ته په سخته جزا ورکوو کوم چې د فقید سفیر د قتل په مسئله کې یې د لوېې برېتانیا عزت تهصدمه رسولې او تاسو دوستان یې هم په دې پېښه کې غمجن کړي یاست . »

له دې خبرې سره د امیر رنګ سپین واوښت خوځږ یې خپله وضع کنترول کړه اوږي ویل :

« موږ خپلو دوستانو ته ډاډ ورکوو چې د دغه قتل عاملین به حتماً پیدا کوو او بیا به سزا ورکوو د انګرېز سرکار خخه هیله لرو چې دغو دښمنانو ته د سزا ورکولو وظیفه خپلو دوستانو ته وسپاري . »

رابرتس موسکی شانته هوښیاري وویل :

« هو : دا کار به په ګډه کوو . »

رابرتس زه غوښتل چې په دغه مجلس کې له ده څخه تعهد واخستل شي چې کابل ته به نه ځي او پر سردارانو به اعتماد کوي چې دوی د سفیر د قتل مسئله وڅېړي نو ژر یې د خبرې مخه بلې خواته واړوله اووې ویل :

« د سفیر د قتل څخه یوه ورځ وروسته چې د دغې واقعې خبر په علي خیلو کې زموږ د مخابرې د دفتر متصدي کپتان کانوای ته ورسېد هغه سمدستي په سمله کې وېسرای صاحب ته تار راتېر کړ او هغه زه ورو غوښتلم او راته وې ویل چې کابل ته به ځم او دغه موضوع به تحقیق کوم . وېسرای صاحب ته ستاسې دایك په رارسېد و د هغه تا ثرات دوه چنده شول ځکه هغه په دې هم خواشیني شو چې تاسو ته

تکلیفونه رسیدلي دي نوماته يې شدید امر وکړ چې دامیر صاحب دښمنانو ته به سخت غوږ پېچوله ورکوؤ . »

د دغو خبرو په اورېدو د امیر په زړه کې تسلي پیدا شوه او بیا يې وویل :

«موږ دوېسرای صاحب له مهربانۍ څخه ډېر کوروداني وایو او یوځل بیا باید ووایم چې انګریز سرکار باید په دغه کارکې موږ یوځل بیا وازموي چې دغه دښمنان موږ په خپل لاس ونیسو او په سزا يې ورسوؤ . »

-دامیر له خبرې څخه دراېرتس په تندي کې غوټې پیدا شوې په خوله يې څه ونه ویل یواځې يې امیر ته وکتل او پټه خوله شو . دوی څو شېبې پټه خوله وو بیا رابرتس وویل :

- «موږ د مستوفي حبیب الله خان او شاه محمد خان سره چې تاسو راته لېږلي وو په علي خېلو کې ډېرې مفصلې خبرې وکړې او لکه ستاسې نظر چې دی دا فیصله مو وکړه چې د فقید سفیر د قتل مسئله به په ګډه تحقیق کوؤ او هغه کسان چې زموږ دښمنان دي هغوله به په ګډه سزا ورکوؤ »

رابرتس په ډېر مستقیم ډول امیر ته وریاده کړه چې دوی تصمیم نیولی دی چې حتماً به کابل ته ځي او دا موضوع به تحقیق کوي . ددې له پاره چې نور په دې باب له ده سره خبره اوږده نشي نو د مجلس څخه يې بلې خوا ته وګرزوله او وې ویل:

-«لکه چې ما د سپتمبر د ۲۵ نېټې په لیک کې تاسو ته لیکلي وو ، واوس دانګریز سرکار دوه لوی لښکره یو د جنرال برایت په مشرۍ

د پېښور څخه جلال اباد ته او بیا د کندهار څخه د کابل پر لور روان دي او دا به زول دامیر صاحب د دښمنانو سترګې وړزندې کړي باید و وایم چې موږ خپل دوستان په هېڅ وخت کې یوازې نه پرېږدو.»

امیر دوه ځله سر وخوځاوه بیا سردار یحیی خان ووېل:

-«موږ د خپلو دوستانو احسانونه نه هېروو.»

رابرتس د دې له پاره چې امر کابل د خپلې پیشقدمۍ اراده قطعي وښیي نو سردار یحیی خان ته یې ووېل:

-«که څه هم موږ پخوا د لوګر او شاوخوا ملکانو ته لیکونه استولي دي چې د بار برداری له پاره دحیوانا تو په پیدا کېدو کې زموږ سره مرسته وکړي خو دلته ستاسې څخه هم زموږ دوستانه آرزو داده چې تر کابل پورې زموږ د بار بونی د رسېدلو له پاره دحیوانا تو په اکمال کې مرسته راسره وکړې.»

امیر د دې خبرې په اورېدو تلولی شانته شو او بیا یې ووېل:

-«موږ غواړو چې زموږ دوستان په کابل کې کوم تکلیف ونه ویني نو که کابل ته خپل تګ د څو وختو له پاره ملتوي کړي او موږ پرېږدي چې اوضاع ور ته مساعده کړو نو دا به غوره وي ځکه په کابل کې وضع ارامه نه ده.»

رابرتس ورو ورو سر وخوځاوه چې په دغه وخت کې د رابرتس سیاسي منشي ایچ ایم ډیورنډ (۱۰۲)ووېل:

«امیرصاحب موږ کابل ته خو تر خو ستاسو دښمنانو ته جزا ور کړو موږ په دې پوهېږو چې ستاسې دښمنان ډېر سوون سترګي شوي دي او تاسې هم نشی کولای هغه په سزا او رسوی ځکه د سفر د وقفې په

ورځ که ستاسې سره قدرت وای نو هیڅکله به د اوامرو له پوښتنې له
نو اوس هم مخکې تردې چې زموږ اوسني دښمنان نور قوت واخلي
هغو له دغوږ پېچ ورکوؤ او کابل ته به حتماً ځو .»

اسور بوره هو چې د جنرال رابرتس سیاسي منشي ده ته د ده د
کمزوري یادونه وکړه نو نور څه یې ونه ویل او په دغه وخت کې
رابرتس کرنیل میکنې ته وویل :

-« ته به له دې ځایه د یوې دستې سره ځان شترګردن ته رسوې
او هغه ځای به تلاویه کړې سره له دې چې جنرال بیکر هلته درکار
کړېدی خو سره له هغه کله چې سپاهو را قوره لو يو هسير وښتنو
پر موږ برغل وکړ او ډاکتر ( تولیشنله ) یې سخت ژوبل کړ .»

تردې خوروروسته دوی ولاړ شول او هر څوک خپلې خیمې ته ولاړل .
نور دوی ټولو د کابل خوا ته د پیشقدمۍ د ترتیبا تو په نیولو
بوخت شول .

*************

# بالاحصار داورپه لمبو کې

دچارآسیاب پټیو او باغونو د تېرې شپې برخه دسبا لمر د راختلو سره ورو ورو پورته کېدله او په هوا کې بې دوهو تونه بوی خپراوه او په دغه باطراوته سبا کې چې بادولاړ ؤ د کلیو د کورونو له دودوالونو څخه غوړ شکه غوړ شکه دوددونه فضا ته پورته کېدل او د فضا تر ډېرو لوړو پوړو بې ستونونه جوړ کړي وو.

د لوګر شوخ سیند چې دسنګ نوښته په برخه کې سره راتنګ شوی و پرد وارو غاړو بې دښنارونې د سیند د کږې وږې لیکې په استقامت ولاړې وې او دسیند منظرې ته بې خاصه ښکلا اوربخښلې وه.

تر ټولو کلیو را پورته دختیځ خوا دچګو غرونو سورې واره وار ورانده پدلې او په ټوکو کې ګور بتا نواتې جوړ کړی و.

د ۱۸۷۹ کال د اکتوبر شپږمه ورځ وه چې دانګریز تور لښکر لکه موږ ښې خوړولکې چاما ودزرغون چار څخه دچارآسیا درې ته راتاوشو. دلښکر په مخ کې جنرال رابرتس او دافغانستان د امیر او سردارانو ټولي راروان و.

ددغې ورځې په ماښام لا دچاراسیا او سنګ نوښتې د کلیو او د لوګر

له نورو ځایونو څخه ملي مبارزین دغې درې ته را رسېدلي وو او غوښتل یې چې د پرنګي په لښکر سخت برید وکړي.

دا مهال له پاره د دې خولې ته د داخلېدو په هوه غونډۍ کمپ ولګول شو او لاندې د رابرټس لښکرچې درې ته داخلېده، د مبارزینو برید بریالی شو. او رونه هرې خوا ته بېل شول او د توپکو چ او د توپونو درزدو اوازونو په دره کې لویې ازانګې خورې کړې.

دغه مهال خوا ته دانګرېز د لښکر څخه ډېر وژل شوي په میدان ولوېدل او د دوی د درنوو وسلو کار وکړ او مخې ته یې لار خلاصه کړه.

امېر ټوله ورځ له خپل کمپ څخه د جګړې د ډګر ننداره کوله او تر غرمې وروسته د رابرټس نفر د رابرټس پیغام امېر ته ور ووړ چې دادی په خپل سره لار خلاصه شوه او اوس به مخ پر کابل روان یو. امېر د رابرټس د پیغام په ځواب کې هغه ته پیغام واستاوه چې مونږ د خپلو دوستانو په بریالیتوب خوښېږو.

دانګرېز لښکر د جګړې او ښتې په تاکتیك د سنګر نو ښتې څخه په داسې حال کې بېنی حصار ته را ورسېدل چې د شا و خوا غرونو څخه پر له پسې حملې پرې کېدلې. په بېنی حصار کې ټول سره راټول شول او د پوش قدمې لپاره د رابرټس نوي دستورونه او قرارونه دوی ته واورول شول په دغه وخت کې رابرټس ته دوه پیغامونه ورسېدل لومړی پیغام چې له شترګردن څخه رسېدلی ؤ په هغه کې ویل شوي وو چې غلجي قومونو پر شترګردن برغل وکړ او هغوی یې دانګرېز د سلطې څخه خلاص کړ په دوهم

ACKU

پیغام کې چې له کابله رسېدلی ؤ وېل شوي وو چې بالاحصار ته پروت دی او هېڅوك پکې نشته.

دوی داشپه همدلته تېره کړه او په سبایې په سیاسنگ کې کمپ ولگاوه چې د کابل بالاحصار پر مخامخ ؤ. نو د اکتوبر تر ۱۱ پورې د انگرېز لښکر په استراحت کې ؤ او د لښکر قوماندانانو د رابرټس په مشرۍ د راتلونکو کارو پروگرامونه جوړول.

په همدغه ورځ رابرټس د کابل خلکو ته اعلان وکړ. په دغه اعلان کې وېل شوي وو چې د کابل خلك دې د اکتوبر په ۱۲ بالاحصار ته راټول شي.

رابرټس خپل پوځ ته لارښوونه وکړه چې په همدغه ورځ به په پوره اوتغاره بالاحصار ته ځي. په همدغه ورځ د امیر د وزیرانو د گرفتاري امر هم صادر شو.

د پروگرام له مخې امیر هم باید د بالاحصار په جلوس کې گډون کړی وای. خو هغه سهار وختی د رابرټس خېمې ته ورغی او خپله استعفا یې هغه ته وړاندې کړه.

د اکتوبر ۱۲ ورځ سبا له وخته پرټاکلو ځایونو د انگرېزد لښکر انضباطان ودرېدل او د بالاحصار پر دروازه د انگرېز بیرغ اوچت هواو د لمرختو څخه دېخوا خلك د بالاحصار شاوخوا ته راټولېدل او غرمې ته نژدې په داسې حال کې چې رابرټس پر سور غټ اس سپور ؤ او د شا له خوا د امیر زوی موسی خان د امیر وزیران سرداران او د انگرېزد لښکر قوماندانان په پسې وو بالاحصار ته راورسېدل.

د انگرېز لښکري په ترتیب راغلې او هغه ځای ته چې رابرټس په

بالاحصار کې کښېناست لوډ توپونو ډزې وشوې او باجې ووهل شوې او د لوېې برېتانیا د تولواکې علیاحضرتې ویکټوریا د سلامت ترانه ووېل شوه.

ددې مراسمو څخه وروسته رابرټس پرېوه لوړ ستېج ودرېد او خپل مشهور اعلان یې د کابل خلکو ته واوراوه ده ووېل:

- «د لوېې برېتانیا د علیاحضرتې تولواکمنې او د هندوستان د امپراطورسې ویکټوریا د نیکمرغه او برېالی دولت په نماینده کی دا اعلان تاسې د کابل اوسېدونکو ته اوروم.

ستاسو هېره نه ده چې دا کتوبر په درېمه نېټه ما تاسې ته خبر ورکړی ؤ چې دانګرېز سرکار لښکر زما تر قوماندانۍ لاندې کابل ته درروان دی او مونږ ددې له پاره دلته راغلو چې دانګرېز د عالیجناب فقید سفیر قاتلانو له سزا ور کړو او زمونږ په وړاندې یا پڅوك ونه درېږي خو زمونږ د دغه اعلان پروا چا ونه ساتله او په داسې حال کې چې ستاسې هېڅ یو مس امیر هم زمونږ سره ملګری ؤ.

د کابل خلکو په سنګرنو شته او بنۍ حصار کې زمونږ د لښکر د پره شدپده مقابله وکړه دا کار ځکه بې سزا له پاتې چې تاسې د خپل امیر په وړاندې هم بغاوت کړېدی.

دلته دانګرېز سفیر قتل شوېدی او مونږ به د هغه قاتلان ستاسې په مرسته پیدا کوؤ او سزا به ور کوؤ مونږ د ښار له نورو خلکو سره ځکه اره نه لرو ځکه د لوېې برېتانیا حکومت همېش د عدالت او انصاف پلوي کوي خو بیا هم مونږ یو مخېزه بخښنه نه اعلانوؤ او د ښار

خلکو له دا ډول مجازات اعلانوو لومړی هغه کورونه چې د بالا حصار سره موښتې وي هغه به د بالاحصار سره یوځای دخاورو سره برابرېږي دوهم د کابل د ښار پر هر سړي به د هغه مقام او حیثیت سره برابر یوه جرمانه لګېږي او د اجرمانه او د هغې د حصول په باب به وروسته اعلان وشي .

ز.د کابل د ښار ټولو خلکو ته خبر ورکوم چې د امن مراعات به کوي د ښار له پاره به یو قوماندان مقررېږي چې تېري کوونکو ته سزا ورکړي د ښار په د ننه او پنځه میلې کې د سلاح ګرزول مطلق منع دي د هرچا چې څوله وسله وي او که یې د حکومت هغه اخیستې وي هغه به سمدستي تحویلوي او د هر دیسي رایفل په مقابل کې درې روپۍ او د پورېون رایفل په مقابل کې به پنځه روپۍ ورکول کېږي.

د سفیر د قتل په معامله کې چې چا اشتراك کړی وي هغه چې هرڅوك ونیسي لازم انعام به اخلي او د درېم سپتمبر هغه وروسته که چا د انګریز پرضد قیام کړی وي نو که یې څوك ونیسي که متجاوز د افغان پوځ کپتان وي د هغه پرسر به پنځه او یا او که افسر وي شپږ شلې روپۍ به معرفي کوونکي ته ورکول کېږي (۱۰۵)»

اوس نو د کابل پر ښار د پرنګي سلطه ولګېدله خو د رابرتس د اعلان له اورېدو هغه د ښار د خلکو په زړو کې سخت عصبيت را څرګند شو .

په سبا میجرجنرال هیلز د کابل د ښار ګورنر او نواب غلام-حسن یې همکار مقرر شو. همدارنګه دوې نظامي محکمې جوړې شوې

چې د بوپ څېړي کرنېل میک کرېګر، سر جون میجر بیلو اود یتی‌محمد حیات خان وو دوی له سیاسي پلوه د سفیر د قتل مسئله تحقیق کوله او داېي معلوموله چې امیر او د هغه وزیرانو اوسردارانو په‌سفارت د حمله کولکو سره څومره رابطه درلوده.

دوهمه محکمه د جنرال معنی تر مشري لاندې وتاکل شوه چې د متهمینو د مقدمې ساعت یې کاوه.

دا کتوبر په ۱۳ ورځ انګریزي لښکرو د کابل په ښارکې یو لوی عسکري نمایش اجرا کړ او له دې سره سم تحقیقات پیل شول او دا تحقیقات په پرله پسې بهانسو پدرګه شول.

دانګریزانو محصلان او سپاهیان د ښار پر کوروونو او کلیو ورتوی شول او په دې بهانه چې په کوم کورکې وسله ده او د تلاښۍ په‌پلمه به یې هغه لوټول.

په دغه کارونو کې ډېرې بې ناموسۍ هم وشوې او د خلکو پر ناموس د انګریزانو له‌خوا تیری وشو.

غوره مال سرداران د همکاري په نامه د دغو جنایت کارانو سره په جنایاتو کې بې برخې پاته‌ له‌شول.

دا کتوبر په ۱۶ په بالاحصار کې چې هغه خانې اوروا خیست او په هغه کې یو ځای د او پیاتنو بارو تو انفلاق د بالاحصار اکثره ودانۍ ونړولې او په‌دې پسې دراېرتس په‌امر د بالاحصار او دهغه د شاوخوا کورونه له خاور سره برابر شول.

د انګریز دسیاسی نظامی محکمې له خوا په بالاحصار کې
د انګریز دسفیر د قتل او د اوی قیام د لومړي درجې مسو لان پنځه
کسه چی په اعدام محکوم شوي وو دا کتوبر په ۲۰ ورځ دمخرو په
بالاحصار میدانونو ته په داسې حال کې راوستل شول چې شاو خوا
ځینځیران پررا پیچل شوي وواو انګریز وسله وال سپاهیان په پسې وو .
د ورځې لس بجې وې او د انګریز سپاهیانو په زور دبار د کاندار ان
دغه ځای ته راوستلی وو او انګریز داردو منصبداران هم حاضر وو .
لومړی د کابل کوتوال محمد اسلم خان د بالاحصار څخه د باندې په
دارو ځړول شو او بیا دسپاهیانو جمعیت له دغه ځایه حرکت وکړ
او د بالاحصار هغې کنډوالې ته داخل شو چې څلور ورځې وړاندې
توټې توټې شوې وه .
څلور کسه جنرال خسروخان (نورستانی) سلطان عزیزخان بارکزي ،
اغیرخان د کابل د منډوي چوکیدار او خواجه نصیرخان
دامیر یعقوب خان ملا او دستار بند چې دانګریز پر ضد یې د جهاد
فتوا ورکړې وه هر یو د بالاحصار پربوه میدان په دارو ځړول شول .
نو ر نو هغه بالاحصار چې دسپین کنګره دار دیوالو او برجا نو
او ښکلو محلو نو یې د کابل ښار ته خاصه منظره ورکړې وه د یوې
کنډوالی په شکل اوښتی وه او دښار له هرې برخې څخه د د غې
محکومې و دانی تور سو ځلی دیوالونو دښاریانو پر زړه دخوا شینی
سیوری خوراوه .
څرنګه چې د بالاحصار دیوالونه نړول شوي وواو دښار له هرې برخې
څخه د هغه پر میدانونو دار لګېدل کیدي چې انسانان به

پورې ګډول شوي وو او شاو خوا به د انګرېز سپاهیانو پېره پر ګوله.

د بالاحصار پرلویه دروازه چې یوه برخه یې لا پدلې وه د انګرېز بیرغ رپېده او لا ندې دوه توپونه پراته وو چې خولې یې د ښار خواته برابرې شوې وې. د توپو نو شا ته اوه کسه انګرېزي سپاهیان هر وخت د تیار سۍ په حال کې ولاړ وو.

د ښار خلکو چې په هره ورځ سر له خوبه را پورته کړ نو یې اختیار ره یې ستر ګې د بالاحصار میدان نو ته واوښتې او هلته چې به لو مړي شی د دوی تو جه جلبوله هغه به تازه پېدا ر ځړ پدلی د دوی ښاري وروڼه وو رابر تس دخپل نظا می ستاً فسره په شېر پو ر کې استو ګنه غوره کړه

امیر یعقوب د یو بندي په شان د مرنجان د غونډۍ په بیخ کې په یوه خېمه کې اوسېده چې انګرېزي پېره دارانو څار پر کاوه.

د کابل ښار او شاو خوا کلي و رځ تر بلې د انګرېز د چپاو لګر انو له خواتر ښار لا ندې را تلل او د مصیبت څپې را پورته کیدې.

# غچ.

د کابل د چارده سیمه کې د انګریز پر ضد د مسلح مبارزینو د یوه ستر سنګر شکل غوره کړی ؤ نو د انګریزي پلټنو د درنې ضربې بیا هم هغه پرجاري وې.

ډرابرتس د قوماندانۍ د اطلاعاتو دفتر به هره ورځ داسې رپوټونه خوراوه پر احتمال چې د دغې سیمې په کلیو کې خلک پټې جلسې کوي او په پټه یې د بسونو په ټولو لوازمو پوره کړېدي او غواړي پر انګریزانو یوه کلکه حمله وکړي.

رابرتس په یوه نظامي جرګه کې دا امر صادر کړ چې د دغې سیمې خلکوته باید سخته ضربه ورکړل شي چې د انګریز قدرت ته یې سر ونه کښته‌ږدي. د همدغه امر په اساس به هره ورځ د چارده د کلیو څخه په لس ګونو خلک په دې بهانه بیول کېدل چې دوی په پټو جرګو کې ګډون کوي. د دوی کورونه به په دې بهانه تلاشي کېدل چې سرکاري راپورونه پکې پټ شوي دي او د دغو تلاشیو په وخت کې به دا کورونه ومخزه لوټېدل.

په همدغه لړ کې د اتهري دومره زیات شو چې خلک ترحد د پاسه عصبي شول او رابرتس په دې پوه شو چې که نور هم دغه کار ته دوام ورکړي نو ځای یې د خلکو عصبیت د یداو د غره په شان سر راوچوي. رابرتس د

نو امیر په ۲۲ ورځ بیا اعلان خپور کړ چې د ده معافي د اعلان نوم ور کړی ؤ په دې اعلان کې ویل شوي وو چې کوم کسان چې د اکتوبر د ۲۱ نېټې د اعلان په وجه د انګریزانو په ورانډې محکوم وو هغوته خبر نه ویل کیږي خو په دې شرط چې خپله وسله تسلیم کړي ولې د انګریز پر سفارت چې د حملې په برخه کې کوم څوک متهم کیږي هغه به له دغه معافي څخه فایده نه اوچتوي .

د رابرتس دا اعلان بیا هم د کاغذ و پر مخ پاته شو . نه د انګریز سپاهیانو هغه ومانه او نه خلکو په دغه اعلان اعتبار وکړ . ناڅاپي چپاو نه په وهل کیدل او خلکو به هم په ناڅاپي ډول د انګریز سپاهیان ترور ول .

د همدغه اعلان د خپرېدو ورځې وې چې بیوه ورځ د قروغ د غره له لمنو څخه د انګریز د سرو بیوه ټولۍ را کښته شوه او په کلي کې ننوته شوه . په کلي کې د اکبر کلا چې د پر له پوري دیوالونو څخه یې د انګریز د یو دلګۍ مشر حرص جلب کړی ؤ نو دروازه یې د ډېر زور ټکول شوه .

د دلګۍ مشر د خپلو لسو تنو سپاهیانو سره دروازه نه یوازې په ځنځیر و ټکوله بلکې د خپلو غټو او درنو بوټونو واري یې هم پرونه سمول .

په کلا کې د اکبر یوه مورا و یوه ښځه او څو کوچنیان اوسیدل او پخپله اکبر د کور بلا یانو له ډلې سره ملګری شوی ؤ او له هغو ختو لورا په دې خوانه ؤ .

د اکبر مور دوی ته دروازه ورخلاصه کړه او په وارخطایي وویل :

ـ « زموږ کره هیڅوک نشته څه غواړی ؟ »

دلګۍ مشر په عصبیت دروازه د اسې پورې وهله چې سوین سرې ښځه په مځکه و مو ښتله او بیا انګریز وویل :

«اې زړې جادوګرې موږ ښه خبر يو چې دا کور د انګريز سرکار پر ضد يو سنګر دی او دا سنګر به موږ نن ماتوو.»

دوی نور څه ونه ويل او په چابکو ګامونو کوټه ننوتل او د کور په دالان کې کښېنستل. د اکبر وړو کوچنيانو په ژړا او وهم نارې او چغې کړې خو د اکبر ځوانې ښځې هغه کش کړل او اشپز- خانې ته يې ننه ايستل، د اکبر مور هغه په غېږ کې ونيول.

د انګريز دلګی مشر چې ځوانه ښځه وليده له دالان څخه را- ووت او اشپز خانې ته راغی. ده په زوره زوره خندل او په خندا چې عصبيت هم ورسره و، د اکبر مور ته يې وويل

«زړې جادوګرې ژر د مرغانچې څخه څو چرګې راوباسه او موږ ته يې ښوروا جوړه که چې تکور مو کړي.»

دلګی مشر بيا ځوانې ښځې ته وکتل او په لوی اواز يې وخندل په داسې حال کې چې ښځه يې ترمټ ونيوله او کشوله يې وې ويل:

«ته را څه زموږ سره چې تر ښوروا د مخه يو ګړی زړه در باندې تکور کړو.»

د ښځې چيغه پورته شوه خو د انګريز ناڅاپي او کلکې څپېړې هغه خاموشه کړه. د دلګی مشر څپېړې د ښځې ماشومان او د اکبر مور هم حيرانه او پته خوله کړه.

دلګی مشر ښځه په کشولو د الان ته راوستله. ده ښځه ټيله کړه او هغه پر مځکه کښېنستله. انګريزي دلګی مشر خپل نفر خدمت ته اشاره وکړه هغه ژر خپل کولوار خلاص کړ او د ها خوا يې يو څټ بوتل را وويوست او دلګی مشر ته يې ورو غورځاوه هغه د بوتل سر

خلاص کړ او په سر یې واړاوه د بوتل محتویات یې بوخه وچښل او بیا چې د بوتل سر تړي نو ځوانې ښځې ته یې وکتل او وې ویل :

« ته مه وارخطا کېږه موږ ستاسې میلمانه یو تاسې افغانان خو د میلمنو ښه عزت کوئ . »

کله چې انګرېزي دلګی مشر د میلمه کلمه په خوله واوړله نو اوربدونکی یو هېښ چې ملنډې وهي ده بیا لسو تنو سپایانو ته وکتل او وې ویل :

« و نیسئ بچیانو تاسې هم جشن وکړئ اوخپل سرو نه تاوده کړئ . »

هغو هم د نفر خدمت له کولو ارځه بوتلان را واخستل او په چښلو یې پیل وکړ .

دلګی مشر د ښځې پر مخ لاس تېراوه او دغې ستړکې د وحشت او وارخطایی څخه داسې ښکېنې پاتې وې تا به ویل د لګی مشر د - سپون مرمر د یوې ښکلې مجسمې په مخ لاس تېروي. دغه ښځې ته و ویل :

« شاباش دغسې موږ خوشحاله که. آفرین آفرین ! »

ښځې یو سخت تکان وخوړ څو بېرته داسې شوه لکه په خلا صو سترګو چې بیده وي او یې حرکته کښېنستله .

د لګی مشر بیو سته شراب چښل او د ښځې پر مخ و ښتانو او متوانې لاس تېراوه .

ښځه داسې معلومېدله لکه په یوه ژور چورت کې چې تللې وي . په دغه چښلو خندا او لاس وهلو کې یوه ګړۍ تېره شوه او د ښځې

په څېره کې ناڅاپه تغیر او بدلون راغی د ښځې څېره چې یوه ګړی د مخه تکه زیړه وه ورو ورو سره شوه او په سترګو کې یې سرې سرې کرښې پیدا شوې. د ښځې په څېره کې داسې څرګنده شوه چې یو نوی تصمیم یې ونیوه خو نشه پر ګمانو هغه درك نه کړ.

د انګریز دلګي مشر د ښځې د پر حال کېدو څخه ډېر خوښ شو او په ځېلو عسکرو کې یې یوه ته وویل:

- «دا ښکلې پریزادې ته ووایه چې که مو خوشحاله کړې نو ستاسې کورته به هیڅ زیان او نقصان نه در رسیږي.»

ښځې د انګریز ترجمان ته وویل:

- «پرنګي ته ووایه چې که په رښتیا زموږ کور او زما کوچنیانو ته زیان نه رسوی نو زه به ستاسې هر ډول خدمت وکړم.»

کله چې انګریز دلګي مشر د ښځې په خبرو پوه شو نو په پرق یې وخندل او هغه یې پراوږه د ناز په څاپېره ووهله او وې ویل:

- «ښکلې. ښکلې! که ته ما خوشحاله کړې نو ضمانت کوم چې هیڅ زیان به حتی ستاسې کلي ته لا هم ونه رسیږي.»

د ترجمان له خولې څخه چې ښځه د دلګي مشر په خبرو پوه شوه نو دې هم په پرق وخندل او وې ویل:

- «پرنګیه پرېږده چې زه درته ناوې شم.»

پرنګي په خوشحالي سر و ښوراوه او ښځه د دالان څخه را ووتله. د دې ترڅنګ یو سپاهی پسې ؤ او دا په انګړ کې بوې بلې کوټې ته ولاړه. کله چې دا کوټې ته ننوتله نو سپاهي د کوټې ها ته

ودرېد. لېوه ګړی نه وه تېره شوې چې د ها خوا ښځې د خپل واده د شپې کالي اغوستي وو راووتله.

دې خالونه پر مخ کتار کړي او ښکلا یې تر پخوا په سل چنده زیاته شوې وه.

هغه مهال چې د کوټې څخه راووتله او د دالان خوا ته روانه وه نو دا کهر مور چې ولیده بې اختیاره یې ناري کړې:

-«های بې حیا ښځې. دا انګریز تر جادو لاندې شوې او دا کهر پر نامه دې توره کرچه راوایستله!»

دزرې ښځې د عصبیت پوغ پر نګریانو هم واورېده او کله چې ځوانه ښځه دالان ته ورننوتله د تولو سترګې د تعجب څخه ترکو لکا نو راووتلې. ښځې پرق خندا وکړه او ولاړه د د لګی مشر څنګ ته کښېناستله.

د لګی مشر لکه خوب چې ویني د ښځې په ښکلا کې ډوب ؤ. ناڅاپه پر حال شو د ښځې پر مټ یې لاس تینګ کړ او بوتل یې پر سروار او کله چې یې بوتل ایښووده نو وې ویل:

«ته پرښته یې. ته رښتیا موږ خوشحالوې. موږ به ستاسې کور ته هیڅ نقصان ونه رسوؤ.»

د لګی مشر غوښتل چې په ښځې لاس راتاو کړي. خو هغې په اشاره پوه کړ چې دغه کار ته لا نور وخت شته او بیا یې ترجمان ته وویل:

«پر لګی ته ووایه چې زه به تر دوه ورو ستنه تا ته ځان درسپارم او اوس زه شرمېږم.»

ACKU

پرنګي چې د ترجمان خبره واورېده نو په خندا يې سر وښوراوه او پوازې په دې يې اکتفاء وکړه چې د ښځې پرمټ لاس تېر کړي .

په دغه وخت کې ښځه ولاړه شوه او وې ويل :

«اجازه راکوئ چې زه پوډې درته راوړم ؟»

انګرېز په تلوسه وويل :

«هو ! هو ! دا به دې ډېره لويه مرسته وي . موږ ډېر وږي يو .»

ښځه د دالان څخه را ووتله او کله چې آشپزخانې ته راغله د خوانې سترګې يې له ژړا څخه سرې وې او کوچنيو لادونو يې هم په تعجب و مور ته کتل .

د اکبر سپين سرې مور وويل :

«دا انګرېز ترجا دولاندې راغلي ؟»

دې خپل ګرېوان ته لاس واچاوه او بيا يې پسې وويل :

«شريفې ! کشکې ته دا کور ښځه نه وای موږ به تا ډېر په خطا وتلي و . پرنګي له دې ځان لولی کړ .»

ځوانې ښځې په بې تفاوته او مقعر ډول خوانې ته وکتل بيا يې وويل :

«د لورو خبرو وخت نشته پوروا په ځلورو کاسو کې واچوه او خوښې يې په جلاځوري کې راکه .»

سپين سرې ښځې چې اوښکې يې بهېدلې پوروا په ځلورو کاسو کې واچوله . ځوانې ښځې خوانې ته شا وروګرزوله او بيا يې له جېب څخه تور دارو په پوروا ود وړول او د آشپزخانې څخه د باندې

دوه سپاهیان چې ولاړ وو دوی کاسې یوړې او دوی بل واخستلې. ښځې دغو ښو غوري او دستر خوان پسې را واخیست. په دالان کې نشه او مستو پرنګیانو د آفرین او شاباش په کلماتو ځوانه ښځه هرکلی کړه.

دوی په ډوډۍ کښېنستل په دغه وخت کې د ځوانې ښځې دوه کوچنیان را غلل او په دروازه کې یې ناري کړې.

«مور جانې موږ هم وږي یو موږ هم ښوروا غواړو.»

ځوانې ښځې هغو ته منت وکړ خو انګریز د دلګی مشر را کش کړل ځکه ارخ ته یې کښېنول وې وویل:

«زه زه. منت مه ورته کوه دوی دې هم وخوري.»

ځوانې ښځې هغو ته داسې په لوښتوب چې دلګی مشر او سپاهیان یې هم په تعجب کې وا چول په کوچنیانو حمله وکړه او په تماله یې داسې پورې وهل چې له دېوال سره ومونښتل او د یوه تر خولې وینې را غلې.

دلګی مشر بیا کوچنیان را کش کړل. دا ځل ښځې هغه دلاسه په زور کش کړل او کلکې څاپېړې یې پر مخ ور کړې او وې ویل:

- «پرېږده دا کوچنیان پرېږده، چې ولاړ شي دلته تاسې ته تکلیف در کوي.»

دانګریز ترجمان د دلګی مشر له خولې وویل:

- «موږ نه په تکلیف کېږو پرېږده چې دلته ډوډۍ وخوري.»

ښځې بیا کوچنیان کش کړل او پر مخ یې ورحمله کړل. د هغو له مخ څخه وینې را شلې ښځې وویل:

-« موږ کوچنیان د میلمنو سره نه پریږدو.»

ماشومان چې د وارخطایۍ څخه ژړا هم پکې وچه شوې وه کله به یې مور او کله پرنګیانو ته وکتل او په خپل ماشوم فکر کې یې دا سوال پیداؤ چې زموږ مور ولې نن دومره بې رحمه شوې ده .

خو ښځې چې هرڅه زور وکړ موفقه نشوه او د لګۍ مشر کوچنیان په دستر خوان ورسره کښېنوول شوروا یې ور ته وهیسته کړه . ده ښځې ته وویل چې ونیسه ته هم ډوډۍ وخوره خو ښځې وویل چې نه داستاسې له پاره ده . د لګۍ مشر وروسته په قاطع ډول وویل :

-« که ته شوروا ونه خورې نو موږ به وواېو چې ته موږ نه خوشحاله کوې او موږ به هم له ډوډۍ څخه لاس ونیسو »

ښځې مړو ښور اوه او ژر ژر یې دوې درې کولې شوروا وخوړله . او میلمانو هم په ډېره اشتها د شوروا کاسې خالي کړې د لګۍ مشر شوروا ونه خوړله او پیالې یې غوښې وخوړلې .

ښځې په چټکۍ دستر خوان ټول کړ او په داسې حال کې چې رنګ یې آښتیدلی غوندې ښکارېده ، ناڅاپه وروغورځېده ، او دد لګۍ مشر په غاړه کې یې لاس ورواچاوه او ویې ویل :

-« ګرانه زما نور طاقت نه کیږي څه چې پیدېږو . »

پرنګي د شرابو نشې او شهوت پرغل کړی ؤ او پیاله دې چې نور څه ووایي ښځه یې په غېږ کې راواخیسته د دالان څخه راووت او په انګړ کې هغې کوټې ته راغی چې د اکبر او شرفې پالنګ پکې پروت ؤ .

کوټه ډېره ښکلې جوړه شوې وه او د پاسه یې پر دوشکه پوه خامه سره زرباپکی خوره وه .

انګرېز د لګۍ مشر چې شرېفه یې په غېږ کې را اخیستې وه او ګوتې ته یې ننه ایستله د دې سپین سرې خواږې ولیدل چې دده په لاس کې د شرابو بوتل هم دی نو تر خوله یې یوه چېغه ووتله او پسې راوې تختستل خو د د لګۍ مشر نفر خدمت چې په لارې کوږ وې روان ؤ هغې ته یې ځان ور ورساوه او یوه کلکه لغته یې په شا ورکړه چې سپین سرې پړمخه په خوله ولوېده او پټه خوله شوه.

انګرېز د لګۍ مشر چې څوانه شرېفه په کوټه کې په پالنګه واچوله نو د ډېرې نشې څخه یې نفس واهه د هغې اړخ ته پرېوت. شرېفې د بوتل سرخلاص کړ او انګرېز ته یې په اشاره ووېل چې وڅښه او په اشاره یې داور وفهموله چې د الخوارې په مستۍ کې د انګرېز سره خوشحالي جوړه کړي.

انګرېز چې د شهوت تر څپه لاندې راغلی ؤ. په لږ وخت یې بوتل واخیست پر سر یې واړاوه او تر وروستي څاڅکي پورې یې خالي کړ.

شرېفې د هغه په غاړه لاس واچاوه او ځان ته یې را کش کړ. انګرېز نور د شرابو په کېف کې دومره ډوب ؤ چې هیڅ یې په سترګو نه لیدل. دې هغه خوواره واړاوه او راواړاوه خو یې څه ستړی کړ بیا یې په اسانۍ ډول هغه راپورته کړ چې ایله یې کړ هغه بې هوښه پرېوت. دا سهال نو راولاړه شوه او د پالنګه د بالښت څخه لاندې یې یو خنجر را وېوست. هغه یې په عصبیت پورته کړ او د انګرېز د سینې برڅېره خوا یې داسې سخت په هغه کې ښخ کړ چې خنجر تر لاستي پورې د انګرېز په سینه ننوت. انګرېز سخت ټکان وخوړ او دې بیژر بر خوله لاس ورونیوه.

څوانګر پږمان چوراوه ښځې خنجر د هغه پرغاړه کېښېښو داو د هغه شارګو ته یې وړ پرې کړل. دې د انګر ېز پهوینو سره لاسونه په خپل مخ یوړي و مښل او په داسې حال کې چې ډېره یې وا که شوې وه له یا لنګه را کښېته هو هاو د یاندې راووتله .

دا د کوټې له مخ سره ولویده او خواځې یې ورته را ومغستل دا یې راپور ته کړه هلته د کوټې په منځ د انګر یز د لګی مشر پر مخکه پروت ؤ .

د شریفې خواځې هر یفې ته ووېل :

-« پرنګی دې مړ کړ ؟ »

شریفې په ربړ د یدلی آواز ور ته وې ویل :

- « هو هغه زهرونه خوړل په خنجر مې مړ کړ . »

سوین سرې ښځې و ې ویل :

- « تا سپایانو ته هم زهر ورکړي دي ؟ »

شریفې سرو ښوراوه او په داسې کلماتو کې چې د دې له وچې خولې څخه په زحمت راووتل وویل :

- « هو ! ماسپاهیانو ته زهرورکړل. پخپله مې هم وخوړل او د ؤ زامنو مې هم خوړلی دي او پرنګی مې په خنجر مړ کړ . »

دا یې وویل او نورې یې ستر ګې یتې شوې. سوین سرې ښځې دا پرېښوو له او کوټې ته ورننوتله .دې و لیدل چې دا کبراو شریفې پر پالنګ د انګریز دوینو یو ډنډ و لاړ دی .

له دې ځایه را ووتله او د الان ته راغله هلته یې و لیدل چې په کسه سپا یا ن مړه پراته دي او چې اشمدخانې ته را غله نوی لیدل

چې د شريفې دوه ګلالي زامن پوه پل په غاړه کې لاسونه اچولي او سره پراته دي.

سمېن سرې ښځې يو ځل ځوانې شريفې ته وکتل چې دواړه د شوي کالي يې په وينو لړلي مخ او لاسونه يې هم په وينو سره دي. يو ځل يې آسمان ته وکتل چې له هغه ځوا د واورې سپين ځوري را لويدل او د شريفې په ګلالي مخ مښتل اوويلې کيدل.

سمېن سرې ښځې سر وځوراوه او بيا په ارامه له کوټه ووتله. د دې ځوا دانګرېز بله ډله راغله او سمېن سرې ته يې وويل:

- «مېسترسمت ستاسې کره مېلمه ؤ؟»

سمېن سرې ښځې سر وښوراوه او ورته وې ويل:

- «هو! ورسې ټول په دغه کور کې مېلمانه دي!»

دوی په خنداور ننوتل خو هلته يې څه وليدل!؟

هغه څه چې هره ورځ د دوی سترګې ورسره اشنا شوي وې او هغه دا چې: مېسترسمت او ده اس کسيزه دلګۍ داکېرخان په کلا کې نيست او نابود شوي وو خو هغه څه چې په دغه ځای کې د دغه کلي خلکو ته په افسانه باتې شول هغه د ځوانمرګې شريفې د ځول پتسرد مېنه او له دښمن څخه سخت نفرت ؤ. (۱۰۶)

**************

# د دسمبر طوفان

د دوو ورځو راپه دې خوا د بېلو بېلو قبيلو د مشرانو جرګه روانه وه او دوی چې د پرنګي پر ضد د متشرع ملا مشك عالم د جهاد اعلان ته فدایان را ټول په دغه ورځ د وردګو یو مقتدر مشر محمد جان خان هم له دوی سره ګډون کړی و.

دا وروستی جرګه وه او تصمیم ئې ونیول شوی ؤ چې سبا به د کابل پر خوا حرکت کوي د جرګې په پیل کې ملا مشك عالم چې د ډېرې سپین ږیری تیا شخه کهنسالی اشوای او په کټ کې پروت ؤ. جرګې ته مخ وګرزاوه او وې ویل:

د ـ عزیزانو! د کابل شخه تازه احوال راورسیده چې پرنګیانو امیر محمد یعقوب خان د هغه له کورنۍ سره هندوستان ته بندي واستاوه او نور نو د دې ملك اختیار په مطلق ډول پرنګي په لاس کې اخستی دی. موږ د پرنګي سره جهاد اعلان کړ او دادی ډېر غازیان را سره ملګري دي. د پروان او لوګر خلك هم را پورته شوي دي نو د نو موږ بې واکه نه یو. زموږ د غیرت له پاره دا یوه ازموینه ده. پرنګی

هم مجهول دی او هم هر ډول وسلې لري خو زه د یو سړي په حیث تاسو ته څلویښت کاله دمخه هغه وخت در په یادوم چې ستاسې پلرونه د انګریز سره مخامخ وو. هغو پرنګي ته ورښووله چې یو غیرتمن قام څوك مړ کولای نشي او دا دی نن بیا موږ د هم هغسې ازموینې سره مخامخ یو. خو زه تاسې ته ډاډ درکوم چې اوس هم موږ بریالي یو .

موږ به کابل ته څو هلته به یا شهیدان کېږو او یا به پرنګي شړو. دا به یو داسې نیت وي چې په هغه کې به هیڅ خلل نه راځي.»

د ملا مشك عالم تر خبرو وروسته محمد جان خان وردګ وویل :

«زما ورونو. ما د پروان او لوګر د مجاهدینو له مشرانو سره په لیك او کتنو کې د جنګ پلان جوړ کړی دی او هغه دا دی چې په یوه ټاکلي وخت کې به کابل ته ورځو. پر کابل به داسې پرغل کېږي چې د سهیل له خوا به د لوګر، زرمت، منګلو او ځدرانو مجاهدین د شرخي غلام حیدر خان او لوګري سمندر خان تر مشرۍ لاندې له چار اسیاب څخه تر شیر دروازې پورې ټوله سیمه اشغالوي. د شمال له خوا به د کوهستان او تګاو غازیان د محمد عثمان خان او میر بچه خان په مشرۍ تر آسه مايي غره پورې ټوله سیمې په خپل لاس کې ونیسي موږ چې داويدويځ له خوا ورځو نیغ به د کابل پر ښار ورځېږو او په شهر پور کې به پرنګي وهو نو ر نو دا اعلانوم چې سبا له وخته حرکت دی»

ملا مشك عالم وویل:

-«زه ډېر سپین ږیری شوی یم. زما ارزو داده چې شهادت را ته په نصیب شي زما کټ به پر یوه اوبښ وتړی او له ځان سره به مې وړی هلته به مې د جنګ پر ډګر اېږدی چې هم ستاسې د سپرلۍ ننداره وکړم او هم شهادت را له په نصیب شی.»

د هرې خوا څخه ناري شوې:

«خدای دې اوږد عمر هم درله درکړي.»

ملا مشک عالم سر وخوځاوه او بیا یې دعا وکړه او د دوی سره رخصت شول.

په غزني کې دا شپه ډېره یخه وه ژمي خوله لګولې وه. مجاهدینو توله شپه وېښ وو چا خوا له سره کومه. چا تصمیمونه نیول چې د سهار نګې ترماتې وروسته به له کابله څه شی ورسره راوړي خو شپه اوږده وه او هرې خوا ته اورونه بل شوي وو.

د دغې یخې شپې په سبا وختې لښکر وتړل شو او د کابل پر خوا راروان شو. د غزني د کلیو څخه خلکو د دوی خوا ته پتوان چورول او د بامونو څخه ښځو خپل څادران په لکړو پورې تړلي وو د مجاهدینو خوا ته یې حرکت ورکاوه.

لښکر په داسې حال کې چې مشران یې تر مخه تلل او د ملا مشک عالم کټ یې پر اوبښ تړلی ؤ د کابل خوا ته راروان وو. دوی په وردګو کې تم شول او دلته یوه بله جرګه وشوه او په هغه پسې چې میدان ته را ورسېدل نو غازیانو ته وویل شول چې نور نو له دغه ځایه زموږ جنګه پیل کېږي او ښاوې پرلګی پر هغه غوسېو زموږ مخ ته راځي.

دغزني د جرګې او د پروان او لوګر د غازيانو د تصميم خبر د انګريز جاسوسانو راپرټس ته ورساوه او راپرټس د خپلو قوماندانانو په ګډون يوه نظامي جرګه جوړه کړه چې په هغه کې د امير دوست محمد دوه زامن سردار ولي محمد لاټي او سردار محمد حسن خان هم ګډون درلود.

د نظامي جرګې په پيل کې راپرټس په خپل هغه عصبيت چې ده د طبيعت خاصه وه ودرېده. سپکې سپورې يې وويلې او ناوې وويل:

«سردار ولي محمد خان د ما ته مکمل رپوټ راکړي دی او زه دادی نن تاسې ته وظايف درکوم. زموږ لومړی کار دا دی چې د مجاهدينو د يو ځای کېدو مخه ونيسو او که هغوی سره يو ځای شول نو بيا به د جنګ ابتکار ددوی په لاس کې وي.

قطعي خبر دا دی چې دارخندې او پغمان (۱۰۷) له خوا غازيان د کوهستان له غازيانو سره يو ځای کېږي نو زه قطعات او حربي نقشه داسې درکوم چې بريګېډير مېکفرسن به د دوی نوې دستې سره د افشار (۱۰۸) له لارې دارخندې او پغمان د مجاهدينو مخه ونيسي چې د کوهستان له مجاهدينو سره يو ځای نه شي او پردوی به شديده ضربه وار دوي او بريګېډير بېکر به خپله حمله پر هغو هغه وخت پيل کوي چې مات شي او له پښو به يې غورځوي.»

راپرټس بيا زياته کړه:

«ما په جلال اباد کې جنرال برايټ ته هم خبر ورکړی دی چې

د ګاڼېډ زرچمنټ به په ډېره چټکۍ د کابل خواته راوکوچوي.»

مېکفرسن د دسمبر په اتمه ورځ د اشاره لارې ترارغندي پورې ښه لښکر کتنې لاندې ونيوله او په سبا يې مېکفرسن ته راپور ورسېد چې سبا رزېن دارغندي او پغمان له خوا د کاريز مير خواته ځي او هلته د مير بچه خان لښکر هم ورته را روان دی. مېکفرسن سمدستي خپل عسکر تنظيم کړل او پر کوهستانيانو يې حمله وکړه. دا جګړه ښه توده شوه او د توپو د ډزو په اثر کوهستانيان بوخه شا ته ولاړل خو د انګرېز د لښکر څخه لفټننټ فېز هېوج او شپږ عسکر سخت ټپيان شول.

مېکفرسن شپه د سرخ کوتل او کاريز مير (۱۰۹) ترمنځ تېره کړه او په دغه شپه هم د يخوا له خوا ته د انګرېز پر ګزمو د غازيانو ډزې کېدلې.

د بريګېډير بېکر په مشرۍ چې کوم لښکر روان شوی و هغه د-ارغندي د کلي په اته میلۍ کې کمپ ولګاوه او د غزني او لوګر د مجاهدينو په انتظار کښېناستل.

رابرتس ته پرله پسې د مبارزينو د لوی تصميم اطلاعات رسېدل او هغه يې ډېر وارخطا کړی و. خو د دسمبر د يولسمې شپې په تياره کې د محمدجان خان لښکر په پټه خوله قلعه قاضي (۱۱۰) ته راتېر شو او پرنګيان يې غافل کړل. رابرتس چې د جنګ قوماندې په خپل لاس کې اخيستې وه د دسمبر په يولسم سبا يې مېکفرسن ته امر وکړ چې د بېکر خواته روان شي او مېسي انګرېز ته يې لارښوونه وکړه چې ته د کابل له ښار څخه نيغ دارغندي خواته ورشه او تر هغه وخته پورې هېڅ جګړه ونه کړې چې څو د بېکر او مېکفرسن حمله نه وي پيل شوې.

مېکفرسن ارغندي ته روان شو خو مېسي بې بخته لار غلطه کړه او ددې په عوض چې ارغندي ته د پغمان لار واخلي په چارده (۱۱) ورننوت او دا مهال د محمدجان خان لښکر په دغه ځای کې ډېره شوی و. مېسي بې سخته حمله وکړه. د مېسي عسکرو داخيال نه کاوه چې داسې ناڅاپي به د دښمن په لاس کښېوزي نو دوار خطا يې شول. د چارده په کوڅو کې تيت شول. دا مهال د کورونو له بامو څخه ښځو به تغارو په سرو ويشتل او حتى ورو هلکانو او نجونو هم پر دوی ډبرې اورولې. د چارده په کوڅو کې د مبارزينو او پرنګيانو لاس په لاس جګړه روانه وه او دا لښکر په تېښته له چارده څخه په داسې حال کې راووتې چې دغه کوڅې د دوی په وينو لړلې وې.

په سبا ورځ د انګرېز يوه بله قوه چې توپونه هم ورسره وو په اونچې باغوانان (۱۲) کې پر مبارزينو ډزې وکړې په دغه وخت کې مېکفرسن چې پرون ورځ او شپه يې د کوهستاني مبارزينو سره په جګړه تېره شوې وه. بېرته په تلوار را روان شو او کله چې يې د توپونو ډزې واورېدې نو خيال يې وکړ چې د لښکر سره جګړه ده خو لږ ګړۍ وروسته لفټننټ چمبرلين هغه ته اطلاع ورکړه چې د مېسي لښکر تباه کېږي. هغه زر ځان راورساوه خو دا نو هغه وخت و چې پر مېدان د انګرېز د لښکر سرې پراتې وو او حتى داسې زخميان يې وليدل چې نفس يې لا نه و وتلی خو د تلوار څخه انګريزي لښکرو هغه پر ځای پرېښي وو.

مېکفرسن په چټکۍ په مبارزينو پسې ځان ورساوه او ډېره سخته جګړه وشوه. د ماښام خوا ته مبارزينو د قلعه قاضي د سهيل په غونډيو کې سنګرونيو او مېکفرسن د رابرټس په امر ده مزنګ ته را ستون شو.

ACKU

ماګریګر او رابرټس ده مزنګ ته راغی او د مکفرسن په باب یې ډیر تشویش درلود چې په دغه وخت کې د سردار ولي خان لاټي بارخانه را ورسېده. لاټي سردار د رابرټس له خوا د ترکستان د ګورنر په حیث هغې خوا ته روان او یو پلټن هم د ده د ساتنې له پاره ورسره تله.

عصبي او مشوش جنرال رابرټس لکه مار چې په تو اده لښته وهل شوی سره تاو یده چې سردار ولي محمد خان د هغه حضور ته راغی. ده د رابرټس احترام وکړ او رابرټس بېله دې چې د هغه ځواب ور کړي په قهر پر ناره کړه:

« نالایقه سرداره د دغه ورځې چې همدا اوس دې د پانسي پر تخته وځوړوم تاسې سرداران پله غور مالي پل کار نه پېژنئ. نالایقه ستا ټول رپوټونه او جاسوسي غلطه راووته. تا ما ته د محمد جان خان قوت ناچیزه ښوولی ؤ خو نن دادی موږ د هغه تر داسې سختې ضربې لاندې یو چې جاني مکفرسن او بیکر دې دواړه د خپلو لښکرو سره تباه شي. لعنت پر تاسې سردارانو!»

سردار ولي محمد خان لاټي چې د رابرټس د ناڅاپي قهر هغه رپېږد یده په وارخطایي را د مخه شو او په رېږ یدلی اواز یې وویل:

«جنرال صاحب زه ملامت نه یم، ما ته همداسې اطلاعات راغلي وو او س هم زه په دې باور لرم چې د انګریز سرکار په مخ کې هیڅوک د رېدای نشي.»

رابرټس چې په قهر ده ته کتل په عصبیت یې پښه پر مځکه و وهله او وې ویل:

-«لعنت دې پر نالايقه سړي وي،اوس بيا هم هغه خوږه ما لي
كوي ؟»

سردار بيړه خوله شو او جنرال ته نورې سپکې سپورې ووېلې
بيا يې له ده څخه مخ واړاوه.

د لږه ما ښام تياره شوه او ور وورو د مکفرسن د لښکر څخه په
پاڼلي ډول سپاهيان د همزنګ ته راووښتل خو په دوی پسې مکفرسن
هم راغی.

دا مهال سردار ولي محمد په واو خطاپی راپرتس ته راغی
او وي ويل:

-«جرنيل صاحب: زما کور خوخراب شو. هغه سړي چې زما بارخانه
اوسامان ورسره وو ټول وتښتېدل او زما سامان يې هم ور سره يووړه»

راپرتس په قهر بوګمل ده ته وکتل بيا يې مخ گرځني وګرځاوه
او په داسې حال کې چې مکفرسن ته يې کتل وويل:

-ده دی دايې لايله زموږ خپل زخم بيړی شو چې اوس دسردار
صاحب بار خاله هم ورته راوګرزوو»

وروسته دوی ټوله دشېرپور پرخوا روان شول په د غه شپه
راپرتس د کابل انګرېزي نظامي ګورنر جنرال هل ته امر وکړ چې
بو الحې دشېرپور حفاظت ته متوجه شه اوبيا فتح خان قزلباش ته
وسپاره چې هغه يې اداره کړي.

راپرتس سمدستي په شېرپور کې يو ځې جرګه جوړه کړه او
دا دو سره غمجنه وه چې د انګرېز د منصبدارانو زړو نه ختلې
وړاودوي ته ځلو بېت کباله ورانده ي د انګريزدلښکرو سرنوشت په

فکر کې ورګرزېده. وخانو ته یې د تباهۍ د کندې په غاړه بېدل.

په جرګه کې رابرتس چې لکه زخمي پړانګ برله تاوېده. وویل:

- «کابل بیا عصبي شو. که مونږ په نیغه له دوی څخه میدان یو نه وړو نو لمړي نه ده چې دلته دې ښخ شو. سبا له باید ډېر سخته جګړه وکړو او زړه و نه چوو.»

میکفرسن وویل:

- «سر! ستا فرمایش قبول دی خو زموږ عسکر ډېر ژوبل دي او باید یوڅه ساه واخلي چې ستړیا یې یوڅه ایسته شي.»

رابرتس سروښوراوه او وې وویل:

- «ګرانه میکفرسنه آیا ته دا تضمین کولی شې چې که موږ سمدستي جګړې ته حاضر نشو نو دښمن دې موږ ته فرصت راکړي؟»

رابرتس بیې زیاته کړه:

- «باور وکه چې که یوه شپه هم دښمن ته فرصت ورکړو نو دخپل ځان فاتحه باید وواېو.»

میکفرسن د رابرتس دخبرې د تائید سره وویل:

- «ډېرښه سبا به زموږ حمله دیوې خوا په مبارزینو وي او دبلې خوا د بېنی حصار دخه باید وتړو چې د لوګر له خوا هم مبارزین را روان دي.»

رابرتس دمیکفرسن د ذاړه له پاره وویل:

-«هو! سبا به د مردان (۱۰۳) کاینه زهم را ورسیږي»

میکفرسن په خوشحالی سر وښوراوه او جنرال ته یې وویل:

ـ « که څه را ورسېدل نو سو به په قطعي ډول زموږ ده . »

دا جرګه په داسې حال کې پای ته ورسېده، چې د جرګې کوونکو د هر یوه په څېره کې د ستړیا او تشویش علامې څرګندې وې .

سبا د کرنیل ایف جانیکنز تر قوماندانۍ لاندې د مردان ګایډ راورسېد او د سبا څخه میکفرسن : تخت شاه څخه د مبارزینو د لرې کولو جګړه پیل کړه . دوی غوښتل چې د دېهي حصار له خوا په تخت ـ شاه کې د مبارزینو د بورې وهلو کار وکړي خو محمد جان خان پرېنږدي پوهېده، چې انګرېزان به بیا دا کار وکړي نو مخ کې یې د بیني حصار کلی په خپل لاس کې اخیستی وه .

په دغه ورځ جنګ په پاشلي ډول روان ؤ او بیګر هم په آهنه ـ برقي کې رابرتس ته حال ورکړ چې دده لار مبارزینو بنده کړېده او کوښښ به وکړي چې تن ځان کابل ته ورسوي .

په کابل کې عامه روحیه د انګرېز په ضد په څپو کې وه خو ډېر لږ شمېر څه سرداران او سوداګران چې خپلې ګټې یې د انګرېز په تسلط کې لیدلې ډېر وخطا ږې دوی هرچا پېژندل او چېرې به چې ښکاره شوه نو خلکو به توکې په ګولې او ملنډې به یې پرې وهلې .

ښار د فرنګیانو څخه خالي ؤ یوازې د شېرپور په کلا کې د انګرېز لښکر کلابند وه د کابل د آسمايي په لمنو کې پښتانه مبارزین ګرزېدل او د ډېرې څخه د توپکو د ډزو اواز نه راتلل .

په ښار کې خوشالي وه او هرچا به ویل چې فرنګي نور د لته پښې نشي ټینګولای او د هرچا په خوله د محمد جان خان غازي ، میر بچه

خان ملا مشك عالم ، غلام حیدر خان ، سمندر خان او محمد عثمان خان نومونه جاري وو.

د چار کاکه گانو به په اواز دا ترانه ویله :

او بچه انگور بخور

محمد جان خان مرد میدان است    ایوب خان شور عمران است
میر بچه خان رمن رسان است    آزادی فخر افغان است
راپت کل لاټ کلان است    بیا بیادر انگـور بخـور

(۱۱۲)

# غازی سور

دژمی د لومړی میاشتې یوه ښه ورځ د لمر په راختو داسې ښکل شوه چې په هر شي کې یو کرخت والی معلومېده. مرغۍ دونو پر وچو څانګو نو بېرې ناستې وې او هر څو مره چې به یې د لمر خوا ته ځان برابر کړ خو د لمر په پلوشو کې تودوالی نه ؤ نو ځکه به په ټمبلې په سره نژدې شوې او بیا به سره لرې شوې.

په‌ویالو کې او به کنګل شوې وې او د لمر په خاصه ژړه رڼا کې دغه پاک او شفاف یخ هم ځلانده ښکارېده. د سیند او ر په دکه غاړه هم په تونده الوتونکي مرغه چې هغه په‌ځکه پورې ټینګ شوي وه نو حتی یوه ورځ شمګه یې هم بېځایه کړو لای نشوای پوالې دونو وچ څانګونه وچې هغه به یې کله کله یو پر بل سر جنګول او یو وچ غږ به ورڅخه پورته شو.

د کلا ی قاضی ده‌وه خاورین کلی د یوې زړې کلا پخ ته د خلکو یو جمعیت راټول شوی ؤ او د دوی مخ ته وسله وال خلک ولاړوو چې مخې

ACKU

تهېي دوسله والو خلکو مشر په درند والي او متانت دوی مخاطب کړل او ورته يې وويل :

- «عزیزانو! پر پرنګی ان زموږ د ډېر خونړي پر غل وریځ ده. پرنګی نورمات دی او باید سبا ته د کابل ټول اختیار زموږ لاس ته راشي. پرنګی د پښتنو دښمن دی. دوی زموږ ونه، زامن، خوندې، مېندې، سپین ږیري سپین سرې او تور سرې را وژلي دي. موږ به له دوی څخه غچ اخلو او خپله خاوره به آزاده وو. ستاسې د حرکت لوری ستاسي د ټولو لګیو قوماندانانو ته معلوم دی. هغوی به ځای پر ځای تاسو ته لارښوونه کوي او تاسې به د هغو په امر حرکت کوئ. خو دا خبره بو باید هېره نه وي چې د زړورتوب سره باید ماهرانه حرکت وکړئ، ځکه ستاسې دښمن ډېر محیل او چمباز دی. زه نورې خبرې نه کوم خو یو ځل بیا درته وایم چې نظم به مراعات کوئ، ستاسې بریالیتوب په دې کې دی چې د دښمن سره د نظم او ترتیب له مخې وجنګېږئ.»

په دغه وخت کې ټولو په یوه آواز وویل .

- «امر پر ځای !»

خبرې کونکی داخل بوه پخه‌پټکه چې د یو شمېر پښتو ترمنځ ولاړه وه او په کتلو کې یې سخت عصبیت څرګندو مخاطب کړه او وې ویل :

- «غازي مور! یوه پښتنه مېرمن یې ستا وجود موږ ته د زړه قوت وابخښي، ستا کار تا مي زموږ د قام له پاره لوی ویاړونه په نصیب کړېدي. تا د لوګر له (خوشي) څخه بیا تر دغه ځایه چې دلته را رسېدلې یې د پرنګی سره داسې جنګونه کړېدي چې د دښمنانو په زړه کې یې ویره اچولې دی .

نن چې زموږ جګړه د کابل په کوڅو کې پیل شویده نو د اکمالاتو کار موږ پوره دی او ستا د خوښتنې له مخې ستا او ستا د ملګرو کار دا دی چې له کلالي قاضي څخه به د چاردهي په لار د علي آباد غونډ ته ځان رسوی او له هغه ځایه به پر آسمایي برغل کوي او وروستی هدف زموږ ټولو شیرپور دی چې هلته د پرنګي ځاله ده . لوړ ستاسې بریا لیدوب غوارم .»

نخبري کونکي د وروستي جملې سره معمرې ښځې چې یولاس یې په ټټر لې ملا کې د چړې پرلاستي نیولی ؤ او په بل لاس یې توپک ټینګه کړیؤ . ورو ورو سر و پوراوه او وې ویل :

«محمد جان خانه ! ته یو غیرتي پښتون یې دا دلته ولاړ غیرتي ځوانان چې ما ته د ورونو او زامنو په ډول دي داده اوس ، چې موږ به نخپلو وینو وروستي څاڅکي هم د پرنګي سره په جنګ کې تویې کړو . دا وطن زموږ دی . موږ یې ساتو . داسې یې ساتو لکه زموږ پرونیو مېړنو چې ساتلی ؤ . زه بیا تا نه داد درکوم چې یا به نن مرو او یا به دا شیرپور چې نن د ښامار ځاله خپني جوړه شویده خلاصوو . داده اوسه پښتو نه وروره !»

محمد جان خان سر وپوراوه او د مخ په وړاندې حرکت قوماندہ یې ورکړه . جنګیالي ځوانان روان شول او محمدجان خان یو نفر ته اشاره وکړه هغه آس راوست او محمد جان خان معمرې ښځې ته وویل :

« غازي مورې . ته به په دغه آس سوره شې .»

ښځې چې آس ته وکتل بیا یې په تعجب سترګې محمد جان خان ته واړولې او وې ویل:

- «محمد جان خانه! زما مېړه او زوی تر ښوارې پورې پیاده ولاړل او هلته یې د پرنګي په جنګ کې شهادت په نصیب شو. زه به څرنګه د دې خدای په ترعلي آباد پورې پر آس سوره یم؟ پرېږده چې د خپلو ملګرو سره همداسې پلې ولاړه شم. کور ودان»

دې دا وویل او روانه شوه! محمد جان خان د پښتنې غازي مور خواته وکتل او بیا یې خپلو ورو سپین ږیرو ته چې هلته ولاړو وکتل او وې ویل:

- «وګورئ. په کوم کلي کې چې داسې غیرتي ښځې وي آیا پر هغه وطن به هم د پرنګي امر وچلېږي؟»

د ولاړو سپین ږیرو څخه یوه وویل:

- «پرنګیان هم پوهېږي چې د پښتنو په وطن حکم چلول نا ممکن کار دی. خو دوی چې په بې عقلۍ هر کل دلته راځي نو دا وطن دوی ته هدیره شي. اوس به هم دوی هغه حال حتماً وویني چې پخوا نو یې دا څلوېښت کاله د مخه لیدلی وو.»

غازي مور د یو شمېر پښتنو مېرمنو په وړاندې روانه وه. دې نور کالي اغوستي وه ملا یې په سره پټکي تړلې وه او په هغه کې یې یوه غټه سپېلاوه اېښې وه. د مرمیو کتاروزه یې تر لیو اېستلې وه. او یو اوږد ټوپک یې په اوږه پروت و.

دې د مزرو څپلۍ په پښو کړې وې او د ننګ په وخت به یې کله کله سرچګک کړ او شاوخوا ته به یې نظر وځغلاوه او بیا به یې ملګرو ته مخ را وګرزاوه او ویل به یې:

«نن به خامخا ښار پوره له پرنګي څخه خلاص وو. خو که د لته هم د پرنګي سره جنګ خلاص شي نو زه به دوی په هندوستان کې لا هم پرې نږدم او دا جنګ به تر هغه وخته پورې کوم ترڅو مې شهادت په نصیب شي. د دغو غدارانو زموږ غیرتمن سړو نه او زلمي جنګیالي زامن او وروڼه را وژلي دي ترڅو د دغو ټولو کسات وانخلم دا توپک به مې له اوږې څخه لرې نه کړم.»

په دغه وخت کې د لرې څخه یوه ځوانه ښځه چې پر یو غټ هډور آس سپره وه د دوی مخ ته آس را ووساوه آس یې ودراوه او په چټکۍ را کښته شوه او د لرګي په یوه جګه نیزه پورې چې سور بیرغ تړل شوی و هغه یې غازي سور ته وړاندې کړ او وې ویل:

«دا بیرغ محمدجان خان را کړ او دا آس یې د دې له پاره راکړ چې که هر ځای غازي سور ستړی شي بیا به پر سپاره شي.»

غازي سور په چټکۍ بیرغ ځینې واخیست او وې ویل:

«کور ودان. خو محمدجان خان باید پښتنې سرمشې وپېژني. موږ نه ستړي کېږو آیا د پرنګي جنګ ته به هم ستړي کېږو؟ آس پخپله د سره روان کړه. شاید د جګړې په ډګر کې مو به کار شي د تپي او زخمي د بېولو له پاره بدله دی.»

دې دا وویل او مخ په وړاندې روانه شوه.

د چارده په کوڅو کې د کورونو څخه ښځو په کټوریو کې او به د دوی مخ ته وپاشلې او غازي سور به هغو ته د (کور ودان) جمله ویله. دا له د چارده د کوڅو څخه د علي اباد خوا ته وګرځېدل او شېبه وه چې د علي اباد غونډۍ ته ورسېدل.

د علی اباد د کلی له کورو نو څخه دوی ته څخو تو دې پوډی راوړې. غازي مور د غونډی په یوه غټه ډېره توپك تکیه کړ او دوډی یې په لاس کې واخیستله په دغه وخت کې دلېرې څخه دتوپکو ډزې او د تو پونو درز ها راوریدل کېده غازي مور وویل:

«گرانو ورونو او خوندو ! د پرنگی سره جنگ روان دی او موږ باید ډېر ژر د آسه ما یی د غرو خوا ته ځانونه ورسوو.»

دې دا وویل او خپل توپك یې بیا پراوړه کېښود روانه شوه.

په دې پسې نورې پښتنې ښځې هم روانې وې او تر دوی وروسته په یوه منظمه لیکه کې مبارزین رهی وو.

په وروستنی صف کې دوه ځوان مبارزین تله او وروو رو یې مجلس سره کاوه یوه وویل:

«نواب خانه ! دا غازي مور چې هر وخت وینم داسې مې زړه پورې مېنلی چې وایم که ددې یوه کو ته برې کېږي او زما دږوند په بدل راگرزي نو به یې نه سپمو م . ددې غیرت زه په حیرت کې اچولی یم.»

ملگري یې وخندل او وې ویل:

«ملگرېه. دا یوه ریښتیانی پښتنه ده. زه یې ډېر نږدې څخه پېژنم. دې د انگریز سره ډېر لوی جنگونه کړيدي.»

دنواب خان ملگري په تلوسه له نواب خان څخه وغوښتل چې داپه ورو پېژنی اوهغه وویل:

-« غازي مور په اصل سلیما نخیله او د کتواز ده. ددې پلار (حبیب اکا) پخپله یو زړور سړی ؤ او ه میکشا تن پر نگی د لښکر و

سره یې ډېرې غزاوې کړې وې او خلکو به (لوی اکا) هم ور ته ویل. غازي مور د لوګر په خوشۍ کې اوسېده او پروسږ کال چې د (راپټ پرنګي) لښکر پرېوار راغئ د دې مېړه او ځوان زوی د لورو پښتنو سره د هغو جګړې ته ورغلل. دوی خورا ډېر پرنګیان ووژل خو دوی هم په شهادت ورسېدل دا توپک چې اوس یې د غازي ادې پر اوږه وینې. د دې زوی د پرنګیانو څخه په ولجه وړی ؤ. او دا چې خبره شوه نو توپک یې را واخیست ملا یې و تړله او د پرنګي سره یې جنګ پیل کړ. پرنګي ته یې د سر په کاسه کې وینې ور کړې. سږ کال چې کندهاري ووژل شو او بیا د (کنجی راپټ) سره پرنګیان له علي-خېلو را روان شول نو د غازي مور دا کار ؤ چې هر کلي ته به راورسېده له هلته به یې د هغو او نورو لښکر جوړ کړ او د پرنګي مخه به یې نیوله. پرنګیان هم د ابه پېژني او راپټ وېلي دي چې هر څوک د دې سرور-وړي لوی انعام به ور کړي. دې د لوګر په خوشۍ، زرغون نهار، چار آسیا او سنګه نوشته کې دومره پرنګیان وژلي دي چې حساب یې نشته.»

دوی دا خبرې کولې چې د توپ یوه ګولۍ دوی ته نژدې ومښته او غازي مور ووېل.

-- د دادی د آسه ما یې لمنو ته راوړ سېد و. دا سې معلومېږي چې پرنګیان دا ځای اېله کوي او لښتی خو مو به یې باید پرېږدو او مخه یې ونیسو»

له دې سره یې ټولې ته وو ما ته دور کړه چې سترو اخفا و کړي او ټولې هم د غره په دره کې د دېرو شا ته ځان واچاوه. په دغه وخت

کې د انګریزانو دوامس کسو چې توپکان یې په لاس کې وو د شعرپور خوا ته ځغستل . غازي مور ناره و کړه :

« لونو راوې ګرزوی ء ! »

له دې سره ا ته تنو ښځو توپکا ن پورته کړل او ډزې یې پرو کړې چې ټولی ځینې وو یشت او پوولس یې د ځ بروشا ته سنګر شول او پردوی یې فیرونه پیل کړه . غازي مور چې د توپک نښان د هغوخوا ته برابر - اوه وې لیدل چې څوځوانا نو مبارزینو هم توپکا ن هدف ته برابر کړل غازي مور ووېل :

-« زامنو ! برییدی ء چې د ا ښکا رستاسې خو نډې و کړي . »

ځوانانو هم خپل توپکان کښته کړل . فیرونه په نژ دې فا صله کې روان وو . په دغه وخت کې غازي مور بله قوماند ه ور کړ ه :

« لونو ! چړې و باسی او مخامخ د انګریز پرسنګر ورو ځغلی ء . »

ښځو توپکان کېښوول چړ ې یې له ملا څخه راوا یستلې او په بوه تراټ یې د انګریز پر سپا یا نو ورو ځغستل . د انګریز سپا یا نو د فیر سره یوه ښځه ولویده ، او نورې د غا زي مورسره هغوی ته وروورسیدلې او لاس په لاس یې جګړ ه ور سره پیل کړ ه .

غازي مو رخپله سپلا وه ددرو پرنګیا نو په ځیګرکې ښځه کړ ه او نوروښځوهم دا پرنګیا ن په چړ و ووهل او د هغوی وسلې یې ور سر ه را وا خیستې .

په دغه و خت کې د آسه مایی څخه دا نګریز لښکر رامات شو او چې شاته یې ځغستل په دوی پسې د پښتنو لښکر را روان ؤ ا و دو ی

یې وویشتل. کله چې غازي مور ته لښکر را نژدې شو هغې خپل ټولې ته قومانده ور کړه:

- «زامنو او لونو، د پرنګي په لښکر ګډ شئ، مړه یې کړئ.»

انګریزان دوی ته متوجه نه وو چې په ناڅاپي ډول دا ښځې او ځوانان په ور ګډ شول او څرنګه چې لاس په لستوڼي جنګېدل وه د دغو دډېرو پرنګیانو خېټې ځیرې شوې نورې په وارخطایي سره پېل شول او هرې خوا ته یې ځغاستې پیل کړې.

په دغه وخت کې له مخامخ څخه یو مردک راغی او د غازي مور پر ځیګر ونښت. دا وربېږد پر له او څو ګامه یې مخ په وړاندې واخستل څو چې ولوېده. یوې ځوانې ښځې په غېږ کې ونیوله او ور ته کښېنستله د دې سر یې په غېږ کې ونیو. د غازي ادې تر سینه وینو لواره کوله او دې سترګې ورو ورو پټېدې او په پرېکړو کلماتو کې یې داویل:

- «پرنګي مه پرېږدئ! داوطن د پرنګي څخه خلاص کړئ. زه خوشاله یم چې د شهادت مرتبه را ته په نصیب شوه.»

د دغو خبرو سره د هغې سترګې پټې شوې او ځوانې ښځې د دې د ملا څخه سور پټکی را خلاص کړ او پر هوار یې کړ.

ACKU

# قهرسانه ناوې

د ۱۸۷۹ کال د دسمبر ۳، ورځ د کابل په ښار کې پر پرنګي د غلبې
په خوشحاله ورځ وه مبارزینو د دښمن قواوې وارخطا کړې وې
د تخت شاه او بیني حصار څخه د مبارزینو او انګریزانو تر منځ د
جګړې د توپونو درانه او ازونه ښار ته راتلل خود ښار خلك په دې
پوهېدل چې انګرېزان نور د قوته لوېدلي دي. په ښارکې چې به
هر څوك پوه د بله سره مخامخ شول نو مبارکي به یې سره وېله.

د ښار ځوانان ټول جنګ ته تللي وو او سپین ږیري پر کورو
یا تمبوو د ښار په سماوارونو او چای خانو کې چې به خلك راټول شوي
وو نو د دوی مجلس ټول د پرنګي د جنګ په باب ؤ د پرنګي له تېري او
چپاو څخه عصبي شوی ښار د قهر څخه د چاودنې حد ته رسېدلی ؤ خلکو
په پرنګي پلوي لځو څخه کسان چې د پرنګي له پاره يې خدمت کاوه
زياتره د نفرت هدف وو. خلکو د سردار ولي محمد لاټي او سردار ـ
محمد حسن خان نومونه په نفرت يادول. ابوالفتح خان قزلباش چې تېره
ورځ پرنګیانو ته د خوشخدمتۍ په وجه د کابل د ښار، والي مقرر
شوی ؤ زياتره د خلکو نفرت او قهر جلب کړی ؤ.

ACKU

په دغه ورځ د عاشقانو او عارفانو د کوڅې یو ځوان او مید-
ولکی عبدالله تصمیم ونیو چې د پرنګی د ماتې په خوښۍ کې د واده
شپه جوړه کړي. ده څو وخته پخوا د خپلې کوڅې یوه پېغله زړه ا
خوښتې وه خو د جنګ او نا آرامۍ په خاطر یې واده معطل ؤ او اوس
چې ټول ښار د پرنګی د ماتې او د مبارزینو د بریالیتوب په خاطر
د خوښۍ جشنونه کول نو عبدالله هم د خپل واده له پاره مناسبه ورځ
وټاکله او د واده ترتیبات یې ونیول.

دا واده سره له دې چې لوړې جوړ شوی ؤ خو د خوښۍ او ساز
و صحبت له امله محافظه ډېر په زړه پورې ؤ.

د ترغونی ماښام په وخت عبدالله خپل یاران په خپل کور کې
راټول کړل او هغو د خوښۍ سازونه ووهل او د ننه په کوټه کې
ښځو دایرې وهلې او سندرې یې ویلې.

څرنګه چې د ملي مبارزینو بریالیتوب یقیني شوی ؤ نو د مېرزا محمد-
خان د (بیا بچه انګور بخور) ترانه د ننه په انګړ کې ښځو په دایره
کې او د باندې ځوانانو د یو بل سره ویله لږ ګړی وروسته د سراچې
ځوانانو او کور ښځو سره له دې چې نه یې سره لیدل او د ستر عنعنې
اجازه نه ورکوله چې سره یو ځای شي خو په آواز کې یې د دوه کورس
په ډول دا ترانه وویله.

خندا وه مستي وه او ټول خوشحال وو ظریفو او ټوکي ځوانانو د
پرنګیانو اکټونه په ټوکو کې کول او د دوی د اولې ورځې غرور
او د نن ورځې بېره او تېښته یې د یوې کیسې په ډول تمثیلوله.

کله چې ډوډۍ وخوړل شوه نو عبدالله نوي کالي واغوستل او د زوم له کور څخه په داسې حال کې چې ښځو چادرې کړې وې او دایرې یې وهلې او ځوانانو ډول واهه د ناوې د کور خوا ته روان شول چې هلته د زوم او ناوې گوته سره کړي.

دوی د خوښۍ په څپو کې د ناوې کره ورسېدل او د ناوې د کور څخه دوی ته په خوشحالۍ هرکلی ووېل شو ناوینه په سراچه کې کښېنستل او ښځو زوم د ناوې کوټې ته ننیوست. هلته په یوه کوټه کې چې ښکلې جوړه شوې وه زوم پر تخت ودرول شو.

د کور له بلې کوټې څخه په داسې حال کې چې ښځو په دایرو کې د (آهسته برو شاه زنان آهسته برو) بدله ویله ناوې د زوم کوټې ته راوستله شوه. ځوانه او پرطنطنه ناوې چې د نکې ولې یې د مستې ځوانۍ شاهدي ویله په غرور د خپل ځوان میړه ارخ ته پر تخت ودرېدله ښځو چې څو بدلې وویلې نو د ناوې او زوم مهندو، ناوې او زوم پر تخت کښېنول او د انگر ښځو مجمع چې شمان پکښې لگېدل راواړل شوه.

د ښځو له منځه دوې نیکبختې ښځې انتخاب شوې چې د ناوې مخ لڅ کړي او د زوم او ناوې گوته ورسره کړي. د دغو ښځو چې دا وظیفه اجرا کوله لو دایره وهونکو ښځو په بدلو کې د ځوانې ناوې او زوم د ښکلا او ځوانۍ صفتونه کول.

په دې وخت کې له لیرې د جنگه د ډولو او د غازیانو د نارو غوله او زوږ اورېدل کېده کله چې د ښکلې ناوې مخ لڅ شو او بیا دوی د انگر ښځو مجمور کش کړه ځوانې ناوې خپل زړین ځای د رله سرڅخه خطا کړ او

براوړه یې ولوېده. دې په خپل ناڅاپي حرکت څخه اوزوم حیران کړل او هوک له پوهېدل چې ناوې څه کوي ځکه په دغه وخت کې ناوې حتی سترګې نه خلاصوي خو زهرا خپل ځادر هم له سره پورته کړ .

زهرا په ورندوستر کو یوځل حاضرو څخوته بیا عبدالله ته وکتل او په داسې حال کې چې په آواز کې یې دمه نې او قهراثار څرګندو عبدالله مخاطب کړ او وې ویل .

«عبدالله ته غواړې چې نن شپه زما اوستاد نکریځو جشن جوړشي؟»

هوچاغه وانه ویل او توله پته خوله وو ځوان زوم د خپلې ناوې له حرکت څخه ډوب تالمی و ناوې بیا زیاته کړه:

«یوځل څو ډو لیمه چې څه اورې به څوړ و نه مه !»

ناوې چوپ شوه او نور هم توله پته خوله وه دلته چې څخه د توپونو د درندو غورونو آواز راورسېده ناوې بیا درسته کړه :

«وادې وریدل دا دغه هغې آوازونه دي ؟ »

توله پته خوله وو اوې د خپلې پوښتنې ځواب په ځپله په داسې حال کې ورایه چې مخاطب یې عبدالله و دې وویل :

« داد توپونو ډزې دي دا ږغونه د جګړې له ډګر څخه را رسېږي په دې جګړه کې ځوانان د پرنګي سره جنګېږي »

عبدالله چې د پرنګي جنګ او د ځوانانو کلمه د خپلې ځوانې ناوې له خولې واورېدله تکان یې وخوړ او رنګ یې سور شو بیا ناوې وویل :

« په داسې حال کې چې نورو ځوانانو په جنګ کې د پرنګي

ګوليو ته سينې سپر کړې وي آيا دا به مناسبه وي چې ستا ګور ته د واده په لګرونځو سره شي ؟ »

عبدالله چې د غيرت رګونه يې په حرکت راغلي و په قهر هاوخوا وکتل او بيا يې وويل :

« زهرا ! پرنګي نور نو دشو ټول ځار نن د پرنګي د ماتې جشن نيولی دی او ما هم له د غه خاطره نن شپه واده ته وټاکله .»

ناوې سر وځوړاوه او وويې ويل :

« عبدالله جنګ نه دی خلاص پرنګي لا تر اوسه جنګيږي او توپونه يې غرغړي وهي ځوانان قرباني کيږي. څوک که هرڅوک جشنونه جوړ کړي نو نيم ژوندی پرنګي به بېرته په قوت کې شي »

دا يوه شېبه ټه خوله شوه او بيا يې په داسې کلماتو کې چې قاطع تصميم پکښې څرګندو وويل :

« زما به هغه وخت په واده سرچګه شي چې زما مېړه په جنګ کې توره ووهي. »

دا ځل زهرا په الهامي ډول مخ عبدالله ته راوګرځاوه او وويې ويل :

« ته بايد همدا اوس جنګ ته روان شې او د نورو ځوانانو سره يو ځای شې دا ما ته ډېر غوره دي چې نور ځوانان د جنګ په ميدان کې وي او ته د لته د واده، په جشن کې کښېنې. »

عبدالله چې د غيرت او قهر څخه سور اوښتی و ولاړ شو او وويې ويل :

« ګرانې زهرا زه ستا خبره منم او دا دی يوه شېبه به هم معطل

نشم زه به د جنګ ډګر ته ځم او کله چې تا ته زما د غيرت ازمويښته په ثبوت ورسيږي نو بيا به واده سره کوو.»

عبدالله په چټکۍ له تخته راکښته شو او کله چې يې د هغې ځوانې ناوې څخه خداى په اماني اخيستله د دوى دواړو په سترګو کې د مينې او محبت د دنيا ډېر معصومانه رازونه راڅرګند شول په کوټه کې ټولې ښځې حيرانې او پټه خوله ولاړې وې.

عبدالله چې د کوټې څخه راووت نو مور ته يې وويل:

«موري زما سره راځه زه همدا اوس کور ته ځم توپک اخلم او جنګ ته روانيږم.»

عبدالله تر څو او مورېې په دې پوه وه چې د ناوې له کوره راووتل. په سرا چه کې لا هم هغې الې جوړو چې عبدالله کور ته راغى خپل توپک يې واخيست او روان شو.

عبدالله په دغه پخه شپه د عاشقانو او عارفانو څخه راووت ځان يې حشمت خان کلا ته ورساوه. دى چې کله د مجاهدينو کمپ ته ور نژدې شو نو څو کسو مبارزينو چې ګزمه يې کوله راوګرزاوه خو ده وويل چې زه جنګ ته راغلى يم او غواړم چې وظيفه او ځاى مې وټاکل شي هغو په دغه سيمه کې يو کور ته بوت چې هلته يو شمېر ځوانان او معمر وسله وال خلک ناست وو.

عبدالله ځان ورته معرفي کړ او خپله ټوله کيسه يې ورته وکړه په دغه وخت کې يو معمر سړي دى مخاطب کړ او وې ويل:

«افرين دې ستا پر ناوې او په تاسې وي چې داسې غيرتمنې

ناوې او داسې ښارتې ځوانان لرو نو څرنګه به پرنګي پر موږ بریالي کېږي؟»

بیا دغه معمر سړي ده ته وویل :

«ځوانه له لرې راغلی یې هوا هم زښته یخه ده تود چای وڅښه بیا به نورې خبرې کوو.»

په دغه وخت کې په یوه لوی تور چای جوش کې چای راوړل شو او ټولو د چای په څښلو پیل وکړ.

کله چې عبدالله چای څښله معمر سړي چې د مبارزینو د یوې ټولګې قوماندان و، خپلو ملګرو ته کیسه کوله او وې ویل:

«د پرنګي زور توان ختم دی دوی غوښتل چې د کندهار قواوې هم مرستې ته را ورسېږي خو په شاجوی کې د مېر احمد خان زوی صاحب جان د خپلو ملګرو سره داسې جنګ ورسره وکړ چې هغه بېرته د کندهار ښار ته وګرځېده.»

د معمر سړي په ځواب کې یو ځوان چې خپل ټوپک یې په غېږ کې اېښی و او څنګلې یې په تکیه کړې وې وویل:

«هو! ماما کیسه وا ورېدله آفرین په صاحب جان، په ډېرو لږو خلکو یې د پرنګي یوه منظمه قوه پر شا وتمبوله له دغه دی شهرت!»

معمر سړي بیا وویل :

«یارانو سبا له به موږ ډېر تود او دروند جنګ په مخ کې لرو پرنګي ته د جلال اباد څخه نوی لښکر را رسېدلی دی او زموږ مشران هم نن شپه په چار آسیا کې لویه غونډه لري او که خیر و سبا له

په پرنګی دښمن پور په چونی کې تخته کړو او کله چې دغه ګردام ته ورو لوېد نو بیا یې چاره اسانه ده »

تولو په خوشحالی دمحمد سرې په ځواب کې وویل :

« هو! صبا به په جنګ وي او موږ به پرنګی ته داورو ښیو چې د یوه من اوړو څخه څو پتری جوړیږي . »

په دغه وخت کې یوه ځوان دمحمد سرې څخه پوښتنه وکړه .

« د کندهار له حاله خو یو څه خبر یم خو د جلال اباد له حاله خبر نه یم هلته څه حال دی ؟ »

محمد سرې چې په لهجه او د کلما تو په ادا کې یې وقار او غرور ښکاره ؤ وویل :

« هلته هم د پرنګی پښې ختلې دي عصمت الله خان جبار خیل د لغمان او سره رود دخلکو سره په پرنګی سورا ور پل کړېدی »

په دغه وخت کې عبدالله دخان سره فکر کاوه چې کشکې له اول څخه ددغو ځوانانو سره ملګری وای ده ته دځوانانو دغه بامسولیته انداز ډېره مزه ورکړې وه چې دوطن دمسئلو په باب پوهیږي او په هر څه خبر دي .

په دغه وخت کې عبدالله دچاېو وروستی پیاله چښلې وه چې محمد سرې مخاطب کړ او ورته یې وویل :

«عبدالله جانه ته ډېر نیکمرغه سړی یې چې داسې خبر آمنه څخه دي په نصیب شو پرده موږ په جنګ کې یو ، دا جنګ د پرنګی سره جنګ دی په دې جنګ کې به یا شهید شې یا به غازي شې چې دا دواړه دوه پاره ډک دي خوږه

پوهېږم چې په لکه غاړه به غازي کورته ولاړ شي او هلته به دوباره بیا واده جوړ کړي خو موږ به نه هېروي موږ به ستا ناوې په ښه ډولۍ کې ستا کورله راوړو. په جنګ کې دا خو شرطه په یاد لره چې موږ ته خپلو مشرانو ویلي دي. د ټوپک مرمۍ به دې بېځایه نه مصرفوې او داسې حساب به کوې چې په هره مرمۍ باید دوه پرنګیان مړه کړې د ازرو توب نه دی چې پر دښمن مخامخ ورو ځغلې پرنګي دې ور چمبا زه دي او ځان به هم ستا تې چې بې ځایه ضایع اشې. ملګرې که دې ټپي یا شهید شي پر میدان به یې نه پرېږدې او هغو تاکلو ځایونو ته به یې رسوې چې د روبه جوړول شي. دوهم تل شوي د دښمن وسله به اخلې او هغه به هم تاکلي ځای ته تسلیموې که د دښمن افسر یا عسکر په لاس در شي او تسلیم شي وژنې به یې نه او لاسونه به یې د هغه په خپل کمربند وتړې او د خپل ټولي تاکلي خلکو ته به یې تسلیموې.»

عبدالله د معمر سړي خبرې واورېدې او په اوچت آواز یې وویل:

«قبول! ټول مې واورېده همدغسې به کوم!»

معمر سړي وویل:

«اوس به لږ ولږ استراحت وکړو او سبا له به جنګ کوو.»

دوی پرېوتل او سبا وختي له خوبه راکښېناستل او په دغه وخت کې د توپ یوه ډزه وشوه او دوی ټول د پېښي حصار خوا ته روان شول.

ACKU

# شپږمه نغمه

د کابل د اسمان مخ د سپینا په روښنا ئی سپین شوی ؤ او هغه نور باده چې راوالوتنو د چنارانو د پاڼو څخه اخښې ځانګې ئې داسې پر پر بل سره وهلې چې سړي ې وېل چکچکې کوي.

د کارګانو تور او بې نظمه سیلو نه دی خوا او ها خوا ته الوتل او د ونو په لخوا خوځو او د دوی منظري سترګو ته هیڅ خوبي نه ورپخښله او پخوا واز ونو ئې غوږونه زهیرول.

د سنګه لوشتې په شاو خوا کې باچې په لتی په لاښ شوې اتمو کې ګرزېدلې او دوی چې د خوړلو را په دې خوا د انساناتو په لاښو لو روړ دي شوي وو نو د حرص څخه په ړکو سترګو ئې هره لوړه ژوره ځاوله څو کوم لاښ پیدا کړي او تر هر هغه وراندې د هغو سترګې و باسي.

د یوئی حصار له خوا څخه د پاشلو نورونو او ازونه اورېدل کېدل او کله کله په ددول او غ هم د باد په څپو کې را ورسېده.

د چار آسیاله لارې د میار زیتو یو لښکر د خوو ر په تر تیب مخ پر یوئی حصار را روان و، ددې لښکر په مخ کې سمندر خان لوګري په آس سپور ؤ او په ده پسې یورغ ورل کېده کله چې دا لښکر د

شهدای صالحین څخه د تخت شاه خوا ته ورګرزېده د لېرې څخه د توپونو درانه ډزونه وشول.

لمرېښه یوه نېزه را پورته شوې وه چې د قلعه قاضي څخه د محمد جان خان وردګ او د هغه د ورور محمد افضل خان په مشرۍ د مبارزینو لښکر د دهمزنګ خوا ته مارش پیل کړ او د آسه مایي غرونې په هدف نیولی وه.

په همدغه وخت کې د میر بچه خان او محمد عثمان خان تګاوي په مشرۍ بل لښکر د خیرخانې او تپه مارانجان څخه سیخ د ښار شور بازار ور روان شو.

د انګریز قواوې چې په شېرپور کې پرځای شوې وې د دښمن په ورخ د سپاه څخه دوو خواوو ته متوجه شوې.

له دوی سره ډېر سخت تشویش و ځکه دوی فکر کاوه چې د افغانانو حرکت تاکتیکي دی او غواړي چې دوی د باندې په جنګ مصروف کړي او په خپله د شېرپور چوڼۍ ونیسي نو ځکه رابرتس په شېرپور کې پاته شو او د چوڼۍ حفاظت یې په خپله په غاړه واخیست.

د بېنې حصار څخه د غلام حیدر خان خرخي په قوماندانۍ افغاني مبارزینو ډېر ژر پر تخت شاه غلبه وکړه او سره له دې چې د توپونو درانه ډزونه پر کېدل خو د کابل د ښار په جنوب برخه کې همدا سوق الجیشي ځای پوله د مبارزینو په لاس ورغلل.

د محمد جان خان قواوې هم پر چاردهي را تاو شوې او د بابر باغ ته یې ځانونه ورسول او د دهمزنګ دروازه یې په هدف ونیوه له خود

تاوده جنګ محاذ د محمد عثمان خان تګاوي وچې دانګرېز مرکزي قوا وګاه شیرپور ته یې ترفشار لاندې نیولې و .

دوی دچونۍ له خوا د توپو او تر ډزو او فیرونو لاندې وو او هرڅه کوښښ چې یې وکړ د لویدیځ پلو څخه پر پالی اشول نو په داسې حال کې چې دمبارز پښتو او چونۍ د ساتونکو ترمنځ فیرو له سبا د له کندلمیر بچه خان او محمدعثمانخان تګاوي دخواجه بغرا (۱۱۶) په کلي کې یوه نوري پوځي جرګه جوړه کړه چې په هغه کې جلندر خان تتمدره ای پرزوخان تتمدره ای فتح محمد خان باباني محمد شاه خان کالوانګه محمد شاه خان د محمد عثمان خان تګاوي ورور سرور خان پرواني میر درویش خان بابا قشقاري محمد عظیم خان باباني او عبدالسمیع خان باباني په هغه کې ګډون کړی .

په جرګه کې تصمیم ونیول شو چې د مبارزینو د لښکر دوې برخې شي چې یوه یې د لویدیځ لـه خوا پر شیرپور ورشي او د لښکر دوهمه برخه دې دخواجه بغرا څخه پر خواجه رواش(۱۱۷) را تاوشي او خان دې د بی بی مهرو غونډۍ ته ورسوي او له هغې خوا دې شیرپور ترحملې لاندې ونیسي د دغې جبهې قوماندانی محمد عثمانخان تګاوي په غاړه واخیستله دغرمې یوه بجه وه چې د بی بی مهرو له خوا پر شیر-پور حمله وشوه دا جنګ دومره شدید و چې د توپ آن له مخې د کابل فضا توپونو په دود کې تکه توره و اوښته .

را پرتس هغې قوې ته چې د مرنجان غونډۍ ته لیږل شوې وه

چې د بېنی حصار او لته بند له لارې د مبارزینو مخه له شېرپور څخه وګرځوي سمدستي امر ورکړ چې شېرپور ته را وګرځي.

جګړه په شدت روانه وه چې د میکفرسن قواوې شېرپور ته رانژ-شوې د لته د محمد عثمانخان تګاوي لښکر له بلې خوا پر شېرپور حمله جاري ساتله او دېلي خواوې چې د میکفرسن هغه قواوې په دوی یې حمله کړې وه دفاع کوله دا مبارزین له مخ او شا څخه د دښمن تر-فېر لاندې وو خود میکفرسن تر شادلو کرد مبارزینو حمله هم د میکفرسن په قوو جاري وه.

د لوېدیځ له خوا د مېر بچه خان لښکر د غې صحنې ته را ورسېد او ساعت نه ؤ تېر شوی چې د شېرپور مخې ته په سوو نومړي ولوېدل او دوهنو ډنې ونه ودرېدل.

محمد عثمانخان تګاوي پر له پسې پر مبارزینو ناري وهلې چې مخ په وړاندې په دغه وخت کې یو په بل پسې دوې مرمی د ده په ځیګر کې ولګېدې او پر میدان پرېوت دو نفرو مبارزینو دی له میدانه بهر ته کړ او د یوې ونې لرخ ته یې کښېښود د محمد عثمان خان له سینې څخه وینه وبهېدله ولاړې او تر هغه کړی پورې چې سترګې یې پوتېدلې پرله پسې پوښتنه کوله چې مبارزین څومره کلا ته ورننوتي شوي دي. ؟

دا ورځ یوه د طوفان ورځ وه د توپونو غړومبهار د کابل په دره کې محشر جوړ کړی ؤ او د جګړې کړی وار په وار را تنګېدله او په پای کې د دوارو خواوو عسکرو برچې پر توپکو سپرې کړې او لاس په لاس جګړه پېل شوه.

دمحمدعثمان خان دلښکر زياته برخه شهيدان شول خو ميکفرسن دچونۍ دروازې ته لار پيدا کړه د ده پر عسکرو چې د ښار له خوا ورتله روان وو پوه لوېه برخه يې ضايع شوې وه په دغه ګېرو دار کې پوځوان قدم په قدم دښمن تعقيبا وه او هر فير چې به يې وکړ نو د توپک ګولۍ يې خطا نه تله او حتماً به يې يو نفر له پښو غورځاوه په دغه وخت کې له مخامخ څخه يو ګولۍ راغله او په تندي يې ونښتله دی و لوېد خود ارخ ملګري په غېږ کې ونيو او خپل بل ملګري ته يې ور ږغ کړ.

« راشه چې د براى شوي زوم په شهادت ورسېد . »

ملګري يې په چټکۍ راغى او چې ور ته وې کتل دعبدالله د سترګو تور ولاړل او دوه وار يې خوله خلاصه کړه دروند نفس يې وکېښ او آرام شو.

پوه ملګري بل ته وويل :

« ته دى داسې معلوم ځاى پرېباسه دا ځوان شهيد خپلې ناوې ته ورسوه »

دوى عبدالله پر پوست او دهغه پتو چې تر ملا يې تړلې و راخلاص کړ او په هوار يې کړ نور دوى په جګړه پيل وکړ.

جګړه وار په وار له پخوانى شدت څخه ولېدله او انګرېزان په شېرپور ننوتل او ځانونه يې دمبارزينو محاصرې ته وسپارل.

مازيګرو خواته پيله د شېرپور له چونۍ څخه نور ټول کابل

د مبارزینو په لاس کې و لوېدا او په ښار کې د خوشحالی مبارکی ووېل ته سره وو کړل شوې.

په دغه وخت کې دمبارزینو مشران سره راټول شول او یوه جرګه یې جوړه کړه دوی په اتفاق سره ملامشك عالم دکابل والی وټاکه (۱۱۸)

محمد جان خان وردك یې د جنرال په نامه یاد کړ او بیا یې دشېرپور محاصرې لپاره چې انګرېز هیڅ خوا ته لاس وښپه ونه پوروي محمد جان خان میر بچه خان، غلام حیدر خان، سمندر خان او جرنیل شېرمحمد خان مؤظف کړل او هغو هم دمحاصرې پلان ترتیب او تر عمل لاندې ونیوه.

دوی ټول خپلو وظایفو ته روان شول او هغو دوملګرو د عبدالله جنازه راواخیستله عاشقان او عارفان ته یې راوړه دوی دیوه نانوای له دکان څخه دعبدالله د کور پته واخیستله او کله چې یې دعبدالله جنازه دده کور ته ننیستله مور یې په ژړا ناري کړې په کوڅه کې خوانان او زاړه راټول شول په دغه وخت کې دمخامخ کوڅې څخه یوه څوانه ښځه له یوې دروازې څخه راووتله او په ډېر متانت او آرامی د عبدالله کورته راغله.

دا چې انګړ ته داخله شوه دخپل شا در پلوېي یو ر ته کړ په دغه وخت کې د عبدالله مورد هغې په غاړه کې لاس واچوه او په ژړا یې ورناره کړه چې عبدالله څوانمرګ شو.

زهرا دعبدالله ناوې پته خوله ولاړه وه او کله چې دعبدالله مور هرڅا ته په ژړا ناري و هلې چې عبدالله څوانمرګ شو زهرا هغه مخاطب کړه او وې ویل:

«مور جانې عبد الله شهید شو زما زړه همداسې دی لکه دعبدالله زخمی تندی، خو زموږ دپرنګی سره جنګ دیاو په دې جنګ کې زموږ دپرځوانانودعبد الله په ډول شهیدان شو یدي.»

د ځوانې زهرا خبرو د عبد الله مور پوخه ارامه کړه او بیا زهرا و ویل:

«زه به دمرګ ترګړیه د عبد الله پر نامه نا سته یم او تا ته به دپوې لور او عبد الله په شان خدمت وکړم دادی زه اوس ستا کور ته راغلې یم او بیا به له دغه کوره نه ځم»

ځوانه ښځه پټه خو له شوه او څو شیبې همداسې و لاړه وه او دځوان عبد الله زخمی تندي ته یې کتل بیا یې وو یل:

«که زما ژوند له عبد الله څخه قربانی کیدای ماخو به دروغ کړی نه وای خو څه وکړو. په دې زه و یاړم چې زما میړه دپرنګی په جنګ کې شهید شو او دا نوم به زه ترمرګه ساتم.»

په دغه وخت کې زهرا د هغه پر زخمې او په و ینو لړلی تندي گوته کښېښوله او بیا یې هغه برخول تندي کښېښود له چې ددې پر تندي دوینو یوه سره نښه پاتې شوه.

په دغه وخت کې له لیرې څخه د ډولونو او ازو نه غوږو ته ورسیدل او حاضر ینو چې دعبد الله مړی د غسل له پاره جمات ته وا خیست نوویل یې «دا ډول دسپا رز ینو له خوا دکابل د فتح ډول دی!»

په کابل کې ډور خلك زړو رډول او دملا مشك عالم له خوا امر صادر شو چې دهغو سرداران کورونه چې دانگریز سره یې مرسته

کړې وي دحکومت په واك کې دي. د کابل له زندانو نو څخه هغه بندیان راوخوشې شول چې انګریزانو او سردارانو په جېل کې اچولي وو

دد سمبر په ۱۰ ورځې ترسختې جګړې وروسته انګریزان د شېرپور په‌چوڼۍ کې کلابند شول او ملي مبارزینو د کلا د دیوالونو ها ته ورته پرېوتل .

مبارزینو کوښښ وکړ چې کلا ماته کړي خود دښمن قوي توپونو دهغوی مخه ونیوله وروسته ملي مبارزینو د کابل ښار ته اعلان وکړ چې دوی به دد سمبر په ۲۳ د شېرپور مخته حمله کوي او د انګریز لښکر به یو مخیزه وژني .

ددغه اعلان له خپرېدو سره انګریزان په دې پوه شول چې ژر تر ژره به یوه بله خطر ناکه وسله لاس ووهي او د اوسله نو به رښتیا اغېزه ناکه وه . راپرتس په شېرپور کې د خپلو انګریزي همکارانو او هغو مرتجع سردارانو څخه چې د دوی سره په شېرپور کې محاصره شوي وو. د دوی په سر کې سردار ولي محمد لاټی و ، سره راټول شول .

دوی فیصله وکړه چې هغو شهیر مرتجعین په پیسو راضي کړي چې له کابله یو څه لرې داسې جګړه وچلوي چې د مبارزینو مخه هغې خواته وګرزي .

ددغه تفتین له پاره غزني ډېره په زړه پورې سیمه وبلل شوه .

راپرتس او سردار ولي محمد لاټي د خواجه جان کوهستاني دوو ورونو صاحبزاده میراقا او صاحب زاده غلام حیدر په مشوره په غزني کې

کرنیل ولی الله خان تحریک کړ چې هلته د ملي مبارزینو عبدالقادر خان تاجک او گل محمد خان اندړ پر ضد کار پیل کړي.

د بلې خوا یې دوه نور سترگ وړي مرتجعون زرپادشاه خان او محمد خان سرخابي ته د شپېتو زرو کلدارو رشوت وعده ورکړه او دوی یې دې ته موظف کړل چې د ملي مبارزینو تر منځ د مخالفت اور بل کړي او ضمناً په ملي مبارزینو کې خپل خلک د جگړې له ډگره وباسي.

دغو مرتجعینو دغه کار وکړ خو کله چې هغو ته د شپېتو زرو کلدارو صندوق وسپارل شو نو هغو ژر کورته یو وړ خو هلته یې ولیدل چې په صندوق کې تر لاندې ډبرې او کچ اچول شوی وا او سربېره کلداري پرې پرتې وې دا سهال نو هغو خپلو ځانو او پرنگیانو ته په کنځاو پیل وکړ.

د کرنیل ولی الله خان په تحریک په غزني کې د هغو مبارزینو پر کورونو برغل وشو چې په کابل کې د انگریز پر ضد جنگېدل د دوی کورونه وسوځل شو او ښځې یې وتښتول شوې.

کله چې دا احوال په کابل کې د غزني مبارزینو ته ورسېد هغوی په ډېر تشویش کې شول او سمدستي د جگړې له ډگر څخه ژر ا ووتل. همدارنگه د پروان او کوهستان مبارزین هم د صاحب زاده میر اقا او صاحبزاده غلام حیدر په خاینانه تبلیغ له ډگر څخه ووتل.

د دغو ټولو مشکلاتو سره د دسمبر په ۲۳ ورځ سهار وختي چې د سپیا ړنیا لا نه وه خپره شوې د آسمايي او شېردروازې پر غرونو

ACKU

داور دوړې څڅې لمبې وشوې او مبارزینو د کابل ښار ته په دې خبر کړ چې دوی نن پر ښهر پوره سخت برغل کوي.

دا سخت برغل د ورځې پر ۹ بجو پیل شو او تر ماښیګر پورې په ډېر شدت جاري واو انګریزان ډېرو ارتخطاشول خو سبا د سمبر په ۲۴ د مبارزینو شمېر ډېر کم شو ځکه دغزني او کوهستان او لوګر مبارزین دخپلو کورونو له پلوه مشوش شوي وو او د جګړې له ډګر څخه وتلي وو.

دسمبر په ۲۵ ورځ دانګریزانو داختر (کرسمس ۱۱۹) ورځ وه، د کابل ښار د مبارزینو څخه خالي واو انګریزانو په ډېره خوښۍ جشن وکړ او یو ځل بیا د کابل ښار ته راووتل او لانې سردار ولي محمد یې دښار والي مقرر کړ.

مکګرسن په دغه ورځ دښهر پور په شاو خوا کې دپوښمېر کلیو د ړنګولو او هوارولو کار پیل کړ او د کابل پر ښار یو ځل بیا د مصیبتونو دور پیل شو.

خورا پرتس په دې پوه شو چې نور دوی دلته نشي پاتې کیدای او باید اساسي کار وکړي نو داؤ چې دهندوستان وایسرای ته یې خبرورکړ چې افغانستان باید ټوټې ټوټې شي او پر بېلو بېلو مستقلو ولایاتو تقسیم شي.

# په هرات کې

د هرات پر پراخه وادي د نشاطه ډک سپرلي خپله د ګلانو که لمن راغوړولې وه هرې خوا ته ګلان راټوکېدلي وو او د هرې ناوې د ګلانو مشهور موسم پیل شوی و.

د اسمان مخ په کله او ورېځو پوښلی او د مرغارو په شان به پټ غټ څاڅکي وا ورول او بیا به د غوړ باران دوادي شنه درا الوتی شوخ باد په منډو ګډه و ورېځې وشړل شوې او د لمر زرینې پلوشې به خورې شوې.

د دښت پر اطراف او ته زرغونه فرش دغاټول سره ګلان کتار شوي وو او د هوا په څپو کې د نمجنو خاورو او دښتي وحشي ګلانو خوشبوي هرې خوا ته خوره وله.

د هرات له چارشخه د باندې د رباط غوروان په باغ کې د ډېرو ونو تازه شګوفې سپړلې وې او د ګلانو بوټي په ګلانو پارو و او د مرسل شوخې ښکلا د دغې پسرلني منظرې په رنګه آمېزې کې لویه برخه اخیستې وه.

د باغ په منځ کې لوی تعمیر معلول شوی ؤ چې د ننه یې ډېرې ښکلې کوټې ښکې هوارې وې او د ډېر وخت باغبانان ورته پراته وو.

د تعمیر مخې ته په درې کتاره کې د گلانو کنډالې ایښودل شوې وې او د هغو منځ ته د زلالو اوبو لښتې له جړوبو څخه نرم آواز پورته کړه.

په تعمیر کې د مهمو خلکو جرگه روانه وه دوی په ترتیب سره ناست او داسې ښکارېدل چې د یوې ډېرې مهمې مسئلې په باب بسه قاطع او پرېکړې ي تصمیمونه لري.

په تعمیر کې پورته خواته ایوب خان چې څټ خمټ ځوان ؤ ناست ؤ ده شمځه لنگی تړلې وه او پر کالو یې کرتی اغوستی وه او چوغه یې پراوړه وه.

د ده په نافذو کتو کې دا څرگنده وه چې پر مجلس پوره نفوذ لري.

ایوب خان چې د مجلس د یوه غړي د پوښتنې په ځواب کې لږه توضیح ورکړه، نو بیا یې مخ یو بل ځوان سړي ته وگرزاوه چې هغه هم دده په شان کالی اغوستي وو او وې ویل :

« لوبناب صاحب ستاسو نظر دی زه وایم چې په حرکت کې باید عجله او تلوار ونه کړو ځکه موږ ته لا پوره احوال معلوم نه دی او په دې خبر نه یو چې د کابل تر واقعاتو وروسته به انگرېز څه غواړي ؟ »

لوبنات خوشدل خان سروچو را وه او ځواب یې ورکړ :

« زه هم په دغه عقیده یم خو زموږ ملتني هم قناعت غواړي مخصوصاً

ACKU

کـابلي پلټنې د کابل د پښو څخه ډېرې آوازې اورې او د خپلو کورونو په باب تشويش لري نو ځکه غواړي چې ژر د کندهار خواته حرکت وکړي.»

د لوېنات تـر خبرې وروسته نـايب سالار حفيظ الله خان لوګري (۱۲۰) چې نظامي کالي يې اغوستي وو وويل:

«ﮐﻪ موږ خپلو پلټنو ته قناعت ورنه کړو نوزه تشويش لرم چې هغه به په خپل سر يو داسې کار وکړي چې عواقب به يې موږ تـه د ډېرې ناوړې نتيجې ولري.»

ايوب خان چې د لوېنات او سپه سالارخبرو ته متوجه ؤ وويل:

«ما په دې څه کې فيض محمد خان ته خبرور کړی دی او له دې څخه نا چاره يو چې د هغه د لښکر تر را رسيدلو پورې معطل شو.»

جنرال تاج محمد خان چې نايب سالارحفيظ الله خان ته کتل وې ويل:

«په کابل کې د انګريز ما تې زموږ د پلټنو نوروحيه ډېره قوي کړې ده او په دې هم غورا سخت عصبي دي چې انګريزانو د افغانستان امور يې بندي هندوستان ته لېږلی دی نو هرڅومره چې ژر د حرکت پلان جوړ شي هغومره به زموږ عسکر په تود ه وينه کې وي.»

ايوب خان سرو ښو راوه او په داسې حال کې چې د مجلس يو بل غړي ته يې وکتل وې ويل:

دسيدال خان نه! د خان اغا ی جمشيدي او جهانداد قبچاق (۱۲۱) درك دې ونه کـړ؟» دمخه تر دې چې سيدال خان هغه ته ځواب ورکړي

دايوب خان په غوره کې عصبيت څرګند شو او په داسې حال کې چې او ښتاب خوشدل خان ته يې کتل وويل :

«دادی زما د پلار کار دغو خائنانو ته يې هم په خپله غېږ کې ځای ورکړی ژ جمشيدی او جهانداد قبچاق چې ده د فرزند خطاب ور ته کاوه اوس د ورنګي فرزندان شول او نن يې د انګريز مردارې پسې يې ملا تړلې او د کابل څخه هرات ته راغلي او دلته غوارې زموږ په عسکرو کې فتنه او اشوب پاخوي . »

ايوب خان بيا سيدال خان ته وکتل او سيدال خان وويل :

« تر اوسه خوبې موږ دولت نه دی معلوم کړی خو زما د پسر ور ز به ده نفر پسې دي او غواړو چې ژوندی يې راپسو . »

ايوب خان په عصبيت وويل :

« په ژوندي پسې يې مه ګرزئ چې په لاس درشي سمد ستی يې د سهو په شان مردار کړئ . »

د ايوب خان د توندې لهجې څخه مجلس پته خوله شو او بيا ايوب خان د مجلس له يوه غړي څخه پوښتنه وکړه :

ـ « احمدګل خانه ! آيا زموږ توپخانه به تر کند هاره پورې سالمه ورسيږي ؟ »

هغه خبره کوله چې او ښتاب وويل :

ـ « د بارانو موسم دی او موږ له دې ځايه تر کند هاره پورې د هريرود ، شين ډنډ ، جوجې ، فراه رود ، خاشرود ، هلمند او ارغنداب رودونه په مخ کې لرو او دا رودونه تر آب خيزی لاندې دي . »

د لوینباب د خبرې تا ڼمد احمد ګل خان د سر په چوړ دو وکړ او په دغه وخت کې نایب سالار حفیظ الله خان وویل :

ـ « د باران او د موسم سړدي او آب خیزي ورو سته پیل کیږي که داسې انتظار باسو نو لږ تر لږه شپږ میاشتې باید حرکت ونه کړو »

ایوب خان په فکر کې ولاړ او لوینباب چې ده ته کتل نایب سالار یې مخاطب کړ او وې ویل :

ـ « زه د سمدستي حرکت طرفدار یم خو څو خبرې باید تر مخه معلومې شي د کابل د جریانا تو څخه باید و مکمل ریوټ واخلو د ښمنې څخه باید د جنرال فیض محمد خان درك معلوم شي . د اراه څخه د محمد یوسف خان حال راوسیږي د زمینداور او پشت رود (۱۲۲) د عایدو حال او درك معلوم شي او د کندهار اوضاع معلومه شي دا ټول چې وشو نو زموږ حرکت نه په منظم ډول پیل شي او تر هغه پخوا زه مصلحت نه درکوم . »

نایب سالار د لوینباب د خبرو په اوریدلو سره قانع شو خو دخپل تشویش د پوره ایسته کیدو له پاره یې پوښتنه وکړه .

ـ « آیا زموږ د غوبړه معطلي به په زیان تمامه نشي؟ »

لوینباب په خبرو خوله پورې کوله چې ایوب خان وویل :

« دا ناچاري ده څه باید وکړو پوانځې به دي باید زور ولګوو چې زموږ معلومات او اطلاعات ډیر ژر تکمیل شي او مخصوصاً د اراه او هلمند درك چې معلوم شوی نه وي نو زموږ روانیدل به داسې وي لکه سړی چې په تیاره کې توپ وهي . »

نایب سالار څوشېبې پټه خوله ؤ بیا یې لوی‌ښاب ته وویل :

« لوی‌ښاب صاحب دا نو ستاسې کار دی چې په هرڅومره ژر وخت کې ممکن وي باید دغه کارونه تکمیل شي چې حرکت وکړو . »

لوی‌ښاب سر وخوراوه او ایوب خان تاج محمد خان جبار خیل مخاطب کړ او وې ویل :

- « جنرال تاج محمد خانه ستا او نورو ملګرو ډېره مهمه وظیفه دا ده چې د نایب سالار صاحب تر لارښوونو لاندې پلټنې په دې قانع کړې چې سمدستي حرکت په ګټه نه دی او موږ به داسې پر دښمن ورځو چې د هرې خوا لار معلومه وي . »

ایوب خان بیا کرار وخندل او سرتیپ نادرشاه خان یې مخاطب کړ وې ویل :

«سرتیپه ! ستا کابلي پلټنې به ته ارامولې زه پوهېږم چې دغو ډېر تلوار دی او حق په جانب هم دي خو هغوی کړو که همدا اوس حرکت وکړو نو ښان به موږ د دښمن خولې ته ځور ځولی وي . »

نادرشاه خان دایوب خان په تائید وویل :

«د لوی‌ښاب صاحب او نایب سالار صاحب نظر لکه تاسې چې تائید کړېدی زموږ هم قبول دی او کابلي پلټنې به ستاسې امر پر سر او سترګو قبلوي .»

د ایوب خان په تندي کې خوښي څرګنده شوه په دغه وخت کې د دربار فرشیانو دستر خوان هوار کړ او سپا ناری یې کېښېښود او ټولو ډوډۍ وخوړله .

ACKU

کله چې دسترخوان ټول شو ایوب خان، لوی‌ناب او نایب سالار ته وکتل او ویې ویل:

«څومره باید په خوشحالیو پرې مینه‌څو خبرې مو ډېرې وکړې اوس په نوسیله کومه څرنګه خوښه مو ده؟»

ټولو په یوه آواز وویل:

«څرنګه چې تاسې غواړئ هغه مو قبوله ده.»

بیا ایوب خان وویل:

«اوس به نو یو څه ساز او آواز واورو.»

دا ورځ دغو ټولو په میله تېره کړه مازیګر له دغه ځایه پر اسانو ښار ته را روان شول.

پرلار ایوب خان ټولو ملګرو ته وویل چې ترمخه ولاړ شي او یوازې لوی‌ناب او نایب سالار له ده سره پاتې شول.

دوی ورو ورو د ښار خوا ته روان وو د ایوب خان یوې خوا ته د لوی‌ناب اس او بلې خوا ته د نایب سالار آس تلو دوی خبرې کولې او یو ځل ایوب خان د لوی‌ناب د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل:

«هو! ما خو ځکه چې تاسې ته دا خبر درکړم چې سردار عبدالرحمن ته کوم لیک ما لېږلی و د هغه ځواب اوس را رسېدلی دی سردار عبدالرحمن بیا د خپلو چالاکیو څخه کار اخیستی دی. که هغه زما دعوت منلی وای او د بلخ له لارې پر کابل یرغل کړی وای اوله دې خوا مونږ پر کندهار ورغلي وای نو د انګرېز پښې نه ټینګېدلې او ژر به یې ښې خټلې وای خو افسوس چې د لته

ACKU

هر څوك پر خپله تمکی اور اړوي . عبدالرحمن ما ته ليکلي دي چې که زه افغانستان ته درشم نو بيله دې چې د انګريز سره ما زش وکړم بل به هيڅ ونه کړم ځکه انګريز پو قدرت دی او په افغانستان کې هغه څوك قطعاً قدرت په لاس کې نشي اخستلای چې انګريز ته منظورنه وي . عبدالرحمن ما ته هم نصيحت کړيدی چې ته هم د انګريز اطاعت قبول کړه ځکه د هغوی سره جنګ هيڅ سود نه اري . (۱۲۳)

ايوب خان خاموش شو او ونياب ووېل :

«عبدالرحمن خان دېر کلونه د ملك څخه وتلی دی او د بلې خوا په کابل کې د انګريز د جنګ کيسې خدای خبر څه نګه ورسيدلې وې زړه يې اچولی دی نو ځکه د غسې ليکونه ليکی . »

ايوب دا ونياب خبره پر يکړه وې ويل :

«نه داسې نه ده هغه اصلاً غدار دی هغه د پرنګي شاګرد دی ته خبر يې چې هغه د دستر ګوهل (۱۲۴) په لاس روزل شويدی افغانستان ته را روان دی او ته به وګورې چې دی به زما ايك او خپل ځواب څخه د ځان په ګټه ډېره استفاده وکړي او همدا اوس به زما ايك اودده ځواب په سمله کې دوپسرای په ميز پراته وي . »

نايب سالار چې ترډېره وخته پټه خوله ؤ دوی ته يې مخ راواړ-اوه او وې ويل :

« تاسې چې عبدالرحمن هم پوژندو نو دا ايك مو ولې ورته استاوه ؟ »

ایوب خان سر ښکته کړ او ورو یې وویل :

«یقیناً چې دا زما سهوه ده زه د ښځو په خوله وغولېدم ما ته له کندهاره دعبدالرحمن خان مور حال را واستاوه او دغه توصیه یې را ته وکړه او ما هم دا کار پیله یو ژوره سنجش څخه وکړ کله چې مې دا لیک هغه ته ولېږه نو پښېمانه شوم خوشبختي ده لږ څه خطا شوی ؤ او بېرته را گرځېدل یې ممکن نه وو.»

سپه سالار د ایوب خان څخه بله پوښتنه وکړه.

«په کندهار کې د سردار شېرعلي له خوا څه نوی حال لرې ؟»

ایوب خان په مایوسی سر و ښوراوه او ځواب یې ورکړ .

«هغه بس د سنت جان آلي ځنی نور نوی کمال نه لري.»

ایوب خان لوینباب ته وکتل او خبره یې پسې اوږده کړه .

«لوینباب صاحب دا هم د بابا سوغات دی . که زما پلار پر دغه خاین اعتماد نه وای کړی او دخپلې عورتې تر جادو لاندې نه وی راغلی او دده عورته د کندهاری سردار شېرعلي تر افسون لاندې نه وی نو نن به نه امیر غرقېدلی اونه به داد ومره لانجې پیداوای.»

ایوب خان بیا مخ نایب سالار حفیظ الله خان ته واړاوه او وې وویل :

«سردار شېر علي غواړي انگرېز ته په خوش خدمتی د کندهار پاچاهی وگټی خود ایو خوشې او عبث خیال دی پرنگی داسې ساده سو دا گرنه دی هغه به په افغانستان کې په هرچا اعتبار وکړي خو په سرداد شېرعلي او سردار ولي محمد لاتي به اعتبار ونه کړي ځکه پر نگیان هم پوهېږي چې دا پست او غوره مال سرداران خلکو ته

مخ تو ری دي او چې ثن هې د انګر یز لاس له سره ایسته شي بیا به هې خپله خلك و رخپرې کړي. سردارشیرعلی ملاماتی داهم دسنتپجان انګر یز احسان بولی چې دده زوی هې په زمینداور کې حکمران کړ یدی و ګوري ء دې پسې ته په دغومره لږ قانع شوی دی.»

نایب سالار دا محل خبره دایران خواته وګرزوله او وي ویل:

- «که موږ له هراته د کندهار و خواته روان شو لو ایران به پر هرات برید وله کړي؟ ځکه دانګریز لاسو نه دپراوږده دي او هغوی به ایران و دغه کار ته والمسوي څو زموږ مخه دکندهار و خطه ر او- ګرزوي » ایوب خان په بومطمئن انداز وویل .

-«دغه کار به هم انګریزو کړي او هم ایران و دغه کار ته تیار دی خو دلته دروسې بیه منځ ته راځي او هغه نه غواړي چې دا کارو شي نو ځکه زه له دې خواتشویش نه لرم .»

نایب سالار دا محل خبره په کندهار کې دانګریز نظامی وضعیت ته واړوله او د ایوب خان څخه یې پوښتنه وکړه .

-« په کندهار کې دانګریز انو وضعیت څرنګه دی؟ »

ایوب خان سرو پورا وه اووي ویل :

-«ما ته پرون احوال راغی چې په کندهار کې خو دانګریز وضعیت دومره خراب نه دی او نسبتا ء قوي دی خو په کابل کې دانګریز کاروران هو یدی او په دې ورځو کې ستواوت پخپله کابل ته روان دی او بیا یې د کندهار څخه یوه لو یه قوه ور سره رواله کړي.»

دا مهال نایب سالار دا لتماس په لهجه هغه ته وویل :

-«کله چې دا لګرېز دا قوه له کندهاره وزي نوزموږ له پاره به په کندهار دېر غل دېرښه فرصت وي او تاسو باید دېر ژرزموږ د تګ له پاره زمینه برابره کړی.»

دغه وخت ایوب خان او لوینناب دواړو وویل:

-«هو! باید همدا سې وشي او کوښښ به وکړ وچې زودتر اه زمینداور او میمنې حال واخلو او کندهار ته حرکت وکړو.»

په دغه وخت کې دلوړې څخه د تالندې دربې غوږو ته ور سید او لوینناب پوځل اسمان ته وکتل او بیا یې وویل.

-«دېره او په او تو ره اوریځ را روانه ده چې باران سو به لار کې ګیر له کړي.»

له دې سره دوی د آس ملو تې سستې کړې او اسان یې په ماسیز و وو هل اسان په چټکې وځور ځیدل او پهچټکه ځغاسته یې پیل وکړ.

د لوړې څخه دهرات دڅار کنګره داره کلا ځکاره‌شوه چې دبرجا- نو له تیر کښتانو څخه یې دتوپو نوسملان را وتلي وو او د کلا پرسر هم سا تو نکی پېره داران ګرزیدل.

کله چې تو لند باران پیل کیده ایوب خان، لوینناب او نایب سالار د څار لوېې دروازې ته ورسېدل او دروازه وانانو په احترام د دوی ته لاسو نه پو رته کړل او دوی ښار ته داخل شول.

************

# په کندهار کې

یوه ګړۍ مخکې چې د پسرلي تند باران ورېدلی ؤ هوا و یو د کوچنیو ډنډونو څخه ولاړې اوبه ورو ورو په بخار بدلېدلې او د هوا په څپو کې د لنډ بل بوی هرې خوا ته خورېده .

د کندهار بازارونه د پخوا په شان د خلکو څخه ډک وو څو د چارسو له خولې څخه بیا تر ارګ پورې د بازار دواړو خواؤ ته د انګرېز د پوځ محافظین په منظم ډول ولاړ وو .

د چارسو پر سر به په هرو پنځو دقیقو کې یو ځل نغاره ووهل شوه او په دې ډول د ښار خلک پوهېدل چې د جنرال پرایموز (۱۲۵) د لښکر ـ وتر رسېدو وروسته د دغه جنرال په مشرۍ د ارګ په ماڼۍ کې لومړی لویه خونړۍ جوړه شوېده .

د ارګ د ماڼۍ دروازې ته دوه توپونه ولاړ وو او د هغو په استقامت وسله وال پوځ دوه کتاره سپاهیان د تیارسي په حال کې درول شوي وو او د ماڼۍ پر سر د انګرېز بیرغ رپېده .

په ارګ کې د ننه په لوی سالون کې جنرال پرایموز د سر په څوکۍ کې ناست ؤ چې یوه اړخ ته یې سیاسي مامور کرنیل سنت جان او

بل اړخ ته یې جنرال بورو په خاصه طنطنه ناست وو تر دوی والا ندې سردار شېرعلی خان د کندهار والی او نور انګرېزي منصبدارانو او خوکسه سردارانو ځای نیولی ؤ .

جنرال پرا یموز چې په نظامی غرور سر جګ نیولی ؤ کرنیل سنت جان ته وکتل او پوښتنه یې څېنې وکړه :

«ښه ! د ایوب خان په باب ستاسې وروستی نظر څرنګه دی؟ »

د پرایموزله دې پوښتنې سره د سنت جان تندی سره و ځړېده او په فکر کې ډوب شو او نور هم و پوهېدل چې جنرال په څېر مستقیم ډول د سنت جان هغه خوش باوري ور په یادوي چې د ایوب خان په باب یې د هند حکومت ته خبر ورکړی ؤ چې هغه د انګرېز طرفدار دی او باید خبرې ورسره وشي خو د هند حکومت ده ته د دغه تار په ځواب کې پیغام رالېږلی ؤ چې ایوب خان په هرات کې د انګرېز پر ضد جهاد د اعلان کړېدی او ته خبرنه یې .

سنت جان د جنرا ل د پوښتنې سره یو ځل هغه ته وکتل بیا یې په ټیټ سترګې سردار شېرعلی خان ته واړولې وروسته یې وویل :

«ایوب خان خواوس په هرات کې دی هغه بیا یې چې کندهار ته سوقیات پیل کړي خو هلته د هراتی او کابلي پلټنو ترمنځ مخالفت دی که د دغه اختلاف پر حل بریالی شي نو حتماً به کندهار ته را روان شي . سردار شېر علی خان د خپل زوی څخه یو څېر ا خیستی دی چې نه پوهېږم تر کومه ځایه به حقیقت و اړي تاسې ته به یې وواېی خو دسردارانو اطلاعات اکثراً داسې راوزي چې تر حقیقت احساسات رېبات پکښې د خپل وي . »

براېموز سر وخوځاوه او په اشاره یې سردار شیرعلي ته وکړه چې راپور ووایي:

سردار شیرعلي په خپله څوکۍ کې ځان سم کړ او بیا یې وویل:

«محترم جنرال صاحب! زما زوی سردار نورعلي (۱۳۶) د زمینداور حکمران ماته لیکلي دي چې ایوب خان د هراتي او کابلي پلټنو اختلاف رفع کړی دی او لوی نایب خوشدل خان را ته لیکلي دي چې د پشت رود او فراه ټول خانان ورسره ملګري دي نو دی هم باید ددوی په اتحاد کې داخل شي.»

براېموز سر وخوځاوه او بیا سمت جان سردار شیرعلي مخاطب کړ او وې ویل:

«سرداره دادې هېر شول چې نورعلي خان دا هم درته لیکلي وو چې د کره اطلاعاتو له مخې به ایوب خان د جون په لومړۍ له هرات څخه حرکت کوي.»

سردار شیرعلي د سر په خوځولو د سمت جان قول تائید کړ.

بیا براېموز د سمت جان څخه پوښتنه وکړه:

«که د دغه خبر حقیقت ولري نو موږ باید له کومه ځایه خپل استحکام پیل کړو؟» سمت جان ځواب ورکړ.

«د هلمند ختیځ ساحل باید تقویه شي.»

ده یو مکث وکړ بیا یې پسې زیاته کړه:

«سردار شیرعلي خان نظر لري چې د یو کندک انګریزي لښکر سره پشت رود ته ولاړ شي خو د دغه کار اجازه باید له هند څخه وغوښتل شي.»

بیا بیموز جنرال بورو ته مخ وگرزاوه او وې ویل :
«په دې باب تاسې څه نظر لرئ ؟»
جنرال بورو په ډېر او ازچې ازانګه یې کوله وویل :
«زما په عقیده چې سردار دې د خپلو سړو سره پښت رود ته ولاړ شي او کرنیل سنټ جان دې دانګریزي قواؤ د امیر لوپه باب هند ته خبر ور کړي او هدایت دې واخلي.»
بر بیموز دا نظر تائید کړ خو سردار شېرعلي وویل :
«که زه بېرا نځې ولاړ شم نو هلته به قومي خلک دا خیال وکړي چې زما سره د انګریزو سر کار سلګري نشته او لوښايي چې دغه کار دې بده نتیجه ور کړي.»
ده سرکښته وځړ اوه او بیا شېبه وروسته یې بیا زیاته کړه :
«تاسې ته معلومه ده چې دلته که څوک په دې پوه شي چې ستاسې لاس ستاسې د یوه دوست له سره لرې شوئو هغوی به هې خپله ورشېري کړي.»
سنت جان د سردار شېرعلي خبره قطع کړه او وې ویل :
«سرداره! جنرال بوروبه نظر ور کړ. که موږ د هندوستان د اجازې انتظار وباسو لوښايي د ایوب خان او لوښاب قلوذ دې اوږهم په پښت رود کې بیا هراخ شي او داسې خوکېدای نشي چې دغه دحکومت بې اجازې یو کندک ستاسې سره ولېږو. بهتره دادہ چې ته پښت رود ته روان شي. له دې ځایه خپل خلک در سره بوزه او هلته بایدداسې رول ولوبوې چې خلک په دې پوه شي چې به تابېسې

د انګرېزو لوی لښکر در روان دی . موږ به هم ډېر ژر تاته د لښکر د درلېږلو په کار کې بېړه وکړو . »

جنرال پرایموز د سنت جان نظر تائید کړ او سردار شېرعلي هم د منلو سر وښوراوه . په دې وخت کې جنرال بورو ووېل :

«ولې د ابو کار ډېر ضرور دی چې اجرا یې هم زموږ په صلاحیت کې ده او هغه دا دی چې هلمند درود له څه غاړې څخه بیا تر کندهاره پورې سیمه باید سروې شي مخصوصاً د یو نظامي اساسي مرکز له پاره د لارې په منځ کې باید ځای وټاکل شي او کروکې یې واخیستل شي . »

پرایموز دا نظر د سر په ښوریدو و تائید کړ او سنت جان ووېل:

«هو دا بالکل ضروري کار دی او میجر لیچ بیا به سر له اوسه د دغه کار له پاره ترتیبات ونیسي . »

پرایموز بیا هم سر وښوراوه او وې ووېل :

ـ«ښه دا مسئله خو تقریباً حل شوه اوس پر دې وغږیږو چې په کندهار کې د امنیت مسئله حساسه ده او د میراحمد واقعه باید تاسې خوشې احساسات ونه بولی بلکې زه فکر کوم چې هغه په بیخ هم ولري»

سنت جان د منفي په ډول سر وښوراوه او د جنرال پرایموز په ځواب کې یې ووېل :

ـ « څرنګه چې تاسې تازه دلته راغلی یاست نو داسې فکر کوئ که نه دا موضوع موږ پوره تحقیق کړه او کوم دسته جمعي حرکت نه ؤ.»

پرایموز پوه شو چې سنت جان غواړي د ده د لومړي نیښ غچ واخلي او په قهر دی نو وې ووېل :

- «البته خوا قوات په سر کې ساده وې وروسته غښتلي .»

جنرال بوروز پوه شو چې جنرال پرايموز او سمنت جان په خېر مستقیم د ول پولې ته ځمني ورکوي (۱۲۷) نو ددوی دخبرو په منځ کې یې خان و اچاوه وې ویل:

- «د میر احمد (۱۲۸) واقعه ما وا ورېده له خوېوره خبر نه یم بده به نه وي که والی شېرعلي خان د ځنې واقعې په باب څه توضیح وا کړي .»

سردار شېرعلي وویل:

- «داد کندهار د یحیی خان د کوشي یو سړی دی پلار یې امیرمحمد نومېږي چې په خاکریز کې یې واده کړېدی. تېره هفته چې ځنې خوا ته روان و کله چې د جوني د بابا ولي دروازې ته ورسېده وي. لېدل چې انګریزي پلټنې په نظامي تمرين اخته دي په دغه وخت کې له آسمېرا کېښته شو او په هغه سپلاوه چې پته یې ورسره راغلي وه پر عسکر وحمله وکړه او څو کسه یې سره او څو زخمي کړل خو لکه چې د ده حمله ناڅاپي وه نو زیات یې ورساوه د نو لو پروخت دی هم ووژل شو موږ موضوع تحقیق کړه او دې نتیجې ته ورسېدو چې دا یو احساساتي کار دی نو د تحقیق نتیجه مو سپارلې ده .»

سردار شېر علي پته خوله شو او جنرال بوروز د سمنت جان څخه پوښتنه وکړه:

«داوس چېرې دی او څه ورسره وشول؟»

سمنت جان دخپل مخ د دوسوې څخه کاغذ ونه راوایستل مخ ته یې کېښود لیا یې وویل:

ACKU

- «دغه تحقیق تکمیل شوی دی موږ دغه پر عکس او را پور ترتیب کړی دی چې هندوستان ته یې لیږو.

پرابهوزسرو بوراوه او بیا یې وویل:

«ددغه سړي د سر د هغه پوره شوي نه ده چې شاعرانو غزلې پسې جوړې کړې چې ښځې اوریې وا یې او داخو نخوره دا انسان خول قهرمان ولی.»

جنرال پرابهوزسرخ سنت جان ته وروا اړاوه او پسې زیا ته یې کړه:

«احتیاط په کار دی خلك عصبي دي او بیا یې خول غچ په عصبیت واخلي.»

کرنیل سنت جان په بې اعتنایی له جنرال پرابهوزه مخ واړاوه.

جنرال پرابهوز میجرلیچ ته وویل:

- «ته به دخول کار ترتیب وامسې او منظمې کروکې په واخلې.»

له دې سره دربار پای ته ورسیده او دوی راووتل او هغه چې پراس سو ر شود شاله خوا د محافظینو یوه رساله ورسره روانه شوه.

څو ورځې وروسته میجرلیچ د یوه تولی سا تونکو سره د هلمند له چپه غاړو څخه بیا تر کندهار پورې دسمې دسروې اود کندهار او پښت رود ترمنځ پریوه ساحه برخه دیوې لو له پاره د کمپ جوړولو داراضی مطالعې ته روان شو. ده دا تولسه سمه وکتله بیا یې د لواد کمپ له پاره میوند وټاکه او کړ وکې یې واخستلې کندهار ته راغی.

د میجرلیچ سروې په یوه نظامی شوراکې ترمطالعې لاندې

ونیول شوه او د نوموړي ګروکی چې د موزل (۱۲۹) میمه اې د لوا د کمپ له پاره تاکلې وه تصویب شوه.

د دغې مروې او د کمپ دځای اطلاع دمنتجان له خوا د هند د حکومت دخبرتیا له پاره راپوراً مخابره شوه. خو ژر ځې وروسته د هند دحکومت له خوا خبر راورسېد چې د کندهار مفرزه کولای شي چې د قواؤ یوه برخه پښت رود ته ولېږي خو په دې صورت چې دایوب خان حرکت قطعي شي او هم باید داپه نظر کې ونیول شي چې د قلات غلزائي عسکر راو نه غوښتل شي ځکه هغه ځای حساس دی او ځاجي اقوام د انګریزانو پرضد خطرناک حرکتونه کوي.

د دغه هدایت سره په یوه نظامي شورا کې پښت رود ته چې سردار شیرعلی پخوا تللی ؤ د یو کنډک انګریزي لښکر لېږل تصویب شول.

✱✱✱✱✱✱✱✱✱✱✱✱

# پیبا که سبا رزان

د ۱۸۸۰ کال د جون په اتمه لوینات خوشدل‌خان د ایوب‌خان د قوا او د حرکاتو د قوماندان په حیث خپل راپور او د قواؤ د تشکیل راپور ایوب خان ته په داسې وخت کې وړاندې کړ چې نایب‌سالار حفیظ‌الله خان هم حاضرؤ.

هغه وویل :

«زه سبا له هراته د فراه خواته حرکت کوم او زما سره به ۵۰۰ سپاره ملګري وي . هلته به د شاغاسي محمد یوسف خان په ملګرتیا قومي قواوې تنظیم کړم . دادی د قواؤ تشکیلات چې مو په نظامي شورا کې تصویب کړل او نایب سالار صاحب هم امضا کړېده . دا هغه ورستۍ لست دی چې د لومړي لست څخه موجود کړ او ستاسې نظریات مو هم پکې ځای کړېدي.»

ایوب خان لیکلې پاڼې د لوینات څخه واخیستلې او د هغو په لوستلو یې پیل وکړ په لست کې د قواؤ تشکیل داسې جوړ شوی ؤ.

د پیاده لمړي لمبر لوا : قوماندان یې تاج محمد خان تاجک.

منظم دري غونډه هر غونډ ۵۰۰ نفره ټول ۱۵۰۰ نفره

د پیاده دوهم لمبر لوا : قوماندان یې سیدال خان

منظم دوه غونډه (کابلی) پلټن هر غونډ ۵۰۰ نفره ټول ۱۰۰۰ نفره

منظم دری غونډه (کندهاری) پلټن هر غونډ ۵۰۰ نفره

ټول — ۱۵۰۰ نفره

د پیاده دریم نمبر لوا: قوماندان یې غفور خان تاجک

منظم دري غونډه (هراتی) پلټن هر غونډ ۳۶۶ نفره ټول ۱۱۰۰ نفره

توله پیاده قوا ۹ غونډه ۳۱۰۰ نفره

د سپرو لوا قوماندان یې عبدالرحمن زیکا

دري غونډه (کابلی) هر غونډ ۳۰۰ نفره ټول ۹۰۰ نفره

توپچی قوا قوماندان یې احمد ګل خان (کابلی)

یوه بطریه غرنی قاطري د توپچیانو شمېري ۱۰۰ نفره

څلور بطریې صحرایی د توپچیانو شمېري ۴۰۰ نفره

ټول توپونه ۲۰ میله

غیر منظم سپاره هراتی پلټني ۱۵۰۰ نفره

غیر منظم دوانی سپاره ۵۰۰ نفره

توله غیر منظم لښکر ۲۰۰۰ نفره

توله قواوې

| | |
|---|---|
| پیاده | ۳۱۰۰ |
| سپاره | ۹۰۰ |
| توپچی | ۵۰۰ |
| غیر منظم | ۲۰۰۰ |
| توله | ۷۵۰۰ (۱۳۰) |

۱.

ایوب خان چې د الستونه وکتل سر یې د تائید په ډول وښوراوه او وې ویل :

«اوس قواوې په نظم کې راغلې تاسې به په فراه کې زموږ انتظار وباسئ او هلته به کوښښ کوئ چې د نوو زړو پلټن ډېر منظم جوړ شي او زموږ لپاره به هم د حیواناتو سرپشته کوئ ځکه زموږ د انتقال حیوانات دلته ډېر کم دي سرتېپ نادرشاه خان او محمد عمرخان نورزي ته به هم زموږ سلام ورسوئ او وایاست او دوی به هم مرسته وکړي د فراه څخه به زمینداور ته هم حال ورکړئ.»

ایوب خان یوه شېبه چپه خوله و او بیا یې بیا زیاته کړه.

«سردار شېرعلي د ګرشک په شا او خوا کې دی خو ماته حال را رسېدلی دی چې دومره بېچاره دی چې په ځان لوسره یوازې خپل ځان ساتي او هره ورځ دا اوازه خپروي چې د انګرېز لښکر د ده په ملاتړ روان دی خو د هغه ځای خلک په ده ملنډې وهي.»

د ایوب خان تر خبرو وروسته دوی خدای په امانی سره وکړه او سبا ته لوښاب د هرات څخه د فراه خوا ته روان شو.

د فراه خلکو لوښاب او د هغه سرو ته د غازیانو په نامه تاري ووهلې او کله چې دا لښکر ښار ته داخلېده نو د کلي د کوڅو واړه کورونو څخه ښځو د دوی تر مخه او به پاشلې او یوې سپین سرې ښځې خپل څادر، د اسانو پښو ته هوار کړ او کله چې هغه د اسانو په پښو خیرن او په خاورو ولړل شو او دې په مینه راټول کړ او خپلې پېغلې لمسۍ ته یې وویل :

ــ «دا د غازیانو د اسانو د پښو ګرد په اوبدلی دی هر وخت چې مړه شم دغه به مې کفن وي.»

د وی ته نادر شاه خان سر توپ او محمد عمر خان نورزي او ګڼ شمېر خانانو هر کلی ووایه او په‌وړاندې یې لوبې سلامتیاوې جوړې شوې.

د لوښاب له حرکت څخه یوه هفته وروسته ایوب خان د ټولو قواؤ سره په ډېره طنطنه د هرات له ښار څخه راووت او شپه یې په میرداود (۱۳۱) کې وکړه. په دا مه ورځ چې د فراه خوا ته یې حرکت کاوه په لښکر کې یې نظمي جوړه شوه او کابلي پلټنې د هرات ښار ته روانې شوې.

ایوب خان په تعجب واورېدل چې د جنرال فیض محمد خان لښکر له میمنې څخه ډېره شپه هرات ته رسېدلی دی ایوب خان د نایب سالار سره یو ځای هرات ته روان شول او د هرات ښار ته چې نژدې کېدل د کابلي پلټنو او د فیض محمد خان د لښکرو ترمنځ شدید جنګ پیل شوی و.

د وی لاس په لاس جګړه کې له اښار په وینو کې غرق و. ایوب خان په عصبي لهجه نایب سالار ته وویل:

ــ «دا احمقان سره ولې پیل کړ، مطلب څه دی؟»

نایب سالار د کابلي پلټنو د قوماندانانو سره روان شو جګړه تر ماسپښینه جاري وه او ماښګر نایب سالار ایوب خان ته راغی د احترام وکړ او بیا یې وویل:

ــ «لویه غلط فهمي شوې ده کابلي پلټنو خیال کاوه چې د جنرال

فیض محمد خان لښکر د دې له پاره هرات ته راغلی دی چې د امیر-احمد خان (۳۲) په شان دوی د کندها رڅخه راوګرزوي خود وی خطا وتلی وو جګړه خلاصه شوه او اوس دواړه خواري سره پخلا شوی که څور و سبا به حرکت کوو.»

ایوب خان په ژور فکر کې ډوب تللی بیا یې سر وښو راوه او د نایب سالار څخه یې پوښتنه وکړه.

-«فیض محمد خان چیرې دی ؟»

نایب سالار چې سر ځړولی ؤ را پور ته یې کړ او په د اسې لهجه لکه په وظیفه کې چې ناکام شوی وي وویل :

-«د هغه هیڅ درک معلوم نه دی د جګړې په سرو کې مو څو کسه پیدا کړه چې رنګونه یې له پیژندلوو تلی وو په یقین نشم و یلای خو د ده د ملګرو له خولې مو د یوه مړي موزه و پیژندله او دوی و یل چې دا فیض محمد خان دی.»

ایوب خان سرو ښوراوه او ولاړ شو.

په سبا د هرات څخه حرکت پیل شو او یوه هفته پر لار پاتې هفتې ته د ایوب خان لښکر فراه ته ورسیده په فراه کې د ډېر د ز و ند هر کلی ورته ووېل شود لوښتاب له خوا ایوب خان ته لو په میلمستیا جوړه شوه چې په هغه کې د فراه خانانو او دلښکر قوماندانانو ګډون کړی ؤ.

ایوب خان په میلمستیا کې محمد عمرخان نورزي ته وویل :

-«عزیزه موږخوستا څخه ډېرې مرستې غواړو کوره چې څومره به مو ملاو تړې ؟ »

محمد عمر خان یو محل شاغاسی محمد یوسف خان ته و کتل بیا یې لاس پر نامه ونیوه او وی ویل.

-«زوی توله په خدمت کې یو ترهغه وخته به دوسره یو چې یو ځا ځکې وینه مو په بدن کې وي موږ پرانګی پرېږ نو هغو کابل او کندهار غرق کړېدی او دادی اوس په وروستیو چې انګریز څر نګه زمو پر وطن پښې ټینګوي.»

ایوب خان ده ته کتل چې نایب سالار حفیظ الله خان وویل :

-«دا انګریز کابل او کندهار نه دی غرق کړ ی بلکې دوی په خپله یکې غرق شوي دي.»

تولو دنا ځېد په یول سرو ښوراوه.

دوی را اورل شوه او دخرمنی پر یو لوی دستر خوان دایوب خان مخ ته یو کوچنی وری چې سربسته کباب شوی ؤ کښېښودل شوا یوب خان چې کباب ته وکتل په خندا یې وویل :

«ان دومره وړی یم چې دلیوه په ځان به داوری وخورم.» ایوب خان په خوراك پیل وکړ او په ‌رخصتیا دا وری یې تول وخوړ تردوی وروسته مجلس پیل شو.

لومړی لویناب وویل :

«په ګرشک (۱۳۳) کې سردار شیرعلی خان په‌لا کامی ناست دی او د انګریز دلښکر درك لا معلوم نه دی خود کندهار څخه یومړی راغلی دی او موږ ته یې احوال راوړی دی چې انګریز یه‌ډول کېږدی اوغواړي د ګرشك خوا ته لښکر کښي و کړي. هو تولی انګریزي

لښکر د پنځوال (۱۳۴) او کندهار ترمنځ سیمه سروې کوي او پر میوند یې خطونه اچولي دي د کندهار په ښار کې هم خلک پر انګریزانو ناڅاپي برغلونه کوي. په کډني (۱۳۵) کې نورزي او اڅکزي هم سره یوځای شوي دي او غواړي پر کندهار راشي.»

لوېناب چې خبرې خلاصې کړې ایوب خان سر وخوځاوه او بیا یې محمدعمر خان نورزی مخاطب کړ او وې ویل .

«څرنګه یوه وظیفه در کړو چې د کډني مېړنې دې په دې خبر کړي چې بې ځایه په حرکت و نه کړي کنه انګریز به زمان ورور سوي ته ډېر احتمال دي سړي په لاس احوال ور واستوه چې موږ ددې خوا پر انګریزو ورځو او هر وخت چې موږ ور سره و نښتو د هغه خوا دې نورزي او اڅکزي د کندهار پر ښار یرغل و کړي.»

محمد عمر خان په احترام سر کښته کړ او وې ویل :

«همدا اوس به زه خپل ورور ددغه کار له پاره موظف کړم.» لوېناب وویل :

«ډېره ښه خو احوال باید موږ ته په پښت رود کې ووایي» دوی ټول دخوښو له پاره پټه خوله وو بیا لوېناب وویل :

«سبا به موږ له دې ځایه حرکت کوو او بیله غونډه به موږ واـ شمر (۱۳٦) کې وي او له هغه ځایه به د هلمند غاړو ته ځو ما په حیدر اباد کې خبر ورکړی دی چې هلته کمپ ولګوؤ .

دوی ټولو تائید کړه په دغه وخت کې د فراه د لعل انګورو میوې چې د غلکو په لاسونو کې وې مجلس ته راننه ایستل شوې .

ایوب خان چې انګور وروړ ته کول وې ویل :
«دقیقاً هغه چې د فراه انګور دوړ ښه انګور دي»
او لوښاب ښې زیاته کړه.
«مخصوصاً د فراه لعل انګور ډیر شهرت لري او د مزې او تازګی له لحاظه نه د کندهار نه د هرات انګورو ته رسیدای شی .»

# د باد سیلۍ

۱

د باد توندو څپې د هلمند د بستر پر غوزونو وځغستې او د هغوی لښتې یې یو په بل سره ور ګډې د پا دله او ازمره د هلمند د سیند د پوښهاري او ازيو ځای څو او يو هيبتناک برغ ځيګنې جوړ شو.

په اسمان کې سپوږمۍ لکه يو سرګردانه بېړۍ چې په سمندر کې مخ په وړاندې روانه وه.

هغه خاموشه کېږه وه پلي لارچې د زمبولي (۱۳۷) له سپېره دښت څخه دغونډۍ پر ارخ ته راتېره شوې او د سيند بستر ته را ښکته کېده- له د پرخې په لندبل توره خولې ی معلومېده.

يو سپور چې د آس ملونې يې سستې کړې وې په چټکۍ مخ په وړاندې راځغستل ... ځغستل ... ځغستل.

کله چې يې آس د سيند ګودر ته ورسېدنو بېله دې چې ډېل وکړي آس يې په پونده په تشي کې وواهه او آس هم په يوه ټوب داو يو منځ ته ورو غور ځېد آس اوږد او د نفس ایسته او او به وار په وار د هغه له زنګنونو څخه را پورته کېدې او په پای کې نو يوازې د اس سر او د سړي نيمه تنه په او بو کې معلومېده.

اس د سپند هغه پلې غاړې ته ووت او بیا هم بېله دې چې معطلي
وکړي سپورمخ په وړاندې د اس ملونې کش کړې او هغه هم لکه
پرچې خطاشي وغورځېد او په لږ ګړي کې د روه خانې څخه ووت.

د حیدراباد (۱۳۸) کلي په جنوب کې پروت ؤ خو د ختو د کوړونو
پر سرونو او دیوالونو سپو په غپو اوزیو غپاود سپور هر کلي وکړ
او دیوه‌ان له‌مخه په کلي کې د سپو د اواز یوه غوغا جوړه شوه

سپور لکه غشي چې د لینډۍ څخه خطا شوی وي په یوه ترانګ
د کلي له کوڅو څخه ووت او د کلي په سر غونډۍ پورته ور نژدې شو
دلته سپاره د آس ملونې پوځه وکش کړې او هغه هم نسبتاً
کرار شو.

د غونډۍ پر سر د ایوب خان کمپ لګېدلی ؤ او د کمپ ګزمې
سپور را وګرزاوه خو هغه ورته وویل:

«زه باید دا اوس سمدستي له نواب صاحب سره وګورم فوري
پیغام مې راوړی دی.»

د ګزمې سپاهي په چورت کې شو بیا یې وویل:

- «په دې نیمه‌شپه؟ نشي کېدای چې سهار ته معطل شې؟»

سپاره سروخوځاوه او وې ویل:

«هو همدا اوس دستي په دغه نیمه شپه! یوه شېبه هم معطلي
باید ونشي.»

د ګزمې یوه سپاهي سپاره ته وویل:

«ته راځه زه به دې قوماندان ته بوزم.»

سمور له آس څخه را کښته شواو په داسې حال کې چې د ګزمې د سپاهيانو په منځ کې روان ؤ داس ملونې يې نيولې وې او آس تر شا په پسې ؤ د قوماندان خيمې ته راغی

قوماندان د خيمې منځ ته پروت ؤ او د ګزمې د سپاهيانو او سماره او د هغه داس د پښووغ چې يې اوريدلی ؤ نو په ځای ناست ؤ او کله چې د وی وروړسيدل د ګزمې سپاهيانو احترام وکړ اوبيا ورويل :

«داسمور راغلی دی او غواړي د لوښاب صاحب سره وګوري.»

قوماندان چې او از يې هم د خوبه ؤ په ډدوغ پوښتنه ځني وکړه .

«هلکه څه غواړې ؟»

سمور په پخوانی جدي لهجه ځواب ور کړ.

-«يو فوري پيغام مې لوښاب صاحب ته راوړی دی او بايد سمدستي ورسره وګورم.»

قوماندان بيا پوښتنه ځنې و کړه.

-«له کومه ځايه راځې ؟»

سماره لنډ ځواب ور کړ:

«له ساروان کلا (۱۳۹) څخه»

قوماندان بيا پوښتنه ځني و کړه .

-«پيغام دي له کلی راوړی دی ؟»

سماره ځواب ور کړ.

- په په خوله بايد ور ته ووايم !»

قوماندانو لا ړشو کهالی يې وکښلهاو چې روانېده سماره ته يې وويل :

ـ دپه ما پسې راځه !»

قوماندان تر مخه شو او سمور په ده پسې روان شو .

دغونډيو تر منځ راتېر شو او په داسې حال کې چې شاوخوا په کوچنيو غونډيو محاط ؤ يو لوی تجير ولاړ ؤ . په تجير کې دننه څراغان لګېدل او خبرې هم اورېدل کېدې.

ـ «دلته ودرېږه» قوماندان سمور ته ووېل:

سمور د خپل آس سره ودرېد او قوماندان ولاړ د تجير د پېره دارانو سره يې خبرې وکړې او څو شېبې وروسته تجير ته داخل شو . څو دقيقې دننه ؤ او له هاخوا چې راووت يو پېره دارې سمور ته راواستاوه هغه راغی او سمور ته يې ووېل :

«راځه !»

سمور په ده پسې شو او چې تجير ته ورنږدې شو نو قوماندان ورته ووېل :

«آس دې پېره دار ته وسپاره ته دننه راځه .»

پېره دار د سمور اس ونيو او سمور په چابکۍ د تجير د دروازې خوا ته روان شو او کله يې چې تجير ته داخل شو نو ويې ليدل چې په تجير کې پورته پر کوربچو لس دوولس کسه ناست دي او ټول د ده خوا ته ګوري .

د ده غوڅلکوله منځه يو ګردی چاغ سړی پر سمور رږغ وکړ .

«هلکه د سالاروان ګلا څخه راغلی يې؟»

سمور د دوی څخه څه راهيسته ودرېد او ويې ويل .

ـ «د محمد شاه خان رالېږلی يم»

چاغ سړي وویل.

- «راد مخه شه څه پیغام دې راوړی دی؟»

سړو دوه گامه نور هم وړاندې شواو وې ویل:

- «محمدشاه خان ترسلام وروسته پیغام راکړ چې ان د سردار

- شیرعلي خان سره ټول پښتانه سبایانه زموږ خواته راواوچتل او هغه

وکړ پا ته شو موږ دغو سبا یا نو ته یوه یې ور کړه او عزت مو یې کړ یدی

سبا له انگریزان دگر هلته له شاوخوا څخه تولیږي او غواړي کندهار

ته ولاړ شي.

موږ ددوی لار نیسو ستاسې څه امردی ټول له مخه پوسوا و که څه

وکړو او یل دادی چې تاسې څه وخت حرکت راکوی ؟»

لوینائب یوځل ایوب خان ته وکتل یا ایې دسماره څخه پوښتنه وکړه.

-«هلکه نښا نی دی څه شی ده؟»

سړو وویل:

- «د پرانگو په کلی کې سوځنې چرگې توره هگۍ واچوله.»

ایوب خان وخندل او د تائید په دول یې سرو خوراوه او لو ینائب وویل

-ه څه وخت دسارون کلا څخه راروان شوی یې؟»

- «ما خوستن»

نائب سالار حفیظ الله خان په اشتباه ورته وکتل یا ایې لو ینائب

ته وویل:

- «لو ینائب صاحب ساروان کلا زموږ په نقشه کې له دې ځا یه

لیرې ده څنگه کیدای شی چې یو سړو ر په د خومره لنډ وخت کې

دلته راورسیږي؟»

لوښتاب سپاره ته وکتل بیا یې وویل :

ـ « ملکه دا څه وایي ؟ »

سوورسر وښورا وه او وې ویل :

ـ « محمد شاه خان خپل بریښنا آس راکړ او هغه را ورسولم. »

ایوب خان په تائید سر وښوراوه او وې ویل :

ـ « ډیر ښه ډیرښه دا آس به بیا وګورو په امیدوارزي. »

دی یوه شیبه چوپه خوله ؤ بیا یې لوښتاب ته مخ وګرزاؤ او پوښتنه یې څنې وکړه .

ـ « ښه اوس نو څه هدایت باید ورکړی شي؟ »

لوښتاب نایب سالار ته وکتل او وې ویل :

ـ « وایه څه به کوو ؟ داخو په لاس راغلی ښکار دی . »

نایب سالار سر وښوراوه .

ـ « زما په عقیده چې او به یې سوي نه وي بس ګوډ ره باید ګیر نشو . »

ایوب خان د سپه سالار خبره تائید کړه او وې ویل :

ـ « زه هم دغه وایم دوی باید تعقیب شي او موږ باید پر سومن میدان جنګ ورسره وکړو دا بزدلانه جنګ مې نه دی خوښ. »

لوښتاب چې دوی ته کتل بیا یې وویل :

ـ « ښه نو چې دغسې ده هدایت باید ورکړي . »

ایوب خان سپاره ته وویل :

ـ « ته خو همدا اوس باید روان شې نه ؟ »

سپاره سر وښوراوه او وې ویل :

- «هو! باید تر سهیلو د مخه هغه ته حال ورسوم.»

ایوب خان سپاره ته تر شا پاس وکتل وروسته ووېل :

- «محمد شاه خان ته زموږ سلامونه ووایه بیا ورته ووایه چې د انګرېز لښکر تعقیب کړي خو ګوريء چې حمله پرونه کړيء موږ خبر لرو چې دوی ځانونه مونږ ته رسوي او تاسې باید د دوی څخه لېرې د دوی د لارې په استقامت حرکت وکړيء موږ هم بیا پل بیا حرکت کوو د سردار شېر علي د لښکر څخه چې کوم خلک تاسې ته درغلي دي د هغو زیاته دلداري وکړيء. پل په ورته وایې چې د زمینداور څخه د علیزو پلټن د ابوبکر خان غازي په مشرۍ هم موږ ته را رسېدلې دی او پوځه خلک یې لا په لارکې دي موږ هغو ته معطل یو چې هغه را ورسېږي نو بس حرکت به در کوو.»

سپاره سر وښوراوه او بیا لوی نائب ووېل :

- «هلکه ته ډېر ستړی شوی یې ډوډۍ وخوره.»

سپاره ووېل :

- «زه باید دستي حرکت وکړم.»

لوی نائب یو پېشخدمت ته وکتل او پوښتنه یې ځنې وکړه :

- «توده د چرګ ښوروا شته؟»

هغه ووېل :

- «هو دیګ په اور کې پروت دی.»

لوی نائب سپاره ته ووېل :

- «هلکه دغه توده ښوروا وڅښه چې الدا مونه دې دروغو روي نور دې نو په مخه ښه سلامونه مو وایه.»

سپور د پیشخدمت سره روان شو هلته یې ښوروا وچښله راووت او پر آس یې پښه واړوله او روان شو .

دی د کلي تر کوڅو راووت او د سیند غاړې ته راغی آس یې لکه پښر او بو ته ورو ځوړځید او د ستر گو په رپ کې هغې بلې غاړې ته ووت .

کله چې سپور د چپې غاړې غونډۍ ته ورپورته کیده یو وچ تک یې تر غوږ شو ده آس پونده کړ او لیوه گړی نه وه تیره شوې چې د شا له خوا یې د آس د ربي تر غوږ شو .

ده مخ را وگرځاوه او په لوړ اواز یې وویل :

- « که پرنگی یې که د پرنگي ملگری مه راپسې راځه »

ده هیڅ واله وریدل او یوآن وروسته چې یې مخ وروا ړاوه دسپوږمۍ په پوکه رڼا کې یې ولیدل چې یو سپور په ده پسې راروان ؤ خو څرنگه چې د ده آس د پر چټک ؤ نو هغه پر آه و گرز پدا .

سپاره په یوه لاس د آس ملوني و نیولې او په بل لاس یې آس پر هټ ووا هه وې و یل :

- « آفرین په رښتیا چې پرښتنا یې »

سپاره یو ځل بیا په کراره خپله پونده د آس تشي ته ور نژدې کړه او هغه د پرښتنا په شان مخ په وړاندې توپ واچاوه .

# سور مورچل

دميوند پر دښت د تاو ده دوبې سبا پيل کېده او په دې سباوختې کې چې لمر لا نه ؤ راختلی هوا دومره توده وه چې په سر يې پوساده کميس لا سنګينی کوله .

هغه مهال چې د لمر تېکی د ختيځ خوا په پنډ غبار کې ښکاره شوه نو د اور د پوه سره تېغې په شان وه چې هاو خوا پوخړ شمول پر رالاوهوی ؤ اېرکړی وروسته د لمر روښنايي ژړ رنګه و موند او د دښت ګرمي يې تر پخوا څو چنده کړه .

دا د جولای د مياشتې اوه ويشتمه ورځ وه .

دې ورځې له ځان سره ډېرې دروني خبرې او لوی ماجراوې راوړې وې.

دميوند دښت وينو ته تږی شوی ؤ او د دې ورځې پر تم له سبا څخه لا پوره معلوم ؤ .

سهار چې لمر لا نه ؤ راختلی د ميوند د دښت له سهيلي پلو څخه د انګرېز پياده سواره او توپچي قواوې د پوه تا کلي هدف خوا ته را روانې شوې او هوی غورځنګ چې د دښت لوېديځو شمالي غونډۍ پو ته ځانونو رسوي.

همدا اول د دښت له لويديځې خوا څخه دا يوب خان پلټنې هم په منظم ترتيب د دهو غونډيو خوا ته حرکت پيل کړی ؤ .

دوه لښکرې لکه دوه شاهماران په خړ دښت کې سره نژدې کېدل .

څولمر یوه نېزه راپورته کېده داد وه لښکر دومره سره نژدې شول چې بس دواړې دوه حمله یې ترمنځ وه .

سهار د لس نهو بجو پروخت د انګرېز یو کشاف سپور د شمالي اوږ بازو ته راپورته شو چې د دښمن قوت وګوري خو د ایوب د لښکر له خوا یو ګوچ فېر وشو او سپور له اس څخه راولوېد او آس یې د شملې له بازو څخه را وګرځېد او په شمله کې یې ونښتل .

دامهال د دښت یوې حاکمې نقطې ته د انګرېز لښکر ورسېد او هلته یې د څونډۍ په اړخ کې توپونه نصب کړل . د انګرېز توپچي قوا د (مېجر بلېک ووډ، لفټننټ فاول او لفټننټ مکلېن ) تر قوماندې لاندې داور پل له پاره تیاري ونیوله په دې وخت کې دایوب خان د قوا د حرکاتو امر لوی ناب خوشدل خان نایب سالار حفیظ الله خان ته د قوا او د تیاري راپور ورکړ او هغه په چټ اواز د سورو بلقو ته امر ورکړ :

« مخامخ پر دښمن یرغل یهل.»

د سورو لښکر په ناڅاپي ډول داسې وغورځېد چې دوړه یې د یو طوفان په ډول هوا ته پورته شوه .

د مخامخ خوا څخه مېجر بلېک ووډ توپچیانو ته د فېر امر صادر کړ او د توپو غږ سهار دښت او غرونه ولړزول .

دایوب خان لښکر د انګرېز د توپچي قوې په مقابل کې نیم د سهېل خوا ته نیم د شمال خوا ته حرکت وکړ او د انګرېز کشافانو خپلې قرارګاه ته خبر ور کړ چې عقب نشیني یې وکړه خو یو

ACKU

کړی وروسته دسپرو داپلټن داس دنډل په شان پر انگریزي لښکر را تاوه شو او هغه یې په غېږ کې ونیو او مخامخ دسپه سالار له خوا پیاده پلټن ته قومانده وکړل شوه چې مخ په وړاندې ورشي .

دانگریز دنظامي قرارگاه څخه جنرال نورو په تعجب ولیدل چې افغانانو ډېر خطر ناك تاکتیك ورسره پیل کړیدی . سمدستي یې گوتان ستیمد ته امر ورکړ چې په ۹ پن توپونو د یو زوراته سوه یارد و په فاصله د دښمن د سپرو قوه تر انداخت لاندې ونیسي .

د ۹ پن توپونو ډزهاری په دښته کې یوه لویه غلغله وپا څوله او د څو شېبو له پاره دافغانانو دسپرو قوه ودرېده او دانگریز قرارگاه ته اطلاع ورسېده چې کاري زخم ور کړل شو .

دا مهال چې دافغانانو دپیاده لښکر پلټن دجرغا رو ته رسیدلـ و او د مخامخ څخه دانگریز سپرو او پیاده قواو پرغل کاوه ، دوی ور ته پروت شول . دوی په داسې وخت کې دا پروت اجرا کړ چې د دښت څخه یوه لویه دوړدوړ که پر دغه ځای راپرېوتلې وه او نو ځکه انگریزانو د دوی پروت پوره ونه لید .

کله چې پیاده دوی ته نژدې پروت شول نو مخه یې خلاصه شوه . په دغه وخت کې سپه سالار تو پچي قوی ته دفیر قومانده ورکړه او دلار ښوونې سره سم ډېر شو توپونو په یوه وار فیر وکړ او له دې چاودنې څخه دانگریز د قواؤ زړه وربېږ دېد او دسپرو لښکر یې چې مخ د شمال خوا ته ځغستل په بې ارادې ډول مخ د سهمل خوا ته را وگرزاوه .

ACKU

په دغه وخت کې د قرارګاه له خوا لفټننټ سونټېټ او لفټننټ ریلي ته قومانده ورکړل شوه چې په شپږ بېړۍ توپونو د شمال او جنوب خوا ته لېږ جاري وساتي څکه دایوب خان د سرو لښکر دا کړی وار په وار را تنګوله.

د توپونو ډزې په قوت جاري وې چې د انګرېز قرارګاه د سرو لښکر ته امرو کړ چې مخامخ د افغانانو پر توپونو برغل وکړي او ویې نيسي. د سرو لښکر د موضع شوي افغاني پیاده لښکر څخه په بې خبري را تو پ کړل او کله چې ترډ وی تېر شو ل هغوی د شا له خوا حمله پرو کړه. د انګرېز دا لښکر مخامخ د توپونو تر انداخت او د شا له خوا د پیاده ؤ تر ډزولاندې شو او په یوه تنګه دایره کې یې په منځ وپېل وکړ.

جنرال بورو په قرارګاه کې ددې منظرې په لید لو پر خپل مخ څا پېړې واو رولې او په لوی آواز یې نارې وو هلې:

- «تباه شوؤ تباه. د سرو لښکر له منځه ولاړ- آه ...»

د انګرېز د سرو لښکر پا بر میدان ولوېد او پاتې شمال او جنوب ته وتښتېدل او لږ کړی ورپسې ته په پا شلی ډول پر دښت خواره شول

د افغانانو د سرو لښکر د شمال له خوا څخه راوړاندې شو او لفټننټ جو نزد ۱۲ بېړۍ توپونو ډزې پېل کړې او ددې خوا څخه جنرال نو تال د بمبیي د پر شم لمبر پیاده غونډ ته قوماند ه ور کړه چې د سرو مخه و نيسي. خود افغانانو د سرو چتك را تګ هغه بېځا په کړ ه او په منځ و یې پېل وکړ.

جنرال نوتال د دغه غونډ شا ته د سپرو لښکر ته قومانده ورکړه چې اسان خوشې کړي او په پیاده پوځ د افغانانو په مخ کې سد شي خو هغو هم مقاومت ونه کړای شو.

دوهمې ۱۲ نیمې بجې وې د میوند دښته د تنور په شان توده شوې وه هرې خوا ته مړه او زخمیان پراته وو. دانګریز په قرارګاه کې لوی منصبداران را ټول شول او دفوري نظامي جرګې له پاره یې خبرې لا پیل کړې نه وې چې دافغانانو د توپو تر فیر لاندې قرارګاه ونیول شوه.

د کپتان سلید توپخانې تر یوې نیمې بجې پورې خپله جبه خانه تولهخلاصه کړه او چې وې کتل شرایط دومره ګډوډ وو چې دنوې جبه خانې خوښتل یې له امکانه لرې و لهذا ل نوا مرېې ورکړ چې توپونه دې شا ته راوستل شي دی د (بلیک وډ) او (فاول) خوا ته راغی خو یې لهذل چې هغه دواړه زخمي شوي دي نو ددوی د بطریو قوماندانی یې واخیستله.

دافغانانو پیاده لښکر داوه سوه پاردو په فاصله رانژدې شو او دانګریز د جبهې زړه یې تر انداخت لاندې او نورو خوا د پرله پسې توپونو په انداخت یې مخ دانګریز د پیاده او سپرو لښکرو خوا ته وګرزاوه. په دغه وخت کې د کابلي او هراتي څوندونو پیاده منظم لښکر د (بوپه پل پسې) پرغل تا کتمك تر کارلاندې ونیو. ددوی ترشا دافغانانو د توپچي قوي درې بن ار مستر انګك توپونو پر دښمن امر ته دوام ورکړ.

د ورځې دوې بجې وې چې بیا قرارګاه دافغانانو تر برغل لاندې شوه او جنرال نوتال میجر هاګ ته امر ورکړ چې د سپرو و

د لښکر په وسیله یې سخه وایسی خو د سوروالښکر تر بو ې تر بلی وروسته ودرېده او د افغانانو په بل هجوم یې ترشا وا و ځغستل .

او سړي لمبر غوله او دوېم شم لمبر غوله یو ځای حمله وکړه خو د افغانانو د فوق العاده زړور توب څخه دوې زر را تر هاشول او (لفټننټ کول) سخت ووېشتل شو او سړي پر میدان ولوېد .

د انګرېز دلښکر سوال وار په وار ضعیف او کمزوری شو . د ورځې ده درو بجو په حدودو کې وضع کاملاً بدله شوه او هرې خوا ته دانګرېز دلښکرو هیڅ پمل شو .

د آمر دنمل په هان دافغانانو دمحاصرې کړی نواوس په انګرېزانو په را تنګه شوه او دانګرېز لښکرو په ځغاستو پمل وکړ .

دوی وسلې وغورځولې او یو لوی بېړوږ چې دمیوند دجګړې له ډګر څخه یې مخ پرسېبل دکشکنخود (۱۲۰) خوا ته ځغستل . په دې بېړ کې انسانان او حیوانان یوځای ایله شوي وو .

یوې ډلې چې په وارخطایې یې ځغستل د سرجن مېجر پرېستون زخمي بدن په یوه ډولی کې ایښی ؤ او پر اوږو یې ځغلاوه . وارخطایې دومره زیاته شوه چې دوی ډولی وغورځوله او د مېجر پرېستون غرغره پورته شوه ووروسته دؤکسو دا ډولی پ یوه کاسېبه وتړله او په داسې حال کې چې کاسېبه یې پرله پسې په شلاخو وهله هغې هم په وارخطایې مخ ته ځغستل .

پرلار زخمي سرجن د روځتون له یوه مؤظف څخه پوښتنه وکړه «د روغتون نور زخمیان څه شول ؟»

ACKU

د روغتون مؤظف چې هم ساوهله او شلاخه یې ترسر څرخوله په زړه دېدلی او از وویل!

«څوك څه پوهېږي چې څه وشول؟ زه هیڅ نه پوهېږم او هیڅوك به هیڅ نه پوهېږي چې دا څه وشول؟»

ده په شلاخه گامېشه پر ووږو ووهله او هغه چې تا ځایه ټوپ وواهه نژدې و چې د سرجن ټولی یې پر مځکه وسېلي.

د دښت پرمخ یوه لویه دوره وه او دغه لوی بهیر ځچې رامخستل یې او دشاله خوا د افغانانو میارزین په پسې وو (۱۳۱)

په دغه وخت کې د جبهې شمال ته د انگریزانو یو کندك موضع نیولې وه او په دغه گړودار کې په دې خبر نه و چې قرارگاه له منځه تللې او د انگریز لښکر په ماتې سخ د کشکنخود پر خوا ځغلي. دغه کندك د یوې ټولی افغانانو سره سخته جگړه پیل کړې وه.

دوی په سره نژدې شول او بیا په سره لرې شول. دوی ته وربوره ته د نژدې کلي څخه ډېرې ښځې د ننداري له پاره راوتلې وې دوی پر یوه کوچنۍ غونډۍ ولاړې وې او ننداره یې کوله.

د انگریزي عسکرو کندك چې پر له پسې د افغانانو پر ټولی حملې کولې د هغو قوت یې پای ته رسولی و او د ډېرې ستړیا څخه یې نیمو جنگ کاوه او نیم یې پر تاوده دښته پر یو تل او ځان یې هوسا کاوه.

یو ځل چې نیمو جنگ کاوه او نیم پراته ووه انگریزعسکرو

په یوه شدیده حمله ددوی څخه یو زیات شمیر شهیدان کړل او نور یې وغورځیدل او شا ته یې توپ کړل.

یوې پیغلې را واخستل او د یوه عسکر له لاسه یې توپک واخیست او د هغه په برچه یوې یې خپل یوړانی وتړی او نورو ښځو ته یې ورناري کړې.

«تاسې لاور ته گوری ء؟! ورونه مو په وینو کې و نغښتل او انگریز پرراخغلی.»

نورو ښځو هم را واخستل او د زخمیانو څخه یې توپکونه واخیستل او مخامخ د انگریز پر لښکر ورغلې.

په دغه وخت کې هغه افغانان چې تر مخه یې شا تـه څستل د نجونو په لیدو را د مخه شول او د انگریز لښکر په مخ کې یې پروت وکړ او فوریې بر شروع کړ د انگریز لښکر و دریډ او د تعقیب څخه یې لاس واخیست.

د لښکر په مخ کې ملالـی (۱۲۲) بیرغ او چټ نیولی ؤ او د افغانانو تولی له پروت څخه را ولاړ هوا و مخامخ یې پر انگریزانو ورو وخستل. ددوی دا ور برمخ کیدل دومره ناڅاپی وو چې انگریزانو یې انتظا رنه ایست نو داو چې بیښې یې خطا شوې او شا ته یې منډې پیل کړې.

په دغه وخت کې د انگریز د لښکر و څخه یوه نفر خپل توپک د ملالی څیگر ته برابر کړ او چې فوریې وکړ مرمۍ سمه د هغې په سینه کې ومونښته. دا ولویده خو بیرغ یې ا وچت و نیو.

دا افغاني مبارزين د تښتېدلو انګرېزي عسکرو په تعقيب روان شول او څو تنو پښتنو د ملالۍ په وينو لړلی بدن پر اوږو واخيست او د کلي خوا ته يې يووړ.

# د یوې لویې ماجرا پای

د جولای د ۲۷ ورځې د شپې یولس بجې وې چې د انګریزو مات شوی لښکر په پاشلي ډول حوض مدد (۱۲۳) ته ورسېد او دلته یو نیم ساعت تم شول چې سره یو ځای شي .

تر نیمې شپې وروسته یوه بجه جنرال نوتال دوی ته قومانده ورکړه چې حرکت وکړي خو هغوی د ډېرې ستړیا څخه د حرکت توان نه درلود . دلته نو جنرال نوتال ودرېد او په لوړ آواز یې وویل .

« که حرکت ونه کړئ نو دلته به مقامي هدیره جوړه شي دښمن په ډېره چټکۍ په موږ پسې راروان دی . هغه کسان چې پاتې دي او مرګ ته یې وسپارئ او څوک چې د ژوند سره مینه لري په ما پسې دې را روان شي . »

جنرال نوتال او نور جنرالان او منصبداران ترمخه او لښکر په دوی پسې روان شو . د ژخمیانو زګېروي لویه ناارامي جوړه کړې وه . دوی خپلې درنې وسلې پر لاره خوشې کړې او سهار پنځه بجې وې چې د (اشوخی) (۱۲۴) کلي ته راورسېدل . دوی بې له معطلۍ څخه بیا حرکت پیل کړ او اوه بجې وې چې د سنځري (۱۲۵) کلي ته ورسېدل .

په دغه وخت کې د کندهار څخه د بریګېډیر جنرال بروکر په مشرۍ یوه قوه دوی ته ورسېده له خوشحالۍ څخه ونه کولای شول یوازې د دوی عقبي جبهه یې د افغاني مبارزینو په مقابل کې تقویه کړه .

دغه د ماتې لښکر د ورځې پر ۸ نهمو بجو له کوهکران (۱۲۶) څخه حرکت وکړ او د ۹ بجو پر وخت چې د میاس اباد له کلي څخه د لښکر عقبي برخه تېره شوه له د کلي د کورونو له خوا پښتو د بامونو څخه ډزې پروا وروالې . دوی د باغونو د دېوالونو ته پناه شول چې د باغونو له خوا بزګران او کلیوال پروا و نه ول او د دوی څخه یې وسلې واخیستلې او په خپلو وسلو یې ډزې پر پیل کړې .

دوی په داسې حال کې د کندهار چوڼۍ ته ورسېدل چې د شاله خوا ډزې پر شروع وې .

دغه لښکر په ۳۳ ساعته کې ۵۴ میله لاروهلې وه (۱۲۷) او کندهار ته چې ورسېدل نو د ډېرې واهمې څخه په چوڼۍ کې هم پاتې نشول او سمدستي ښار ته داخل شول .

سازبګر د ښار دروازې وتړل شوې او داسې ډېره ناارامه وه د کندهار په ارګ کې انګرېزي جنرالانو او منصبدارانو د ښار پورې غونډه وکړه او سبا یې خپل قرار ونه په دې ډول عملي کړل .

دوي د ښار بوزيات شمېر خلك له ښاره وایستل ځکه دوی ته وېره لوېدلې وه چې هغه په ښار کې پر دوي پرغل ونه کړي .

د ښار د احمد شاهي کلا د مخ د خندق پر غاړه یې ځوزان لرونکي سیمان کش کړل او د ریګو بوجۍ یې ور ته کېښېښودلې .

ACKU

ښار تر نظامی حفاظت لاندې د اسپ واله ول شو .

یو کنډک عسکر یې دارګه وجنوب او ختیځ خواته او د یوې اته ویشتم لمبر غونډ یې دارګه شمال او لویدیځ خواته واچاوه .

د یوې دیرشم لمبر غونډ یې د توپخانې پهلو لارې کې او او شپږشپږتم کنډک یې دعیدګاه په دروازه کې ځای په ځای کړل او دمخابرې مزي په اساسي توګه وتړل شول .

بریګیډ پر جنرال پوروو دهرات دروازې په جبهه کې ، بریګیډ پر جنرال نو تال د کابل دروازې په جبهه کې ، بریګیډ پر جنرال بروک دهکاپر دروازې په جبهه کې کرنیل میین وانګه دعیدګاه دروازې په جبهه کې د لفټننټ جنرال پرا یموز تر قوماندې لاندې مقرر شول او د کلا په برجانو کې ماهر نښان ویشتونکي مؤظف شول .

دایوب خان لښکر د کلابند ښارشا ته پرپوت او ایوب خان خپله قرارګاه یو محل په سر پوزه (۱۲۸) بیا په باولی (۱۲۹) او بل محل په سرزه (۱۵۰) کې وټاکله او هره ورځ به ښار تر فیر لاندې ؤ .

په ښار کې هره ورځ دا انګریز په ګز موحملي کیدلې او انګریزانو ته داویره پیدا شوې وه چې دښار خلک که قیام وکړي نو دوی به نه د فرار لار لري او نه به پاتې کیدای شي له همدې کبله د جنرال پرا یموز په امر دوه سوه وسله وال نفر دچارسو په شاوخوا کې ځای پرځای شول .

دښار په منځ کې د شاهمه سازی بازار ډیر سخت ګرم ؤ او هر چا انتظار درلود چې نن او سبا به دایوب خان لښکر ښار ته را داخلیږي او انګریزان به وژني .

ACKU

د ښار څخه چې هر څوك و تل د مبارزينو تر سخت مراقبت لاندې وو . لکه چې څو کسه چې د پرایموز پیغام موته ور څخه وو د انګرېزو له خوا ونيول شول او ځا ی پر ځا ی ووژل شول. هر کله چې د ښار وضع ورځ تر بلې حساسه کېده ، نو د ښار د دروازو له پاره نور احتياطي نفر هم مؤظف شول .

دا یوب خان لښکرو به هره ورځ په ټو پکو او توپو نو د ښا ر پر کلا فیرونه کول او د دغو اوازونو څخه د انګرېزي عسکرو اعصاب ډېر خراب شوي وو .

په دغسې يوه ناراسه وضع کې يوه ورځ جنرال برو ك د يوې منظمې قوې سره د عيدګاه دروازې څخه ووت او د ملي مبارزينو سره یې جګړه شوه دغه قوه ډېر ژر د ښو ولو يده او کله چې یې په تېښته خان عيدګاه دروازې ته راورسا وه چې چارته نوزي د ښا له خوا د ملي مبارزينو ډېر سخت ډزې پرو شو چې د دغه په اثر جنرال بروك ووژل شو . (۱۵۱)

اوس نو جنرال پرایموز په دې پوه شو چې د قوت او زور له لارې نشي کولای نو د چل او چم لاره یې راوا خيستله .

ده د سردار شېرعلي خان انا(۱۵۲) له موروېل او دغې سرداري هم جنرال پرایموز خپل زوی باله . يوه ورځ پرایموز دغې کور ته ورغی او ورته وې ویل چې د ايوه مهر بانه ښځه ده او د ايوب خان څخه باید غلو پښت ورځې د انګرېز لښکر ته وخت واخلي چې په دغه موده کې دوی ښار خوشې کړي .

دا مکاره سرداره د ښار له دروازې څخه راووتله او د ايوب خان قرارګاه ته راغله .

ACKU

کله چې ایوب خان و لید له نو د دې لاسوله یې ور مچ کړه هغې ایوب خان ته وویل .

-« په نر توب خوده ې وکړ خودا بل نر توب به هم کوې »

ایوب خان په تعجب پوښتنه څنې وکړه چې :

- « کوم نر توب ؟»

زرې ښځې ور ته وویل :

-« د جنرال پرا یموز لښکر ته به ځلوېښت ورځې وخت ورکوې چې خپل بارو بونه ټول کړي او له کند هاره ووزي »

سردار ایوب خان چې د کوزنی مښا مباتو ترا غېزې لاندې راغلی ؤ بیله دې چې د خپلو مشاورو ېنو سره سلا وکړي هغې ته وویل :

-« ستا په غوښتنه مې دوی ته ځلو یښت ورځې وخت ور کړ . »

د سردار شیرعلی انا د ماورته و کړه او په د پرعزت را رخصت شوه اود کندهار ښار ته چې راغله جنرال پرا یموزیې خبر کړ او هغه هم ژر په کابل کې جنرال ستیوارت ته خبر ور کړ .

د کا بل له خوا درا بر تس په قوماندنی یوه انگر یزي لښکر د کندهار خوا ته روان شو او د ځلو یښتو ورځو تر مخه کند هار ته راورسید . رابر تس یو لوی شمېر مبارزین قتل کړل د کند هار ښار ته یې زیا نونه ورسول .

هغه په شو جگړو کې ایوب خان ته هم ما تې و ر کړه او چې په پرارامه ( ۱۵۳ )شول نود کند هار ښا ریې د امیرعبدالرحمن نماینده

سردار شمس الدین خان ته تسلیم کړ او پخپله له کندهاره په ارامی ووتل .

د افغانستان خلک چې د سردار انواو انګریزانو له سازشونو څخه خبر یدل نو بیو همدل چې د دوی تولې مبارزې څکه بې نتیجې پاتېږی چې :

توري به لا لا وهی
سري به اودولاو هی (۱۵۴)

( پای )

# توضیحات او مراجع

(۱) ډاکټر یاورسکي د تزاري روسیې د هیئت طبیب چې د جنرال ستولیتوف سره کابل ته راغلی ؤ او په بالاحصار کې اوسېده. یاورسکي د امیر په غوښتنه د هغه دولیعهد د علاج له پاره ورغوښتل شو ؤ. دغه ماجرا یاورسکي په خپلو یادداښتونو کې لیکلې چې دولیعهد د مرګ پر بستر حاضر ؤ.

(۲) د دوستۍ تړون چې د امیر شیرعلي او تزاري روسیې تر منځ مطرح شوی ؤ په هغه کې دریمه ماده داوه چې تزار امپراطور به شهزاده عبدالله خان د افغانستان د ولیعهد په حیث وپېژني.

(سفارت روسیه تزاري بدربار امیر شیرعلي خان د یاورسکي لیکنه د برېښنا ترجمه ۱۱۱ مخ. د کابل چاپ)

(۳) لارډ لیټن: په هندوستان کې د برېتانیا وېسرای چې د محافظه کار ګوند د بریالیتوب سره د لارډ بیکنز فیلډ له خوا په ۱۸۷۵ کې هند ته مقرر شو او ده ته وظیفه ور کړل شوې وه چې د استعماري پالیسۍ د علمي سرحد اصطلاح ته واقعیت ورکړي او د دغې پالیسۍ هدف دا ؤ چې برېتانوي نفوذ د بولان، کرم او خیبر پر درو قایم کړي.

ACKU

(۴) بابلي کوچران دمحافظه کار گوند غړی چې د انگلستان په دارالعوام کې یې ویلي وو چې افغانستان د هندوستان دروازه ده او که دغه دروازه د برېتانیا په لاس کې نه وي نو دا به یوه احمقانه خبره وي چې موږ ځانونه دهندوستان مالکان وبولو.

(۵) ملکه - دامیر شېرعلي ځوانه مایینه عایشه دسردار میر افضل خان لور او د سردار کهندل خان لمسی وه - دې پر امیر زور ولگاوه چې د ددې کوچنی زوی د ولیعهد په حیث وټاکی او له دې سره د امیر او زامنو (یعقوب او ایوب) ترمنځ اختلافات پیدا شول. په ۱۸۷۹ کې چې په کابل کې دانگلیس ه سفیر تر وژلو وروسته انگلیسانو پر کابل یرغل وکړ نو برېتانوي هند دامیر د کورنۍ د تبعید په لړکې دامیر شېرعلي دې ملکې ته دهغې د اولادو سره په کوټه کې ځای ورکړ .

(۶) کلوپاترا د نیل افسانوي ملکه چې ماجراجویی گانې یې په تاریخ کې شهرت لري .

(۷) زبیده دهارون الرشید مشهوره ملکه چې د ده د کاکالور هم وه او ددې زوی امین ؤ چې دهارون الرشید تر مرگ وروسته امین هم ووژل شو او ددې پنزی مامون الرشید خلیفه شو . ځرنگه چې میرېنې د پلار په ژوند کې دی د پر زهر کړی ؤ نو هغه سخت غچ ځینې واخیست او دغه نازولې ملکې ته یې د کراستی کالی ورکړي وو.

(۸) تر بیون آف انډیا دهندوستان په اله آباد کې ور ځپانه وه چې هفته

ACKU

خبر يده دغې لمکنۍ پادونه دسفادت وزيسه تزاري په دربارامير شيرعلى دپا ورسکى اثر دبر وښنا ترجمه په ۱۱۰مخ کې راغلى دي. کتاب دکابل چاپ دی.

(۹) قاضي قادرود امير دنظامي او سياسي چارو مشاورؤ چې شمس النهار هم دده تر نظارت لاندې خپريده د امير شيرعلى تر مرګ وروسته پېښور ته ولاړ او بيا بر يتانوي هند ته ولاړ په دې کې معلومه شوه چې دی دانګليسانو جاسوس ؤ چې د امير په دربار کې يې نفوذ درلود.

قاضي قادرود پېښور د قاضي خېلانو د کورنۍ شخه ؤ.

(۱۰) نواب غلامحسن په کابل کې د انګليسانو سياسي نماينده و.

(۱۱) تولوا کمنه ويکتوريا د انګلستان او کمنه چې دلاردلټن دحکمراني په وخت کې هغې ته د هندوستان دامپراطريسې لقب ورکړل شو د(۱۸۳۷م شخه) تر(۱۹۰۱م) کاله پورې تولواکمنه وه دافغان او انګليس لومړى او دوهم جنګ د دې د سلطنت په دوره کې واقع شوي دي.

(۱۲) کله چې امير شيرعلي خپل زوی په هرات کې والي کړ نودامير دې کار چې کشرزوی يې عبدالله ولیعهد کړ يعقوب خان په هرات کې باغي شوامير هغه و نيو او انګليسانو سماشيرعلي خان ته خبرورکړ چې يعقوب خان ته زيان ونه رسوي.

(۱۳) تغاره‌ها ، يو مرموز فقيرؤ چې په ترکستان کې دسردار فيض محمدخان دولايت په وخت کې پيداشو ـ دی به په هفته کې د جمعې په

ورځ د مزار شریف ښار ته را ته او په یوه تغاره کې به يې سودا اخیستله. تغاره شاه د ښار څخه د باندې په یوه کلباغ کې راوسیده او خلکو ته به يې چرس او تریاك ورکول.
ده سردار فیض محمد خان ته و یلي وچې ما خوب لیدلی دی‌چې ته پاچا کیږې او سردار فیض محمد خان ددغه زړې په‌وخت کې جشن ونیوه او توپونه يې وویشتل. کله چې سردار محمد عالم- خان د ترکستان والي شو په دغه وخت کې تغاره شاه پېژشواود او سید لوله ځای څخه يې خورا ډېرې روپۍ پیدا شوې و روسته معلومه شوه چې دی د انګلیس جاسوس ؤ.
(۱۴) ملاشاد محمد خان کتب‌خېل د امیر شیرعلی خارجه وزیرؤ.
(۱۵) د تار تقو نو په باب د پادشاهان متاخرا افغانستان د دوهم جلد په ۱۳۶ مخ کی یادونه شویده کتاب د کابل چاپ دی.
(۱۶) لوي نا ب خو شد ل خان دلوی نا ب شېر دل خان زوی چې د بلخ وا لی ؤ او بهاد ایوب خان سره د میوند په جګړه کې د قوا ؤ قوما ندان ؤ
(۱۷) ختا (چین)
(۱۸) دډېرو تکول په جرګه کې یو کود دی. هغه کسان چې د سپین ږیرو په جمله کې د جرګې مستقیم غړي نه وي‌او د سیلانی‌په‌توګه ناست وي نو په لویو جرګو کې کولای شي چې د جرګې د کوم غړي نظر د ډېرو په تکو لور د کړي ي دا تکول یوالې د سیلا نیانو نظر دی یعنی جرګه‌وال په دی مکلف نه دي چې هغه ومنی.

(۱۹) دجمرود معاهدې ته اشاره ده چې په ۱۸۵۵ کې دامیر دوست محمد او د هند د ګورنر جنرال لارډ دا لهوزي د نماینده سرجان لارنس ترمنځ په جمرود کې امضا شوه او په هغه کې انګریزانو دسردار غلام حیدر وليعهدي ومنله او امیر دوست محمد هغو ته امتیازات ورکړل او په دغه کار په قبایلو کې دامیردوست محمد څخه سخت نفرت پیدا شو .

(۲۰) سردار سلطان محمدطلایي دسردار پاینده خان زوی دامیردوست محمد ورور چې د رنجیت سنګه سره یې لاس یو کړ و در شوت په مقابل کې یې پېښور او جلال اباد سیکا نوته پرېښود . د ی د سردار یحیی خان پلار او د نادرخان ترلیکه و .

(۲۱) رنجیت سنګ چې د شاه زمان په وخت کې د پنجاب ګورنر و او بیا یې بغاوت وکړ او د انګریزانو په مرسته یې د سیکانو مستقل حکومت تاسیس کړ. انګریزانو د رنجیت سنګ او شاه شجاع تر منځ د لاهور معاهده تشویق کړه چې په دې وسیله د افغانستان لویې برخې لومړی رنجیت سنګ ته وسپارل شوې او بیا له هغو څخه انګریزانو قبضه کړې .

(۲۲) شیرپور - په کابل کې د امیرشیرعلی له خوا یوه عسکري چوڼۍ وه د بي بي مهرو د غونډۍ لویدیځ ته جوړه شوې وه - امیر غوښتل چې شیر پور نوی ښار کړي خو د امیر شیر علي له تګ سره دا پروژه هم پاتې شوه .

(۲۳) حسین علیخان سپه سالار .

(۲۴) محمد عثمان خان قابچي باشي د امیر هغه ایك وری ؤ چې د بریتانوي هند د التیماتوم په جواب کې ؤ خو دغه ایلك لاپر لارې ؤ چې انګریزانو پرغل پیل کړ.

(۲۵) شاه محمد خان کتب‌خیل د امیر خارجه وزیر.

(۲۶) جنرال چمبرلین د انګلیسي هیئت مشرچې په عضویت کې یې کیو-ناري هم ؤ او دوی فیض محمد خان له سرحد څخه ځواب کړل چې دامیر اجازه یې نه درلوده او په‌زوره افغانستان ته داخلیدل.

(۲۷) فیض محمد خان سرحد دار - داد نایب امین الله خان لوګري زوی ؤ.

(۲۸) تل په‌وزیرستان کې انګلیسي چونۍ.

(۲۹) بولان: د بولان مشهوره دره د خواجه عمران غر ددې لارې لوی غر دی کوږك هم دلته واقع دی.

(۳۰) سردار ولي محمدخان د امیردوست محمد زوی چې د انګریز په طرفدارۍ د کابل خلکو د لاتي لقب ور کړی ؤ.
لاتي د (لارډ) له کلمې څخه اخیستل شوی ؤ.

(۳۱) دامیر د منظمو لښکرو په باب اتما زره هم ویل شوي دي. یو لك هم ویل شویدي.

(۳۲) سنت پطرزبورګ د تزاري روسې پایتخت اوفعلي نوم یې لیننګراد دی.

(۳۳) د روسې طبیب ډاکتر یاورسکي په قول امیرشیرعلي سګریت هم څکول.

(۳۴) اورس - روسیه.

(۳۵) امیرشیرعلی خوښتل مزار ته تر سفر مخوا شهزاده یعقوب مړ کړي خو د دربار د سردارانو په شفاعت یې هغه وبخښی .

(۳۶) ایوب خان د یعقوب کشر وروو او د امیر شیرعلی زوی و .

(۳۷) یوره - هغه ښځه چې زوی یې مړ شوی وي (د ملکی زوی عبدالله- جان ولیعهد چې مړ شو خلکو دا یوره بلله .)

(۳۸) سردار یحیی د امیر یعقوب خسر د سردار طلایی زوي او د غدار نادر تیکه ؤ .

(۳۹) امیر کبیر - سردارانو امیر دوست محمد ته د امیر کبیر لقب ورکړي ؤ.

(۴۰) عبدالرحمن - امیرعبدالرحمن خان بن سردار محمدافضل خان بن امیر دوست محمد خان د استبداد پلار . د (۱۸۸۰ څخه تر ۱۹۰۱) پورې پاچا ؤ.

(۴۱) کونړغر - هغه غر چې د جلال آباد له ښار څخه د شمال خوا ته معلومیږی او د کونړ د سلسلې غر دی سر یې هر وخت په واوره سپین وي کونړغر نومیږي د جلال آباد سهیل خوا ته د سپین غره څوکه هم معلومیږی چې په واورو سپینه وي .

(۴۲) قسم خوړلی ده قرآنخوړلی غر د جلال آباد د بهسود کلی شمال ته یو کوچنی تور غرګی دی چې فولکلوریکه کیسه لري . وایي چې د سپین غره او کونړغره سره دعوه شوه او هر یوه پربل ځانجګ باله . په دای کي یې د غه تور کوچنی غرګی یې قاضی کړ هغه ته چې کونړغر ور نژدې ؤ نو لحاظ یې وکړ او وې ویل چې کونړغر جګ دي . ده قسم هم وخوړ خوځړ لګه چې درواغ یې

وېلې وو نو رنګه به تو شو او اوس به خلک قرآن خوړلې یا قسم-خوړلې غر بولي .

(۳۳) دا اعلان د لارډ لیټن له خوا امیر شېرعلي ته د التیماتوم تر صادرېدلو وروسته په عام ډول خپور شو او پر افغانستان د درو خواؤ څخه حمله وشوه نو دعسکري قوا او قوماندانان موظف وو چې په هره سیمه کې دا اعلان دخلکو په جمعیتونو کې واولي دا اعلان د ۱۸۷۸ کال د نوامبر په ۲۱ خپور شو .

(۳۴) امباله هغه ځای ؤ چې په ۱۸۶۹ کال کې امیر شېر علي او د هندوستان وېسرای لارډمایو سره و کتل او ددغه کنفرانس څخه هیڅ نتیجه په لاس را نغله په کنفرانس کې دشېرعلي خان عمده پېشنهاد داؤ چې انګریزان دې د ده کشر زوی عبدالله جان د ولیعهد په حیث په رسمیت و پېژني او انګلیسانو امیر ته پېشنهاد کړی ؤ چې دافغانستان په خارجي چارو کې دانګریزانو بې-مصلحته هیڅ ونکړي دا دواړه پېشنهادونه د طرفینو له خوا و نه منل شول .

(۳۵) زار روس- دوېمه یې تزار دوهم الکساندر .

(۳۶) دلارډ لیټن دا اعلان ډېر مفصل ؤ د لته یې لنډیز وا ووړل شوېدی .

(۳۷) دلاپوري محمد شاه خان دمشهور اکبرخان مهمند اکاؤ .

(۳۸) مغل خان مهمند یو مېړه پښتون ؤ چې ده ډېر وزحمتونه او نکا لیفو سره انګرېز ته تسلیم نشو .

(۳۹) دجلال آباد د بهسود وعبدالخالق خان چې وروسته یې دانګریز

جاسوسي هم کوله .

(۵۰) ګوښته د کامې دولسوالۍ مربوطه علاقداري ده چې دمهمند و قوم پکې اوسي .

(۵۱) سر فریډریک رابرټس دانګریزانو لوی جنرال چې دانګریز تر الټیماتوم وروسته یې د تل له خوا پر پیواړ یرغل وکړ او بیایې په علي خیلو کې کمپ واګاوه د کیوناري تر مرګ وروسته پر کابل راغی بالاحصار یې وسو ځاوه اود ۱۸۷۹ په دسامبر کې په شیرپور کې محاصره شو اود ۱۸۸۰ په اوایلو کې کندهار ته ولاړ او له هغه ځایه هند ته روان شو .د.(په هندوستان کې ۴۳ کاله خدمت) په نامه یو کتاب هم لیکلی دی .

(۵۲) کورمه یا کورم چې مرکز یې میرام شاه دی اکثر توري کام پکې اوسي دا د افغانستان سیمه وه چې دګندمک په تړون له افغانستان څخه بېله شوه .

(۵۳) خوست دپکتیادولایت مربوطه لویه ولسوالي ده .

(۵۴) شکسپیر دانګلستان مشهورشاعراو دراماتیست چې د نورو دراموپه جمله کې یې هملت ډېر شهرت لري د دې شاعر دژوند نېټه (۱۵۶۴-۱۶۱۶) ده .

(۵۵) کیمبل دانګلستان یو معروف شاعر دی چې په ۱۷۷۷ م کې زېږېدلی او په ۱۸۴۴ کې مړ شوی دی .

(۵۶) مکناټن چې دشاشجاع سره یو ځای راغی او دانګلیس دسفیر په حیث په بالاحصار کې کښېناست نوموړی دافغان اوانګلیس دلومړي جنګ په اغاز کې دپښتنو له خوا وو ژل شو .

(۵۷) دا نګرېزانو ګوډاګی چې دخوست حکمران یې مقرر کړی ؤ.

(۵۸) سردار سلطانجان سدوزی چې راپرتس دخوست حکمران کړ او او کله چې راپرتس له خوست څخه ووت څدرانو حمله پرو کړه څو په تېښته خلاص شو.

(۵۹) جنرال الفونستون دافغان او انګلیس دلومړی جګړې په دوران کې دانګرېزي لښکرو قوماندان چې دانګلیس د ۱۷ زره کسیزې اردوسره دخورد کابل او ګندمک ترمنځ قتل شو.

(۶۰) جنرال ستورات چې امیر شیر علی ته دالتیماتوم ترور کو او وروسته انګریزانو دبولان له لاری پر کندهار برغل کاو، عسکري قوماندان ؤ او دکابل دلوی قیام په دوران کې چې انګلیستان په شیرپور کې محاصره شول او د راپرتس د نجا پعو دپښتولو له پاره جنرال ستورات دراپرتس په عوض مقرر کړ چې دوظیفې داشغال له پاره ۱۸۸۰ په اوایلو کې له کندهاره کابل ته راغی.

(۶۱) جنرال بیډولف پر کندهار د انګرېزي لښکرو د برغل قوماندان و.

(۶۲) حضرت شاه هغه پښتون عسکر ؤ چې پر پیواړد شبخون په شمه یې د انګرېزانو پلان وخراب کړ او غافلو پښتنو ګورېلا ګانو ته یې نجات ور کړ او د انګرېزانو له خوا په اعدام محکوم شو (د پښتنو تاریخ د قاضی عطا الله اثر دریم جلد ۳۴۳ مخ د پېښور چاپ)

(۶۳) راپټ د راپرتس هغه لوم ؤ چې افغانانو ووکړ او راپټ کل یې پاله.

ACKU

(۶۴) توري او به د انده مان تا پورې کان ووځي په بحرهند کې واقع دي.
(۶۵) رضاشاه یو هندوستاني اسرۀ چې دحضرت شاه عسکر په طرفداری د واپرتس له خوا توروا او بوته په تبعید محکوم شو.
(۶۶) د سومن غره څوکه سکارام نو میږی چې په اروپايي متو لوژی کې د پرخت ځای لري هد غې څوکې لوړوالی (۳۷۵۵م) متره دی.
(۶۷) چمن د کندهار د سوین بولدك پرمقا بل یو کوچنی ښار دی چې د د پوروند دکرون په اثر د الفانستان څخه بیل شو.
(۶۸) تخته پل د کندهار او سوین بولدك ترمنځ یوه سیمه ده.
(۶۹) الکوزي او نورزي دوې لوېې قبیلې دي چې په سوین بولدك او شاوخوا کې اوسی.
(۷۰) داوغستان رود چې د توبې له غرو څخه سرچینه اخلی د کندهار په شاوخوا کې له ارغنداب سره یو ځای کیږي.
(۷۱) ترنك هم د ارغنداب درود له معاونانو څخه گڼل کیږي.
(۷۲) شا بازار د کندهار د زاړه ښار د مرکز چارسو څخه د شمال خوا ته واقع دی.
د کندهار زوړ ښار داسې واقع ؤ چې دښار په منځ کې چارسو ؤ د چارسو جنوب خوا ته ښکا پور بازار د چارسو ختیځ خوا ته کابل بازار د چارسو شمال ته شا بازار او د چارسو لویدیځ ته هرات بازار ؤ. لوی گنج چې دخلې منډ یې وه و شا بازار ته ورهرسه واقع ؤ.
(۷۳) سیاباد د جدي په میاشت کې یو یخ باد دی چې د کندهار له جنوب لویدیځ ریگستانو څخه را الوزی او هوا ډیره یخوي.

(۷۴) قاضي دانه د کندهار په ښکارپور بازار کې د ښکارپور دروازې ته نژدې د قبلې خوا ته یوه لویه کوڅه ده .

(۷۵) برنده : هغه تیره آله چې لاستی لري او موچیان څرمن په توږي .

(۷۶) سنګسو: هغه سره ډبره ده چې موچیان برنده او نوره پر تیزوي .

(۷۷) کرنیل راسکونوف د روسیې د هیئت د مشر جنرال ستولیتوف معاون و کله چې ستولیتوف له کابله روانیده نو راسکونوف یې خپل وکیل کړ او په کابل کې و چې د جنرالۍ ترفیع ورته وا ورسیده دی مزار ته د امیر شیر علي د سفر ملګری و .

(۷۸) جنرال کوفمان په روسي ترکستان کې د تزاري روسیې ګورنر و .

(۷۹) (سفارت روسیه تزاري بدربار امیرشیر علي خان) د داکټر یاورسکي لیکنه د برېښنا ترجمه دوهم جلد ۲۱ مخ د کابل چاپ .

(۸۰) (سفارت روسیه تزاري بدربار امیرشیرعلي) د داکټر یاورسکي لیکنه د برېښنا ترجمه دوهم جلد ۲۱ مخ . د کابل چاپ .

(۸۱) قاضي قادر و د امیر شیر علي خان نظامي او سیاسي مشاور چې وروسته معلومه شوه چې د انګریزانو جاسوس و .

(۸۲) ګاربیالدي ایتالیایي انقلابي قهرمان چې د ایتالیا د وحدت له پاره یې مبارزه کوله .

(۸۳) فرتیوز : ایتالوي اهنګونه چې په اروپا کې شهرت لري (سفارت روسیه تزاري بدربار امیر شیرعلي خان) د یاورسکي لیکنه د برېښنا ترجمه دوهم جلد ۱۳ مخ . د کابل چاپ .

ACKU

(۸۴) هرکولیس په یونانی متلو اوزي کې د قوت رب النوع .

(۸۵) داکتر یاوورسکی د امیر دغه یادښکارنه د مریخ زاسن بللی دي چې د پکتیا شخه یې انتخاب کړي وو ( سفارت روسیه تزاري په دربار امیر شیرعلی خان ) د یاورسکی لیکنه د برېښنا ترجمه دوهم جلد ۳۱ مخ . د کابل چاپ .

(۸۶) پکتیا د کابل جنوب ته ولایت چې مرکز یې ګردېز ښار دی دا ولایت پخوا د جنوبي په نامه یادېده او د افغانستان امیرانو خپل یاد ښکارونه دغه ځایه انتخابول .

(۸۷) د بخارا د ښار د النډ صورپرداز پکستان د خلقي شاعر او لیکوال صدر الدین عیني د مشهور اثر (مرګ سود خور ) شخه اخستل شوی دی . دا اثر په تاشکند کې چاپ شوی دی .

دروسي طبیب په یاددښتو کې هغه وایي چې ما ددغو یاددښتونو وروستۍ برخه په بخارا کې لیکلې ده (سفارت روسیه تزاری بدربار امیر شیرعلی خان دوهم جلد ۱۹ مخ ) د کابل چاپ .

(۸۸) مارکو پولو په دنځیو پېړیو کې ایتالوی ګرزېدونکی چې دچین دامپراطور قوبلای خان دربار ته تللی ؤ او خاطرات یې خورا ډېر شهرت لري .

(۸۹) سفارت روسیه تزاري بدربار امیر شیرعلي خان دیاورسکی اثر د برېښنا ترجمه دوهم جلد ۳۵ مخ . د کابل چاپ .

(۹۰) ژوري (زالو) چې په هغه‌نوی طبابت کې د خرابې وینې د زېښلو له پاره اچول کېدي .

(۹۱) امیر تیمور گورگانی چې په ۱۳۳۳م کې زیږېدلی او په ۱۴۰۳م کې مړ شوی دی .

(۹۲) سردار هاشم خان د سردار محمد شریف خانزوی د امیر شیرعلی-خان ورارہ ؤ .

(۹۳) دباغ بالا خونډی د امیر عبدالرحمن تر پاچهی پخوا د تیمه-ماران په نامه یادیده .

(۹۴) د کابل بالاحصار د کو هزاد لیکنه دوهم جلد ۲۲۳ مخ د کابل چاپ .

(۹۵) افغانستان در قرن نزده، دسید قاسم رښتیا لیکنه ۳۴۲ مخ دپانپی پاور قی . د کابل چاپ .

(۹۶) منشی بختیار چې د یعقوب خان د تخت نشینی سره د کیوناري له خوا کابل ته راولیږل شو .

(۹۷) داود شاه خان چې امیر شیر علی خان روزلی او امیر یعقوب هغه خپل سپه سالار مقرر کړ .

(۹۸) د پښتنو تاریخ د قاضی عطاء الله لیکنه دوهم جلد ۳۸۲ مخ د کابل چاپ .

(۹۹) جنرال چیمبرلین چې د امیر شیر علی سره د خیبر و له لاره د انگریزي هیئت په مشري علی مسجد ته راغی او هلته فیض محمد خان د تیر یدو اجازه ور نکړه ، او د هغه کار انگریزانو بهانه کړ څو امیر شیر علی ته التیماتوم ورکړ او دوهم جنگ پیل شو . دغه سړي د گنډمک د تړون پر وخت د کیوناري سره ملگري ؤ .

(۱۰۰) د ګندمک معاهده چې د ۱۸۷۹ کال د مې په ۲۶ د امیر یعقوب او کیوناري تر منځ لاسلیک شوه لس مادې یې درلودې او د مې په د پرشمه لار ځ لوڅن په سمله کې بر هغه لا سلیک و کړ دد غې معاهدې په اثر د افغانستان څخه یو شمېر سوق الجیشي سیمې بېلې شوې او افغانستان د انګرېز د یو تحت الحمایه مملکت حیثیت ومو ند .

(۱۰۱) مستر جېکمنز چې د میجر کیوناري سکرتر ؤ کله چې کیوناري د ګندمک د معاهدې د څلورمې مادې په قرار کابل ته د انګرېز د سیاسي نماینده په حیث راغی جېکمنز د سکرتر په حیث ور سره ؤ .

(۱۰۲) نبي (د محمد نبي مخفف) د جېکمنز یو هندوستاني نوکر ؤ چې امیر یعقوب ته یې د کابل د قیام په ورځ یعنې د سپتمبر په ۳ د جېکمنز او کیوناري پیغام ورساوه .

(۱۰۳) موسی خان د امیر یعقوب خان زوی او د هغه ولیعهد و .

(۱۰۴) خوشي او ګر - په لوګر کې تر ټل علم بور ته نومه چې بوې خوا ته د تېرې کوټل او له شمال ختیځ څخه شتر ګردن پروت دی.

(۱۰۵) دا هغه سرمار تېر د یورند دی چې په ۱۸۹۳ کې یې دا میر عبدالرحمن سره د ډیورنډ په نامه تړون لاسلیک کړ . د یورند په دغه وخت کې د برتانیې سره د سیاسي مامور په حیث را غلی ؤ

(۱۰۶) د پښتنو تاریخ د قاضي عطاء الله اثر دریم ټوک ۹۵۴ مخ . د پېښور چاپ دد غه اعلان مفهوم په لنډ ډول را اخېستل شوی دی

(۱۰۷) په دغه کيسه کې د حربي پوهنتون د مجلې د ۱۳۵۸ دوېي د گڼې څخه د (حليم ظريفي) له ليکنې څخه مفهوم را اخيستل شوی او په لوی چوکاټ کې اچول شوی دی.

(۱۰۸) ارغنده ی د پغمان د سره مېشتې جنوب لوېديځ خواته سيمه ده چې د کابل لوېديځ ته واقع او تقريباً ۴۰ کيلو متره فاصله لري.

(۱۰۹) افشار اوس د کابل په ښار کې داخل سيمه ده خو هغه وخت يو کلی و او د بالاحصار څخه يې لس کيلو متره فاصله درلوده.

(۱۱۰) کاريز مير د خير خانې د کوتل شمال لوېديځ ته د کابل له ښار څخه د ۲۵ کيلو متر په فاصله کلی دی.

(۱۱۱) قلعه قاضي د کابل د ښار لوېديځ خواته پر ۱۵ کيلو متري کلی دی.

(۱۱۲) چارده اوس د کابل په ښار کې داخل سيمه ده او د ښار پر شپږ کيلو متري کې واقع ده.

(۱۱۳) اونچي باغبانان د کابل د ښار جنوب لوېديځ ته په ۱۵ کيلو متري کې واقع دي.

(۱۱۴) مردان د پېښور په ولايت کې يوه سيمه ده چې د انگريزانو لويه عسکري قرارگاه وه.

(۱۱۵) (اوه ايچه انگور بخور) ترانه ډېره اوږده وه او تر اوسه هم ويل کيږي دلته يې لنډيز راوړل شوی دی.

(۱۱۶) افغانستان در مسیر تاریخ د غبار لیکنه ۶۲۹ مخ د کابل چاپ څخه دا مطلب را اخیستل شوی دی.

(۱۱۷) خواجه بغرا اوس د خیرخانې مېنې دریمه برخه ده او دلته په دغه نامه کلی او زیارت تر اوسه شته.

(۱۱۸) د کابل د بین المللی هوایی ډګر سره د خواجه رواش کلی واقع دی.

(۱۱۹) د پښتنو تاریخ د قاضي عطاالله لیکنه دریم ټوک ۳۸۷ مخ د پېښور چاپ.

(۱۲۰) کرسمس د مسیحیانو اختر دی چې د دسمبر په پنځه ویشتمه لمانځل کېږي.

(۱۲۱) حفیظ الله خان لوګري د ایوب خان نایب سالار د افغان او انګلیس د لومړۍ جګړې د مبارز نایب امین الله خان زوی او د میوند په جګړه کې د محاذ قوماندان و.

(۱۲۲) خان آغای جمشیدي او جهانداد قبچاق د امیر شیرعلي خان د دربار مقربانو څخه وو چې د امیر شیرعلي تر مړینې وروسته د انګریزانو په خدمت کې ودریدل او بیا د انګریزانو له خوا هرات ته ولیږل شول چې هلته فتنه جوړه کړي. وایي چې د میوند خوا ته د ایوب خان د سوقیاتو پر وخت چې په هرات کې بلوا جوړه شوه هغه د دغو دوو تنو فتنه وه.

د جمشیدي او قبچاق یادونه (افغانستان در قرن نزدهم د سید قاسم رښتیا اثر په ۲۶۰ مخ د کابل چاپ) کې هم شوې ده.

(۱۲۳) پښت رود د هلمند د سیمې رسمی او دفتري نوم دی.

(۱۲۴) د پښتنو تاریخ د قاضی عطاالله لیکنه دریم ټوك ۹۷۳ مخ

(۱۲۵) د امستر کمپل د امیر دوست محمد په وخت کې د توپچي قوماندان او متخصص ؤ او دامیردوست محمد په لښکر کې داخل ؤ ایا چې دامیردوست محمدزوی سردارمحمدافضل د ترکستان حکمران شو نو دغه انگلیس مسلمان شواودغه محمد نوم پرکښېښودل شو. په همدغه وخت کې چې په ترکستان کې ؤ سردارافضل خان زوی سردار عبدالرحمن (وروسته امیر) هغه ته وسپاره او عبدالرحمن د دغه انگریز په لاس وروزل شو. د مستر کمپل مسلمانېدل او بیا ترکستان ته د هغه تگ د تزاري روسیې داطلاعاتو اخیستلو له پاره دانگلیسانو له خوا د هوې منظمې شبکې د ناموس سره بې ارتباطه نه دی.

(۱۲۶) لفټننټ جنرال پرایموز د انگریزي قواؤ قوماندان ؤ کله چې جنرال ستیوارت له کندهاره کابل ته روان شو نو پرایموز دېوې قوې سره د سیمې خځه کندهار ته راغی او د لته یې په کار پیل وکړ.

(۱۲۷) سردار نور علی د سردار شیرعلی زوی او د سردار مهردلخان لمسی ؤ چې د پلار په پښتنها داو په کندهار کې دانگریز د سیاسی مامور کرنیل سنت جان په منظوري د زمینداور حکمران شو.

(۱۲۸) د جنرال پرایموز او کرنیل سنت جان تر منځ اختلاف نظر ؤ او څینې بورژوازي واقعه نگاران په میوند کې د انگریزانو د شکست یو عامل همدغه اختلاف یادوي.

(۱۲۹) میراحمد جان د کندهار د یحیی خان د کوشنی پو پلازی ؤ او کورای یې ترا وسه شته په دغه پسې دوري غزلې د کندهار شاعرانو جوړي کړيدي چې (هم غازي شوې هم شهید میرجانه - چې د مخ خوره دې ورې تر هندوستانه) یې ډیر شهرت درلود.

(۱۳۰) میوند اوس پراخ مفهوم لري او د کشکنخو د د شمال خوا ته واقع سیمه ده چې د کندهار له ښار څخه تقریباً ۶۴ میله فاصله لري.

(۱۳۱) The second Afghan war-1878-80
Official Accurt. London 1907

د ډکرمن او کابل حرب علی احمد جلالی ترجمه قلمی ۷۰۵-۸۰۵ مخ.

(۱۳۲) د هرات څخه کندهار ته لومړی منزل تقریباً ۳۰ کیلو متره له هرا ته فاصله لري.

(۱۳۳) فقیر احمد خان په عسکرو کې صاحب منصب ؤ هغه مهال چې ایوب خان کندهار ته سوقیات معطل کړل او فقیر احمد خان یې د هرات نیول او کابلي پلټنو د اختلاف د رفع کولو له پاره هلته ورو - لیږه کابلي پلټنو داسې خیال وکړ چې د ی د معطلی عامل دی نو بغاوت یې وکړ او دی یې مړ کړ.

(۱۳۴) د هلمند د ولایت پوښاردی چې د کندهار لویدیځ خوا ته په ۱۳۰ کیلو متره فاصله کې د هلمند د سیند پر غاړه واقع دی.

(۱۳۵) اوسنی نهر سراج چې د ګرشك ختیځ خوا ته په پنځلس کیلو - متري کې واقع دی.

(۱۳۶) د اوسنی سیمې بولدك پخوانی نوم کدنی ؤ.

(۱۳۷) په هلمند کې دنوزاد دو لسوالی مربوط علاقه داري ده چې د ګرشك لویدیځ خوا ته په شل کیلو متري کې واقع ده.

(۱۳۸) زمبولی د گرشك په مقابل کې د هلمند د سيند پر راسته خوا پروت کلی دی .

(۱۳۹) حيدرآباد د زمبولی په مقابل کې د گرشك په استقامت پروت کلی دی چې د گرشك شمال ته په څلور کيلو متري کې واقع دی .

(۱۴۰) د هلمند په ولايت کې دشمال خوا ته د هلمند پر غاړه د زمينداور ښخه را لاندې سيمه ده چې اکثريت يې د الکوزو د قبيلې او سيدونکی دي .

(۱۴۱) د ميوند په ولسوالی کې د کندهار او گرشك ترمنځ واقع کلی دی .

(۱۴۲) The second Afghan war (د دوهم افغان انگريز جنگ) جلالی ترجمه قلمی نسخه ترجمه ۹۰ مخ

(۱۴۳) ملالی دميوند دجنگ يوه توريالۍ پېغله وه چې په دغه جنگ کې شهيده شوه په دې پورې داپښتو لنډۍ ډېر شهرت لري .

که په ميوند کې شهيد نه شوې
زما لاليه بې ننگۍ ته دې ساتينه

(۱۴۴) حوض مدد ميوند او کندهار ترمنځ يوه سيمه ده چې د کند-هار لوېديځ ته واقع ده او فاصله يې د کندهار ښخه تقريباً پنځه دېرش کيلو متره ده .

(۱۴۵) اشوغه چې په دفترو کې د هاشقاان په نامه ياد يده دارغنده-

اب درود پرغاره د پنجوايي په مقابل کې واقع پوکلی دی.
داد (اشوکا په نامه واو دغه ځای ته نژدې د موريا د کورنی داشوکا دپر ليکونه هم پيدا شوي دي.

(۱۳۶) سنځری د کندهار لويديځ خواته په پنځلس کيلومتري کې پوکلی دی.

(۱۳۷) کوهکران د کندهار په اس کيلو متري کې د ښار لويديځ خواته يوکلی دی چې د مير ويس نيکه مزار هم په دغه ځای کې دی.

(۱۳۸) The second Afghan war ( د دوهم افغان جنګ جلالی ترجمه قلمی نسخه ) ۷۰ مخ

(۱۳۹) سر پوزه د کندهار دښار په دري کيلو متري کې واقع ده چې د چهل زينې د برين دالان هم په دغه ځای کې د غره پر پوزه جوړ شوي دي.

(۱۵۰) بابا ولی د کندهار ښار په شپږ کيلومتري کې د ارغنداب سيند پر غاړه يو کلی دی چې د باباصاحب په نامه زيارت هم په دغه ځای کې دی.

(۱۵۱) مزوه چې اوس د زرې مزرې په نامه يادېږي د بابا ولی د کلی شمال ته واقع يو کلی دی چې د کندهار څخه تقريباً و کيلو-متره فاصله لري.

(۱۵۲) The second Afghan war ( د دوهم افغان حرب جلالي ترجمه قلمي نسخه ) ۱۸۰ مخ ترجمه

(۱۵۲) د سردار شیرعلیخان انا د سردار مهردلخان موره چې جنرال پرایموز انګریز یې زوی باله.

دغه خاینه سرداره دایوبخان په پوست کښېنوله څو یې پرایموزته څلوېښت ورځې وخت واخیست او په دغه موده کې رابرټس د کابل څخه ورورسید چې هم یې خلک مړه کړه هم یې ایوبخان وهاره.

(۱۵۳) افغانستان درمسیر تاریخ دغبار لیکنه ۶۳۹ مخ. د کابل چاپ

(۱۵۴) دا یو پښتو متل دی.

# فهرست


## سریزه (الف)

د افغان او انګلیس د دوهم جنګ د سیاسي نتیجو تحلیل . د ا جنګ د یوې حماسې په حیث باید زموږ په ادبیاتو کې ځای ونیسي او له همدې کبله د افغانستان د علومو اکاډمي د دغه جنګ د نورو مستندو موادو د نشر په ترڅ کې دا هم لازمه وبلله چې د دغه جنګ حماسه په یوه ریالستیک داستان کې ځای شي .

## دیوه شوم ستوري غروب (۱)

دا د شهزاده عبدالله وليعهد د مرګ صحنه ده چې د روسي طبیب پاورسکي د یادداشتو نو په رڼا کې تصویر شوې ده . په دې برخه کې چې د روسي طبیب او جنرال ستالیتوف تر منځ د ولیعهد د مړینې په باب خبرې کیږي د امیر د خارجي پالیسي ، دربار او فاميل په باب حقایق د داستان په بڼه کې ځای شوي دي .

## توري او سرې وریځې (۱۴)

د امیر شیرعلي د ولیعهد د غم ځاوروبشتې لا پوره شوې نه وې چې

دانګلیس نماینده دغه څخه غواړي چې انګلیسي هیئت باید کابل ته د خیبر له لارې ورشي خو امیر دوی لیږد سوکواري بها نه کوي او دانګلیس د هیئت مسئله معطلوي. په دې برخه کې یوه ډراماتیکه صحنه هم شته چې لوی‌ناب خوشدل د مزار شریف (ترکستان) څخه امیر ته سوغات توته را لیږلی او په هغو کې یو طوطی خود اسې ښوونه وايي چې هغه د امیر د زړه حکایت کوي. (د پادشاهان متاخر په حواله)

## اپریدي انګرېز نه پرېږدي (۳۰)

داپریدو یوه قبیلوي جرګه انګلستان له خیبر څخه کابل ته د تېرېدو لپاره مرسته غواړي. خو بیا يې خورو ملکانو ورسره منلې د دې خو جرګه دا مرسته تحریموي.

په دې برخه کې یو شمېر د پاڅونو ته ځای شوی دی چې ضمناً د پښتنو د دغه کلتوري رسم په معرفي کې هم مرسته کوي.

## هغه توره چې په تیکي کې زنګ ووهله (۳۷)

په شېرپور کې دامیر شېرعلي نظامي دربار. امیر په دغه غونډه کې امر کوي چې د انګلیس د تجاوز پرضد دې د ده مسلح قواوې ته دریږي خو پر انګلیس الزام ورواوړي او دی د هغوی دوو دښمنانو په جرګه کې هغوی ملامت کړي. امیر سنت پطرز بورګ ته د خپل سفر اعلان کوي. په دې برخه کې دامیر خیالپرست کرکټر د داستان په چوکاټ کې جوول شوی دی.

## بیهوده تلاښ (۴۴)

په کابل کې دامیر شیرعلی دوروستی شپې په سپاوختی دماجرا-جوړه ملکې سره دامیرمجلس په دغه وخت کې شهزاده یعقوب ته دانګلیس په باب او دخپل در بار په باره کې هم توضیحات ورکوي .

## یرغل (۶۲)

دخیبرله لارې دجنرال براون ترقوماندانۍ لاندې د انګلیس د لښکرو یرغل . په جلال آباد کې د براون او کیوناري در بار او د لارډ لټن اعلان . دمغل خان مهمند مخالفت او دانګلیس سره د لا لپورې دمحمد-شاه خان اود بهسودو د عبدالخالق خان مرستې او د خلکو له خوا دانګلیس او دهغه دهمکارانو سوکاوی .

## دپیوار حماسه (۶۹)

په پکتیا کې پر پیوار د جنرال رابرتس یرغل د حضرت شاه او ملګرو له خوا پر پښتنو د شب خون د پلان خنثی کول او د حضرت شاه دعد امېراما تیکه صحنه .

## خښمېدلی خلک (۱۲۳)

کندهار ته د جنرال ستولف په قوماندانۍ د انګلیس د لښکرو رسېدل او د خلکو خښم راپورته کېدل . د کندهار په ښکاپور بازار کې دانګلیس پرسیاسي مامور کرنیل سنت جان دیوه سوچي حمله اودهغه ماجرا.

## دمریخ زلمی (۱۳۱)

په مزار شریف کې دامیر شیرعلی داوسېدلو ورځې . دداکتر یاور

سکي د یاد اښتو نو له مخې. باورسکي د امیر باغ بگارد چې غټ او قوي خلك دي د مریخ ز ا من بـو لـیـا ئو وا یې چې دا کسان د مملکت له جنوب څخه راتول شوي وو په دې برخه کې پـه یوه و لا یت کې د اشرا نو د ژوند تصو یر ا یستل شو یدی .

## داوږدو انتظارو نو غمجن پای (۱۳۷)

په مزار شریف کې د امیر شیر علی د ژو ند و ر و ستی ورځې . د امیر د مرګ صحنه د دا کتر باور سکي د یاد دا ښتونو په رڼا کې . د نا رو غه امیر پر بستر د قدرت طلبه سردار انو رقا بتو نه . د اما د ـ ا ښتو نه باور سکي په بخارا کې لیکلی دي نود صحنې مدخل له بخارا څخه را پیل شو یدې .

## یوه شیطانی طرح (۱۴۷)

د امیر یعقوب خان امارت او د هغه د ر بارته د انګلیس د نما ینده په حیث د منشي بختیار را تګ د منشي بختیار ، سردار یحیی اوسردار ولی ـ محمد لا ټی او نو رو مرتجع سر دارا نو له خوا د ګندمك معا هدې ته د امیر تشویق .

## د طوفان لومړ ی څپې (۱۵۸)

د دربار د مرتجع سردا را نو او منشي بختیار په ملګري ګندمك ته د امیر تګ او د کیو ناري سره د ګندمك معاهده امضا کول. په دغه برخه کې دا نګلیس سره دسرد ارا نودروا بطو په باب حقایق راغلی د ي .

## د انګر یز بزم (۱۶۹)

په با لا حصا ر کې د انګلیس د سفیر کیو ناري کښېنستل او د ده

په کور کې د میخوری او د انس محفل . د سردار ولی محمد لاتی تصویر په د غسې صحنه کې . (یوه د راما تیکه صحنه)

## د خلکو قیام (۱۸۱)

د سپتمبر ۳ په کابل کې د خلکو قیام په بالاحصار کې د انگلیس د سفیر قتل اود خلکو له خواد امیر یعقوب او سردارانو تهدیدل او د مرتجع سردارانو هڅې بې نتیجې پاتېدل .

## سرداران د انگریزانو سلام کوی (۱۹۱)

د لوگر په خوشی کې درابرتس پذیرای د امیر یعقوب ، سردار یحیی او نورو سردارانو له خوا د رابرتس ، د هورند ، امیر یعقوب او سردار یحیی مجلس .

## بالا حصار داور په لمبو کې (۲۰۲)

جنرال رابرتس کابل اشغالوي بالاحصار ته اور ور اچوي د ښار یوه برخه ورانوي . خلك په دار ځړوي .خو سرداران د دوی په خدمت کې دي . د پنځه کسو مړو نو مبارز ینو د اعدام صحنه .

## غچ (۲۱۰)

د کابل په چارده کې د اکبر خان کورته د یوې د لگی انگریزانو ورتگ څرنگه چې پر ا کبر خان الزام دی چې د انگریز پر ضد فعالیتونه کوي اود کور تلاشی یې اخیستل کیږي په د غه وخت کې دلگی مشر د غه ښځې ته بدنیت کوي خو دغه په د ېر مهارت د دلگی نور عسکر مسموم وي او د لگی مشر په سیلا و وژنی (یوه د را ماتیکه صحنه)

## د دسمبر طوفان (۲۲۲)

په کابل کې د انګلیس پر ضد دوهم قیام د ملا مشک عالم، محمد جان خان وردک، میر بچه خان، غلام حیدر خان څرخي او سمندر خان لوګري په مشرۍ د خلکو راپورته کېدل د انګلیس د قواو شکست او په شېرپور کې محاصره کېدل. په دې برخه کې د کابل په بېلو بېلو برخو کې د افغانانو او انګرېزانو د جنګ صحنې.

## غازي مور (۲۲۳)

دا د هغې پښتنې مور ماجرا ده چې نوم یې الماسه وه د کټواز د سلیمانخیل حبیب اکا وروه او په کابل کې په غازي ادې شهرت لري.

## قهرمانه ناوې (۲۴۲)

د زهرا او عبدالله عاشقانه عارفانه د واده شپه. د ګوتې سرې کېدو پر وخت ناوې زوم ته پېغور ورکوي چې ځوانان جنګ ته تللي دي او ته د خوښۍ په مجلس کې ناست یې. عبدالله له دغه ځایه ولاړېږي او مستقیماً د جنګ صحنې ته ځي. په دې برخه کې د یوه واده تصویر او مهیج ډیالوګ.

## شومه نغمه (۲۵۱)

د دسمبر ۲۳ د افغانانو او انګلیسانو ترمنځ جګړه. د سردارانو په مرسته د انګلیسانو توطیه او د جنګ له صحنې څخه د میا وزینو د مشرانو پام بلې خوا ته اړول او بیا د انګرېز غلبه.

## په هرات کې (۲۶۱)

په هرات کې داېوب خان، لوېناب خوشدل خان او حفیظ الله خان له خوا د انګلیس پر ضد د ترتیباتو نیول، د خلکو راټولول او پر کندهار د یوه مارش ترتیب نیول.

## په کندهار کې (۲۷۲)

په کندهار کې د جنرال پرایموز، کرنیل سنت جان او سردار شیرعلی له خوا د مبارزینو د مخ نیوي لپاره پلانونه او په ښار کې د انګلیس څخه د خلکو نفرت او د انګلیس په تنګول.

## بې باکه مبارزان (۲۸۰)

فراه ته داېوب خان د لښکرو رسیدل. د سرتیب نادر شاه خان او محمد عمرخان نورزي له خوا د مبارزانو لښکر جوړیدل. د لوېناب خوشدل او سرتیب نادر شاه خان انتظام، له دغه ځایه د کندهار د کدنۍ اڅکزو او نورزو ته پیغام.

## د هلمند سیلوه (۲۸۸)

د هلمند غاړو ته د ملي مبارزانو رسیدل او د بوبکر خان علیزي له خوا د لښکر جوړیدل.

په دغه وخت کې سردار شیرعلی او د انګلیس پوکندیك عسکر هم ګرشك ته رسیدلی دي خو هغه پښتانه چې د سردار شیر علي سره ملګري شوي وو هغه د ملي مبارزانو خواته راغلی د ساروان کلاد محمد ـ الله خان پیغام او د انګلیس عسکرو تعقیبول.

## سور مورچل (۲۹۶)

د میوند جنګ. د جنګ صحنه. د دواړو خوا قواوې. د دواړو خواو قوماندانان، برخوردونه د جګړې خاص تاکتیکونه او د ملالۍ اوغلې قهرماني. په جګړه کې د انګلیس شکست او د کندهار خوا ته فرار.

## د یوې لویې ماجرا پای (۳۰۵)

کندهار ته د انګلیس د تښتېدلي لښکر رسېدل او چار کلا بند کول د سر دار مهر دل خان ماندینه چې جنرال پرا یموز انګلیس ته یې زوی ورلی وه. د ایوب خان څخه څاو پښت ور کې وخت اخلي او په دغه موده کې رابرټس کندهار ته رسېږي ایوب خان ته هم شکست ورکوي او چار د امیر عبدالرحمن نماینده سردار شمس الدین ته تسلیموي.

## توضیحات او مراجع (۳۱۱)

د ۱۵۰ لمبرو په قید کې د اشخاصو، ځایونو او ځینو واقعاتو توضیح او د ماخذونو معرفي.

# سمون لیك

هيله ده چې محترم لوستونكي به د كتاب د متن تر كتنې وړاندې د كلماتو او صفحاتو لاندې تصحيح په نظر كې ونيسی .

| سم | ناسم | مخ | ليكه |
| --- | --- | --- | --- |
| ځنګه | ځګنه | ۱۹ | ۸ |
| پر پښتونو اله | په پښتونواله | ۳۲ | ۸ |
| وضع | وضيې | ۳۹ | ۲۱ |
| كړكی | ګړكی | ۴۷ | ۱۷ |
| درو ند | دوند | ۴۸ | ۱۴ |
| ته وا يعقوب | ته او يعقوب | ۵۰ | ۲۱ |
| لا لپوری | لا ل بو رې | ۶۳ | ۱۸ |
| شاه با زا ر | شا با زا | ۱۲۳ | ۱۲ |
| پر شا برج | په شا برج | ۱۲۴ | ۱۰ |
| ا نګر یز | نګر یز | ۱۲۴ | ۱۷ |
| سو | نو | ۱۲۵ | ۱۱ |
| د یوه | یوه د | ۱۲۷ | ۱۴ |

لوسړی

| سم | ناسم | مخ | لیکه |
| --- | --- | --- | --- |
| بخښلي | بخلی | ۱۳۷ | ۳ |
| مې | يې | ۱۳۶ | ۳ |
| حاسل | حا صل | ۱۵۶ | ۲ |
| درې | د ې | ۱۸۱ | ۳ |
| لوی سره | لو يې سرې | ۱۸۱ | ۱۰ |
| نو ر | نو د | ۲۲۲ | ۱۳ |
| کو له | کو مه | ۲۲۳ | ۱۰ |
| ببر ی | ببر ی | ۲۳۳ | ۳ |
| تو ر | نو ر | ۲۳۶ | ۱۸ |
| هغسې | هغې | ۲۳۷ | ۱۲ |
| نژدی | نژ | ۲۵۳ | ۳ |
| لو ینا ب | لو ینات | ۲۶۲ | ۲۰ |
| لو ینا ب | لو ینا ت | ۲۶۳ | ۳ |
| لو ینا ب | لو ینا ت | ۲۶۳ | ۹ |
| و خندل | و خند | ۲۶۶ | ۱۰ |
| رو سیې | رو سی | ۲۷۰ | ۱۱ |
| د هلمند سیلی | د با د سیلی | ۲۸۸ | ۱ |
| غو ند ی | غو ندی | ۲۸۸ | ۹ |
| ستیو ا رت | سیتو ا رت | ۳۲۰ | ۸ |

د توضیحا تو او مراجعو په برخه کې د توضیحا تو ا و متن لمبرو نه
د ی په لا ندې ډول تصحیح شي.

دو هم

ACKU

| د توضیحاتو | | لمبر | د متن د | | لمبر سره |
|---|---|---|---|---|---|
| د توضیحاتو | ۸۲ | لمبر | د متن د | ۸۱ | لمبر سره |
| رر رر | ۸۳ | رر | رر | ۸۲ | رر |
| رر رر | ۸۴ | رر | رر | ۸۳ | رر |
| رر رر | ۸۵ | رر | رر | ۸۴ | رر |
| رر رر | ۸۶ | رر | رر | ۸۵ | رر |
| رر رر | ۸۷ | رر | رر | ۸۶ | رر |
| رر رر | ۸۸ | رر | رر | ۸۷ | رر |
| رر رر | ۸۹ | رر | رر | ۸۸ | رر |
| رر رر | ۹۰ | رر | رر | ۸۹ | رر |
| رر رر | ۹۱ | رر | رر | ۹۰ | رر |
| رر رر | ۹۲ | رر | رر | ۹۱ | رر |
| رر رر | ۹۳ | رر | رر | ۹۲ | رر |
| رر رر | ۹۴ | رر | رر | ۹۳ | رر |
| رر رر | ۹۵ | رر | رر | ۹۴ | رر |
| رر رر | ۹۶ | رر | رر | ۹۵ | رر |
| رر رر | ۹۷ | رر | رر | ۹۶ | رر |
| رر رر | ۹۸ | رر | رر | ۹۷ | رر |
| رر رر | ۹۹ | رر | رر | ۹۸ | رر |
| د توضیحاتو | ۱۰۰ | لمبر | د متن د | ۹۹ | لمبر سره برابر دی |
| رر رر | ۱۰۱ | رر | رر | ۱۰۰ | رر رر |
| رر رر | ۱۰۲ | رر | رر | ۱۰۱ | رر رر |
| رر رر | ۱۰۳ | رر | رر | ۱۰۲ | رر رر |
| رر رر | ۱۰۴ | رر | رر | ۱۰۳ | رر رر |
| رر رر | ۱۰۵ | رر | رر | ۱۰۴ | رر رر |

د ریم

ACKU

د توضیحاتو ۱۰۶ لمبر دمتن د ۱۰۵ لمبرسره برابر دی

د توضیحاتو ۱۰۷ لمبر د متن د ۱۰۶ لمبرسره برابر دی

رر رر ۱۰۸ رر رر ۱۰۷ رر رر

رر رر ۱۰۹ رر رر ۱۰۸ رر رر

رر رر ۱۱۰ رر رر ۱۰۹ رر رر

رر رر ۱۱۱ رر رر ۱۱۰ رر رر

رر رر ۱۱۲ رر رر ۱۱۱ رر رر

رر رر ۱۱۳ رر رر ۱۱۲ رر رر

رر رر ۱۱۴ رر رر ۱۱۳ رر رر

رر رر ۱۱۵ رر رر ۱۱۴ رر رر

دغه د متن ۱۱۲ لمبر دی په ۱۱۴ لمبر تصحیح شی .

د توضیحاتو ۱۱۷ لمبر د متن د ۱۱۶ لمبر تصحیح شی.

رر رر ۱۱۸ رر رر ۱۱۷ رر رر

رر رر ۱۱۹ رر رر ۱۱۸ رر رر

رر رر ۱۲۰ رر رر ۱۱۹ رر رر

رر رر ۱۲۱ رر رر ۱۲۰ رر رر

رر رر ۱۲۲ رر رر ۱۲۱ رر رر

رر رر ۱۲۳ رر رر ۱۲۲ رر رر

رر رر ۱۲۴ رر رر ۱۲۳ رر رر

رر رر ۱۲۵ رر رر ۱۲۴ رر رر

رر رر ۱۲۶ رر رر ۱۲۵ رر رر

رر رر ۱۲۷ رر رر ۱۲۶ رر رر

خلورم

د توضیحاتو ۱۲۸ لمبر د متن د ۱۲۷ لمبر تصحیح شي .

رر رر ۱۲۹ رر رر ۱۲۸ رر رر

رر رر ۱۳۰ رر رر ۱۲۹ رر رر

رر رر ۱۳۱ رر رر ۱۳۰ رر رر

رر رر ۱۳۲ رر رر ۱۳۱ رر رر

رر رر ۱۳۳ رر رر ۱۳۲ رر رر

رر رر ۱۳۴ رر رر ۱۳۳ رر رر

رر رر ۱۳۵ رر رر ۱۳۴ رر رر

د توضیحاتو ۱۳۶ لمبر د متن د ۱۳۵ لمبر سره برابر دی

رر رر ۱۳۷ رر رر ۱۳۶ رر رر

رر رر ۱۳۸ رر رر ۱۳۷ رر رر

رر رر ۱۳۹ رر رر ۱۳۸ رر رر

رر رر ۱۴۰ رر رر ۱۳۹ رر رر

په متن کې د ۱۴۰ لمبر څخه تر ۱۴۹ لمبر پورې چې هر ۴ غلط په ۲ را غلی دی ۴ دی و شمېرل شي .

د توضیحاتو ۱۴۱ لمبر دی د متن د ۱۴۰ لمبر سره برابر دی

رر رر ۱۴۲ رر رر ۱۴۱ رر رر

رر رر ۱۴۳ رر رر ۱۴۲ رر رر

رر رر ۱۴۴ رر رر ۱۴۳ رر رر

رر رر ۱۴۵ رر رر ۱۴۴ رر رر

رر رر ۱۴۶ رر رر ۱۴۵ رر رر

رر رر ۱۴۷ رر رر ۱۴۶ رر رر

پښتنم

ACKU

د توضیحاتو ۱۴۸ نمبر دی    دمتن د ۱۴۷ نمبر سره برابر دی

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| رر رر | ۱۴۹ | رر | رر | ۱۴۸ | رر رر |
| رر رر | ۱۵۰ | رر | رر | ۱۴۹ | رر رر |
| رر رر | ۱۵۱ | رر | رر | ۱۵۰ | رر رر |
| رر رر | ۱۵۲ | رر | رر | ۱۵۱ | رر رر |

PROPERTY OF ACKU
32532

شپږم